# پښتانه شعراء

لمړي ټوک

له ۳۰۰هـ تر ۱۲۰۰هـ

۱۰۰ تنه

لیکونکي او ټولونکي

عبدالحي حبیبي د پښتو ټولني عمومي مدیر او د
مطبوعاتو د ریاست معاون
او
د پښتو ټولني نور غړي

کابل ۱۳۲۰

# د پښتو شعر د ډولونو تاریخچه

د دي کتاب په لومړۍ برخه کښي غواړم چي د ښاغلو ویونکوسره د پښتو ژبي د شعر پر ډول (سبك) باندي وړغیږو او دا تر بحث او څیړني لاندي ونیسو، چي زموږ د ژبي اشعار کوم کوم ډولونه یعني سبکونه لري او شعراء مو د شعر د ډول له پلوه څو ډلي دي؟ او د پښتو شعر څه څه خصایص او مزایا لري؟ او په هره پېړۍ کي یي څه څه تغیر موندلی دی؟ د دي مهم مقصد لپاره به موږ لومړی د پښتو شاعران ډلي ډلي کړو او د هري ډلي د شعر ښېګڼي او مزایا به وښیو وروسته به نو بېل بېل د شاعرانو بیان وکړو.

## د سبك د پیدایښت فلسفه :

پر نړۍ چي هره پېړۍ تیریږي هغوني د زماني اوضاع او پېرې هم ورسره اوړي د زمانو د تېرېدو سره د انسانانو د ژوندون ډولونه او اخلاق او افکار هم اوښتل مومي، اوبه، هوا، د هستوګني ځای او د ژوند چاپېر او ټاټوبی دا ټوله په دغوتغیراتوکي لاس لري.

د اولسو د ژوندون دودونه او اجتماعي کیفیت او نور ټول د ژوندلوازم او اوضاع هم له دغه امله ډېر توپیر سره لري او د یوې پېړۍ بقایا له بلي سره ډېر ورته نه وي، چي په دغو ټولو شیانو کي ژبه هم د اولسونو د اجتماعي او روحي او معنوي اوضاعو سره یو ځای او سمه تغیر مومي.

ژبه خو هرکله د ټولنو او افرادو د خیالاتو او افکارو ښکاره کوونکې ده او هغه تحولات چي د ملتو فکر او ژوندون ته وررپېښیږي د دوی ژبه یې راښیي او هرکله د ملت عقلي او اجتماعي حیات موږ ته ځرګندوي.

یو پلټونکی او ځیر سړی د ملت له ژبي څګخه د دوی ټول افکار، عقایداو حیات او د عقلي او مادي ژوندون اطوار ښه ځان ته معلومولای سي په دې باب کي د فرانسې یوه مشهور پوهاند څه ښه ویلي دي :

"هر اولس او هر تېر تل د خپلي ژبي په تغییر بوخت وي ځکه چي ژبه تل د ملتو د معنوي لوړتیاوو پېروي کوي نو هر څومره چي د یوې ټولني افکار لوړ سي ژبه یې هم ښه او بشپړه کیږي. (۱)

ویکتورهوګو د فرانسې یو بل نومیالی ادیب د خپل (کروموېل) په مقدمه کي د هري زمانې د اشعارو پر تحول باندي څېړنه کوي، دی د انسانانو د شعر د هري زماني اوښته د محیط او خارجي عواملو سره سمېده داسي ښیي :

" د انسانانو د ژوندون د اوښتلو او تطوراتو سره سم شعر هم درې دورې لري لومړۍ هغه دوره ده چي مدنیت لا ترقي نه وه کړې او د انسانانو افکارو بساطت او ساد‌ګي درلوده

د هغو لومړنيو انسانانو اشعار هم هغه سندري او اغېزه ناکي بدلي دي چي په ښه بږغ به ويلي کېدې او هغه سندري يا غنايي اشعار Lyric بولي، وروسته چي انسانان د بداووت له حاله راووته او مدنيت يې وموند او هيوادونه او ټولني يې جوړي کړې د دې اجتماعي انقلابه سره د دوی افکار او احساسات هم واوښته، او حماسي، رزمي او قصصي اشعار Epic باب سوه د شعر درېيمه دوره تمثيلي اشعار Dramatic دي چي دغه درې دورې د انسانانو د مدنيت او ذهني ارتقا او عقلي حيات سره يوځاي پيدا سويدي". (٢)

که په ځير وګورو دغه درې دورې د شعر د کوچنيوالي او ځلميتوب او لويوالي مهالونه دي چي د هر ملت ادب دغه دورې ليدلي دي، او عموماً غنايي اشعار يعني سندري تر حماسي اشعارو دمخه وي او حماسي بيا تر تمثيلي او نورو اشعاړو لومړي وي مثلاً : د يونان اورپيد چي غنايي شاعر ۋ تر هومر حماسي شاعر دمخه وو او وروسته نو د تراژيدئ Tragedy يعني ( بيرونکي تمثيلي اشعارو) پلار ايشيل راغلی دی. (٣)

په اريايي ژبوکي هم لومړني اشعار مذهبي سندري او دعاوي وي، چي د عبادت پر وخت به يې ويلې د اوستا او رګويدا کتابونه د دغواشعارو د نموني په ډول موږ ته پاته دي وروسته چي آريائيان د ايشيا پر ارتو مځکو کي خپاره شوه او هري خوا ته يې مدنيت او ټولني جوړي کړې، نو يې حماسي شعرونه هم وويل، چي يو اثر يې د هند د مهابهارت کيسه ده او بيتونه يې تر دوه لکه هم زيات دي.

دا ادبي اثر په سبك او مضمون کي ډېر ويدا ته ورته نه دی او يو حماسي او جنګي شعر ګڼل کيږي. (٤)

له دغو لوړو څېړونو څخه به ښايي زموږ ګران ويونکي د سبکو د پيدايښت په ضرورت پوه سوي وي ځکه چي زمان، مکان، اقليم، د ژوندون راز، او نور ټوله عوامل پر ژبي باندي اغېزي کوي او د انسانانو افکار او احساسات هم وراړوي نوله همدغه لامله ادبيات هم تغير مومي او موږ د هري زمانې په ادب کي وينو چي ډول او سبك يې بدليږي. او په هرسبك کي د خپلي زمانې خواص او مزايا د خپل محيط ښکښي ځرګنديږي.

لکه د عربو د شعر جاهلي سبك چي د دوی د مدنيت او لوړتيا د زمانې سره توپيرلري، او هغه اشعار چي په کلو او بکواو کي پونده و عربو تر اسلام دمخه ويلي دي له هغو شعرونو سره چي د اموي او عباسي پاچهانو په زمانوکي د بغداد او اندلس په ودانيو کي ويل سويدي د مځکي او اسمان فرق لري دغسي هم د پاړسو ژبي د بخارا او غزني سبکونه له وروستني هندي ډول څخه ډېر ليري دي چي هم يې راز، ډول او اداء دود او ادبي ښېګڼو فرق کړی، او هم يې تخيل او ذهنيت بل راز دی.

نو له دغو لوړو خبرو څخه ځرګنديږي چي په ادبياتو او اشعارو کي د نوو سبکونو او ډولونو پيدا کېده طبيعي چاره ده او دا د ارتقاء سره لازم دي او هري ژبي د خپلي ودي په دورو کي ليدلي دي.

## سبک څه شي دی؟

هرشعر ځانته یوبیل رنګ لري، الفاظ او دکلماتو د نښلولو طرز یې بېل وي خیالات او افکار پکښې بېل وي بحر او عروضي کیفیت او نور ټول خواص یې جلا وي.

هر شاعر ځانته یو اسلوب خوښوي او هر ویونکی په شعر کي بېله لار او بېله چاره لري چي خپل شعر پر هغه ډول سموي او پر هغه غوره کړې لار ځي.

دغه خاص ډول او اسلوب چي ځانته بېل خصایص او مادي او معنوي ښېګڼې لري او په کم اوکیف کي له نورو څخه بېلېږي " سبک " بولي.

## سبک دوي خواوي لري :

لومړۍ خوا :

ظاهري او مادي ده چي بحر، عروض، قافیه یا نور ازاد طرزونه یې مطلب دي دا آزاد طرزونه کله د سیلابو او هیجا یعني د سپڼ په حساب وي یا دا چي د سندري او تغنی اساس لري.

دوهمه خوا معنوي ده چي په شعرکي څه افکار او عقاید ځای سویدي تشبیه او استعاره او نور معنوي امور یې څنګه دي؟

په دغو دوو خواوو کي موږ د یوه شاعر له بله او د یوې زمانې شعر له بلي زمانې څخه بېلولاي سو، د معنا او افکارو سره د الفاظو او تورو نښلول او د دغو پېیلو ډول د سبك یو مهم اساس دی او هغه منبع چي شاعر له هغه څخه الهام اخلي، د سبك په معنوي خوا کي ډېر اهمیت لري که څوك د یوې ژبي ادبیات د سبك له پلوه پلټي نو ښایي چي دواړه هغه مادي او معنوي خواوي یې وپلټي.

## په مقصدپیل:

دمخه تر دې چي د پښتنو شعر او تذکره شروع کړو غواړو چي د دي کتاب په سر کي د پښتو د شعر ډولونو او سبکونو ته هم یوه کتنه وکړو او د سبکونو اختلافات او ممیزات بېل بېل وښیو ځکه چي د پښتو د ادبیاتو تاریخ تر اوسه په هغه ډول چي ښایي نه دی لیکل سوی نو به دا زموږ څېړنه بشپړه نه وي او ښایي چي ځګیني غلطۍ هم ولري له پوهانو څخه هیله کوم چي خطاوي راوبخښي. د پښتو ادبي آثار او اشعار چي تر اوسه میندل سوي او زموږ لاسته راغلي دي ټوله په اسلامي دوره اړه لري، تر اوسه ماته داسي شعر په لاس نه دی راغلی چي تر اسلام د دمخه زمانو وي.

تر ټولو پخواني او زاړه اشعار چي اوس سته د غزنوي او غوري پاچهانو په زما نو پوري اړه لري او پسله (٤٠٠هـ) د پښتو د شعر او ادب دورې شروع کیږي.

که د پښتو اشعارو د سبك او اسلوب اختلافاتو ته وګورو نو شاعران دري ډلي دي او

هره ډله بیا بیلي بیلي ډلګۍ لري او هغه دا دي :

(۱) دپخوانو ډله او د دوی پیروان.

(۲) عروضي شعراء.

(۳) عوام شعراء.

اوس لاندي د هري ډلي بېل بېل بحث کوو او د دوی سبکونه ښیو :

(۱) پخوانۍ ډله او د دوی ملګري :

د پخوانو شاعرانو ډله له (۳۰۰هـ ) څخه تر (۱۰۰۰هـ ) پوري رارسیږي. په دې دوره کي د پښتو شعر ډېر تحولات ولیدل او ډول ډول رنګونه یې قبول کړه او څو سبکونه پکښي پیدا سوه چي هغه نو دا دي :

الف : د پخوانو سبک یا د ملي سندرو او اوزانو سبک.

ب : د نیم عروضي شاعرانو سبک یا د خیرالبیان سبک.

(۲) د عروضي شاعرانو ډله :

دا ډله هم له (٤۰۰ هـ) څخه شروع کیږي او تر اوسنیو پېړیو پوري رارسیږي، په دي نهه سوه کاله کي دغه ډلي ډېر شاعران میندلي او هغو هم ډول ډول سبکونه را ایستلي دي چي لاندي یې نومونه راوړو :

(۱) د پخوانو عروضي شاعرانو ډله

(۲) د روښانیانو ډله

(۳) د ملاالف سبک

(٤) د خوشحال خان سبک او مکتب

(٥) د رحمان بابا سبک

(٦) د پیرمحمد سبک

(۷) د حمید سبک

(۸) د قلندر سبک

(۹) حماسیون ( د جنګیالیو او ننګیالیو سبک )

(۱۰)د قصوکوونکو سبک

(۳) د عوامو ډله :

عوام هغه شاعران او ویونکي دي چي له قدیمي زمانې څخه بیا تر اوسه دوی په سوچه ملي اوزانو او بحرو شعرونه ویلي دي او دغه ملي اشعار تر اوسه په پښتنوکي ژوندي دي. دغه ډله په اوزانو او ظاهري اسلوب کي د پخوانۍ ډلي تقلیدکونکي دي او اشعار یې هم ټول ملي رنګ لري مګر په خواصو او ممیزاتو کي لږ څه فرق لري. او ځانته یې بیلي او خاصي ښېګڼې میندلي دي.

تبصره:

لکه دمخه چي وويل سوه، د پښتو د ادب تاريخ تر اوسه تر (٤٠٠ هـ) پوري رسيدلي دي چي تر دغه وخته وروسته په پښتو کي دري سره ډلي شاعران وه، او له دوی څخه ښکلي اشعار پاته دي مقصد دا دی چي دا دري ډلي ډيري په زمانه اړه نه لري بلکي په يو عصرکي به دري سره ډلي يوځاي وي، او هر شاعر پر خپل سبك سم شعر وايه.

اوس چي لنډ د پښتنو شاعرانو په ډلو او سبکونو وپوهيداست نو به لاندي بېل بېل د هرسبك مميزات او مشهور رجال دروښيو، البته د شعر او سوانح او د کلام نمونې خو وروسته په اصلي کتاب کښي راغلي او ښرگندي سويدي.

## (١) پخواني او د دوی ملگري :

پخوانو شاعرانو او د دوی ملگرو د شعر يو مخصوص سبك درلود چي د دوی د اجتماعي اوضاعو او چاپېر سره سم وو، او بې آلايشه افکار پکښي ځليده.

د پښتو پخواني ژبه ور ويونکي د لويو لويو غرو په لمنو کي اوسېدل او د پښتونخوا غرونه د اتڼك له دې غاړو څخه تر هرات او غوره په دوی ډك وه نو له دغه لامله د دوی په اشعارو کي هم کوهستاني افکار او غرنی متانت ښکاره دی.

هغه اشعار چي له پخوانو شاعرانو څخه په ډېر زيار و پلټنه لاس ته راغلي دي. ډير د هغو نوميااليو دي چي په اسماء الرجال کښي د ملي عنعناتو له پلوه مهم ځايونه لري او د پښتنو نيکونه او اجداد گڼل کيږي، نوله دغه څخه دا خبره ښه ځرگنديږي چي زموږ پښتنو پخوانو سړو او ننگياليو نيکونو او د قام مشرانو به شعر او ادب ته په درنه سترگه کاته او هغه لوی پلرونه چي د ډيرو قومو شجرې دوی ته رسيږي شعر ويونکي او ژبه ور خلك وو، او په اخلافو او زامنو کي د دوی اشعارو ښه شهرت درلود.

موږ چي د خپلو پلرو او پخوانو نيکونو دغه گرانبها شعرونه لولو، سليم افکار او روڼه او متين احساسات پکښي وينو، د عقيدت او ايمان رڼاوي ځني پروته کيږي چي د دوی سپيڅلي اخلاق او ښکلي روحيات ښه ځني ښکاريږي.

الف: د ملي سندرو زوړ سبك :

دا سبك د خورا پخوانو زمانو څخه زموږ په ژبه کي پاته دی ښايي چي د اسلام دمخه هم دا ښکلی سبك موجود و، ځکه چي دا سبك کورټ ملي دی او اوزان يې هم ملي دي نو د ملت په منځ کښي ډير خوښ سوی دی او تر اوسه يې زموږ ويونکي پيروي کاندي.

له دغوخبرو څخه نو دا نتيجه موږ راکاږو چي دغه سبك د ژبي سره يو ځای پيدا شويدی او له هغو سندرو څخه مرکب دی چي پخوانو آريائيانو هم داسي سندري درلودې او د پښتنو نيکونو به هر کله دغه سندري په ښو ږغو لوستې.

د دغه سبک اشعار به پښتنو په روغه او جنګ او سفر او هستوګه کښې ویل او هر شعر خپل مخصوص لحن درلود چې تر اوسه په پښتنو کې دغه الحان سته او په ځینو ځایونو کې یې (سپرې بدلي) بولي.(٥)
دغه اشعار او سندري د پاړسو او عربي پر مروجو عروضو برابري نه دي، او ځانته بېل بېل عروض او اوزان لري، چې ترتیب او لیک یې بېل کتاب غواړي.

## ممیزات او خصوصیات:

د ملي اوزانو او سندرو سبک ځني ښکاره ممیزات او ښېګړي لري چې لاندي یې لیکو :

١. په دغو سندرو کښي سپېڅلتوب او سادګي ښکاره ده خالص الفاظ او کلمات لري او ځني داسي لغتونه پکښي راغلي دي چې اوس یي موږ نه وایو : مثلاً : (ژوی) د حیوان په معني او (هسک) د اسمان په معنا.
٢. په وزن او بحر کي د عربي او پاړسو عروضو تابع نه دی او ځانته مخصوص اوزان لري چې موږ یې ( ملي بحور اوعروض ) بولو.
٣. ځکه چې په دغواشعارو کي پردي الفاظ اوکلمات نسته یا ډیر لږ دي نو موږ ویلای سو چې په پښتو وروسته تر دغه پردي کلمات ګډ سویدي که نه وي د هغو وختو ژبه خو خالصه وه.
٤. دغه اشعار د فکر له پلوه و زړو آریایي سندرو ته ورته دي مثلاً : بېټ نیکه چې د پښتنو یو نومیالي نیکه دی او په پښتنوکي د ده ډیري قیصي سته داسي اشعار یې دي چې لوړي ښېګګړي ټوله لري، او مضمون یې کټ مټ لکه د آریائیانو د زاړه کتاب ریګویدا Rigvida دی، او په فکر کي هغو زړو آریایي اشعارو ته ډېر ورته دي.
٥. د پخوانو د سبک یوه مهمه ښېګڼه دا ده : چې د شعر مضمون یې سره نښتی اومسلسل دی، تر دوی وروسته چې نور شاعران په پردو اشعارو روږد سوه، دغه خاصیت یې بایلود، د پاړسو ژبي د خراسان سبک اشعارو چې د صفاریانو او سلجوقیانو او غزنویانو په زمانو کي ویل سویدي، هم دغه ممیزه درلوده (٦).
٦. په دې سبک کي دیني احساسات او د خدای د محبت مظاهر ښکاره دي، دعاوي، مناجاتونه لري، چې د ویونکو دیني او روحي جذبات راښیي.
٧. دا سبک پېچلی بیان اوګنجلك افکار نه لري، تشبیهات یې له طبیعته لیري نه دي، طبعي مناظر په ساده او بې تکلیفه ډول وایي، د بڼ تازګي، د رونو اوبو شرهار، د پسرلي ښکلي او زېبا ننداري په داسي ډول تصویر کوي، چې حقیقت او طبعي ډول ته نژدې دي. مثلاً : تایمني چې د دې ډلي یو اور ژبی شاعر او د غوریانو معاصر دی، د سلطان غیاث الدین غوري د یوه مشهور بڼ ستاینه په داسي ډول کوي، چې د خپل سبک دا مهم مزید ښېګڼي ځرګندوي.

۸.  په دې سبک کې حماسي او جنګي احساسات هم ډېر دي، ځکه چې پښتون یو ننګیالی ټبر دی، ښايي چې شاعران یې د ننګالیتوب ویناوې ولري، نو موږ په دې سبک کې حماسي برخې هم وینو.
۹.  د پخوانو په سبک کې دینو مواعظ او نصایح هم داخل دي، پخوانو شاعرانو پخپلو سندرو کې اخلاقي او دیني تبلیغ کړی، او د خپل اولس د اصلاحي او معاشرتي او قبیلوي اصلاحاتو لپاره یې ښه ښه تبلیغي اشعار ویلي دي.
۱۰.  د دې سبک بله یوه ښکاره ممیزه، د عشق سوزان، جذبات او تاوده احساسات دي، که څه هم په دې ښېګڼه کې د پښتو نور شاعران هم د دوی ملګري دي، مګر توپیر یې دا دی، چې پخوانو دغه احساسات په ساده ګي او ډېر بساطت اداء کول، او هیڅ ډول تصنع یې نه پکښې درلود.

لکه دمخه چې و ویل سوه، د پخوانو د سبک یوه بله ښېګڼه دغه ده، چې پر مخصوص لحن ویلي سي، او خاص خاص اهنګونه لري، چې دغه الهام او اهنګونه زموږ د ملي موسیقۍ اساسونه دي، او ښايي موږ یې ښېل وپلټو او ټول یې کړو.

## دپخوانو سبک څه سو؟

له لوړو څېړنو څخه تاسي ته ښکاره سوه چې دغه سبک څنګه پیدا سو او څه ښېګڼې اوخصایص یې درلودل، او مشران یې څوک وو؟

اوس به دا هم در ښکاره کو، چې د پخوانو سبک په وروسته زمانوکي څه سو؟ او د پښتو په ادب کې یې نفوذ او اغیزه ولي لږ سوه؟ ښايي چې د دې مقدمې له لومړي بحث څخه به د دغو پوښتنو ځوابونه هم وسي، ځکه چې محیط، پیړۍ، زمانه، اجتماعي اوضاع پر شعر اغېزي کوي، نو د هري پیړۍ سره سم د شعر سبک نوی کیږي، او هم په دغه سبب د پخوانو سبک وروسته زوړ سو، او نفوذ یې لږ سو، له بلې خوا له عربو او پاړسوادبیاتو هم په مشرق کې قوت وموند، او د پښتنو پرګاونډیو اوځنګ لوریو ملتو یې درنې اغېزې وکړې، چې پښتنو هم د دغو ادبیاتوسره اشنایي وموندله، او د عربي او پاړسو عروضي اشعار یې ولوستل، دوی هم وغوښتل چې پخپله پښتو ژبه هغسي اشعار ووایي، دې تحول او انتقال، او د طبعي سایق د پخوانو او عروضي شاعرانو ترمنځ یوه منځنۍ دوره پیدا کړه چې شعر یې نه د پخوانو پر ډول و او نه بشپړ عروضي و، دې عصري تحول د پخوانو د سبک نفوذ هم لږ کړ او د ملت په عوامو کې پاته کړ چې تر اوسه هم زموږ عوامو له ښه مرغه خوندي کړیدی. ځکه چې شاعران او ادباء پوهان او عالمان وو نو دوی چې د پردو اشعارو سره د علم له خوا روږد سوه عروضي اشعاریې مینده کړه، او د عربي او پاړسو په ډول یې شعرونه وویل. په دې ډول د پخوانو سبک له خواصو شاعرانو څخه عوامو ته ولاړ او خواصو عروضي اشعار منځته راوړل، او نوي نوي سبکونه یې وموندل چې په نورو پاڼو

کي به يې تفصيل وسي او مزايا او خواص به يې دروښودل سي.

## د خيرالبيان سبک

د پخوانو شاعرانو د سبک اثر تر (۷۰۰ هـ) وروسته لږ سو او عروضي دوره شروع سوه مګر د دوو اسلوبو او دوو دورو تر منځ خو يوه د تحول او انتقال دوره هم طبيعي ده پر پښتو شعر هم دا دوره راغله، په پخوانو زمانو کي د پښتو شعر له تصنع او تکلفه تش و او اشعار يې پر ملي ذوق او غنايي او هجايي اصولو ويل کېده، د هرات او هند د مغولو په زمانوکي پاړسو ژبه د آسيا په ارتو هيوادو کي خپره سوه، او د ايران او هند ادبي اړيکي سره ټينګ سوه زموږ د مملکت په دواړو خواوو کي صفوي او مغولي پاچهانو ادب او شعر نفيس صنايع وروزل نو پښتانه هم د خپلو ګاونډيو هيوادو د مدنيت په رنګ ککړ سوه او د عربو او پاړسو شاعرانو په ډول يي عروضي اشعاروويل، په دې وخت کي لا نه واړه ارثي مبادي پوره ورك شوي او نه نوي مبادي ټينګ شوي وه نو يومنځنی سبك پيدا سو چي د پښتو اشعار نه بشپړ عروضي وه او نه خالص نثر و. د دې دورې پښتو اشعار موږ نيم مصنوعي يا نيم عروضي بللای سو چي نه پوره عروضي رنګ لري او نه تش نثر ګڼل کيږي.

د دې سبك لومړی کتاب ښايي هغه کتاب وي چي د يوسفزو د قوم يو مشهور مشر شيخ ملي ليکلی او په دغه کتاب کي ځيني حماسي نقلونه او په سوات کي د يوسفزو د بريو او فتوحاتو تاريخ دی او شيخ ملي خپل قوم ته د هغه ځايو مځکي هم پکښې وېشلي دي چي تر اوسه هم دغه وېش معتبر دی.

د دې کتاب نوم ښايي چي (د شيخ ملي دفتر) و او لکه پوهان مستشرقين چي ليکي دوی د دې کتاب نسخې ليدلي اوميندلي دي.

د پښتنو د هجرت قيصې له کندهاره کابل او صوات او د پېښور سيمو ته په پښتنو کي ډيري مشهوري دي د ننګرهار ټوله پښتانه وايي چي موږ له غوړي مرغې راغلي يو غوړه مرغه خو د کندهار د هوتکو او ارغسان په سيمو کي د کوږك د غره لمنو ته مشهورځای دی اخوند درويزه ننګرهاري د دې هجرت او لېږد بيان ښه ليکي او د شيخ ملي او د ده د وېش ذکر په ښه ډول کوي. (۷)

تر ده وروسته افضل خان خټك هم دغه خبري ليکي او د درويزه د قول تائيد کوي. (۸) وروسته محمدحيات او شيرمحمد او نور پښتانه مؤرخين هم دغه نقلونه راوړي خوشحال خان د پښتنو ملي مشر چي د درويزه عصر ته نژدې دی هم په سوات کي د يوه کتاب ذکر کوي چي نوم يې (د فتر د شيخ ملي) ليکي له دغو رواياتو څخه دا راوزي چي محققاً دغه کتاب پخوا و افضل خان په تاريخ مرصع کي وايي چي يوسفزو په (۸۱۰ هـ) کي هجرت وکړ د شيخ ملي د کتاب په ۱٤۲٤ ع = ۸۲۹ هـ منظوم کړيدی.

د اروپا یو مستشرق مارګن ستېرن Morgen Stern داسي لیکي: چي ماته د مسټر راورټي Raverty (۹) له لیکنو څخه دا ښکاره سوه، چي ده د شېخ ملي کتاب لیدلي، او د هغه کتاب په ۱٤۱۷ م کي تالیف سویدي (۱۰)، دغسي هم راورټي له اخوند درویزه څخه نقل کوي، چي په یوسفزو کي یو بل کتاب د درویزه په عصر کي و او هغه (پاکان) نومیدی، ځکه چي د دغه کتابو نسخې موږ ته نه دي رارسېدلي ، او له بده مرغه ورکي دي، او اوس یې یو څو کربښي هم موږ نه سو میندلی نو به د پښتو ادب دغه دوره د هغه کتاب په نوم یاده کړو چي د هغه نمونه زموږ څګخه سته، او لاسته راغلې ده، د پښتو د ادب یو مهم ټوك او زوړ کتاب چي اوس ډېر لږ موندل کیږي ( خیرالبیان) نومیږي چي یوه قلمي نسخه یې معروف مستشرق سرډمینسن راس درلوده، او د ناروي مستشرق مارګن ستېرن د هند د زړو اثارو په مجله کي له هغه کتابه څګخه یو څو نمونې نشر کړي، دا مستشرق لیکي، چي دغه نسخه په چهارشنبي ۲۰ مه د روژې ( ۱۰٦۱ هـ) د فقیر بهار طوسي په قلم لیکل سوېده او د پښتو له زړو نسخو څخه ده.

دا ښکاره ده چي خیرالبیان یو مشهور مفکر چي په پیر روښان یا پیرتاریك مشهور دی لیکلی دی، اخوند درویزه چي د دغه سړي د مسلك لوی مخالف او دښمن دی وایي چي دغه سړی بایزید نومېدی د عبدالله زوی و، پلار یې اصلاً د کندهار و چي په کانې کوړم کي اوسېدي (۱۱) بایزید له علمه ښه برخه درلوده، له ملاپاینده او ملاسلېمان څخه یې لوست کړی و او د هند او ترکستان په سفرونو کي یې د مذهبو فلسفي کتلې، او عالم او فیلسوف سړی و، ده یو نوي مسلك را ایستلي و او د افراطي متصوفینو په ډول یې ځیني افکار ښکاره کړیدي (۱۲) اخوند درویزه د دې سړي په مقابل کي د مارګن ستېرن په قول د ایمان لوی مدافع و او خلق یې د ده له پیروۍ څخه راګرځول اخوند صاحب په پښتو اوفارسي ډېر کتابونه د دې طریقې پر خلاف وکښل.

محسن فاني کشمیري چي (۱۰۲۰ څخه تر ۱۰۸۱ هـ) پوري ژوندی و (۱۳) د پیر روښان له حالنامې څخه چي د ده په قلم ده، داسي لیکي چي روښان د شیخ عبدالله زوی وْ او په اوه پلاره شیخ سراج الدین انصاري ته رسیږي، دی د پښتنو د پاچهۍ په پاي کي د پنجاب د چلندهر په ښار کي په (۹۳۲ هـ) وزېږېدی او مور یې (بنین) نومېده، دی په عربي او پاړسو او هندي او پښتو تصانیف لري مقصود المومنین یې په عربي لیکلی او بل کتاب یې خیرالبیان په ٤ ژبو عربي، پارسي، هندي او پښتو دی، چي هر مطلب یي په څلور ژبو کښلی دی، او په یوه کتاب حالنامه کي یې خپل احوال راوړیدي (۱٤) ...
محسن کشمیری وایي : چي ما د میرزا شاه محمد مخاطب غزنین خان څخه اورېدلي ، چي د روښان مذهب په ( ۹٤۹ هـ) کي قوي سو او د ده قبر د بته پور په غرو کي دی مګر اخوند درویزه یې په اشنغر کي لیکي.

تر اخوند درویزه او محسن کشمیري یو بل روښان ته نژدې سړی د ده شاګرد او مرید

(دولت لوانړي) دی، دی هم وايي چي روښان خيرالبيان په څلورو ژبو وليکلی او د پښتو لپاره يې رسم الخط وضع کی.(١٥) اخوند درويزه د پيرروښان د شاعرئ په باب کي داسي ليکي : ( چي ده د پښتنو لپاره په پښتو موزوني او د طبع سره سمي خبري جوړولې او پارسيانو ته يې په پاړسو او هندوانو ته يې په هندکو. (١٦) بل ځاي درويزه وايي : چي روښان شعر وايه اما ده هم د هغه پيروي په شعر کي کړېده له دغو ټولو رواياتو څخه ښکارېږي، چي روښان د ملي ژبي شاعر هم ؤ لکه چي د فرانسي مشهور مستشرق ډارمستټر هم د دې خبري تائيد کوي (١٧) د خيرالبيان هغه نسخه چي مارګن ستېرن ليدلې ده (١٦٧) مخه ده چي ځيني عربي جملې په پښتو متن کي لري، او پاړسو حواشې يې په بيل قلم پر څنډو ليکل سويدي او په دېباجه کي يې هندي او پاړسو ليکونه ليدل کيږي. (١٨) لنډه يي دا چي خيرالبيان تر (٩٠٠ هـ) کال وروسته بايزيد ليکلی دی، او د پښتو شعر يو نوي سبک يې راکښلی دی، چي وروسته اخوند درويزه او نورو ليکوونکو هم د دغه سبک پيروي کړېده. نو ځکه مونږ دغه ډول شعر ټوله د خيرالبيان سبک ګڼو، که څه هم ټوله دغه ډول ليکونکي د روښان مسلکي پېروان نه بلکي دښمنان يې دي.

د خيرالبيان د سبک خواص :

له لوړو پلټنو څخه تاسي ته د خيرالبيان ليکونکی، او د دې سبک مؤسس ښکاره سو، اوس به يې د سبک خواص او مزايا هم در وښيو:

١. داسبک نيم منظوم شعر لري، شاعر د عروضي اصولو پېروي پوره نه کوي، د بيت مسرئ نه سره سموي، فقط دجملو او مسريو په پاي کي کافيه ساتي لکه مسجع نثر.
٢. په مضمون کي دا اشعار ټوله تبليغي او ديني دي، اخلاقي خوا هم لري.
٣. سلاست او انجام يې هم د پخوانو سبک ته نه رسيږي، عربي او پاړسو کلمات ډېر په اشعاروکي داخل دي.
٤. دا ډول اشعار له ابتداء څخه د تبليغ او پروپاګند لپاره دي، نو يې ځکه ادبي او شعري خوا ضعيفه ده، مطالب بې له شعري صنايعو او ادبي نزاکتو ويل سويدي. شاعرانو زيار کښلی دی چي فقهيه او اخلاقيه مطالب بي ترتيبه پخپلو اثارو کي راوړي. دوی د وينا د جزالت او فصاحت لحاظ لږ کړيدی خو مقفي عبارات او جملات ډېرلري، اوغواړي چي په دې ډول دخپلو ليکنو خوند ډېر کړي ، او ويونکي ته يې خوندور ښکاره کړي.

## د دې سبک مشاهير :

١. بايزيد روښان چي دمخه يې لنډ سوانح وليکل سوه او دی د دې سبک مؤسس دی.
٢. اخوند درويزه د ګداي بن سعدي زوی ، چي د جيون نامي له کورنئ څخه و او په

کندوز کي اوسېده (۱۹) دا ملاصاحب د (۱۰۰۰ هـ) کال په حدودو کي ژوندی و او وفات یې په (۱۰٤۸ هـ) کي دی.(۲۰) په پېښورکي ښخ دی. دروېزه پخپله وایي : چي ما د خیرالبیان په ډول شعر ووایه چي د خلقو خوښ سي (۲۱) دروېزه په پښتو کي ډېر تبلیغات د روښان پر خلاف وکړه مخزن الاسلام یې په پښتو او تذکره الابراروالاشرار یې په پاړسو ولیکل.

۳. کریم داد یا عبدالکریم د اخوند دروېزه زوی چي د پلار د مخزن متفرقي نوشتې یې سره ټولي کړیدي او پخپله یې هم پر هغه سبک اشعار ویلي دي، دی ډیر روحاني مناقب لري په (۱۷۰۲ هـ ؟) کي وفات سویدی. (۲۲)

٤. عبدالسلام : دې سړي هم د اخوند دروېزه په مخزن کي ځیني اشعار پر هغه سبک زیات کړیدي.

۵. عبدالحلیم د عبدالله زوی د دروېزه لمسی دی چي د خپلو نیکونو پر سبک یې ځیني نیم عروضي اشعار په مخزن پوري نښلولي دي.

٦. مصطفي محمد د نورمحمد زوي د عبدالکریم لمسی د دروېزه کړوسی دی چي په (۱۱۱۲ هـ) کال یې د خیرالبیان پرسبک ځیني اشعار په مخزن کي زیات کړه.

۷. اخوند قاسم پاپنخیل شینوار، د اکبر مغولي پاچا په عصر کي ژوندی و د پښتو فوائد الشریعه یې په (۱۵٦۰ ع = ۹٦۷ هـ) ولیکلی (۲۳) دی هم د خیرالبیان پر سبک ځي او په یوسفزو کي اوسېدي (۲٤).

۸. د خیرالبیان یو بل ادبي پېرو بابوجان دی، مسټر راورټي وایي چي د بلورستان د تورو کافرو څخه و او مسلمان سو. (۲۵) مګر میر احمدشاه رضواني لیکلي چي دی لغمانی و (۲٦) بابوجان تر (۱۰۵۰ هـ) وروسته ژوندي وه او د اخوند دروېزه د زامنو معاصردی، ده هم د خیرالبیان پر سبک اشعار ویلي دي خو ځیني عروضي خالص شعرونه هم لري.

تفسیره :

ځکه چي د خیرالبیان سبک یو راز نثر هم ګڼل کیږي، نو موږ ددغه سبک د شاعرانو د کلام نمونې په دي کتاب کي نه دي راوړي، البته په بل کتاب کي چي د پښتو پر نثر لیکل کیږي مفصلاً به د دغه سبک د شاعرانو سوانح او د وینا نمونې راوړو.

دلته فقط د سبکونو په بحث کي دغومره تذکار وسو ښاغلي ویونکي دي مفصل بحث د نثر په برخه په بل کتاب کي وګوري.

## (۲) د عروضي شاعرانو ډله :

عروض یوعلم دی، چي د اشعارو او منظوماتو اوزان موږ ته راښیي او د منظوم کلام

تول دی لکه نحو چي د منثور کلام تله ده، عروض يې له دې جهته بولي چي د شعر معروض عليه دی، يعني شعر پر عرض کيږي، چي د موزون او ناموزون فرق يې وسي، او سم ناسم سره بېل سي.(۲۷).

مورخين پر دې اتفاق لري، چي د دې علم لومړي واضع او د دې مېزان مستخرج، ابو عبدالرحمن خليل بن احمد ازدي (۱۰۰-۱۷۵ هـ) دی (۲۸) چي د عربو شعر يې تدوين کی او دی لومړی سړی دی، چي هغه اشعار يې حصر کړه. (۲۹)

ابن النديم يې هم ليکي خليل لومړی سړی دی، چي د عروضو علم يې را وايست او د عربو اشعار يې په ټينګ کړه (۳۰) دا پوه سړی د نري فکر او مبتکر طبيعت خاوند و د د عربو د ډيرو علومو اساس ده کښېښود لکه : عروض، موسيقي، لغات، نحو. (۳۱)

ځکه چي زموږ د هيواد مشهور ښارونه لکه : سجستان، بست، هرات، غزني او نور... په پېړيو پېړيو د علم او د ثقافت مراکز وو او ډېر عربي علوم په دې مځکه کي روزل سويدي ، او د صفاريانو او غزنويانو او غوريانو په زمانوکي د پاړسو عروضي اشعار هم په دې مځکه کي وپالل سوه، نو د عربو عروضو پر پښتو هم اغېزه وکړه.

په پخوانو آريائي ملتوکي له ډيرو پخوا زمانو څخه ځيني مخصوص اشعار وو، د هند د آريائيانو زاړه اشعار تر اوسه هم د ريګويدا په نامه پاته دي، دوی د منظوم کلام سره ډيره مينه درلوده، تر دې اندازې چي علامه ابوريحان البيروني چي د هند ډېر تاريخي او اجتماعي او لساني پلټني يې کړيدي او ليکلي يې دي، د هندي آريائيانو له ډيرو اشعارو څخه شکوه کوي، چي دوی ټوله د رياضياتو او علم فلك قواعد په شعر کښلي دي او ښه استفاده ځني کيږي، ابو ريحان وايي: چي دوی د خپلو اشعارو لپاره اوزان لري او ښايي چي خليل بن احمد دي هم دغه اوريدلي وي، چي هنديان د خپلو اشعارو لپاره موازن لري (۳۲) او په دې ډول دي ده د عربي لپاره هم اوزان ټاکلي وي.

ځکه چي د علم په ثبوت او د تاريخي ټينګو دلائلو له مخه د آريانانو اصلي وطن دغه د پښتونخوا مځکي دي او زموږ پښتو ژبه هم د آريايي پښت له ژبي سره ډېر نژديوالي لري، نو که د علامه البيروني په قول زموږ د آريانانو لومړني شعري اوزان او بحور، د عربو د عروض لپاره اساس سوي وي، هيڅ ليري نه ده ځکه چي د آريانانو ټوله مزايا او مفاخر د دوی د لومړني او اصلي وطن دي نو د اشعارو د اوزانو او بحورو لومړي افتخار هم زموږ دي ! پر دې خبره يو بل دليل هم سته، زموږ ويونکي به پوهيږي چي هر نوی شی او نوې مبدا په پردي ځاي کي ژر نه ټينګيږي بلکي پېړي غواړي چي يو نوی شی دي په يوه نوي ځای کي ښه ټينګ سي.

نو که عروض او بحور د عربو خاص مال وای په څو کاله کي څنګه په پښتو او پاړسو کي داخل او عام قبول او ومنل سوه، او پښتو څنګه چي خپل پخواني سبقونه ورته هېر کړه، او عروضي اشعار يي خپاره کړه.

له دې ملاحظاتو څخه څرګندیږي  چي عروض او بحور د علامه البیروني په قول په پخوانو آریانانوکي وه او د پښتنو نیکونو درلوده نوځکه دوی پخپلو اشعارو او منظوماتو کي په ښه ډول او ژر قبول کړه.

د پښتو اشعار په عروضي سبک کي خورا ښه او ګټور اثار لري چي د پښتوادب یوه خورا مهمه برخه ده او په دې لاندي کرښوکي بیانیږي :

## الف. د پخوانو عروضي شاعرانو ډله :

په عروضي شاعرانو کي پخوانۍ ډله دپښتو شعر غوره اثار لري، او د نومیالي سلطان محمود(۳۸۷ – ٤۲۱ هـ) له عصره د پښتنو له حربي او مدني نشئت سره دا ډله پیدا سویده.

د پخوانو عروضي شاعرانو له ډلي څخه دغه لاندي ادباء موږ ته معلوم دي په دې کتاب کي یې موږ مفصلاً سوانح او اشعار لیکلي دي ښاغلي ویونکي دې ولولي :

۱. شیخ احمد سړبنی
۲. اکبر زمین داوری
۳. شیخ عیسي مشوانی
٤. ملامست

ددي سبك خواص اومزایا :

دپخوانو عروضي شاعرانوډله دلومړنیو اجدادو له سبکه څخه بېله پیداسوېده، دې ډلي د پخوانو د سبك مزایا هم درلوده او د نورو ژبو د ادب مادي او معنوي اغیزې هم پر وسوي مثلاً :

۱. په سلاست ساده ګي اوسپېڅګلتوب لکه د پخوانو بې تکلفه دی، د کلام تعقید او ابهام نه لري.
۲. لکه د عربو تر جاهلي دوري وروسته چي د مدنیت د پوخوالي په زمانه کي د اموي او عباسي خلفاوو په دور عربي بزمي او عشقي اشعار ویل سویدي یا د پاړسو د مغولي عصر په اشعارو کي چي لیدل کیږي، عشقي او بزمي اشعار په هغو ډولو د پښتنو دې ډلي شاعرانو ویلي دي، عشقي بدلي او مثنویات پکښي سته.
۳. دي ډلي پخپلو اشعارو کي د عروض او کافیې مراعات خورا ښه او اکمل کړی دی د شعر له اقسامو څخه مثنوي، غزل، قطعه، قصیده او نور لري.
٤. د پاړسو ژبي د شعر ټوله اصطلاحات په  دې دوره کي سته، مثلاً : هغه مصطلحات چي د مغولو د عصر د پاړسو ژبي په عراقي سبك ګڼ سوي وو لکه : مې، ساغر اونور... د پښتو په دغه سبك هم ګڼسوه ، شاعرانه مضامین، د عرفان او تصوف په ډول اداء سوه، او د هغه وخت چاپیر پر پښتو ژبه ډېر اثر وکي.

دا وو د پخوانو عروضي شاعرانو لنډ بيان اوس به نو دعروضيانو بله ډله هم دروښيو :
ب. دروښانيانو ډله :

ترلوړي ډلي وروسته دروښانيانو دډلي سبک تر(۹۰۰ هـ) وروسته پيداسو، دمخه مودخيرالبيان دسبک په بحث کښئ ښکاره کړه چي بايزيد بن عبدالله چي په روښان پير مشهوردي، دپښتو په ادب کښئ يي نوي سبک جوړکړ.

علاوه پرهغه دي سړي يوڅه مريدان اوملګري درلوده، چي په عروضي اشعاروکښئ يي هم خپلي ژبي ته ښه خدمتونه وکړه.

•••

د روښانيانو سبک په دې مميزاتو له نورو څخه بېلېږي:

۱. د دې ډلي شاعرانو د شعر ډېر اقسام وويل لکه : غزل، قطعه، رباعي، او اوږدې اوږدې قصيدې چي په دغه ډول يې د پښتو د شعر لمن ارته کړه او په ستاينه، وير، او نورو خپلو مسلکي ابحاثو کښي يې اوږدې قصيدې وويلې.
۲. د عرفان او تصوف او لاهوتي دنيا اصطلاحات يې په ژبه را ګډ کړه، او د تصوف پر ګرانو خبرو يې اشعار وليکل، لکه : د وحدت الوجود او شهود مسئلې، د تصوف روحي خوندونه، او الهام د ماوراء الماده فلسفه او نور... چي دا ټوله دوی پخپلو غزلو او قصيدو کښي راوړه، او په شعر کښي يې داخل کړه.
۳. په تشبيه او استعاره او شاعرانه تلازماتو کښي د پخوانو له سبک څخه چي سچ سپېڅلي او ساده و راووته خپل اشعار يې د صنعت او بداعت په ګېڼه ښکلي کړه د بديع او بيان د فنونو مراعات يې په ابتدائي ډول وکړ.

هغه شاعران چي د دې سبک په خپرولو کښي يي خدمت کړی او خواږه اشعار يې ويلي دي دادي :

۱. مخلص :

د دولت په قول دا شاعر د پير روښان معاصر او د ده ملګري و، او علي محمد نومېدی، دولت وايي چي مخلص د روښان پير او خليفه و، او دولت د مخلص ډيري مرثيې ويلي دي په شاعري کښي هم دولت دی ستايي او وايي :

بې ميرزا، بې ارزاني بې مخلص ياره
بل شاعر برابر نه دی پښتون ستايو

د مخلص يو بل ملګرى او معاصر شاعر هم دی ستايي او د ده د شعر خوږوالى مني :

ای میرزا له پاکو پاکو وینا وایي
د مخلص کلام خالص دی معتبر سو

د دې دوو تنو معاصرینو له لوړو ستاینو څخه ښکاره ده چي مخلص خوږ او جذاب کلام درلود ځکه چي میرزا او دولت تر (۱۰۰۰ هـ) وروسته ژوندي وو، نو د مخلص د ژوند مهال هم په دغو وختوکي ټاکلي سواي اخوند درویزه وایي چي ملا علي د ارزاني خویشکي د ورونو څخه و، دوی له هنده راغله او د بایزید ملګري سو.(۳۳)

مسټر راورټي د خپل پښتو ګرامر په دېباجه کي د قاسم علي افریدي د یوې قصیدې په حواله د مخلص ذکر کوي د دې شعر په خصوص کي موږ اوس نور څه معلومات نه لرو او نه یې د وینا نمونه راڅخه سته.

۲. ارزاني :

دا شاعر هم د روښان پیر له لویو ملګرو څخه دی اخوند درویزه وایي چي دی د خیرالبیان په لیکلوکي هم برخه لري دوی درې ورونه وو په قوم خویشکي چي یو ملا ارزاني او بل ملاعمر او درېیم ملاعلي نومېدی، ارزاني چي یو تیزفکره او فصیح شاعر و، نو په پښتو او پاړسو او عربي او هندي یې شعرونه وویل، او ده یو بل کتاب هم ولیکی چي (چهاررما) (۳٤) نومیږي وروسته نو ارزاني له ده څخه بېل سو هند ته ولاړ او د ده دوه ورونه ورسره پاته سوه. (۳۵)

د ارزاني معاصر شاعر دولت هم په هغه بیت کي چي دمخه ذکر سو د ده ادبي مقام ښیي خوشحال خان د شاعرانه افتخار په مقام کښي وایي :

" مسخره مي ارزاني خویشکي زمندکړ"

رحمان بابا هم ارزاني داسي یادوي :

د میرزا د ارزاني دعوه به پرېکا
قدردان د شاعرانو رحمان راغی

له دغو تصریحاتو څخه څرګندیږي چي د خوشحال او رحمان په عصر کښي د ارزاني اشعار مشهور و ځکه چي ارزاني د بایزید معاصر و، نو د ده ژوندون د (۱۰۰۰ هـ) په شاوخوا کي تخمین کولای سو، مسټر راورټي هم د قاسم علي افریدي د یوې قصیدې په حواله د ارزاني ذکر کوي (۳٦) ډارمسټېټر هم ارزاني د پښتو په زړو شاعرانو کښي شمیري.(۳۷)

۳. عبدالله :

بل د روښانیانو معاصر عبدالله دی، چي د اخوند درویزه په قول د ملارکن الدین زوی و، دا عبدالله د پښتو ژبي شاعر او ورور یې ملا نعمت الله هم ځیني رسایل تالیف کړیدي (۳۸). دا شاعر فقط موږ د اخوند درویزه له بیانه پېژنو.

٤. میرزاخان انصاري

۵. دولت لوانی
۶. واصل :
خوشحال دا شاعر د دولت سره یوځای ذکر کوي لکه چي وايي :

که دولت و که واصل و که دا نور وو
په خبرو مي د هر یوه ریشخندکړ

د خوشحال خان له دې تصریحه ښکاره ده چي د واصل اشعار هم د روښانیانو د دورې دي د میرزا حنان کندهاري متاخر شاعر له ذکر کولو څخه هم دا معلومه ده چي د واصل اشعار مشهور وو، لکه چي وايي :

ښه شیرین الفاظ ویلي دي " واصل "

## ج : د ملاالف سبك :

د زرم هجري کال په شاوخواکښي چي د روښانیانو سبك د افغانستان په مشرقي خوا او د اټك په غاړو کښي شهرت درلود د کندهار په خوا کښي هم یو سبك و، چي اثار يې لږ - لږ پاته دي، دا ډول موږ د ملاالف سبك بولو، ځکه چي تر ده دمخه موږ ته په دغه سبك کښي سابق سړی نه دی معلوم، د ملاالف سبك دغه خواص او مزايا لري :

۱. د معنا او مضمون له خوا د خیرالبیان سبك ته ورته دی، یعني ټوله دیني او اخلاقي مضامین دي مگر د تحقیق له پلوه ترهغه سبك دمخه دی، او ټوله دیني منقولات بیانوي، او مطلب يې دا دی چي دیني او اخلاقي اصلاح وسي، نه مقابله او جګړه.
۲. هغه اشعار چي په دې سبك کښي لرو لویه برخه يې مثنوي ده چي دیني مضامین يې له عربي څخه منظوماً ترجمه کړي او د اهل السنه عقاید يې شرح کړي دي.
۳. په دې سبك کښي شعري صنایع او بدایع لږ دي په بي تکلفه او ساده بیان مطالب په شعر کښي راوړه سوي او استعارات او نور شاعرانه تکلفات نه لري.
۴. بحور يې لنډ او پرې دي او ویونکی ژر ژر مطلب ځني اخیستلای سي.
۵. په دې ډول ډېر پښتو درسي کتابونه کښل سوي او اوس د پښتونخوا په ډېرو برخو کښگي په عمومي تدریس ویل کیږي، او خلك يې په لوستلو د دین ابتدايي اعمال او عقاید زده کولای سي.

د ملاالف سبك په پښتونخوا کښي ډېر خپور سوی او د عمومي استفادې کتب پکښي نظم سویدي د دې سبك مشهور رجال دا دي چي د اشعارو نمونې او سوانح يې په اصل کتاب کښي ولولئ:

۱. ملاالف هوتك
۲. ملاشېرمحمدهوتك
۳. شېرمحمدننگرهاري

٤. ملاعبدالرشيد قريشي
٥. سعادت خان
٦. جان محمد
٧. ملافرح الدين
٨. محقق کندهاري
٩. میا فقیرالله جلال آبادي د عبدالرحمان زوی چي د جلال آباد د حصارك دی لوی او مشهور عارف و، په (١١٥٠ هـ) ژوندی او ډیر تالیفونه لري په (١١٩٥ هـ) په ښکارپور کښي وفات او هوري ښخ دی په پښتو یې د (فواید فقیرالله) کتاب منظوم کړیدی مګر د کلام نمونه یې زموږ څخه نسته
١٠. ملازبردست کاکړ
١١. مولوي عبدالمجید کاکړ
١٢. مرادعلي کاموي
١٣. دوست محمد ختك
١٤. ملا عبدالباقي کاکړ

د: د خوشحال خان سبك او مکتب :

تر هجري زرم کال وروسته د پښتو په ادب کښي یو لوی نهضت مومو، چي لومړی او معلم او مؤسس یې نومیالی او ننګیالی سردار مرحوم خوشحال خان دی او دی د "پښتو پلار" بللای سو.

خوشخال خان د پښتو د ادب پر اسمان لمر او دی د خپل ډیرمشهور سبك مؤسس دی ده په پښتوکښي یو لوی مکتب پرانستلی دی چي ډیر نومیالي شاګردان ځني راوتلي دي.

د خوشحال خان سبك په پښتو ادب کښي ډیر شهرت او مقبولیت وموند، او د پښتو ادب د ده په مکتب کښي له هري  خوا بشپړ سو، نو ځکه موږ د خوشحال خان ادبي سبك د پښتو په ټولو سبکونو کښي یوه غوره ډول او مهم سبك ګڼو، چي د ادبي فنونو مراعات ډیر پکښي سوي او اشعار یې هم خواږه او هم د صنعت په ګڼه ښکلي دي.

د خوشحال د سبك خواص دادي :

١. دې سبك د پښتو شعر ډیر ارت کی علاوه پر غزل، مثنوي، قصیده، رباعي چي تر خوشحال خان دمخه ویل سوي وه، ده نور ټوله د عربي او پاړسو د شعر اقسام په پښتو وویل، او ځني ابتکارونه یې هم د شعر په اقساموکښي وکړه.
٢. په دې سبك کښي هر ډول صوفیانه، اخلاقي، فلسفي، فکاهي مضامین او مدح، رثاء، محاکات، اجتماعي خبري سته، چي ملي عواطف او مزایا هم تلقین کوي او یو ښه حاوي و ارت سبك دی.

٣. په دې سبک کښې د پښتو او پښتنوالي، او د پښتني اخلاقو او ملي احساساتو روزنه هم سته او د خوشحال خان خپله اشعار د ملي جذباتو ډک دي.
٤. په دې سبک کښې اوږدې اوږدې قصيدې پر يوه موضوع چې شاعر غوره کړې وي ويل سويدي، چې هره قصيده يو بيل اجتماعي يا تبليغي يا تاريخي مضمون دي.
٥. په دې سبک کښې بديعي صنايع او تلازمات او تشبيهات ګډ سوه، مګر دومره دی چې شاعرانو يې د اشعارو ساده ګي او سلاست تر صنعت او تکلف قربان نه کي او د طبيعت له لمني څخه نه وواته، او ډيري پېچلي ويناوي يې په اشعارو کښي رانه وړي.
٦. حماسي احساسات پخپله خوشحال خان، په دې سبک کښي راوړه او شاګردانو يې لږ – لږ پېروي وکړه.
٧. تنقيد او هجو هم په دې سبک کښې سته، او پښتو شاعرانو مخصوصاً د مغولو استعمار طلبانو ډېره هجو او غندنه کړې ده، دوی د مغلو ټول شيان وغندل او پخپلو اشعارو کښي يې يوه نوې کلمه جوړه کړه چې هغه نو (مغولواله) ده دا کلمه د دې سبک شاعرانو د پښتونوالي په مقابل کښي راوړه، پښتونواله يعني د ټولو ښو انساني صفاتو جامعيت، مغولواله، بالعکس د ټولو بدو او ناوړو صفاتو درلوول. له مغلو څخه دغه تره او نفرت، او د دوی غندنه، د دې سبک روح دی، او ډيرو شاعرانو له دوی څخه شکوې او نارې کړيدي، او مغل يې غندلي دي.
٨. د خوشحال خان د مکتب په اشعارو کښي ډېر حکم او نصائح او فلسفي مطالب سته، چې د ژوندون نري نري اسرار او دقايق پکښي ويل سويدي.
٩. د ادبي قيمت له پلوه دا سبک تر ټولو جامع او ښه دی هم يې د معنا خوا قوي او هم ادبي او شعري خوا بده نه ده.
١٠. په تخيل کښي هم دا سبک ډېر ښه دی، خورا لوړ او د نزاکته ډک شاعرانه تخيلات پکښي سته پخپله خوشحال خان او نور شاګردان يې د تخيل قهرمانان او پياوړي دي، او په تخيل کښي يې ابتکارونه کړيدي، دوی له خپلو ښو قريحو څګخه خورا نوي نزي مضامين په تخيل کښي راوړي ، او خپل سبک يې د لوړ او ښه او نازک تخيل په ګېڼه بشپړ او ښکلي کړيدي، مګر په طبيعي رنګ.

دا و د خوشحال خان د ادبي سبک خصوصيات او ښېګڼې چې لوړ مو راوړه، مګر خوشحال خان پخپله يوازي لوړ او ښه شاعر نه و، بلکي ده خپل زامن او کورنۍ هم پر ادب روزلې او د شعر او وينا په مکتب کښي يې پاللې وه.

نو ځکه تر ده وروسته د ده زامن او لمسي او نوره کورنۍ ټوله نوميالي ادباء سوه او د پښتو شعر يې ډېر لوړ کړ.

په پښتو کښي دا درېيمه ادبي او علمي کورنۍ ده چې د بايزيد او اخوند درويزه تر

کورنۍ وروسته راغله، او علاوه پر هغو مزایاوو او ښېګڼو چي دې دوو کورنیو درلودې د خوشخال حان کورنۍ او ادبي مکتب حماسي او بزمي او رزمي اشعار هم پخپل سبك کښي وویل او له دې جهته نو دوی د پښتو شعر بشپړ کړ.

د خوشحال خان سوانح او نوره شرحه په دې کتاب کښي د ده په برخه کښي وګورئ، د ده د کورنۍ نور شاعران او ادبي پېروان هم ډېر دي چي موږ يې لاندي نومونه اخلو :

د دې مکتب او سبك ارکان :

۱. عبدالقادرخان ختټك
۲. اشرف خان هجري
۳. صدرخان ختټك
٤. سکندرخان ختټك
۵. عیسي اخندزاده
٦. خواجه محمد بنګښ
۷. معزالله
۸. عثمان
۹. عبدل
۱۰. اشرف
۱۱. فاضل
۱۲. ابراهیم
۱۳. فضیل
۱٤. حسین
۱۵. مهین
۱٦. عصام
۱۷. ابوالقاسم
۱۸. فتح علي
۱۹. علیم
۲۰. علي خان ختټك

### هـ : د رحمان بابا سبك :

د خوشحال خان د ژوندون په زمانه کښي د پښتو د ادب پر اسمان یو بل ستوری هم وځلېدی د پېښوره څخه پنځه میله ګس خواته د بهادر د کلي په یوه بېوزلې کورنۍ کښي یو هلك وزېږېدی، چي عبدالرحمن يې باله دا سړی مهمند سړبنی و، هیوز وايي چي ابراهیم زي مهمند و (۳۹) خو عبدالرحمان چي لوی سو د پښتو ژبي یو لوی او نومیالی او تر ټولو

مشهور شاعر سو ده یو مکتب په پښتو ادب کښي جوړ کړ او یو نوی سبک یې راویست او پخپل روحانیت او ادبي او معنوي قوت داسي خلکو ومنلی چي (رحمان بابا) یې بولي.

رحمان تر (۱۰۵۰ هـ) وروسته دنیا ته راغلی او د خپل ښکلي شعر او ادب په زور یې د (بابا) نوم وګاټه، چي بېله "احمدشاه بابا" په پښتنو کښي د بل چا نصیب نه سو.

د رحمان بابا مکتب او ادبي سبک ډېر جامع سبک دي، د انسان له فطرته ترجماني کوي، او د زړه له کومي وینا راباسي او اشعار یې د پښتو او پښتنوالي څخه هم نه دي وتلي.

رحمان بابا د اخلاقو او اجتماعیاتو له پلوه پر پښتني عنعناتو سم شعر ووایه، د تصوف او عرفان په دنیا کښي یې عملي خوا خوښه کړه د عشق خبري یې په تودو احساساتو او سوځوونکو جذباتو وکړې.

نو د رحمان بابا سبک د پښتو شعر ځیني هغه خواوي چي تر اوسه لانېمګړي وې بشپړي کړې او هره موضوع یې په خورا ګړندیتوب او مړوچتوب وویل د ده سبک دغه ښېګڼي او خواص لري :

۱. په دې سبک کښي شاعر د روح الهام مني د مادې سره یې ډېر سر وکار نه دی، له هغي دنیا څخه خبري کوي چي له دې خاکي نړۍ څخه پرته بله دنیا ده او د معنوي فیوضاتو منبع هم دغه ځای دی.

۲. په دې سبک کښي شاعر له مادي کثافاتو څخه لیري کیږي او هلته ځي چي صلح کُل دی، او د دې خاورینې نړۍ غوغا او ښورماښور پکښي نسته شاعران یې د دنیا پر بدو تنقید کوي او ځان یې له ککړو او کړکېچنو څخه پاکوي.

۳. په اداء او د اداء په تصویر او نورو ښېګڼوکښي دا سبک خورا سپېڅلی اوسلیس دی ابهام ښه نه ګڼي د شعر الفاظ او عبارات ساده او سپېڅلي غوره کوي.

٤. غزلیات، قصاید، رباعیات، تخمیس او د شعر نور ټوله اقسام په سپېڅلي ډول وایي، او ډېر له میني او اخلاقو څخه بړغیږي.

٥. د عشق او میني په دنیا کښي هم د واقعیت خوا ته ځي او د خیال لړ تابع کیږي.

٦. د دې سبک شاعر عشق او الهام د ژوندون مدار ګڼي یقین او ایمان پر عقلیت باندي خوښوي.

رحمان بابا چي د دې سبک لومړی استاد او ښوونکی دی. پخپله هم دغسي سړي و، روحاني ژوندون یې درلود، چي تر ده وروسته ډېرو شاعرانو د ده پېروي وکړه او دا لوړ سړی یې په استادي ومانه او د ده سبک یې غوره کی، او مشهور د مکتب شاګردان یې دغه دي :

د دي سبک مشهور شاعران دا دي :

۱. عبدالرحیم هوتک
۲. احمدشاه بابا

۳. اخوندګدا
٤. عبدالعظیم سواتي
٥. میانعیم متي زي
٦. ملا جمعه بارکزي
۷. عبدالنبئ بیټني
۸. شېرمحمد هوتك
۹. مطیع الله پیرخیل
۱۰. قاسم علي اپریدي
۱۱. یونس
۱۲. غفور
۱۳. صدیق
۱٤. شهنواز
۱٥. حافظ د الپورئ

**و: د پیرمحمد سبك :**

د پښتنو د علم غوښتونکي او ادب روزونکي پاچا اعلیحضرت احمدشاه بابا په زمانه کښي د پښتوادب یو بل نُهضت شروع سو او د پښتونخوا په غرو او ښاروکښي داسي شاعران پیدا سوه چي د پښتو ادب ته یې له هري خوا تازه ګي وبخښله او ډېر نوي سبکونه یې منځته راوستل چي یو مشهور سبك یې (د پیرمحمد سبك) دی.

پیرمحمد اصلاً د بړوب کاکړ و، چي د خپل عصر علوم یې په کندهار کښي ولوستل او د احمدشاه بابا د دربار ملا سو او د شهزاده سلېمان په معلمي وټاکل سو، پیرمحمد په پښتنو کي عشقي اشعار ډېر وویل، او د یوه نوي او مخصوص سبك استاد سو، پخپلو شعرونو کښي یې تاوده د عشق احساسات او جذبات پټ کړه، او د زړه څخه یې وینا راوایستله، د بیان اسلوب یې خورا روڼ او سپېڅلي و.

د پیر محمد سبك دغه خواص او ممیزات درلوده :

۱. د عشق خورا نري احساسات پکښي سته، د دې سبك د شاعر کار له زړه سره دی، لکه رحمان بابا لسان الغیب نه دی چي د عالم قدس څخه وړغیږي، او نه وچ کلك ناسوتي دی بلکي د هغو تودو احساساتو څخه الهام اخلي چي آرت او صنعت زیږوي.
۲. په دې مکتب کي تشبیهات او استعارات طبیعي رنګ لري، د ظاهري ښکلیتوب او مادي جمال بیان کوي او په دې ښېګڼه کښي د خوشحال خان سبك ته ورته دی.
۳. عبارات او الفاظ یې پرېولي او روان دی، ژبه یې جذابه ده.

٤. د معاني او احساساتو په تجسم او تصویر کښې د ژبې خاص بلاغت استعمالوي، مطلب سپېځلي او روښانه راوړي، تعقید او ابهام نه خوښوي.
٥. د اخلاقو تلقین او مواعظه یې لاهوتي نه ده، حتی المقدور د اجتماع او انساني معاشرت له خنده نه وزي.

د پیرمحمد سبك په دغومیزاتو او خواصو د خوشحال خان او رحمان بابا د سبکونو تر منځ یو فاصل خط دی، او دا سبك د آرت له پلوه غوره او ډېر ښه دی.

د پیرمحمد د مکتب او سبك شاګردان او پېروان چي موږ ته معلوم دي دا دي :

١. شمس الدین کاکړ
٢.ګل محمد نورزی
٣. سردارمهردل خان مشرقي

د دې شاعرانو احوال او وینا په اصل کتاب کښې وګوري.

ز: د حمید سبك :

تر خوشحال خان او رحمان بابا وروسته د پېښور ښې مځکي یو بل خورا لوی او مروچ شاعر پښتو ته ورکی، چي یو بل نوی سبك یې جوړ کړ، او د پښتو ادب یې له بلي خوا تکمیل او بشپړ کړ، دا سړی عبدالحمید ماشوخېل مهمند و، چي تر (١١٠٠ هـ) وروسته پیدا سو.

حمید ښکلي اشعار او د خونده ډك اثار په پښتو کښې پرېښووه، ده مبتکره او بداعت خوښوونکې قریحه درلوده، او د بل چا پېروي یې ونکړه، بلکي پخپله یې یو نوی سبك جوړ کړ، او نور خلك یې خپلي پېروۍ ته راوغوښته.

حمید په دې خپله هیله کښې ښه بریمن سو، او خپل سبك یې ښه جوړ او خپور کړ، ده د پاړسو ادب ولوست، او هندي سبك چي د ده په زمانه کښې په پاړسو لوړتیا او عروج ته رسېدلی و. ښې سره وسپېڅلی، وروسته نو پخپله هم پکښې داخل سو، او د پښتو شعر یې پر هندي سبك واړاوه، او هغه خصایص یې پکښې راوړه، چي د پاړسو شعر هندي سبك درلوده.

نو د حمید سبك ته موږ د پښتو هندی سبك ویلای سو، لکه پر پاړسو چي دې سبك د مغولو په زمانه کښې اغیزي وکړې، او خورا رواج او مقبول سو، دغسي هم په پښتوکښې د حمید په زیار دې سبك رواج وموند.

خصایص :

١. په دې سبك د خیالپرورۍ (Idealism) زوردي، ترطبیعت وتلي خیالات او افکار په شعر کښګي راوړي، او هغه نرۍ او باریکي معناوي چي د جسم او مادې ځخه وتلي دي اداء کوي، او په شاعرانه تخیل کښې یې په داسي تشبیهاتو او استعاراتو راولي چي نادري دي او د جسم او مادې په دنیا کښې نه ځائیږي.

۲. اغراق او مبالغه د دې سبك له خصايصو څخه دي، كه يو شاعر وغواړي، چې يو شي كوچني كي، نو به يې دومره كوچني كي، چې ليدل كيږي به نه، او كه يې لويوي نو په نړۍ كښي به نه سي ځاى.

۳. شاعر يې د ادبي تلازماتو مراعات ډېر كوي، مثل او ممثل لازم او ملزوم ، ناتج او منتج ډېر سره راوړي، مثلاً كه هنداره راوړي ګرز ورسره راځي او كه سبر ياد كي نو به ضرور قمرۍ ورسره ملګرې وي.

٤. ځكه چې نادر استعارات او تشبيهات شاعرانو په دې سبك كښي راوړه، نو يې ډير پارسو اصطلاحات او كلمات هم په ژبه راګډ كړه، او د پارسو جملو او مصطلحاتوڅخه يې كار واخيست مګر دا خو چنداني ښه كار نه و.

٥. د حميد سبك هغه د بيان پاكيزه ګي او سپېڅلتوب چې خوشحال خان او پيرمحمد او رحمان درلود بايلود، او ډيري پېچلي خبري يي راوړي، حميد د پښتو شعر د تخيل او ايډياليزم له پلوه ډېر لوړ كړ، چې تر ده وروسته نورو شاعرانو هم دا سبك وروزلی، او دوی حميد خپل استاد وباله، او د (موښګاف) لقب يې وركړ.

د حميد د سبك پيروان :

۱.كاظم خان شيدا
۲.محمدي چمكني
۳.ميرزاحنان كندهاری
٤.حاجي عبدالله محزون
٥.كاظم
٦.كامګار
۷.صمد
۸.ملامحمد اكرم چي د( ۱۲۰۰ هـ) په شاوخوا كي په كندهار كي اوسېدی او د محزون استاد وْ د حميد په سبك كښي يې ويل وكړه.

## ح : د قلندر سبك :

د پيښور له ميرو څخه د (۱۱۰۰ هـ) په شاوخوا كښي قلندر نومي يو سړي راووتی چي د اپريدو څخه و، دا سړی د حميد ماشوخېل معاصر او په غزلياتو كښي د هغه د سبك شاګرد او پېرو دی.

مګر قلندر له ځانه د پښتو په شعر كښي يو نوی سبك هم راوايست، چي د عشق او ميني سوزان او تاوده او د جوشه ډك احساسات يې په ځلوريز شعر كښي وويل، او د ده اشعار داسي اغېزه ناكه او د اثره ډك دی چي ساري نه لري.

د قلندر سبك دغه خصايص لري :

۱. قلندر د خپل خوږمن زړه مجروح احساسات پخپلو نارو او غلبلوکښي په ښه ډول راوستلي دي، چي د سړي زړه ورسوځي، او داسي اغېزه لري لکه شاعر چي د خپل خوږمن زړه ټوټې پخپلو اشعارو کښي پټي کړي وي، په پښتو شعر کښي د ده په راز تند جذبات او احساسات چا نه دي ښکاره کړي.
۲. قلندر د خپلو ويرجنو نارو او غلبلو لپاره يو مخصوص سبك او بحر ټاکلی دی، چي په ملي سوزان لحن وايه سي او هم پر عروضي اصولو سم دي، داسي اشعار څلور مصرئ لري لکه رباعي. قلندر يو مطلب په يوه رباعي شعر کښي ځايوي، او د مقصد د ويلو او اداء کولو راز يې داسي زړه وړونکي او بي تکليفه او اغيزه ناکه دی، چي سړی يې په اوريدلو ډېر متاثره کيږي، مخصوصاً که په ملي لحن وويل سي.

په دې دوو مميزاتو زموږ قلندر له نورو څخه بېل سبك لري او نور چا يې هم لږ پېروي کړېده ځکه چي په دغو خواصو شعر ويل د اوره ډك زړه غواړي او هغه لږ سته !

يو بل سړی د قلندر د سبك په تقليد موافق سويدی د کندهار ملاحسن اسحق زی دی چي دې سړي هم يو ډېر سوزونکی او د اوره ډك عشق درلود او د ميني په لېونتوب کښي يې د قلندر په ډول ځيني اغيزه من او دردناك اشعار وويل، او ټوله د زړه اور او خوږ يې پخپلو نارو او غلبلو کښي ښکاره کړ.

ط: د جنګياليو او ننګياليو سبك :

د پښتو ادب يو مهم ټوك هغه حماسي او د ننګياليتوب اشعار دي چي شعراء د ملي زړه ورتوب او د مېړنو د مېړاني احساسات پکښي مجسم کوي، که څه هم د پښتو په ټولو سبکونو کي د پخوا تر اوسه دغه ملي روح ژوندی دی او په هر عصر کي او هر سبك کي د حماست او ننګياليتوب احساسات ځرګند سوي دي !

که موږ د پښتو شعر په دېوانو او اثارو کښي وګرځو يا د ملي ادب پاڼې واړوو په هر ځای کښي د شاعرانو ښه ښه حماسي اشعار ليدلاي سواى او دا هغه ملي نارې او اثار دي چي د پښتنو زلمي يې خورا ګران ګڼي او په ټولو پښتونخوا کښي خاص اهميت لري خو بيا هم زموږ په ملي شاعرانو کښي يوه خاصه ډله هم سته چي دوی حماسي بدلي او جنګي او رزمي اشعار خالص ويلي دي، او خالص حماسي شعرونه ويل د دوی سبك دی .

دې شاعرانو د خپل مېړو او جنګي خلکو او ملي پهلوانانو د مېړاني قيصې نظم کړيدي، او د خپل ملت جنګي او حماسي مردانه احساسات يې ښه ځرګندکړي، او پخپلو اشعارو کښي راکښلي دي.

د دې سبك مشاهير دغه :

۱. برهان خان
۲. مسعودګل

٣. نورالدين
٤. زاهدخان
٥. عزيز خان
٦. سپينه
٧. ملاله

## ي : د قصه كوونكو سبك :

د پښتو د ادب يو بل خورا مهم ټوك قصه ده، او په پښتو كښي قصصي اشعار هم زښت شهرت لري، او هري خواته د قصه كوونكو شاعرانو سبك ډير مقبول دى.

په پښتو ادب كښي موږ دوه ډوله قصي لرو، لومړي هغه عشقي قصې دي چي له پخوانو زمانو څخه په پښتو كي سته، او دوه تنه عاشق او معشوق چي د قصې پهلوانان وي قصه د دوى په نامه شهرت مومي، لكه د ادم خان او درخو نقل، د توردلي او شاهو، يا د مؤمن او شيرينو نقل يا نور...

دا قصې په ملي ادب كښي مهم موقع لري، او د پښتو پيسكولوژي او روحيات راښيي، مگر زموږ مقصد دلته دغه قصي او نقلونه، نه دي، بلكه داسي شعراء هم سته، چي د عروضي اشعارو په ډول يې اوږدې اوږدې قصې منظومي كړي، او د ځان لپاره يې قصه كول، او قصصي شعر سبك ټاكلي دى.

علاوه پر دغه ځيني شعراء هم سته، چي په شعر كښي د بل سبك تابع دي، مگر ځيني قصې يې هم نظم كړيدي، چي دغه ډول شعراء نو موږ قصه كوونكي نه سو بللاى. د پښتو قصه كوونكي شاعران عموماً په مثنوي خپلي قصې نظم كوي، چي ځاى ځاى غزل يا قصيده هم لري، بحرونه يې عموماً اوږده دي، كله كله خفيف هم پكښي وينو، خو دلته دا خبره هم سته چي هر شاعر د قصې ځيني مخصوص مزايا لري، مثلاً يو سړى يې بزمي خوا ښه تصوير كولاي سي او ځيني نور يې بيا رزمي او جنگي وقايع ښه بيانوي.

د پښتو قصه ليكونكي شعراء دا دي:

١. باي خان :

چي د بنير و، او د ليلى مجنون قصه يې په پښتو نظم كړېده ( ٤٠) دى د (١١٠٠هـ ) په شاوخوا كي اوسېدى عبدالرحيم هوتك دى د خوشحال خان سره په شاعري كښي سم گڼې. (٤١).

٢. مياعمر چمكنى: د (١٢٠٠ هـ) په حدودو كښي ژوندى و، د پېښور او كرم په خواوو كښي اوسېدى، او لوى روحاني سړى و، د پښتنو د اقوامو شجره يې منظومه كړېده(٤٢) او ځيني نور مناجاتونه هم لري چي د لندن په موزيم كښي سته.

٣. امام الدين: چي د جمجه په نامه يې ځيني قصايد نظم كړيدي چي په عواموكښي

ډېر شهرت لري او راورټي يې ذکر کوي (٤٣).

٤. غلام محمد: د راورټي په قول په (١٧) عيسوي پيړۍ کښي ژوندی و، او يوه افسانه يې د سيف الملوک په نوم نظم کړه (٤٤) او معراجنامه يې او د والضحی منظوم تفسير يې وليکل.

٥. ارسلا: چي په (١٣٠٣ هـ) کښي يې د فتح خان قصه نظم کړېده او ډارمستېټر يې ذکر کوي (٤٥) پر دغو علاوه نور قصه ليکوونکي شاعران دغه دي :

٦. فياض
٧. مسعود د عبدالله زوی
٨. احمد اخوندخېل
٩. رحمت داوی
١٠. ملااحمد جان
١١. رحمت
١٢. ملانعمت الله
١٣. ملااحمد
١٤. نور

د عروضو شاعرانو د سبک او ډلو بحث دلته تمام سو، اوس به نو مختصراً دعوامو پر سبک هم لږ لږ وږغيږو.

٣. د عوامو ډله :

د عوامو په سبک کښي د پښتو ډېر اشعار ويل سوي او زموږ د ادب غوره پانګي په دغه سبک کښي سته چي دا سبک موږ له دې جهته د عوامو سبک ګڼو چي نسبت و نورو سبکونو ته د ملت د عامو طبقاتو په منځ کي ډېر شهرت لري، او په پښتونخوا کښي مروج دی.

دغه سبک د ادبي ارزښت له پلوه سچه ملي دی او د عوامو د احساساتو هنداره ده.

لکه دمخه چي مو وويل د دې سبک تدقيق او د ملي اشعارو او سندرو حصر او پلټنه بېل کتاب غواړي مګر په دغه کتاب کښي هم د هغو ملي شاعرانو نومونه او اثار چي زموږ لاسته راغله د دوی د لنډو اشعارو سره راوړه سويدي.

د عوامو په سبک کښي د ملي اشعارو ګرده، اقسام لکه : لنډۍ، د اتڼ نارې، سپرې بدلي، د نقلو نارې او نور... شامل دي، چي هم يې هجايي وزنونه بېل او هم يې مضامين ممتاز دي.

لکه د پخوانو په سبک کښي چي مو وليدل، د هغه عصر ډېر اشعار په ملي لهجه دي او مخصوص اوزان او الحان لري، چي اوس يې نمونې زموږ د عوامو په سبک کښي راپاته دي، او دغه د عوامو سبکونه دي، چي زموږ د زاړه ادب او پخوانو نيکونو د ادب رنګ او

ډول ښه راښکاره کوي.
د عوامو سبك دا خواص لري:

١. اشعار يې ټوله هجايي بحور او آهنګ لري، او دا بحور او اوزان خاص ملي دي د پردو تقليد پکښې نسته.
٢. هره ترانه او سندره ځانته بېل اهنګ لري، چي زموږ د ملي موسيقۍ اساسونه هم دغه اهنګونه دي، او په خورا سنګين او متين بږغ ويل کيږي، چي د ملت صلابت، او د ملي روح لوړتيا او کلك توب ښکاره کوي، او اورېدونکی يي د ويونکي له بږغ او اهنګ څخه د ده عالجنابي او ملي حميت معلومولای سي.
٣. په موضوع کښې هم د اشعارو ارته لمن لري، د عشقي او حماسي او اخلاقي خوا څخه خورا ښه مضامين پکښې سته غندنه ستاينه او فکاهيات هم لري، کله کله اوږدې رزمي او حماسي قصې پکښې راوړي او خپل ملي نوميالي مېړونه پکښې ستايي، لکه د احمدشاه، غازي محمداکبر، غازي محمد ايوب، ميرعلم، صاحبجان او موسي خان او نورو توريالیو بدلي چي د ملي پهلونانو ستايني دي.
٤. د دې ملي اشعارو مضامين او اهنګ دواړه خواږه دي، چي خارجي پوهان يې هم خوښوي ډارمسټټر فرانسوی مستشرق ډيري دغه ملي بدلي ټولي کړيدي. راوړتې ليکي چي دغه بدلي په ګرځنده موسيقۍ سره ويل کيږي او د حرارته ډکي دي، چي ماته د خپل وطن ملي سندري راپيادوي، او ډېري مي په پېښورکښې ليکلي دي (٤٦).
٥. دغه اشعار له هري خوا په اغېزه او اثر او جذابيت کښې هم ډېر ښه مهيج دي او انسان بديعي احساسات ورخوځوي، او زړونو ته شورماشور ورکوي، او اروېدونکي دې ته اړ باسي چي اتڼ او غورځنګ ورسره وکړي.

په دې خواصو او ښېګڼو زموږ ملي اشعار ډېر غوره دي ښايي چي زموږ د نوي ادب اساس هم دغه اشعار وي چي هم ادبي خوا او هم غنايي او د موسيقۍ ښېګڼي لري. اوس موږ د ملي سبك او د عوامو د ډلي د مشهور شاعرانو نومونه اخلو :

١. کمال
٢. محمدجي
٣. ميرا
٤. عبدالله
٥. خدايرحم
٦. عبدالودود
٧. ملاميران
٨. خواجه محمد

۹. صدیق اخندزاده
۱۰. سلیم
۱۱. عبدالرحمان
۱۲. محمدایوب
۱۳. طالب
۱٤. توکل
۱۵. سردارمهردل خان
۱٦. شیرمحمد
۱۷. برخوردار
۱۸. فیض الله
۱۹. سیدکمال
۲۰. ملازاهد
۲۱. محمدیارصاحبزاده
۲۲. محمددین
۲۳. نوروز.

د دې مبحث لنډه :

له پخوا زمانو څخه د پښتو شعر خاص ملي اوزان او سبك درلوده، دا دوره تر اسلام دمخه شروع کېږي بيا تر هجري دربیمي پېړۍ يعني د غزنويانو تر عصره رارسیږي.

موږ ته د دغې دربیمې پېړۍ اشعار لاسته راځي، او زموږ نیکونو په داسې سبك شعرونه ویلي دي چې افکار یې ساده دي او خاص ملي وزنونه او اهنګونه لري، د اشعارو مضامين حماسي، اخلاقي، موعظه او ملي دي، تر دوی وروسته د خيرالبيان سبك پيداسويدی چې شعر یې لکه قدماء نه پوره ملي دی، او نه پر عروضو برابر دی، د دې ادبي تحول او انتقال په زمانه کښې دوې مشهورې کورنۍ راغلي او دا سبك یې روزلی دی.

لومړې کورنۍ د پيرروښان بايزيد ده.

دوهمه کورنۍ د اخوند درويزه ده

د خيرالبيان سبك له (۹۰۰ تر ۱۰۰۰ هـ) پوري روزل سويدی. د شعر مضامين یې ديني، تبليغي، اخلاقي او فلسفي دي.

وروسته د هجري زرم کال په شاوخوا کښې د عروضي شاعرانو ډله راغله چې پخوانو یې عشقي، اخلاقي، حماسي مضامين وويل، بيا نو د روښانيانو ډلي اخلاقي، عرفاني، فلسفي او د تصوف ګران مضامين په شعر کښې راوړه.

په دغو وختو کښې ملا الف د کندهار په سيمه کښې يو د عروضو ابتدايي سبك

راوایست او دیني، اخلاقي مضامین او مواعظ یې پکښي نظم کړه، دغسي هم د زرم هجري کال په حدودو کښي خوشحال خان او بیا تر ده وروسته رحمان بابا او حمید او پیرمحمد او قلندر نوي نوي سبکونه او د شعر ډولونه رواج کړه او شعري صنایع او ادبي بدایع یې په پښتوکښي وپالل، او د شعر ټوله اقسام او ډول ډول مضامین یې وویل، چي اخلاق، تصوف، د ماوراء الماده فلسفه ، مادي فلسفه، او نور ټوله افکار او تخیلات یې په ښه ډول پخپله ژبه کي ځای کړه.

پر دغو ډولونو علاوه د ننګیالیو او حماسه ویونکو قصه کوونکو شاعرانو سبکونه هم په پښتو کښي سته، او د عوامو ډله خاص ملي اشعار لري.

په دې ډول د پښتو شعر د کیف او کم، او رشاقت او سلاست له خوا ډېر ښه دی او د معنا او لفظ په متانت او ښېګڼو کښي ډېر لوړ ځي، چي د نورو ژبو د هر راز اشعارو سره ساري ګڼل کیږي، او په ادبي ارزښت کښي تر هیڅ ژبي پاته نه دی.

•••

## لمن لیکونه

١. د ګوستاولوبون لمړني تمدنونه د پاریس طبع، ١٨٨٩ ع.
٢. د ویکتور هوګو د کروموېل مقدمه.
٣. تاریخ الادب، عندالافرنج و العرب، د مقدسي.
٤. د هند د تمدن تاریخ د ګوستاولوبون، ص ٣٢٨.
٥. د ملي قصو او نقلو نارې هم په ملي اوزانو او زاړه سبک اړه لري.
٦. روابط ادبی ایران و هند، ص ٨٥.
٧. تذکره الابرار والاشرار د پېښور طبع.
٨. د افضل خان خټك تاریخ مرصع د راورټي د هرتفورډ طبع، ١٩٦٠ ع په ګلشن روه کي.
٩. راورټي انګلیسي مستشرق دی، چي د (١٨٥٠ ع) په حدودو کي ژوندی، او د بمبئي د درېیم لښکر کاپیتان و، دې سړي د پښتو ژبي په تاریخ او ګرامر او لغت کي ښه آثار ولیکل.
١٠. د هند د زړو آثارو مجله، ص ٣٦٦ ج ١١ د مارګن ستېرن مضمون.
١١. مخزن الاسلام قلمي.
١٢. مخزن او تذکره الابرار و الاشرار د اخوند درویزه.
١٣. مجلهٔ کاوه، د برلین طبع، ص ٩ ج ٥.
١٤. دبستان مذاهب ص ٢٥١ د بمبئي طبع ١٢٩٢ هـ.

١٥. د دولت قلمي دېوان، قديم مخطوط، د پښتو ټولني د کتابخانې.
١٦. د اخوند درويزه مخزن الاسلام د ١١٤٤ هـ مخطوط.
١٧. د پښتونخوا د شعر هار و بهار د پاريس طبع.
١٨. د هند د زړو آثارو مجله.
١٩. تذکره الابرار ص ٣١ ـ ١٠٧.
٢٠. تذکرۀ علمای هند ص ٥٩.
٢١. مخزن الاسلام قلمي د ١١٦٧ هـ مخطوط.
٢٢. خزينه الاصفيا تذکرۀ علمای هند ص ١٣١.
٢٣. د راورټي د پښتو گرامر ديباچه د کلکتې طبع.
٢٤. فوائد الشريعه.
٢٥. د راورټي د پښتو گرامر ديباچه.
٢٦. شکرستان افغاني د ١٩٠٥ ع طبع.
٢٧. المعجم فی معايير اشعار العجم، د شمس الدين قيس رازي، د تهران چاپ ص ٢٠.
٢٨. کشف الظنون ج ٢ ص ٢٣، المعجم ص ٣٠.
٢٩. د ابن الانباري طبقات الادباء ص ٥٥.
٣٠. د ابن نديم الفهرست ص ٦٤.
٣١. د احمد امين ضحی الاسلام ج ٢ ص ٢٩٠.
٣٢. البيروني، ص ٧١.
٣٣. تذکره الابرار والاشرار ص ١٤٩.
٣٤. کذا فی الاصل
٣٥. تذکره الابرار ولاشرار ص ١٤٩.
٣٦. د پښتو گرامر مقدمه.
٣٧. د پښتونخوا د شعر هار و بهار.
٣٨. تذکره الابرار ص ١٧٠.
٣٩. د کليد افغاني مقدمه
٤٠. د راورټي د گرامر مقدمه
٤١. د عبدالرحيم قلمي دېوان
٤٢. تاريخ صولت افغانی
٤٣. د راورټي د گرامر مقدمه
٤٤. د راورټي د گرامر مقدمه
٤٥. د پښتونخوا د شعر هار و بهار
٤٦. د پښتو گرامر مقدمه.

﴿۱﴾

# بېټ نيکه

د پښتنو د علم الانساب پوهانو او هغو مورخينو چې اسماء الرجال يې ليکلي دي، شيخ بېټني د پښتنو د ډېرو طائفو لوی نيکه بللی دئ، او وايي چې دا بېټنی د غرغښت او سړبن ورور و، پخپله د پښتنو ملي عنعنات هم د دې تصديق کوي، اما په مورخينو کې لومړی د دې ملي عنعنې تصديق ابوالفضل د مغولي پاچا اکبر د عصر مورخ کړی، چې د پښتنانه دغه درې پلاره مشهور دي[۱]. مګر د دې نيکه نوم مورخينو مختلف راوړی، ځيني يې بېټ او ځني يې بېټنی او ځيني يې بټن ليکي. نعمت الله هروی او خانجهان لودي هم په مخزن افغاني کې بېل د شيخ بېټني اولاد او د دې قوم مشاهير او اولياء مفصلاً راوړي، ځکه چې آئين اکبري په (۱۰۰٦ هـ) او مخزن په (۱۰۱۸ هـ) کې ليکل سوی دئ، نو دا ويلای سو چې د پښتنو د ملي عنعناتو او د رجالو د تاريخ لومړي ليکونکي هم دوی دي، نعمت الله په دې سلسلو کې مجمع الانساب او اخبار احمدي کتابو ته هم حواله ورکوي، چې تر ده دمخه ليکل سوي، او د پښتنو د انسابو ذکر يې کړی دئ، په دغه عصر کې اخوند درويزه ننګرهاری هم چې تر (۱۰٤۸ هـ) پوري ژوندی و[۲] ده هم د پښتنو انساب راوړي دي[۳]. دغو ټولو مورخينو د شيخ بېټني ذکر مفصلاً يا ضمناً کړی دئ.

مګر تر دغو ټولو يو پخوانی او زوړ اثر چې د شيخ بېټني ذکر او اشعار پکښې راغلي دي، د سليمان ماکو د بارك د زوی "تذکرۀ اولياء" ده، چې پسله (٦۱۲ هـ) ليکلې سوې ده، د دې کتاب هغه يو څو پاڼې چې سته، د شيخ بېټني ذکر داسي کوي :

"نقل هسي کاندي يارانو چې په روزګار د شيخ بېټني کې د ده ورور چې سړبن نومېد، او پر شيخ بېټني هم خورا ګران و، سړبن نه درلود زامن، او هر کله به يې ويل خپل ورور ته، بېټني خپل زوی اسماعيل ورکاوه، او لوی سو د سړبن په کاله، خدای مهربان د اسماعيل په برکت سړبن

---

۱- آئين اکبري، ج ۲، ص ۱۹۱.

۲-تذکرۀ علمای هند، ص ٥۹.

۳ -تذکرة الابرار و الاشرار او پښتو مخزن.

ته نصیب کړه، دومره زامن چي اوس ... سو ګڼون د هغو، د اسماعیل مرقد واقع دی د کسي پر غره چي زه هلته تللی وم[1]".

له دې روایته ښه ښکارېږي، چي په پخوانو پښتنو کي د شیخ بېټني کرامات مشهور وه، او د دې کتاب لیکونکی لکه چي پخپله وایي د کسي غره[2] ته تللی او د دغه اسماعیل زیارت یې کړی دئ.

د سلېمان ماکو دغه روایت نعمت الله کټ مټ په مخزن کي تائید کوي، او داسي لیکي:

"نقل است سړبنی برادر کلان بتنی مفلس بود، و از هیچ چیز دستگاهی نداشت، باوجود آن از سعادت فرزند هم محروم بود روزی سړبنی به خانه برادر خود که شیخ بتنی باشد آمده عرض کرد که ای برادر دعای تو در باب جمیع خلائق مستجاب الدعوات است در باب من توجه نمی فرمائی که در طلب فرزند و فراخی معاش کوشش بسیار دارم، حضرت شیخ بیت فرمود که یك پسر مرا ببر و پرورش نما، که بقدم او هم دهم اسباط، و مال و منال و مواشی که لوازم دولت است میسر آید، آخر الامر شیخ پسر خود اسماعیل را ببرادر خود سړبنی داد، و سړبنی برادر زادهٔ خود را بخانه آورده پرورش می نمود، از برکت قدم او دولت و اولاد چندان بظهور آمد تا قیام قیامت کم نخواهد شد، چون اسماعیل بسن رشد رسید از ریاضات شاقه بمراتب ولایت رسید، و این شیخ اسماعیل که مقبره و گنبد ایشان بر کوه سلیمان واقع است همان شیخ اسماعیل سړبنی پسر حضرت بیت است ...[3]".

په دې ډول زموږ د لومړي مورخ سلېمان ماکو قول که څه هم تر نعمت الله څلور سوه کاله دمخه دئ، مګر یو د بله پوره ربط او نثر د یووالي سره لري او دا ښکاره کوي، چي تر زرم هجري کاله هم د شیخ بېټني لوی نیکه په باب کي پښتنو معنعن کلک او مسند روایات درلوده، چي له هغو څخه په دغو دوو کتابو کي لږ پاته دي.

متاسفانه د شیخ بېټ نیکه نور احوال موږ ته نه دي پاته، او نه د ده د ژوندون وخت مورخینو تصریح کړی دئ، فقط ځیني له دغو مورخینو څخه دا هم لیکي، چي دی د غور د پاچهانو معاصر و، او د غور له مشهوري کورنۍ څخه شاه حسین نومی د ده په کور کي و[4].

که موږ بېله دغو تاریخونو چي پښتنو لیکلي دي په نورو کي پلټنه وکړو، نو دا ښکارېږي

---

۱–د سلېمان ماکو پښتو تذکرة الاولیاء، قلمي تالیف تر (٦١٢ هـ ) وروسته.

۲– پښتانه کوه سلیمان د کسې غر بولي، او دا د دې غره زوړ نوم دی.

۳– مخزن افغانی قلمي د نعمت الله هروی.

٤– مجمع الانساب، تاریخ سلطاني، حیات افغاني، خورشید جهان.

چي شنسب د غوري پاچهانو لوی نیکه د حضرت علی ؓ معاصر و، او تر هغه وروسته بیا ملك ۳۳سوري د سلطان محمود په عصر کي ژوندی، او د غور یو نومیالی مشر و، چي پر بُست او داور او رخج او غور یې پاچهي درلوده، او سلطان محمود د ده پاچهي ورانه کړه، او اولاده یې هرات ته فرار سول، او وروسته بیا بیرته په غور کي د دوی پاچهي جوړه سوه[۱].

په دغو غوري مشرانو کي حسین نومي ډېر دي، حمدالله مستوفي او یحیی قزویني هم د دې کورنۍ د حسین نومي سړي له غوره پردېسي او ورکېده راوړي[۲].

نو دغه روایت خو د پښتنو مړرخینو له روایاتو سره هم تطبیق خوري، په دې ډول نو دا ثابته ده، چي د غوري کورنۍ د عروج وخت له (۵۰۰ تر ۶۰۰ هـ) پوري دئ، او ابتدا یې هم مړرخین د سلطان محمود له عصره چي د دوی له یوه نیکه ملك سوري سره یې جګړه وکړه، او د ده نسل یې سره متفرق کی ښیي[۳]. په دې حساب نو که ښېټ نیکه له یوه سره د دغو لومړیو غوري مشرانو معاصر وي، نو د ده د ژوند وخت موږ له (۳۰۰ تر ۴۰۰هـ ) پوري تخمین کولای سو، او لکه سلېمان ماکو او نعمت الله چي وایي د ښېټ نیکه وروڼه او زامن د کسي په غره کي اوسېدل، چي اوس یې کوه سلمان بولي، او د دغو پخوانو پښتنو رجالو هدیرې هورې دي.

## د پښتنو یو خورا پخوانی شعر :

له لوړو څېړونکو څخه زموږ ښاغلي ویونکي دا اټکل کولای سي، چي د شیخ ښېټني بابا په وجود کي شك نسته، مګر دا خبره چي ښېټ نیکه په کومه زمانه کي ژوندی و ډېر تحقیق غواړي او له پاسنیو تاریخي تتبعاتو څخه البته څه نه څه ښکارېږي.

څکه چي تر اوسه زموږ لاس ته داسي اسناد او آثار نه دي راغلي، چي د دې پښتنو تېرو رجالو د ژوندون بشپړ سوانح څني څرګند سي، نو په لوړو تخمیني څېړنو اکتفا کوو مګر دومره خو ثابته ده، چي د پښتنو ملي عنعنات او تاریخي آثار د ښېټ نیکه وجود په ټینګه ثابتوي، چي دا سړی د پښتنو یو مشهور مېړه، او نومیالی تېر سوی دئ، تر ټولو مهم د ښېټ نیکه د پښتو یو شعر دئ، چي سلېمان ماکو پخپله تذکرۀ الاولیاء کي رانقل کړی دئ، او د پښتو د ادب تاریخ ډېر قدیم ثابتوي، او زموږ د ژبي په تاریخي ادب کي ډېر مهم او له لومړنیو اشعارو څخه دئ، چي موږ ته رارسېدلي دي !

---

۱- طبقات ناصري قلمي، ص ۱۸۱، او جهان آراء د قاضي احمد غفاري د پاریس نسخه.

۲- تاریخ ګزیده، ص ۴۰۷ د لندن طبع ۱۳۲۸ هـ، لب التواریخ د ایران طبع، ص ۹۲.

۳- وګورئ ګزیده، ص ۴۰۷ او فرشته، او لب التواریخ ص ۹۲.

زموږ اوسني معلومات او پلټني خو تر شېخ بېټني دمخه د پښتو کوم یو ادیب نه راښیي، مګر زه دا ویلای سم، چي دا ژبه ډېره زړه او د اوستا Avesta له ژبي سره سمه ده، نو زاړه شعراء به یې هم درلوده، خو د زمانې د حوادثو ځپو زموږ څخه هغه ملي آثار ورك کړه، او که د سلېمان ماکو د تذکرې یو ځو پاڼې نه وای، د بېټ نیکه دغه اشعار هم ورکېده.

خو بېټ نیکه اوس زموږ د ملي ژبي لومړنی ادیب او شاعر دئ، او سلېمان ماکو د ده د شعر ذکر داسي کوي :

"نقل کاندي چي شیخ بېټنی سپین ږیری سو، نو ده به هر کله څښتن ستایه، او رب ته به یې درخواست کاوه، چي زما په کهول او د سړبن او غرغښت په کهول کي برکت کښېږده، بادار قبول کړ د ده درخواست او ډکه سوه، مزکه د پښتونخوا د دوی په کهول، نقل کاوه سي چي حضرت شیخ بېټني به ډېر تر ډېر دا سندري لولولې، او د کسې غره کي به ګرزېد په شپې[1]".

تر دې بیان وروسته پښتون مړرخ سلیمان ماکو د بیټ نیکه هغه اشعار داسي رانقل کوي :

لویه خدایه ! لویه خدایه ! ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دئ درناوی کې تولـه ژوي په زاری کې
دلته دي د غرو لمنې زموږ کړدی دي پکښې پلنې
دا وګړي ډېر کړې خدایه ! لویه خدایه ! لویه خدایه !

***

دلته لږ زموږ اور بل دئ ووږ کورګی دئ ووږ بورجل دئ
مینه ستا کي موږ مېشته یو بل د چا په مله تله نه یو
هسك او مځکه نغښته ستا ده د مړو وده له تا ده
دا پالنه ستا ده خدایه[2] لوي خدایه ! لویه خدایه !

که دې شعر ته موږ ځیر سو، نو د لاندنیو مزایاوو څرك پکښې ایستلای سو:

١. د شعر سبك یې خورا ساده او زوړ ښکاري، لغات او کلمات چي پکښې راغلي دي،

---

١- د دې لیك خط ډېر وران و، املاوي یې موږ تصحیح کړې، او پر اوسنی اصطلاح مو سمي ولیکلې.

-٢ دا اشعار په خورا بد خط لیکلي سویدي، په دغه ډول په خورا زحمت ولوستل سوه.

اوس ځیني په دغو معناوو مړه دي، مثلاً : ژوی اوس څوك د مخلوق په معنا نه وايي، فقط په زړو ادبياتو کي يې کله کله وينو، او که دغه کلمه په فعلي معنا واخلو يعني (زندگاني ميکند) دا تعبير هم زوړ دئ، او اوس مستعمل نه دئ. دغسي هم هسك دلته د آسمان په معنا راغلی دئ، مگر اوس هر لوړ اوچت شي ته هسك وايو، ښايي چي پخوانۍ معنا دې آسمان وه، وروسته به د لوړوالي له لامله د لوړ او اوچت په معنا مستعمل سوی وی، لکه د عربي سماء.

٢. پر دې شعر د پرديو ژبو اغېزه هم لږ ده، بېله يوه (خدای) بله داسي کلمه نه ده پکښي راغلې، چي د بلي ژبي سره مشترکه وي، ښايي چي دغه کلمه هم د پښتو وي، ځکه خدای تعالی هغه ذات دئ چي يوازي دئ، په ښه والي سره موصوف دئ، نور ټول موجودات عيوب لري، نو د ده پاك ذات ته د ښه اشاره کېږي، (ښه دا) ښه خو په پښتو کي په (خ) هم بدلېږي نو په کثرت استعمال (ښه دا) خه دا، او وروسته (خدا) سو. نو په دې ډول دغه شعر سوچه پښتو دئ، او دا ځني څرگندېږي چي د دې شعر ويونکي د پردۍ ژبي له خلکو سره گډون نه درلود، او په داسي ځای کي اوسېدی، چي هلته بېله پښتو د بلي هيڅ ژبي اغېزه نه وه، او لکه مورخين چي وايي هغه مځکه نو د کسې غره (کوه سليمان) و١ چي اوس هم د پښتو د ادب او لغت قيمتي ذخاير هورې سته.

٣. د شعر بحر او عروضي کيف يې هم بېل ډول دئ، چي د پښتنو و ملي بدلو ته ډېر ورته دئ، او لکه د پښتنو بدلي چي تکرار کېدونکی کسر لري، دا هم (لويه خدايه – لويه خدايه) کسر لري، او دا خاصه تر اوسه هم په ملي بدلو کي پاته ده.

٤. دا شعر د خيال او فکر له رويه خاص و زړو آريايي سندرو ته ورته دئ، ډوکتور گوستاولوبون ليکي، چي زړو آريايانو د کورنۍ پرستش کاوه، او خپل نيکونه يې ډېر مقدس او ستانه گڼل، او هر کله به دوی خپل کورنۍ او کهولونه ډېرول، او کهول يې د ټولو نعمتو مرکز گاڼه"[2] . پښتانه خو هم دغه خپل اجداد ډېر ستانه بولي، مثلاً بېټ نيکه په اولياوو کي شمېري، نو که د بېټ نيکه دغه لوړ پښتو شعر موږ د آريانانو د زاړه کتاب ريگويدا Rig Vida سره مقابله کو، دا به راښکاره سي چي دا شعر د فکر او مضمون له

---

١- کاسي غر يا د کسې غر چي وروسته د سلېمان غر بلل سوی دئ، اصلاً منسوب دئ هغه سړي ته، چي معرب نوم يې "قيس" و، او د سړبن او بېټني او غرغښت پلار باله سي، وروسته دا غر د سلېمان په نامه ياد سوی دئ، خو پښتانه يې اوس هم د کسې غر بولي.

٢-د هند تمدن، ص ١٨٨ د گوستاولوبون.

پلوه هم ډېر زوړ دئ، د ریګویدا یو مناجات دا دئ :
" خدای تعالی د ژوندون واکمن دئ، مالك الملك دئ، دی ښاغلي کورنئ سړو ته ورکوي، خدایه موږ ستا مریي یو، بې اولاده، بې ښېګړې مو مه وژنې[1]".
نو له دغو لوړو ملاحظاتو څخه هم دا ښکارېږي، چې دا شعر باید د پښتو خورا زوړ ادبي اثر وي، ولې چې ظاهري سبك او معنی او مضمون يې تړوله پر دغه دلالت کوي.

﴿۲﴾

# اسماعیل سړبنی

د پښتو مورخین او د اسماء الرجال خاوندان لیکي، چې اسماعیل په اصل کې د بېټ نیکه زوی و، څکه چې د خپل اکا سړبن په کور کې لوی سوی و، نو دی په سړبني مشهور دئ.
لکه د بېټ نیکه په سوانحو کې مو ولیکل، شیخ اسماعیل د سلېمان پر غره ښخ دئ، او هلته يې هدیره په پښتنو کې مشهوره ده، نعمت الله هروي په مخزن افغاني کې د سړبنو په مشهورو ستانو کې دوهم ذکر د دې مشهور نیکه کوي، او داسې لیکي:
"شیخ اسماعیل سړبنی قدس الله سره صاحب عبادت و ریاضت شاقه بود، مقتدای وقت، بعلوم لدنی کاشف اسرار طریقت و حقیقت بوده، در ولایت روه، چون از ... معاودت نمود، بوطن مالوف رسیدند، بمقام خواجه منزل گرفتند و خلایق از جاهای دور بملازمت شتافتند ...[2]".
د شیخ اسماعیل د ژوندون وخت یقیني ښکاره نه دئ، مګر مخزن افغاني دوني لیکي چې دی د شیخ احمد ولد شیخ موسی او حضرت شیخ بهاوالدین معاصر و :
"شیخ احمد ولد شیخ موسی در آنزمان در روه صاحب ارشاد و تلقین بود، چون خبر تشریف آوری شیخ اسماعیل سړبنی یافت بشوق تمام بملازمت رسید ... و من بعد از مفارقت از یکدیگر نتوانستند، حضرت مخدوم العالم بهاء الدین دو خرقه و دو سجاده برای هر دوی ایشان

---

۱- ریګویدا، ۷ باب، ٦ فصل، ٦- ۷ فقره.

۲-مخزن افغاني قلمي.

فرستاد ... و مقبرهٔ شریف شیخ احمد و شیخ اسماعیل هر دو بزرگ بالای کوه سلیمان است و گنبد عالی بالای قبر ایشان بنا نموده، و آنجا را مقام واژه خوا میگویند ...[۱]".

شیخ احمد د شیخ موسی زوی خو مشهور ستانه دئ، چي د قطب الدین بختیار پلار و، ځکه چي قطب الدین په (۵۷۵ هـ) زوکړی دئ[۲] نو موږ د ده د پلار د ژوندون دوره تر (۵۰۰ هـ) وروسته تاکلای سو، او د شیخ بهاء الدین ژوندون هم په دغو کلو کي و[۳]، له دغو ګڼلو څخه ښکاره کېږي چي اسماعیل هم پسله (۵۰۰ هـ) ژوندی و، او په پښتونخوا کي د ده د زهد او صلاح بړغ تللی و.

## د اسماعیل یو شعر :

د دې مشهور پښتون نیکه ذکر خو لږ و ډېر د پښتنو مېرخینو تولو کړی دئ، لکه لوړ چي ولیکل سوه مخزن یې د پښتو په ستانه وو کي راوړي، او د ده مناقب ډېر لیکي، مګر د پښتنو یو بل تذکره لیکونکی سلېمان ماکو خو تر نعمت الله دمخه هم د دې نومیالي پښتون ذکر مفصلاً کوي، او لکه دمخه چي ذکر سوه د ده مرقد هم د سلېمان پر غره بولي، چي دی پخپله هلته تللی و[٤] سلېمان او نعمت الله چي د پښتنو زاړه مېرخین دي د اسماعیل په باب کي سره ملګري او یو دي مګر سلېمان ماکو د خپلي تذکرې په یوه بل ځای کي د اسماعیل یو څو اشعار په دې ډول راوړي، چي دا اشعار هم د پښتو له زړو آثارو څخه ګڼل کېږي، او د ملي ژبي د ادب په تاریخ کي خورا ډېر او هر ګوره درووند قیمت لري، سلېمان ماکو داسي لیکي :

"نقل کاوه سي چي شیخ ملکیار[٥] ستانه به تل تتله د شیخ اسماعیل ستر ستانه پاړکي ویل، او بړغ به یې کاوه، دا شیخ د سړبن ځوی و :

| | |
|---|---|
| تبنته وکړه له ابلسه | چه ابلیس لعین ښکاره شي |
| هلته ورکه پلوشه شي | تول نړۍ توره تیار شي |
| سړي وران شي له ابلیسه | غوځ د پس په کتاره شي |

---

۱- مخزن افغانی.

۲-مخزن افغانی د نعمت الله.

۳- مخبر الواصلین او فرشته ص ٤٠٤.

٤- وګورئ په دې کتاب کي د بېټ نیکه د احوال برخه.

۵- په دې کتاب کي د ملکیار د سوانحو برخه وګورئ.

که هر چا ابلیس خرځ کړ نو بي هغه ننداره شي
که سړي ابلیس ته پړ شو نو پر کور د ویر ناره شي[1]

په دې ډول له اسماعیل نومیالي نیکه څخه موږ ته دغه یو شعر پاته دئ، او د مړرخینو له ویناوو دا ښکارېږي، چي ده په خپل عصر کي په زهد او صلاح شهرت درلود، او هم د پښتو ژبي یو ښه ادیب او شاعر و، د اسماعیل نیکه د شعر سبك ساده، خوږ او د نصحیته ډك دئ، او دا ځني څرگنده ده چي په هغه وخت کي پښتو ژبه له پردو کلمو څخه مجرده او تشه وه. په دې شعر کي د پښتو ښه او نادر لغات لکه :

پلوشه، کتاره، پس، خرځ راغلي دي، چي د شعر پر متانت دلالت کوي، دا کلمې تر اوسه هم په پښتو کي ژوندئ دي، کتاره پخوا هم له پښتو څخه په پاړسي کي مستعمله وه، لکه گردېزی مړرخ چي په زین الاخبار کي ډېره دغه کلمه راوړي(۸۲).

﴿۳﴾

# ملکیار غرشین

غرشین د پښتنو یو مشهور ستانه قوم دئ، چي ځانونه د سړبنو په میانه قوم گڼوي، ځکه چي د دې قوم لومړني نیکه یو وچ غر سرسبز کړی و، نو یې (غرشین) بولي او د قندهار په لتو کي اوسي(۳).

ملکیار غرشین له دغه قوم څخه یو خورا ستانه سړی و، او د پښتنو قدیمو مړرخینو د اولیاوو په ټولۍ کي د ده ذکر کړی دئ.

---

۱ (۷) د سلېمان ماکو پښتو تذکره، قلمي.
۲ (۸) زین الاخبار د ابو سعید عبدالحی گردیزي له خوا د (٤٠٤ هـ ) په حدودو کي لیکل سوی دئ.
۳ حیات افغاني، ص ۱۵۲.

نعمت الله او خانجهان لودين ليکي چي شيخ ملکيار پران غرشين ډېر ستر ولي و، او يوه ورځ د ابابکر طوسي له ځايه سره په ډهلي کښې تېرېدی، له هغه څخه يې يو ځای وغوښت مګر ابابکر عذر وکی، چي دا ټوله ځايونه د پاچا دي، ملکيار ژر ملتان ته راغی، او له سلطان غياث الدين څخه چي په هغه وخت کي يې پر ملتان يرغل کړی و، هغه ځای واخيست، او اوس يې هم هديره هلته ده[1]. دا قصه چي مخزن ليکلې ده، څو سوه کاله دمخه سلېمان ماکو هم داسي راوړې ده، چي د ملکيار د ژوندون وخت د سلطان شهاب الدين غوري د هند د يرغل په وخت کي زبادوي[2].
شهاب الدين محمد غوري خو لومړۍ پلا په (٥٧١ هـ) کال پر ملتان يرغل کړی و، سلېمان ماکو ليکي :

"نقل کاوه سي، چي په روزګار د غازي شهاب الدين چي پر کفر يرغل و، شيخ ملکيار چي غرشين ستانه و هم ملګری و، د شهاب الدين. چي په ډيلي کښې هغه ستر واکمن ټاټوبی ور وښانده، او هم هورې مړ سو، نقل کاوه سي چي په جوبله کي مسلمانان تر شا ولاړه، او کفارو بری وکړ، ليري نه وه چي مسلمانان سي دکفارو په کټارو پېنا، او دښنه پرې وکړې. ناڅاپه شيخ ملکيار راغی، او پر دښن (يې) يرغل وکاوه، او ډېر زښت (يې) ووژل، نورو مسلمانانو هم د ملکيار تر اړخ توري وکښې، او سره ومروړل (يې) دښنه، ستر څښتن دوی ته په مېړانه د شيخ ورکړه لو سوبه او بری چي پخوا هم نه و په برخه سوی د چا هيڅکله، په هيڅ ځای کي. په جوبله کي مليکار دا پاړکی وويل، چي غازيان وپارېدل، او په څېر د زمريو ور توی سول[3]".

تر دې وروسته سلېمان ماکو د شيخ ملکيار اشعار چي د عربو د رجز په ډول يې ويلي دي داسي رانقل کوي :

څښـتن مو مل دئ ـ اوس مو يرغـل دئ ـ هــواد د بل دئ
غازيانو ګــــورئ !
څښـتن مو مـل دئ
توري تېرې کړئ ـ دښن مو پرې کړئ ـ منګلي سرې کړئ
څـــــله به تښـتو ؟

---

١- د نعمت الله او خانجهان مخزن افغان، قلمي.

٢- په مخزن کي غياث الدين ذکر سوی دئ، ظاهراً غلطي ده، ځکه چي د هند فاتح سلطان شهاب الدين محمد سام دئ، نه د ده مشر ورور غياث الدين، سلېمان ماکو هم د غياث الدين پر ځای شهاب الدين راوړی دئ.

٣- د سلېمان ماکو پښتو تذکره، قلمي.

ځبنـتن مـو مل دئ
که تېنګ کـــړو زړونه – پـــر بري يــــونه – چې زمــــري يونه
اســـلام راځخه دئ
ځبنتن مو مل دئ
غازيانو راسئ ــ ټول شاوخوا سئ ــ د شهاب په ملا سئ[١]
دښن مو غوڅ کئ !
ځبنتن مو مـل دئ

## ادبي خصايص :

لکه د پښتنو نور زاړه اشعار او پاړکي دا پاړکی هم سپین سپېڅلی، او د نورو ژبو له ادبي اغېزو څخه تش دئ، پردي لغات لږ پکښې راغلي دي، بحر او وزن يې د ملي بدلو دئ، کسر لري، علاوه پر دغه يې مسرۍ هم خورا خوږې او لنډې لنډې دي.

د دې پاړکي معنوی خوا هم خورا خوږه او ملي رنګ او جوش لري، حماسي احساسات يې خورا تاوده دي او دا يوه خورا غوره نمونه ده، له هغو حماسي پاړکيو څخه چې پخوانو پښتنو به د جګړو پر ډګر ويلې !

د سلېمان ماکو له ليکه ښکارېږي چې ملکيار يو پښتون، نېك عمله اديب او ستانه و، علاوه پر لوړ شعر سلېمان دا هم وايي :

"نقل کاوه سي چې شيخ ملکيار ستانه به تل تتله د شيخ اسماعيل ستر ستانه پاړکی ويل، او ږع به (يې) کاوه[٢]".

له دغه څخه ښکارېږي چې دا پښتون اديب د ښه ادبي ذوق خاوند و، او د نورو پښتنو اشعار به يې هم ويل، لکه چې سلېمان د اسماعيل سړبني پاړکی هم د ده له خولې نقل کوي[٣].

په دې ډول ملکيار غرشين د پښتنو له لومړنيو ښو ادباوو څخه دئ، چې د ده دغه يو شعر د ملي ذوق او ملي احساساتو نمايندګي اوس کوي.

ځکه چې ملکيار په (٥٧١ هـ) د سلطان شهاب الدين غوري د ملتان په لومړي يرغل کي ژوندی و، نو د ده د تولد وخت هم پسله (٥٠٠ هـ) تخمين کولای سو. لکه نعمت الله او سلېمان

---

١–دا کلمه اوس نه ده ژوندۍ، مګر داسي ښکارېږي چې رېښه يې (مل) ده، چې اوس يې ملګری، ملتيا او ملتوب مصدري صورتونه ژوندي دي.

٢–د سلېمان ماکو تذکره، قلمي.

٣– د اسماعيل سړبني برخه وګورئ.

ماکو چي ليکلي دي په دهلي کي وفات او هورې د شيخ ابابکر طوسي سره يو ځای ښخ دئ.

﴿٤﴾

# تايمني

تايمني د پښتنو يو قوم دئ، چي د سياه بند په غرو او د غور په لتو کي اوسي، پخپله دغه قوم ځان د کاکړو يوه پښه بولي ځيني مؤرخين هم وايي، چي تيمن د کاکړ زوی و، او دغه قوم د هغه اولاده ده(١).

د تايمني په نامه مونږ د پښتو ژبي يو خورا زوړ او پخوانی اديب او شاعر پېژنو، مګر دا نه ده ښکاره چي د دې شاعر نوم تايمني و، او که يې قوم و.

د غوري شاهنشاهانو په عصر کي زمونږ هيواد يو ښه مدنيت درلود، او هري خوا ته علماء، ادباء ډېر وه، يو د دغه عصر پښتون اديب تايمني دئ، او داسي ښکارېږي چي تايمنو په هغو وختو کي پښتو ويله، ځکه چي دې شاعر د سلطان غياث الدين مشهور غوري مدح په پښتو کړې ده.

له دې اشعارو څخه ښکارېږي چي پخوا د پښتو ژبي ادب څنګه سپېڅلی او خوږ او سليس و، متإسفانه د دې ملي او پخواني شاعر نور آثار او اشعار ورک دي. فقط دغه لاندي بيتونه يې د پښتنو زړونو د زمانې له سېلابه ساتلي او مونږ ته يې را رسولي دي :

---

١-حيات افغاني، ص ٢٤٤، ٤٥٨.

نن زه بږغېږم په صفت د سلطان — چې دئ بادار غازي ملك د جهان
د فیروزکوه او غور رڼا له ده ده — هم د تېرو تورو برېښنا له ده ده
چې توره وکاږي چېرتون کې خالي — غلیم یې کله کړي په توره سیالي
غیاث الدین د غور زمری عالیشان — د اسلام دین د ده په توره روښان
ما د "داور" پر مځکه ولید ارم — دا د جنت په څېر و بڼ ښه خرم
د فیروزکوه په دود ودان دینا — ښکلی هر ګل څه ښه خندان دینا
دلته کړونګي دي بږغونه کوي — اوبه بهېږي سرودونه کوي
هر سړی ګوري چې ولاړ وي حیران — کړي ننداري د خداوند د بستان

غیاث الدین د جهان لمر دینا — عالم له ده ډېر بهره ور دینا
هند یې روښانه په اسلام کی نا — له ځانې خوښ خیرالانام کی نا
چې یې په غور کې نیلی زین کی نا — پر کافرانو یې ناورین کی نا
تل دي بری وي د غازي پر میدان — زه "تایمني" ستاینه کړم د سلطان[2]

[1]

دا څو بنده له هغې بدلې څخه دي، چې تایمني د سلطان غیاث الدین غوري شهنشاه ستاینه کړې، او په دې ضمن کې د زمین داور ودانۍ هم یادې کړې دي د تایمني دغه د زمینداور تاریخي ودانۍ د غوري عصر مشهور مورخ منهاج سراج جوزجاني هم مفصلې بیان کړي دي لکه چې لیکي :

"ثقات چنین روایت کرده اند که سلطان غیاث الدین در اول جوانی معاشر عظیم بود و شکار دوست.

و از حضرت فیروزکوه که دارالملك او بود، تا بشهر زمین داور که درالملك زمستانی بوده، هیچ آفریده را مجال نبودی که شکار کردی ... در زمین داور باغی ساخته بود آنرا باغ ارم نام نهاد و الحق در میان دنیا مثل نزاهت و طراوت آن باغ هیچ پادشاهی را نبود و طول او بقدر دو میدان وار زیادت بود ...[2]".

د دې تاریخ لیکونکی قاضي منهاج السراج د غوري عصر یو مشهور سړی دئ، چې د

---

۱- دا بدله په ۱۳۱۰ ش کال د هلمند پر غاړو د یو سپین بږیري له خولې لیکلې سوې ده.

۲- طبقات ناصري ص ۸۱ طبع د ایشیاتك سوسایتی کلکته، ۱۸٦٤ ع، او قلمي نسخه ص ۲۰۲.

غوري پاچهانو په درباروكي اوسېدی، د باميان، فيروز كوه، هرات، زميندار د هغه عصر مدنيتونه يې پخپلو سترگو ليدلي او ليكلي دي، د تايمني پښتون اديب دغه بدله هم د هغه مېرخ د بيان تائيد ښه كوي دا دوه معاصر ادباء د غوري عصر د ثقافت نمايندگان دي.

د سلطان غياث الدين د پاچهۍ زمانه خو د (٥٦٠ هـ) په شاوخوا كي ده، نو موږ دا تخمين كولای سو چي تايمني تر (٥٠٠ هـ) وروسته زوكړی دئ.

## د تايمني د شعر خصوصيات :

د دې پخواني شاعر په شعر كي دا لاندي ښېگڼي موږ وينو :

١. سلاست او د كلام رواني او سادگي.
٢. حماسي احساسات.
٣. سره د دې چي دا بدله پر عروضو او قافيه سمه ده، بيا هم ملي رنگ لري او په ملي لهجه هم ويله كيږي.
٤. د ځينو سپېڅلو پښتو لغاتو استعمال لكه : نيلی، ناورين، كړونگه، چړتون، او نور ... چي د پښتو زړه سپېڅلتيا ښكاره كوي.
٥. ځيني د ترنم حروف چي د بيتو په پای كي د بحر د بشپړولو له پاره زيات سوي دي، او دا د پښتو زړو ادباوو د كلام يوه خاصه ده، مثلاً : كي نا، دينا چي په دې ډول د تايمني دغه بدله زموږ ملي گرانبها زوړ ادبي اثر دئ. چي خوشبختانه اوس زموږ په لاس كي دئ، او د پښتو د ادب قدامت څرگندوي.

(۵)

# قطب الدين بختيار

قطب الدين د احمد زوی د موسی لمسی په قوم پښتون بختيار، او د خپل عصر له نوميالیو عرفاو څخه و، چې تر اوسه هم په هند کي لوی شهرت لري.

پرديو او خارجي مورخينو دا سړی نه دئ پېژندلی، او دی پښتون نه بولي. مگر د پښتنو مورخينو خو دی د پښتنو په عرفاني مشاهيرو کي راوړی دئ.

نعمت الله په مخزن افغاني کي د ده مناقب مفصلاً راوړي، او دی داسي معرفي کوي :

"حضرت خواجه قطب الدين بختيار کاکی قدس الله سرهٔ نام پدر ايشان احمد بن موسی است ساکن اوش بود که از نوابع بغداد است و تولد آن برگزيده در سنهٔ پانصد و هفتاد و پنج اتفاق افتاد ... چون سال عمر ايشان به بيست و پنج رسيد حضرت معين الدين سنجری به آن مکان تشريف آورد، خواجه قطب الدين بختيار دست انابت بذيل هدايت ايشان در آورده مريد شد ... بعده برخصت والده بصوب بغداد مسافر شدند و اکثر شيوخ آن عهد را دريافتند، به تخصيص از صحبت شهاب الدين عمر سهروردی و شيخ اوحد الدين کرمانی و شيخ جلال الدين تبريزی بهرهٔ تمام يافتند، بعده برفاقت شيخ جلال الدين متوجه هندوستان شدند، در بلدهٔ ملتان بغوث العالم شيخ بهاء الدين ذکريا ملاقات نمودند ...".

(مخزن افغاني، قلمی)

په دې ډول نعمت الله د پښتنو مورخ قطب الدين بختيار د خپل کتاب په ډيرو ځايو کي قطب افغان ليکي، او د ده د نورو همقومو مشاهيرو نومونه هم راوړي لکه : خواجه يحيی بختيار، شيخ شهاب بختيار، شاه ابابکر بختيار او نور ... دا خو ښکاره ده چې بختيار د پښتنو يو خورا مشهور او ستانه قوم دئ، چې تر اوسه هم د دوی په زرو زرو کورونه د پښتونخوا په مځکو کي خپاره دي، دوی لکه قديم آريايي اقوام د سلېمان د غره په شاوخوا کي پوندگي کوي، ځکه چې پردي مورخين د پښتنو په دغه قوم نه وه خبر، نو يې قطب الدين پښتون نه دئ ليکلی، فقط د ده سره بختيار ليکي، فرشته وايي چې دی په اوس کي زوکړی و، چې د ماوراء النهر له ښارو څخه دی[1]،

---

۱- فرشته، ص ۳۷۸، طبع لکهنو.

ابوالفضل علامی هم دی د فرغانې د اوش بولي[1].

اوش یا اوج خو دوه زاړه ښاره وه، چې د سیحون پر ها بله غاړه ودان وه[2]. ابن خرداذ به وايي چې دا يو لوی کلی و، چې له قبا څخه اوه فرسخه ليري و، او اوزکند ته لس فرسخه پروت دی[3].

یاقوت هم دا دوه کلي بېل بېل راوړي، اوش له فرغانې او اوج د سیحون پر ها غاړه ګڼي[4]، نو که موږ د پردو مورخينو دغه قول چې قطب الدين په اوش کې اوسېدی ومنو، ځکه چې د ده پښتنواله پښتنو مورخينو راوړې ده، نو دا ویلای سو، چې د ده نيکه یا پلار به کوم وخت هغې خواته تللی او قطب الدين به هلته زوکړی وي. دلته يوه بله خبره هم د غور وړ ده چې زموږ پښتون مورخ سلېمان ماکو پخپله تذکره کې د دې قطب الدين معرفي داسي کړېده :

"نقل کاوه سي چې بختياري ستر ستانه و، له ده نه څرګند سوي دي هغه کرامات چې مو وکښل او وويل، موسی چې ستر پلار و د قطب، تللی و له بختيارانو څخه او میشت و پر ایواد (هیواد) چې سیند باله سي ...[5]".

دا روايت خو د قطب الدين د نيکه تګ له خپله وطنه ثابتوي، مګر د ماوراء النهر پر ځای سند ښيي، که موږ دقت وکړو په سيند کې هم په دغو وختو يو ښار ودان و، چې (اوچ یا اوچه) بلل کېدی، مورخين يې د سلطان شهاب الدين غوري په فتوحاتو کې د ملتان سره يو ځای راوړي[6] او دا ښکاربږي چې (اوچ) د سند يو مشهور ښار و، نو که د قطب الدين پلار او نيکه په دغه ښکار کې اوسېدلي وي، ځکه چې د قطب او د ده د پلار عرفاني معاصرين هم په ملتان کې وه، نو به د سلېمان ماکو قول اصح وي، په هر صورت قطب الدين خو پښتون و، چې نيکه يې له خپله قومه بختيارانو څخه تللی، یا د سند په اوچ، یا د ماوراء النهر په اوش کې اوسېدی، او وروسته لکه دمخه چې ذکر سوه، په هند کې شهرت موندلی دئ. قطب الدين د مخزن افغاني او آئين اکبري او مخبر الواصلين په قول د لومړۍ خور پر (١٤) چې د هجري کال (٦٣٣ ) و (فرشته ٦٣٤ هـ ليکي) وفات او په ډيلي کې ښخ سو، چې تر اوسه يې مزار ډېر مشهور دئ.

---

١- آئين اکبری، ص ١٦٩، ج ٣، طبع د لکهنو.

٢- حدود العالم، ص ١٨ – ٢٤، د بار تولد، د لينن ګراد عکسي طبع.

٣- المسالك والممالك، د ابن خرداذبه، د لندن طبع، ص ٣٠ – ٢٠٨.

٤- معج البلدان، ج ١، ص ٣٧٥ – ٣٦٨.

٥- د سليمان ماکو قلمي تذکرة الاولياء.

٦- وګورئ تاريخ معصومي ٣٣، تاريخ مبارکشاهی ص ٥ - ٦، طبقات اکبري، ج ١، ص ١٦.

## د قطب الدين اشعار :

د قطب الدين علمي او عرفاني شهرت خو له تېرو ليکو څخه تاسي ته ښکاره سوه، چي دا نوميالی بختياري پښتون په عرفاني دنيا کي څومره لوړ مقام لري. د قطب الدين ځيني پاړسو اشعار هم رانقل سوي دي مګر موږ دا مشهور سړی د پښتو ژبي د يوه ښه شاعر په ډول هم پېژنو، ولي چي د پښتنو د مشهورو اولياوو مېرخ سلېمان ماکو پخپله تذکره کي د ده تر مناقبو وروسته داسي د ده خواږه اشعار رانقل کوي :

"بختياري په پښتو سندري کړينه، اوښي تويوينه، خدای ته نارې کړي، غلبلې کړي، پاړکي لرينه چي يو دا دی :

وير مي زړه سوري سوري کړ راته وګوره ملوکي!
په بيلتون که دي و باسم راته وګوره ملوکي!
راته وګوره ملوکي!
راته وګوره ملوکي!

د بيلتون اوور نه بل دي هر ګړي مي زړګي سوځي
ليوني يمه د ميني: سوځم زه لکه نيلوځي
راته وګوره ملوکي!
راته وګوره ملوکي!

غوړولي دي اوربل دي اور زما په زړګي بل دي
زه بختيار خاوري ايرې شوم په اور سوي مي کوګل دي
راته وګوره ملوکي!
راته وګوره ملوکي!

په دې اشعارو کي د پښتو شعر زوړ اثر او سلاست او سپېڅلتوب ښه څرګند دئ، يوه پردۍ کلمه نه ده په ګډه، د اداء ډول يې ساده اما ډېر بليغ دئ، خوږوالی لري.
د ميني واردات او د مين د زړه احساسات يې ښه پکښې اوڅار کړي دي، داشعر لکه اوسني ملي اشعار کسر هم لري، چي تر هر بند وروسته تکرار کېږي.
نو حضرت قطب الدين بختيار لکه نسلاً چي پښتون دئ، دغسي د خپلي ژبي له پخوانو ادباوو څخه هم دئ، چي د ده معاصر مېرخ سلېمان ماکو لوړ اشعار د ده له پاړکيو څخه په لوړ ډول رانقل کړي دي، او د پښتو ژبي له ادبي زړو آثارو څخه ګڼل کېږي.

﴿٦﴾

# اکبر زمینداوری

د پښتو ژبې په پخوانو او نوم ورکو شاعرانو کې یو (اکبر) دئ، چې آثار یې ورك او چا نه دي لیدلي، که څه هم د اکبر د ژوندون سوانح نه دئ ښکاره، مګر د ده د ژوندون زمانه خو څه نه څه څرګندیږي.

لکه د پښتنو نورو پخوانو شاعرانو د اکبر ګرانبها اشعار او آثار زمانې محوه کړي دي فقط یو څو زړې پاڼې د ده له نادر او ورکه دېوانه د قندهار د هلمند په غاړو کې لیدلي سوي او له هغو څخه لاندي معلومات په لاس راغلي دي :

اکبر د زمینداور اوسېدونکی و، زمینداور خو پخوا (داور) باله کېدی او لکه دمخه چې وویل سوه د غزنوي او غوري پاچهانو په عصر کې یې روڼ مدنیت درلود، ودان ښارونه پکښې وه، د دې ځای مسکوکات تر اوسه میندل کېږي او دا ښیي چې (داور) ډېر ودان او د پاچهانو دارالضرب هم و، د غزنوي عصر مورخین لکه : بیقهی او ګردیزي او یمیني او وروسته منهاج السراج جوزجاني د غوري پاچهانو معاصر او مشهر مورخ په طبقات ناصري کې زمین داور یا داور ډېر یادوي[(١)].

اکبر هم د زمین داور په دې ودانو ښارو کې اوسېدی، د ده له یوه شعره ډېر مهم نکات راوزي، افسوس چې د ده نور دېوان محوه سوی دئ، که نه وي داسي ډېر مهم مواد به ځني راوتلي وای، د اکبر هغه قیمت دار بیت دغه دئ :

د مغولو تمر[(٢)] هسي په اور وســـــوم
چې به هېر په دې ماتم زمین داور کړم

د مغولو چپاوونه او تاړاکونه خو زموږ پر مېنه د چنګېز له عصره لا شروع سوي وه، ګوډ تېمور چې د ده له ټبره و دا سلسله پسي نوې کړه، وروسته بیا بابر هم داسي تالاوي وکړې، د بابر اولاده چې په هندوستان کې یې پاچهي کوله، هم له پښتنو سره په جګړو بوخت وه، د مغولو دې

---

١(١) طبقات ناصري، ص ٨١، د کلکتې طبع وګورئ او بیهقي د تهران طبع.

٢(٢) تمر د تېمور زړه املا ده، چې په ترکي اوسپني ته وایي، مطلب تېمور لنګ دئ، چې د مغولو د ګورکاني ټبر لومړی پاچا دئ.

تاړاکو او چپاوونو چي څلور پنځه پېړۍ پر پښتنو او پښتونخوا جاري وه، زموږ ښکلی وطن ډېر وران کړ، بلخ، هرات، سیستان، غور او نور تاریخي ځایونه په دې تالاو کي وران او ورك سوه.

پښتنو له چنګېزه څخه رانیولې بیا تر اورنګ زېبه پوري د دې غښتلو پاچهانو سره د میراني جګړې کولې، او هر کله یې خپل وطن او خپله مېنه د دې خونخوارانو څخه خوندي کوله.

د (مغل) کلمه په پښتو ژبه کي د دغه حوادثو له سببه ډېر شهرت لري زموږ ملي ادبیات ټوله د دې په غندنه ډك دي، اکبر لومړی ملي شاعر دئ، چي د مغولو له لاسه یې شکوه کړې ده، د پښتنو وروستني شاعران لکه خوشحال، حمید، رحمان، خواجه محمد او نور نور ټوله د مغولو له مظالمو څخه ډېري شکوې لري، زموږ په ادب کي (مغلوالی) ډېر یادېږي، او هر څه د قساوت او ظلم حرکات په دې کلمه تعبیر کېږي، حمید مهمند وایي :

یو به نه سم مغلواله د رقیب ستا !

که زوکړی وم ربنتیا له پښتنې زه !

د اکبر له هغه لوړ بیته ښکارېږي، چي زموږ شاعر د ګوډ تېمور په تاړاکو کي ژوندی، او د مغولو څخه یې ډېر ظلمونه او ورانۍ لیدلي دي، ځکه چي د ګوډ تېمور د پاچهۍ او فتوحاتو دوره له (۷۷۱) هجري کاله بیا د ده تر مرګه په (۸۰۷) هجري کي ده، نو موږ د اکبر د ژوندون زمانه پسله (۷۵۰) هجري کاله تخمین کولای سو.

## د اکبر اشعار :

د اکبر ډېر لږ اشعار د زمانې له انقلابو څخه ساتلي پاته دي، فقط له څو زړو پاڼو څخه موږ ته دا یقین کېږي، چي دی د دېوان خاوند یو شاعر دئ، او په شعر کي یې غزل او مثنوي موږ ته پاته دي. اکبر په ملي لهجه پښتو شعر هم ویلی دئ، چي یو څو نمونې یې لیدلي سوي دي.

د اکبر ملي اشعار خورا خواږه او نور عروضي او مصنوعي اشعار یې هم سلیس دي، د قدامت له پلوه اکبر د پښتو په هغو لومړیو شاعرانو کي دئ، چي تر اوسه موږ ته معلوم دي.

د اکبر د شاعرۍ اقتدار او د قریحې زور موږ ته د ده له لاندي مثنوي څخه ښه ښکاري، او دا څرګندېږي چي زموږ شاعر ښېله پخوانیتوب او قدامته د شعر له ښه والي او سلاست او متانته هم لوړ او قدرمن دئ، اوس به تاسي د ده د شعر نمونه ولولئ، په دې مثنوي کي اکبر د عشق ډېر نازك حالونه ښوولي او په ښه ډول یې څرګند کړي دي :

مثنوی

زه عاشم یم یار هم نېز        نور څه نلرو تمیز
یو پر بله عاشقان یو        هم پخپل عشق صادقان یو
یو په بل پسې رنځور یو        چې نژدې نه یو مهجور یو
عشق که ښه دئ که بلا دئ        پیدا کړی زمونږ مولا دی
که ږغ نه کا عاشقان څوک        مړه سي دوی پر دا جهان څوک
خو به دواړه شهیدان وي        که روښتني مسلمان وي
زه که مخ په اوښو سور کړم        زړه کباب صورت تنور کړم
لایق دا چې زه وکړم        څه تهمت به پر یار نکړم
ولې هر ځای زه بېلتون کړم        بیا د سرو اوښو رژون کړم
هم آشنا خوار کړم هم ځان        بیا تهمت کړم پر دوران
که نژدې که پر هواد یم        زه د ده په خیال و یاد یم
چې غه ښه دیدن یې یاد کړم        په تش خیال یې خاطر ښاد کړم
زه چې ژاړم مراد مې دا دئ        چې آشنا له ما جلا دئ
که مونږ بیا سره خوشحال سو        چې محکوم زمونږ وصال سو
زه د یار سم یار مې خپل سي        زه بلبل سم یار مې ګل سي
په سپین مخ باندي تپېږم        چې دی خاندي تري ځارېږم
د لیدو شربت یې نوش کړم        غم د هجر فراموش کړم
سره کښېنو په خندا سو        پدا تېر احوال ګویا سو
چې تېر سوي په هجران دي        خوشحال سوي غمازان دي
له غه پسه به صحبت کړو        زده زړونه به راحت کړو
چې غماز پاځي له میانه        همنشین سم له جانانه
چې غماز له میانه دور سي        نور که شپه وي هم به نور سي
ولې یار زما خواهان دئ        بیا په عشق کي پهلوان دئ
ډېر نفرت کا له غمازه        رب دي دی کا سرفرازه
زه هر څو چې باندي چور یم        خو د ده په پند مامور یم
که ځلمی دئ خو عاقل دئ        بیا د عشق په کار کامل دئ
تر ما زیات د عشق په کار دئ        هم معشوق هم مینه دار دئ
خو پخپله تري جلا سوم        مدام سر په واویلا سوم

په دې مثنوي کي اکبر د میني او عشق هغه نازك او خوندور حالونه تصویر کړي دي، چي عاشق او معشوق دواړه یو له بله سره غواړي، دا خو د پښتنو د عشق او میني یو خاص حال دئ، په پښتنو کي عاشق او معشوق اکثراً یو د بله سره مین وي، عشق له یوې خوا نه وي، د پښتنو عشقي قصې او حکایات ټوله دغسي دي، آدم خان او درخانۍ، فتح خان او رابیا، ښادي خان او بیبو او نور ټوله د پښتو د ملي قصو پهلوانان دغه حال لري، دواړه سره مین وي، او یو د بل د میني په اور سوي وي، زموږ پخوانی شاعر اکبر هم دغه د پښتنو د ملي شعر خصیصه په دې لوړه منظومه کي ښه ښوولې ده او یو خاص ادبي لطف لري.

## د اکبر د شعر ادبي قیمت :

د اکبر شعر نور موږ ته نه دئ رارسېدلی، فقط یو څو ټوټې چي سته موږ ته دا ښکاره کوي، چي اکبر یو خوږ ژبی او متین شاعر دئ، د ده ویل سلاست لري، متانت هم پکښې لیدل کېږي.

اکبر په ملي شعر کي هم غښتلی لاس لري، دی د ملي اشعارو پر ډول باندي یعني د عربو له عروضي شعره څخه پرته په ملي لحن او بحر خواږه شعرونه لري، او دا ځني ځرګندېږي چي اکبر خو اصلاً یو ملي شاعر و، مګر کله کله یې په عروضي شعر کي هم خپله طبعه او قریحه اټکلولې ده، او په دواړو ډولو یې خواږه آثار او اشعار پرې ینښي دي، نو اکبر د ښه شعراوو د قدامت له مخي په لومړۍ درجه شاعرانو کي ګڼل کېږي، اوس د ده د شعر یو دوې نوري نمونې چي زموږ لاس ته راغلي دي لاندي دروړاندي کېږي :

د عشق ویر به تل پخپله پټول کړم — د خپل ځان له حیرانۍ څخه ویل کړم
اوس به څم په سرتور سر فراق د ګل کړم — ما مدام لکه بورا پر ګلو کښت کړ
ځني هېر به د یار بزم ګل او مل کړم — د غماز لړمون به زه پر لمبه کښېږدم
زه به سر او مال ښندم دید به حاصل کړم — څما د یار د میني اور په زړه کي بل دئ

د بېلتون له ویره ژاړم اوښکي ویني
زه "اکبر" پر خپل آشنا د سر ښندل کړم

چي مدام زه ستا و مخ وته نظر وړم
د بېلتون له بېري زړه زير و بر وړم

که پر ما دي حکم وسي چي خادم سه
دغه ستا د نغري سور انګار پر سر وړم

چي جمال په مهر او مينه راښکاره کړې
شين طوطي سم په هوا د ميني پر وړم

چي ګفتار دي په ښه مينه راته وسي
نو بډای سم کوټې کوټې دُر ګوهر وړم

که مي وژني که مي پېرې رضا ستا ده
ستا و غشي ته مدام موخه ځيګر وړم

چي جمال دي په هجران کي راپه ياد سي
هغه دم په تصور شمس و قمر وړم

ستا د تورو څڼو خيال هسي طويل دی
تل په زړه کي دغه فکر زه (اکبر) وړم

## ملي بدله

زه چي په مينه معشوقو د بنګړو شرنګ لره ځم
زه د هجران د بېلتانه د تورو جنګ لره ځم
زه اپوته يم په هجران سره قرار نه لرم
هجر مي اوږد سو د وصال د اميد کار نه لرم
بېلتون په خوله راکړې ځاپيړي زه لا عار نه لرم
وام د معشوق پر سينه پروت زه تور لونګ لره ځم

ځني يې ولي ځوك عاشق څو رنګ په توري کاندي
پر خوار مين د شها هومره هوري زوري کاندي
بې نيازه نکا چي پلو له مخه ليري کاندي
چي راوپاڅه په اخلاص چي خپل څورنګ لره ځم

اول خو ته نجلۍ پر عشق باندي اقراره سولې
اور دي راپوري کی نور کښېنستې قراره سولې
هيڅ ګفتګوی له عشقه نکوې بېزاره سولې
يو وار خو ووايه قرار چي د يار څنګ لره ځم

﴿۷﴾

# شیخ عیسی مشوانی

مشوانی د پښتنو یو قوم دئ، چې په کاکړو ځان ګڼوي، دا قوم لږ دئ یوه برخه یې د کابل په کوه دامن کې اوسي، او نور هم شاوخوا سوداګري کوي، او له پخوانو زمانو څخه د هند په لتو کې هم خپور سوی دئ[1].

شیخ عیسی هم د دې قومه د پښتو یو پخوانی شاعر دئ، چې د شېرشاه سوري پښتانه شهنشاه معاصر و، نعمت الله هروي او خانجهان لودي لیکي، چې شیخ عیسی په "دامله" کې اوسېدی، او هلته یې مځکې او پټې درلوده، شېر شاه ته یو چا وویل چې شیخ عیسی شراب خوري، مګر د شېرشاه سړی چې ورغی په صراحي کې شیدې وې[2].

د شیخ عیسی نور سوانح نه دي معلوم، خو د مخزن افغاني په روایت دی د شېرشاه په عصر کې ژوندی و، د شېرشاه جلوس خو په (۹٤۸ هـ) کې و، نو د شیخ عیسی د ژوندون دوره هم تر (۹۰۰ هـ) وروسته ده. مخزن افغاني چې په (۱۰۱۸ هـ) کال په هند کې لیکلی سوی دئ، د شیخ عیسی په خصوص کې داسې لیکي :

"نقل است که شیخ عیسی در توحید باری تعالی شعر پښتو و فارسي و هندوی هم میګفت، چنانچه دو سه کلمه بجهت یادګار او شعر ایشان مرقوم نموده شده[3]".

تر دې وروسته مخزن د شیخ عیسی پښتو او فارسي او هندي اشعار لیکي، مګر ډېر افسوس دئ چې د کتاب لیکونکی په پښتو نه پوهېده، هغه څو شعرونه چې د مخزن لیکونکي له ورکېدو څخه ژغورلي دي، ناپوهو لیکونکو بیرته مسخ کړي دي، هغه پښتو اشعار یې داسې ویل کېږي :

---

۱- حیات افغاني، ص ٤٤۱.

۲- مخزن افغاني قلمي لیک د ۱۱۱۳ هـ.

۳- مخزن افغاني

پـخـپـلـه کـار کـړې پـخـپـل انـکـار کـړې
جـګ پـر هـوا یـم، کـلـه مـې خـوار کـړې

تــه ښــه قــادر یـــې صـــفـــت دې دا دئ
کـلـه مـې نـور کـړې کـلـه مـې نـار کـړې

"عـیـسـی" حـیـران دئ پـه دې صـفـت کـې
کـلـه مـې یـار کـړې، کـلـه اغـیـار کـړې

له دغو بیتونو څخه ښکاره ده، چې عیسی د پخو متصوفینو څخه و، او په هغه شان وینا لري، لکه خواجه انصاري د هرات چې ویلې دي.

نعمت الله خو په مخزن کې هم دی د اولیاو په ټولۍ کې ذکر کوي، او د ده کرامات شمېري، نو دا زموږ پخوانی پښتون شاعر، او ادیب د پښتو د ادب په تاریخ کې د پخواني توب له کبله ښه مقام مومي، مګر بېله دغو درو بیتو یې نور آثار موږ ته نه دي را رسېدلي.

﴿۸﴾

# ملا الف هوتك

د قندهار د خوا له پخوانو شاعرانو څخه دئ، چې د کلات د اتغر په کلو کې اوسېدی، او د خپل عصر یو پیاوړی عالم و.

ملا الف د هغې زمانې پښتون شاعر دئ، چې موږ ته د ده د عصر د پښتو شعر لړ په لاس راځي، نو دی زموږ د ملي ژبې له لومړیو شاعرانو څخه ګڼه سي.

ملا الف یو ګرزند او جهان دیده سړی و، ده له خپله کوره سفرونه هم کړي دي، پخپله وایي :

زه غریب پر بل وطن وم
پر هغه وطن مسکن وم
په دغـــه ملك یو ملا و
ملایانو کې اعـــــــلی و
عالي شـــانه و فهــــــیم
نوم یې و محـمدعظیم

له دې څخه ښکارېږي، چې ده له خپله ټاټوبي لیرې په نورو ځایو کې سیاحت او تحصیل

کړی دئ، او استاد يې محمدعظیم نومېدی.

د ملا الف نور سوانح نه دي معلوم، فقط دوني ښکاريږي چي د (۱۰۰۰ هـ) په حدود کي ژوندی و، ولي چي ده خپل يو کتاب په (۱۰۱۹ هـ) کي ليکلی دئ، په دې ډول نو ملا الف تر اخوند درويزه لا هم د پښتو پخوانی ليکونکدئ[1].

آثار او اشعار :

د ملا الف هوتك دوه کتابه موږ ليدلي دي، يوه نصيحت نامه ده، چي په ملي لهجه يې د رباعي په ډول ويلې ده، او دا ډول شعر د پښتو له زړو ملي سبکونو څخه دئ.

په دې کتاب کي ملا الف ښه اخلاق او اسلامي دودونه بيانوي او د يوه اخلاقي شاعر او مبلغ په ډول وينا کوي.

بل کتاب يې بحرالايمان نومېږي، په دې کتاب کي دی د مثنوی په ډول اسلامي عقايد تر عربي عنوانو لاندي بيانوي، او دا ښکاريږي چي دی په اسلامي او شرقي علومو کي پياوړی و.

د ملا الف وېناوي ساده دي، هيڅ تکلف نه لري، د صنايعو او بدايعو څخه تشي دي، فقط خپل مطلب په موزونو کلماتو وايي او هيڅ کله د پښتو ژبي تر محاورې نه وزي.

ملا الف د پښتو ژبي د ديني او اخلاقي شاعرانو مقدم سړی دئ، او له ده څخه بې له دغو مضامينو بل راز اشعار لاس ته نه دي راغلي، خپل کلام يې په ديني او اخلاقي او عقيدوي مضامينو کي حصر کړی دئ او د دغه ديني او اخلاقي سبك لومړی مؤسس هم دی دئ.د بحر الايمان کتاب ده د (۱۰۱۹) هجري کال د محرم په څلورمه ورځ تمام کړی دئ.

د نصيحت نامې تاريخ يې نه ښکاريږي. لاندي به د ده له دواړو کتابو څخه د نمونې پر ډول يو څه اشعار نقل کو :

له نصيحت نامې څخه :

---

۱-تاريخچه شعر پښتو د حبيبي.

بل که سړی یې خو تل خلف محمدي کوه تل
شېرین زبان ځلاند جبین دي احمدي کوه تل
پر طبیعت د هر سړي برابري کوه تل !
چي حسن خلق به دي پکار سي د مېزانه سره

بل پر یتیم پر کونډه ښځه شفقت لره ته
هم پر مسکین پر مسافرو مرحمت لره ته
او خپل عیال په جامه پټ او په نعمت لره ته
غرض کړه خدای ظاهر کوه له بندګانه سره

څوك چي له خپلو سره بد وي او وصلت نکوي
یا وي د کور مشر په کور کي شفقت نکوي
یا دی ملك وي د خپل کلي عدالت نکوي
نو یې عمل ټول حبطه ولاړ سي له ځانه سره

بل ارتینه چي پنځه وخته لمونځ روژه لري
حفظ د ځان دا له پردیه نارینه لري
د خپل مېړه فرمان پر سترګو پر سینه لري
دا جنتي خدای به یې بیایي له ایمانه سره

له بحر الایمانه :

راسه واوره اې فرزنده ! تاته وایم ارجمنده !
ته د پاك نبي پر لار سه د نبي پر لاره ولاړ سه
یو قدم له شرعي زویه بیرون مه اخله نېکخویه
که بیرون یو قدم کښېږدې د نبي شرعه به پرېږدې
نصیحت کوم و تاته مه جاروزه بلي خوا ته
تاته وایم ځما ځان یې لا تر ځان راباندي ګران یې
ځموږه پلار یو و همدمه دغه یو بابا آدمه
نور په څه ځبله جدا یو چي جدا پر بله خوا یو
نصیحت مي کړه قبوله پرته مه ښوره ملوله
مجلس کړه د صالحینو ناستي مکړه د بې دینو

هر مجلس لره اثر دئ
په حدیث که دي باور دئ

﴿ ۹ ﴾

# ملا مست زمند

د پښتو پخوانو شعراوو څخه چي تر زرم هجري کال دمخه زېږېدلي دي، یو ملا مست په قوم زمند دئ، چي د ده تولد موږ د (۹۵۰ هـ) حدود تخمین کولای سو، مست د خپل عصر ښه عالم او مدقق ملا و، چي اسلامي علوم، فقه، عقاید، تفسیر یې لوستي دي، ده د خیرالبیان په سبك یو کتاب چي (سلوك الغزات) نومېږي لیکلی، او دا کتاب د پښتو ژبې له پخوانو آثارو څخه ګڼل کېږي.

ښېله دغه کتابه ملا مست ځیني نور رسایل چي اخلاقي او دیني مواعظ دي هم لري او داسي ښکاره کېږي چي ملا مست د خپل عصر یو مجاهد سړی و، او ده هر کله د غزا په باب کي تبلیغ کاوه، او خپل کتاب (سلوك الغزات) یې هم د جهاد پر تشویق او ترغیب لیکلی دئ، دی هر کله د خپل استاد او مرشد (اخوند څالاك توغی) ستاینه کوي او داسي ښکاره کېږي، چي په دغه

عصر کي دا سړی د پښتنو اقوامو مرشد و، او هر کله به يې غزاوي او جهادونه کول.

ملا مست تر زرم هجري کال وروسته وفات سوی، او د شينوارو په غرو کي ښخ دئ، او مزار يې تر اوسه مشهور دئ.

د ملا مست قلمي کتابونه سته، چي د پښتو منثور غوره آثار ګڼل کېږي، مګر په دغو کتابو کي يې ځيني قصايد او غزليات هم سته، چي ديني مضامين او موعضې پکښې نظم سوي دي.

مست د اشعارو په مقاطعو کي خپل نوم مست راوړي، او د خپل عصر اکثر وقايع نظم کوي، مراثي وايي، ستايني او غندني لري.

د ملا مست کتب او رسايل د ده د عصر قبيلوي احوال او د هغه دور د پښتنو رجالو او مړنو خلکو د ذکر يوه ښه تذکره ده. دی د اقوامو مشران او د پښتنو جنګيالي او توريالي خلق ښيي، وقايع په ښه ډول بيانوي.

موږ دلته د ده د کلام نخښه د ده له کتابو او رسايلو څخه را اخلو :

## غزل

های و هوی له هسي بخته چي کوټه شي — هر کالي که سلامت پېرم ټوټه شي
که په زر روپيه آس عراقي واخلم — هر سود مي هواره مال مي تروټه شي
که د بازو مشتري يم نه يې مومم — جره باز پر بيع ګران لکه کټه شي
که يو تار سپڼسی طلب کړم نه يې مومم — هغه هم و ماته ګران لکه اټه شي
که يوه روپۍ پخه پر بازار پېرم — پتير نان و ماته ګران تر پراټه شي
په هغه زهر چي مرم تر حلق مي ښه ځي — پر شيرين خواږه اوبه مي خوا پوټه شي
که هر څو رښتينی يار په وعده درست وي — بيا له ما سره خلاف وکا نټه شي
که روان شم سور پرېوزم، پلي پرزم — هيڅ مي نزده کمر آس راته مټه شي
دا ځما د بخت تاثير هسي ليده سي — هغه کار چي زه روښان ګڼم خټه شي

غني خدای راته جهان د غم درياب که
"مست" په هر لوري چي ځي پکښې غوټه شي

## غزل

د صورت ژوندون فنا دئ غم يې مخوره
څه اميد پر دا دنيا دئ غم يې مخوره

هر نفس د شيرين عمر روانېږي
که باور دي دا وينا دئ غم يې مخوره

هر مراد د نامراد لپاره شوی
حق رحيم کريم دانا دئ غم يې مخوره

يو ساعت به يې څوك وړاندي وروسته نکا
هر قسمت چي له مولا دئ غم يې مخوره

د ازل په ورځ چي شوي نور به نه شي
د هر چا جدا جدا دئ غم يې مخوره

پر خپل وخت به ور رسېږي بې ګمانه
دی تر تا پر تا شيدا دئ غم يې مخوره

دنيا ناوې څرګندېږي دا زړه ده
پاته شوې له هر چا دئ غم يې مخوره

په فريب، لباس، جادو يې غلط مشه
دا هرګور، مکر ، ريا دئ غم يې مخوره

په حديث ياده جيفه ده په کلام کي
محبت يې ناروا دئ غم يې مخوره

"مسته" ستا چي قناعت په لاس کي کښېووت
د دوه کونه راحت ستا دئ غم يې مخوره !

### د شهيدانو ياد

زه چي ياد کړم شهيدان د لمتۍ
پر فراق اوښي بهېږي پر غوتۍ

آه سرد مي لکه دود تر خوله روان شي
د غم اور مي يشوي د زړه جاتۍ[1]

(۱

---

۱– جاتۍ : خم.

## د غازيانو مرتبه

په دوه کونه به سردار هغه الله کا   پيروی چي د سرور نبی الله کا
د حضرت مينه همېشه پر غزا وه   امتي دي همېش مټ د ده په راه کا
اول امر معروف فرض پر عالمانو   چي د امر په بيان عالم اګاه کا
تر همه نېکئ افضل هغه ثواب دئ   چي په دين د حق خبر عاصي ګمراه کا
رشتيا حق ويل لازم پر عالمانو   سخاوت دي هر غني، عدل پادشاه کا
هر چي نه مني د خدای و رسول امر   غني خدای به د هغو مخونه سياه کا
حال يې روغ پر شريعت د مصطفی دئ   هر غازي چي سر کا غوڅ صورت تباه کا
هر چي سر يې د کافر له تنه غوڅ کا   غني خدای به يې لايق د عز و جاه کا
هر چي سر يې د کافر له تنه غوڅ کا   تسبيحات به يې ملك، غرونه، ګياه کا
هر چي واخلي و کفارو وته توره   له صورته به يې پاك هر څه ګناه کا
يوه شپه تېره پر حد د کفار ښه ده   کال و سر که عبادت پر خانقاه کا
چي پر حد د کفار ومري بېله تېغه   حق روزي به يې ديدار بې اشتباه کا
هم مقام به يې اعلی بلند فردوس وي   چي سر غوڅ د بې ايمان سفيه سپاه کا
د شهيد ويني ګواهي لي و ښه خدای ته   چي هر څاڅکی يې شاهد پر شهيد ګواه کا
هر چي سر يې د کافر له تنه پرې کا   شفاعت به يې سرور عالم پناه کا
اوس غازيان دي ډېر خښي صافي شنواري   چي غزا همېش پر نيت د عندالله کا
او سردار د دوی اخون غازی څالاك دئ   که يې خدای عمر دراز، عزت نګاه کا
په دنيا کي يې سردار کا د غازيانو   که هوري يې د حضرت د ټول همراه کا
چي دلې ډېر مين سوی پر غزا دئ   په قيامت به يې مخ روڼ لکه د ماه کا
له غزا به يې انشاء کړم څو بيانه   که مدد راسره حق په هره ساه کا

"مست" شاګرد د اخون جيو غازي څالاك دئ
چي همېش پر کفر غبړ سبا بېګاه کا

# ميرزا خان انصاري

د ده نوم فتح خان دئ، او په ميرزا انصاري سره شهرت لري، په اشعارو کي خپل تخلص ميرزا راوړي[۱]. په قام يوسف زی دئ، د ده د تولد تاريخ پوره نه معلومېږي، او د وفات تاريخ يې معلوم دئ. دی په يو زر څلوېښت هجري کال د دکن په جنګ کي شهيد سوی دئ. دولت د ده معاصر شاګرد چي د ده عقيدتمن او اخلاصمن دئ د دکن د جنګ او د ده د وفات تاريخ داسي بيانوي :

د هـــــــادي په زړه چي پټ و په ډېر کاله
د مـــــــيرزا خــوله د هــغه علم مظــهر و
د دکن په جنګ شهيد شه خوشنود اوسه
په تاريخ د زر څــلوېښت کي يې ګـــــذر و

دی په خپله د دکن د جنګ تاريخ هم دغه کال ښيي :

په تاريخ د زر څلوېښت ده دا خبره
چي ليده شو په دکن ګجرات جبر

د ميرزا د وطن او د ځای په باره کي داسي معلومېږي چي د "خيبر" دئ دی پخپله په يوه مسرۍ کي وايي : (د يادګار ځای يې[۲] خيبر دئ).

خيبر له لواړګي څخه کښته يوه دره ده، چي اوس پکښې اپريدي پراته دي، که څه هم اوس يوسفزي هلته نسته، مګر ښايي چي په هغو وختو کي يوسفزي هم هلته اوسېدلي وي، ده په يوه ځای کي مهمندر نومی کلی هم ذکر کړی دئ. معلومېږي چي دا يې د کلي نوم دئ، لکه چي وايي :

له وحدته يې[۳] را کـوچ کړ
نن يې وار په مهـــمندر دئ

په بل ځای کي يې تيرا هم ياده کړېده، وايي : (له تيراه يمه راغلی) تيراه او خيبر سره

---

۱-تاريخچۀ شعر پښتو.

۲- دا ضمير يې ځان ته چي په اوله مسرۍ کي ذکر دئ راجع کړی دئ.

۳-دا ضمير يې ځان ته چي په اوله مسرۍ کي ذکر دئ راجع کړی دئ.

نزدې دي، تقریباً یوه علاقه ده، مګر مهمندر نه معلومېږي چي په کوم ځای کي و، میرزا خان په خپل دېوان کي "پیر روښان" ډېر یاد کړی دئ او په داسي صورت سره یې د ده نوم اخیستی دئ، لکه چي سړی د خپل پیر نوم اخلي له دې معلومېږي چي (پیر روښان) د ده پیر و لکه چي وايي :

د میرزا کلام شیرین دئ
پیر روښـــــان له برکته

ای میرزا "روښان" په هر لوري جلوه کا
د تبرېز آفـــــتاب راوخـــوت له بنیره

له دې بیت څخه معلومېږي چي د روښان وطن بنیر دئ.

میرزا پخپله هم د استادئ مرتبه حاصله کړېده، او د پښتنو د یوه مشهور پخواني شاعر "دولت" استاد او پیر و، لکه چي د دولت له دېوان څخه داسي معلومېږي :

میرزا ګنج راته خپل وښوده غني شوم
بېهوده صــفت به ولي د بل چـــا کړم
محــقق وحــــدتي کان د تصـــوف و
په رمــوز یې په هـــمه عـلم دانا کړم

## د میرزا شاعري :

میرزا د قدیمو شاعرانو څخه دئ، بلکي لا د اکثر خلکو خیال دا دئ، چي دی د پښتو اول شاعر دئ چي مکمل دېوان یې پاته سوی، او شعر یې میدان ته راوتلی دئ[1]. مګر ده په خپل دېوان کي د "مخلص" نومي شاعر نوم هم اخیستی دئ، لکه چي وايي :

امـــــــیرزا له پاکـــو پاکه وینا وايي
د مخلص کلام خالص دئ معتبر شو

اما مخلص که څه هم د دېوان خاوند وي، خو موږ ته یې اثر نه دئ را رسېدلی. له دې بیته معلومېږي چي مخلص د ده معاصر و، او دواړه په یوه وخت کي تېر سوي دي، میرزا د پښتو له هغو لومړیو شاعرانو څخه دئ، چي د عربو بحور او اوزان یې پښتو ته راګډ کړي دي، او د مصنوعي ادبیاتو دوره یې افتتاح کړې ده، او لومړئ پلا یې د عربو پر بحورو غزلیات او قصاید او داسي نور اشعار ویلي دي، چي تر ده مخکي د پښتو ادب په کتابو او دېوانو کي لږ غونډ سوي وو، او نوی

---

١- منجم العمران د معجم البلدان مستدرك، د مصر طبع ١٣٢٥ هـ.

شکل یې هم لا ښه نه و، مګر د ده تر زمانې وروسته د پښتو ادب د مصنوعي ادب یوه ښکلې نمونه میدان ته راوکښله، ګویا دی لمړی سړی دئ چې د پښتو د مصنوعي ادب اساس یې ټینګ کړ. دی د پښتو قدیم او پخوانی متصوف او سالك شاعر دئ، چې د توحیده ډك کتاب یې یادګار پرې یښی دئ.

میرزا د پښتو ډیرو شاعرانو یاد کړی دئ او د ده کلام او وینا هر چا خوښه کړې ده، حتی چې خوشحال خان هم د ده وینا ته د ادب او علم په میزان تللې وینا وایي. دولت هم د میرزا د شاعرۍ په باب کي داسي وایي :

هیڅ افغان ده غوندي شــــعر کړی نه دئ
پخـــپله زمانه کي دی تر هر شاعر بهتر و

## افکار :

د میرزا کلام د عرفاني اسرارو او رموزو څخه ډك دئ، ده په پښتو کي د تصوف او د معرفت باریك او نازك اسرار داخل کړي دي، او هر یو بیت یې پر ډېرو معانیو حاوی دئ، لکه چي دا دعوه په خپله هم کوي :

د میرزا کلام رموز دئ
او معنا یې په څــو بابه

دی ټول د وحدت په سر کي لګیا سوی دئ، او د دنیا ټولو موجوداتو ته د عدم په سترګه ګوري، د ده په کلام کي د تصوف او د سلوك مشکل مسایل په داسي اندازه پراته دي، چي د ډېرو خلکو له فهمه هم پورته دي.

دی په پښتو کي د تصوف او د سلوك د مسلك اولین مړسس ګڼل کېږي، او د پښتو په تصوف کي هغه مرتبه لري، کوم چي د فارسي په تصوف کي د حکیم سنایي په نصیب سوې ده.

دی اول سړی دئ چي په پښتو کي یې د تصوف د شعر ور پرانتی دئ، او د توحید او د معرفت اسرار یې په پښتو کي ځای کړي دي، چي وروستنیو شاعرانو په دې مسلك کي د ده پیروی کړې ده، لکه چي دولت یې د دې مسلك د پیروانو، او ارزاني او مخلص یې د دې مسلك د ملګرو څخه دي.

دی د وحدۃ الوجود په مسئله باندي قایل دئ او په دې مشکله مسئله باندي د زړه پوه سوی دئ، ده د وحدۃ الوجود مسئلې ته ځای په ځای په خپل دېوان کي اشاره کړې ده، او د دې ګراني مسئلې د اظهار تر عهدې په ښه صورت سره وتلی دئ.

دی وایي چي حقیقي او اصلي وجود یو د باري تعالی وجود دئ دا نور ټول اعتباري دي، د ده ذات واحد او غیر متعدد دئ، مګر د ظهور لباس یې مختلف دئ، کاینات او موجودات

ټول د ده د جمال مظاهر دي، د ده د وحدت راز په هر شي کي ښکاره او ظاهر دئ :

و فی کل شی ء له آیته
تدل عـــــلی انه واحد

میرزا په هر ځای کي د قدرت د جمال ننداره داسي کوي او وايي :

د کـــــــــثرت په بازار راغی
په هر ځای کي دی مکین دئ

***

غرض دا چي میرزا په پښتو کي هغه مرتبه او مزیت لري چي د بل چا په نصیب سوی نه دئ، چي یو خو دی په پښتو کي د تصوف او د سلوك د مکتب مړسس دئ او بل يې د پښتو مصنوعي ادبیاتو ته ډېره پراخي ورکړېده.

د کلام نمونې :

نن مې ولیده ولاړه
په اخلاص یې خپل ځان جوړ کړ
محبوبا په پښو باریکه
اوس و جنګ ته تیاري که

یو عجب یې سپین جمال دئ
حال یې لون لون زیب کا
پرې یې دام د زلفو ایښی
پسې ډېر ډېر مکاري کا

دواړه لب یې کټوري کړه
یو یې څا د زنخدان دئ
غاښ یې دُر دي ګوښې ګوښې
بیا په ژبه رهبري کا

څه عجب یې سپینې ګوتې
او پلو په مخ نیولی
پرې د پاسه سره نوکونه
په کاته کې طراري کا

محبوبا د زړونو ښکار کا
پر وحشي چې ګذار وشي
نن راووته له کوره
نو به خرنګ قراري کا

هر غل غلا په توره شپه کړي
له هیچا یې وېره نشي
چې دا پېره دار اوده وي
شها لوټ په بیداري کا

د "میرزا" زړه یې تاراج کړ
لا بتره یې سزا ده
له آزار نه وېرېږي
چې د شاه سره یاري کا

***

چي د یار د میني خوب په خراب زړه وړم — بېهوده به د نور چا منت پر څه وړم
خپل آشنا د یادو داغ رابandي کېښود — د دې داغ نقش یې عین په لېمه وړم
دواړه کسي مي له دغه سیاهي روغ دي — اوس یې ځکه په سیاهي پسي لیده وړم
دې یوه کتو له هره لوري بېل کړم — دا د جنګ ناوك یې ډوب په لړمانه وړم
د فراق له حاله هیڅ ویلی نه شم — مدام اوښي آوېزاني پر بانه وړم
ناز پرور له هسي حاله خبر نه دئ — د هجران دغه درانه بارونه زه وړم
یخ صورت مي دم تر دمه ویلي کېږي — په علاج یې ګهي اور ګهي اوبه وړم
محبت یې په مثال زنبور خانه شوه — چي خواږه یې پرېکوم په ځان لشه وړم
لکه روح مي د خپل یار په هوا والوت — دا خسته صورت به هم پسي هاله وړم
د آشنا له لاسه اور رابandي بل شو — دغه سپین هډونه تور لکه سکاره وړم

***

زه به څه وایم چي څه یم — نېست و هست واړه په ده یم
هر چي نېست شي له هستئ — د هستئ معنی یې زه یم
د وصال په هوا ورزم — د دې لا مکان مرغه یم
ګه ذره د لمر په مخ کي — ګاهي غوټه پر اوبه یم
یو څلور عنصر مي واغوست — د آسمان پر مخ اوره یم
له وحدته په کثرت شوم — هغه نشته چي زه نه یم
زه شنوا په کل غوږونو — دانایي د هر یوه یم
توانایي مي په هر چا کي — بینایي د هر لېمه یم
ارادت مي دئ له واړه — بیا راضي پدا خپل کړه یم
له بدانو مي بدي ده — له نېکانو سره ښه یم
د نېکبخت په برخه شهد — د کمبخت په ځان لشه یم
له هر چا یم په هر څه کي — خزان نه لرم تازه یم

د "سیرزا" په خوله وئېږم
یو روښان بې مثله زه یم[1]

---

۱- په ځینو نسخو کي د بېمثله پر ځای بې رنګه راغلی دئ.

***

د عاشق له حاله څه پوښتي وګړی
د بې حدي لار قياس نه دئ چا کړی

په دا هسي غم به ولي مبتلا وم
که خاطر مي د نظر له نغوتي ژغړي

پر هغو باندي به څرنګ قراري وي
هر چي زړه يې د محبوب کرشمې وړی

محبت يې دا خراب خاطر ځنځير کا
د ديدن په زور يې راښکاوه دا پړی

يو عجب د ميني حال پر برابر شي
بې ديدنه ناقرار په طلب ستړی

چي ميوه په کاملۍ له وني پرېوزي
په خوښۍ له زمکي سر پورته کا زړی

دا حباب له اوبو روغ پر اوبو مات شو
د سېلاب له مخه تښتي نېزه وړی

کم دليل له خپله بخته مشوش دئ
دا هوا يې تښتته وي لکه خسړی

د معنا په معنا يو يو پوهېدلی
پر څېړه لاري سفر کا څېړه وړی

ای "مــــــيرزا" و آينې ته نظر وکا
د پولاد په ميان کي نښته اوسپن خړی

﴿١١﴾

# دولت الله لوانی

د ده نوم شيخ دولت الله او په خلکو کي په "دولت" شهرت لري، او په شعر کي خپل تخلص هم دولت راوړي، لکه چي وايي :

شيخ دولت مي نوم دئ هاتف ايښی
پر زبان د خلـــکو ياد فقـــير دولت يم

د پلار نوم يې (داداو) دئ، لکه چي پخپله وايي :

د کمـــــکوټي ثنا مــــــکړه
د (داداو) نوحاني زويه !

دولت د مور له خوا په قوم وردګ او د پلار د خوا نوحاني او بيا په نوحانو کي حسن

خېل دی[1].

نوحاني د پښتنو يو لوی قوم دئ، او د پښتو په تاريخ کي يې هم ذکر سته. مګر مشهور نوحاني نه دئ، بلکي "لوانی" دئ، مستر راورټي ليکي چي دولت په اصل هندو و، او بيا مسلمان سوی دئ[2]، مګر دا نه ده ښکاره چي راورټي په کوم سند او دليل دا شاهدي ورکړېده.

ښايي چي "راورټي" ته دا خيال د دولت د هغه وړاندي بيته پيدا سوی وي، چي د شيخ په نامه ځان ستايي، او ځيني خلك شيخ هغه چاته وايي چي هندو مسلمان سوی وي، نو راورټي هم دا خيال کړی دئ، چي دی په اصل کي هندو، و. مګر دا خيال په هيڅ ډول صحيح نه معلومېږي. ولي چي دولت د خپل نسب اظهار په خپله کړی دئ، چي په خټه پښتون او په پښتنو کي لوڼ دئ، او په دې باب کي د ده قول د راورټي تر قول زيات سند او دليل دئ، د شيخ استعمال خو په دغه معنا سره د هند اصطلاح ده، مګر پښتانه د شيخ کلمه د تعظيم او د عزت له پاره استعمالوي، او هر څوك چي د پيرئ او مريدئ په سلسله کي داخل سوی وي، هغه ته شيخ وايي، دولت خو په دې سلسله کي داخل سوی دئ، نو ښايي چي ده ته به شيخ په دې اعتبار سره وايي، د دولت د تولد او وفات په باره کي پوره معلومات نسته صرف دومره معلومېږي چي په يوولسمه پېړئ کي تېر سوی دئ.

دولت چي د ميرزا خان انصاري د وفات او د دکن د جنګ او د ا لهداد د مرګ تاريخ ښوولی دئ له هغه څخه د ده د ژوندون زمانه او د اشعارو دور داسي معلومېږي :

د دکن په جنګ شهيد شو خوشنود اوسه
په تاريخ د زر څـــــلوېښت کي يې ګــــذر و
په يـــــــوه آه يې اروا لــــه تنه بېل شــــــو
په تاريخ د غــــــين او نون ح يې ســــــفر و

نو آخرنئ سنه چي د ده له دېوانه معلومېږي (١٠٨٥ هـ) ده، تر څلوېښتو کالو پوري د دولت عمر هم يقيني دئ، پخپله وايي :

زه هلك وم افســــــانه وم، له عالمه بېـــــګانه وم
تر څلوېښتو کالو تېر شوم، بېګانه يم لا تر اوسه

په دې حساب سره موږ کولای سو، چي د ده د تولد وخت د يو زر هجري کال په حدودو کي اټکل کړو. د دولت د استوګني ځای يا اصل وطن هم يقيني نه دئ ښکاره، مګر د دې لاندي بيتو څخه دا ګمان کېږي چي ځای يې رشيد آباد دئ:

---

١- ای دولته روښاني - حسن خېل نوحاني

٢- د پښتو ګرامر مقدمه.

په رشید آباد به عید شي که یو ځل بیا
د دکــن په ســـــفر تللي یاران راشي
د قادر په قدرت هیڅ مشکلات نه دي
که رشـــــید آباد ودان و هسي بیا شي

په دې بیتو کي دولت هغه یاران چي د دکن په سفر تللي دي یاد کړي دي او د رشید آباد د پخواني حالت آرمان یې کړی دئ، نو د دې څخه څرګندېږي چي دا یې کلی، او د استوګني ځای دئ. ځکه چي پردی کلی او هغه ځای چي سړی پکښې استوګنه نه لري د سړي په سترګو کي دومره خوږ نه وي. دولت په جلال آباد کي هم څه زمانه اوسېدلی دئ، او څه اشعار یې هلته ویلي دي، لکه چي وایي :

په جـــــلال آباد دولــــته دا بیان و
دا به پس له دې په ډېر کاله یادګار شي

## تحصیل او ارادت :

د دولت د تحصیل په باره کي څه معلومات نسته او دی په خپله هم د تحصیل او د ظاهري علم څخه انکار کوي او وایي چي ظاهري علم ما بالکل نه دئ کړی، او دا څه چي ما ویلي دي دا د باطني علم قوت او زور دئ، لکه چي وایي :

ظاهري علم مي هیڅ ډېر نه دئ کړی
د معــنی په قـــــوت و وایه کلام ما

دی خپل شعر ته ا لهامي شعر وایي، او د شاعرئ د ا لهام دعوه دغسي کوي:

چي ا لهام راباندي وشو ګـــوینده شوم
یو بیت هم جوړاوه نشوای بې ا لهام ما

که څه هم دولت دلته د ظاهري علم څخه انکار کړی دئ مګر د ده د دېوان له مطالعې څخه داسي معلومېږي، چي دی د ظاهري علم څخه هم بې برخي نه و، ځکه چي د ده په دېوان کي داسي ډېر مطالب او مضامین سته چي هغه په علم پوري تعلق لري، په هر صورت دولت د علم څخه خالی نه دئ دولت د بایزید مسکین چي په "پیر روښان" او "میان روښان" سره مشهور دئ، مرید و، دی د خپلي مریدئ اظهار دغسي کوي :

زه فقیر دولت مرید د میان روښان یم
له فترا که به یې نه کاږم آســان لاس

## معاصرین :

دولت د میرزا انصاري معاصر دئ، او دواړه په یوه زمانه کي تېر سوي دي، مګر میرزا تر

ده دمخه وفات سوی دئ، لکه چي د دمخني بیته ښکارېږي. دی د میرزا سره ډېره علاقه او پر ده باندي یوه خاصه عقیده لري، معلومېږي چي "میرزا" هم د ده استاد او یا پیر و، د میرزا په نسبت داسي اظهار کوي :

میرزا ګنج راته خپل کور وښو غني شوم
بېـــــهوده منت به ولي د بل چـــا وړم
محــــــقق وحــدتي کان د تصـــوف و
په رمـــوز يې په هـــــمه علم دانا کـــړم

دولت میرزا انصاري او نورالدین چي د "پیر روښان" زوی و، په یوه ډول ستایي، او روښان د علم ښار او دوی يې ور ګڼي، لکه چي وايي :

"میرزا خان" د "نورالدین" صفت به څه کړم
مـــیان روښان د پوهي ښـــهر دوی يې ور وو

خصوصاً پر "میرزا" باندي ډېره عقیده لري او د پیر روښان د ټولو علومو مظهر دی بولي لکه چي وايي :

د هادي په زړه چي پټ و په ډېر کاله
د میرزا خوله د هغه علم مظـــــهر و
په دنیا يې محــــبت تکــــبر نه که
په ظاهر سپینه جــامه کي قلـــندر و

دولت د شعر په لحاظ هم میرزا ته په یو لوی حیثیت قایل دئ، او د شاعرئ په باب کي يې داسي اظهار کوي :

هیڅ افغان ده غوندي شعر کـــړی نه دئ
په خپله زمانه کي دی تر هر شاعر بهتر و

دولت په پخوانو شاعرانو کي صرف دا لاندي درې تنه یاد کړیدي : میرزا او ارزاني او مخلص، لکه چي وايي :

بې میرزا بې ارزاني بې مخلص یاره
بل شاعر برابر نه دئ پښتون ستایو

معلومېږي چي مخلص هم د ده یو خوږ ملګری و او د ده په ژوند کي وفات سوی دئ، د ده په فراق کي داسي وايي :

غم دیده زړه مي محـــــزون شو
په "مخلص" یار پسې خون شو

## مذهب :

دولت سني او د اهل السنه والجماعه څخه و، لکه چي وايي :

زه دولت سني مسلم ـاريار منـــــمه
هم پر خداى رسول راوړى دئ ايمان ما

مګر دا خبره چي دى پر دي اظهار باندي څه شي مجبور کړى دئ، ښايي چي سبب يې دا وي : چي دى د پير روښان مريد دئ، او پير روښان ځيني خلك له اهل السنه والجماعه څخه نه بولي، بلکي يو افراطي متصوف يې ګڼي، نو دولت به د دې ببري چي دا ګمان ښوك پر ده ونکړي دا اظهار کړى وي.

## د دولت ديوان :

دولت د يوه ديوان بلکي د يوه کليات خاوند دئ. د ده کليات نه دئ چاپ سوى، قلمي نسخې يې هم ډېري لږ دي. د ده د ديوان يوه قلمي نسخه چي پنځه زره بيتونه لري دوه دفتره ده، يو اول او بل دوهم، او د هر دفتر دمخه او وروسته نور هم ډول ډول متفرق اشعار لکه : رباعيات، قطعات، قصايد، مثنويات لري. د ده کليات د شعر د ډيرو انواعو او اقسامو مجموعه ده، چي يوه بې تاريخه نسخه يې په پښتو ټولنه کي سته، او بله نسخه يې په (٤٢٢٨) نمبر د (١١٠١ هـ) ليك د برطانيا په موزيم کي ده[١].

## د دولت شاعري او افکار :

دولت په خپل وخت کي ښه پوره شاعر دئ. د ده کلام د معرفت د اسرارو څخه ډك دئ. شعر يې نسبتاً روان او ساده او د مشکلو او نامانوسو الفاظو او کلمو او د ګرانو او مشکلو قافيو څخه خالي دئ. که څه هم ميرزا ډيرو خلکو ستايلى دئ، او ده هم پخپله د هغه ډېر صفت کړى دئ. مګر د ميرزا کلام خو د معنى په لحاظ ډېر لوړ، او د ډېرو خلکو تر فهم هم پورته دئ، خو د الفاظو په لحاظ ډېر سره پېچلى دئ، او د ده ټول ديوان د وحشي او نامانوسو الفاظو او قافيو څخه ډك دئ، لکه پيرمحمد کاکړ چي وايي :

د ميرزا شعر به جـوړ و، ولي دريغه
په وحشي الفاظو ده کړ ويران شـعر

دولت لکه خپل استاد ميرزا د تصوف او د معرفت ګران مسايل په پښتو شعر کي ځاى

---

١-د هند د زړو آثارو مجله، ج ١١، ص ٥٦٧.

کړي دي، او تر میرزا یې هم په آسانه ژبه سره دغه مطالب ښودلي دي. دی که څه هم د علم او د فضل دعوه نه کوي، مګر شعر یې یو قسم متانت او خوند او په دې خپل مسلك کي پوره قدر او قیمت لري. د ده په دېوان کي بېله عشق او سلوك بل شی په نظر نه راځي، او په عشق او سلوك هم بیا هغه مرتبه ده چي د فنا فی الله یا د لاهوت مقام یې بولي. دی په تصوف کي لکه میرزا د وحدت الوجود پر مسئله قایل دئ. دی وایي چي اصلي او حقیقي وجود یو د باري تعالی وجود دئ، او دا نور ټول اعتباري او ظلي وجودونه دي. هر څه چي دي هم دا یو قدرت دئ، صرف د ظهور لباس یې مختلف دئ. کله په یوه رنګ کي جلوه کوي او کله په بل رنګ کي، او دا کائنات ټول د باري تعالی د قدرت مظاهر دي، او لکه واحد چي په ټولو اعدادو کي ساری او ظاهر وي، دا رنګ دی هم په کائناتو کي ظاهر دئ :

په دوه کـــــــونه باور وکړه
موجود هیڅ نشته بې خدایه

دولت د وحدت په اسرارو خبر دئ، په هر شي کي د خپل آشنا جمالویني:

د یوه آشنا نښان پکـښې لـــــیده شي
په هر ګل چي فهم ښه جدا جدا کړم

دولت ددې لاندي کسانو په صفت کي ځان ګڼوي، او پر خپل حال باندي هم دوی ګواهان تېروي :

د خود بین ســـــترګي ړندې دي نه یې ویني
هسي نه چي حق غایب شـــــــو ناپدید دئ
د دې حال ګواه مي بایزید، حسن، جنید شو
ملا روم، شمس د تبریز عــــــطار فرید دئ
مغربی ، ســــعدي، جامي او خــــــاقاني
ارزاني میرزا، مخــــلص، احمد سـعید دئ

دولت په دې خپل مسلك کي پر منصور هم تنقید کوي، او وایي چي باید انسان د دوست حال لکه خزانه پټ په زړه کي وساتي، او په هیڅ صورت سره د آشنا د میني حال چاته ونه وایي، او که نه نو سزا به یې لکه د منصور وي :

که د دوست پوشیده حال و چاته فاش کړي
د منـــــصور په دود لایق په ســــــر د دار وي

## د کلام نموني :

زه اول هــم دېــوانــه وم، دېــوانــه يــم لا تــر اوســه
لـه دلـداره هـمـخـانـه وم، هـمـخـانـه يـم لا تـر اوسه
له طفلۍ نه عاشق وش وم، غم طلب او بلا کش وم
د دلـبـر د مـخ پـه شـمـع، پـروانـه يـم لا تـر اوسه
زه هـلـك هـم افـسـانـه وم، لـه عـالـمـه بـېګـانـه وم
تـر ځـلوېښـتو کالو تېر شوم، بېګانه يم لا تر اوسه
چې عـاشـق پـه جـانـانـه شـوم، لـه اغـيـارو کـرانـه شـوم
تـور وېښـتـه مي د سر سپـين شو، کرانه يم لا تر اوسه
چې داخل د يار په صف شوم، د تهمت د تير هدف شوم
عـامـو خـاص مـي واړه ولـي نـښـانـه يـم لا تـر اوسـه
تـل راضـي يـې پـه قـضـا وم، هـم صـابـر يـې پـه بـلا وم
عـذر نـه لـرم لـه حـکـمـه، بـې بـهـانـه يـم لا تـر اوسـه
د شـيـريـن دلـبر لـه لاسه، مـا شـراب د عـشـق بـې قـيـاسه
څـو بـې حـده مـي ډېـر وڅـښـه، فـرزانـه يـم لا تـر اوسه
دا فقير "دولت" يو مست يم، د آشنا په مينه هست يم
پـه ازل مـي شـراب چـښـلـي، دېـوانـه يـم لا تـر اوسـه

پـه ظـاهـر بـاطـن چې ګـورې سـبـحـان يـو دئ
صـورتـونـه ډېـر لـيـده شـي جـانـان يـو دئ
د کـثـرت پـه حـسـابـونـو غـلـط مـه شـه
مـومـنـان هـر څـو انـبـوه دي ايـمـان يـو دئ
پـه صـدف کـې دُر خـالـص پـه مـارکـي زهـر
بـارنـده پـه هـر ځـای ابـر نـيـسـان يـو دئ
رنګا رنګ ګل ځـني پيدا شي په پټي کي
چـي ګـيـاه پـرې زرغـونـېږي بـاران يـو دئ
کـه لـښـکـر حـشـم يـې ډېـر لـيـده شي څـه شـو
چي په حکم يې عمل شي سلطان يو دئ
د مـعـشـوق عـاشـق جـامـه واغـونـدي راشـي
عشق باقي شاهد مشهود بې ګمان يو دئ
پـرې مومن کـافـر مـاهـی چـنګـښه زيـست کـا
پاك درياب بې حده لوی بې پايان يو دئ

د مجاز پڅو څـــــــادرکي يې مخ پټ کا
د "دولت" د زړه انيس پټ عيان يو دئ

د عـاشـق اوښـو قـيـمـت کـا د ګـوهـر مـات
په زيـړ مـخ يـې کـا ډېـر قـدر د زيـړ زر مـات

مـعـتـقـد د پـېـغـمـبـر پـه مـعـجـزه شـه !
د انـګـشـت پـه اشـارت يـې کـه قـمـر مـات

روحـانـي شـاهـد بـې حـده ښـايـسـتـه و
په روښـان جـمـال يې کـا رونـق د نـمـر مـات

په ښه بوی يې مشك سندل ګلاب خجل کړه
پـه شـيـريـن کـلام يـې خـونـد کـا د ثـمـر مـات

پـه بـلـنـد قـامـت يـې سـروه شـرمـنـده کـړه
کـړ مـشـکـيـن ګـيسـو يـې قدر د عـنـبـر مـات

په سور سپين مخ يې سيم زر په بحث پړ کړ
پـه بـازو يـې سـخـت بـتـان کـړه د آذر مـات

زنـخـدان يـې د بـاغ سـيـب کـړ بـې رواجـه
په نازك تـن يې ښايست كه د سيمبر مات

د هـمـت تـښـتـن تـه خـدای هـسـي زور ورکـړ
د فـرهـاد پـه شـان تـنـهـا کـانـدي لـوی غـر مـات

د مـــــــردانو قـــوت هسي دئ "دولته" !
چي په غشي د دعا كه درست لښكر مات

په سپين مخ ويښته ډېر زيب کا د دلبر تور
تر کافور ګلاب خوشبوی تر مشك عنبر تور

کـه لـښـکـر تـمـام چـا تـور لـيـدلـی نـه دئ
د يـار خـط زلـفـي دي وګـوري لـښـکـر تـور

د پـيـریَ پـه وخـت بـه کـار د ديـن پـسـو کـړې
پـه ځـوانـي دي طـلـب نـه وکـا پـه سـر تـور

د عارف مومن به مخ تر لمر روښان وي
د کـافـر مـنـافـق مـخ د زاغ تـر پـر تـور

هغه زړه تر سنګ آهن سخت دئ "دولته"
چي له غـــمه يې وانه غـوندي څـــادر تور

﴿ ۱۲ ﴾

# فتح خان

پښتانه ځيني کيسې لري، چي په ټوله پښتونخوا کي يې زښت شهرت موندلی دئ، دا کيسې د پښتو په ادبياتو کي خورا اهميت لري او د پښتو د ادب يو مهم ټوك ګڼل کېږي، په دې

کیسو کي موږ ښېله ادبي پانګي د پښتنو روحیات، افکار، عقاید او ملي دودونه او عنعنات ښه لیدلای سو.

دا کیسې دوه پهلوانان لري، چي یو مین او بله مینه وي، د دوی د میني وقایع او د ژوندن احوال ټوله په دې نقلو کي راځي.

دا نقلونه دوې برخي لري، یوه برخه یې نثر ده، چي د کیسې وقایع په بیانېږي او بله برخه یې نظم ده، چي د مین او میني او نورو خلکو چي په کیسه کي برخه لري نارې او ویناوي په خاص ملي نظم راوړلي کېږي.

دا د نکلو نارې زموږ د ملي شعر اساسونه دي او ډېر خواږه مضامین هم لري په دې کتاب کي موږ د هر شاعر ځني نارې د ده په نامه را اخلو :

## فتح خان څوک و؟

فتح خان د اسلم خان زوی په قوم بړېڅ چي د کندهار په کلابست کي اوسېدی، اسلم خان د کلابست پاچا و، او د فتح خان معشوقه (رابیا) نومېده، فتح خان د (٦٠) تنو بړېڅو سره د هند فتح ته ولاړ او هلته یې د مغولو سره سخت جنګونه وکړه څو چي دا ټوله ملګري یې په جګړو کي مړه سوه، فتح خان د پښتنو یو توریالی او ننګیالی شاعر دئ، چي په دې کیسه کي ټوله د ده مړاني په ښه ډول بیان سوي دي، مګر هغه عصر چي فتح خان پکښې ژوندی و یقیناً ښه نه معلومېږي، له لاندي څېړنو څخه به تاسي ته ښکاره سي چي دا کیسه تر زرم هجري کال دمخه وه :

## د فتح خان د ژوند زمانه :

د فتح خان د کیسې له یوې نارې څخه ښکارېږي، چي د دوی د ژوندون پر وخت کلابُست ودان و، دا تاریخي ښار خو تر اسلام دمخه د هیاطله پاچهانو په تصرف کي و، وروسته نوشیروان ساساني واخیست[1].

هغه وخت چي مسلمانان راتله هم دا ښار ودان و، بلاذري لیکي چي مسلمانانو قوزان بست د (٣٠ تر ٥٠ هـ) پوري له کابلشاه رتبېل څخه ونیوی[2].

که څه هم اسلامي دایرۍ المعارف د بُست ورانې د سلطان علاوالدین جهانسوز له خوا د (٥٥٠ هـ حدود) او بیا د ګوډ تېمور له خوا لیکي، مګر د تحقیق له رویه دا ښکارېږي، چي

---

١- دائرة المعارف اسلامي، ج ١ ص ٨٠٥.

٢-فتوح البلدان بلاذري، طبع مصر

علاوالدين جهانسوز په بُست کي یوازي د غزنوي پاچهانو ودانۍ ورانی کړي وې[۱] او تېمور هم دا ښار تړوله نه دی وران کړی[۲]، ځکه د تېمور زوی شاهرخ میرزا (۸۰۷ - ۸۵۰ هـ) هم په دغه ښار کي سکه وهلې ده، چي زما څخه سته، نو داسي ښکارېږي چي د بُست ښار تر دغه وخته لا ودان او مسکون، بلکي دارالضرب هم و، وروسته د صفویانو او مغولو په پاچهي کي موږ د دې ښار نوم لږ اروو، نو دا ویلای سو، چي دا ښار تر (۹۰۰ هـ) وروسته غیر مسکون سوی او ورو - ورو ښه پسې وران سوی دئ چي آخرنۍ کلا یې د (۱۱۵۰ هـ) په حدودو کي نادرشاه افشار نړولې ده[۳].

نو په دې حساب موږ دا ویلای سو، چي د فتح خان د ژوندون وخت ضرور تر زرم هجري کال دمخه و، ځکه چي د فتح خان په جنګ کي مغول ډېر ذکر سوي دي دا خو هم ښکاره ده، چي تر (۹۰۰ هـ) وروسته تېموري شهزاده ګان پر هرات ، کندهار، زمین داور او بست حاکمان وه[٤].

وروسته چي ظهیر الدین محمد بابر په افغانستان او هند کي حکومت جوړ کی نو پر هند د مغولو اقتدار ډېر سو، ځکه چي د مغولو د دې اقتدار زمانه تر (۹۰۰ هـ) وروسته ده، او بابر په (۹۳۷ هـ) کي مړ سوی دئ، نو د فتح خان د ژوندون دوره هم د (۹۰۰ هـ) حدود ټاکلای سو.

د دې نکل هغه ناره چي د کلابُست وداني ځني ښکارېږي دا ده :

"که دوې دي دوې دي، دکلابُست دروازې دوې دي
پر یوه یې فتح وزي، پر دا بله یې د مور سوي نارې دي"

اوس چي لږ څه د فتح خان د مسکن او د ژوندون وخت درمعلوم سو نو د ده د نکل ځیني نارې د نمونې په ډول واروئ :

﴿۱﴾

هغه وخت چي فتح خان د هند خواته رهي کېږي راځي پر خپلي معشوقې داسي ناره کوي :
که پوښي پوښي د رابیا خولګۍ پوښي !
فتح ځي د هند و لور ته دغه ګل رابیا مي ځي که دلې اوسي؟

---

۱- طبقات ناصري قلمي، ص ۱۹۱.

۲- یاقوت حموي چي خپل کتاب معجم البلدان یې تر (٦٢٦ هـ) دمخه لیکلی دئ په دوهم جلد، ص ۱۷۱ کي د بُست وداني ښیي، مګر دومره وایي چي د ورانۍ آثار پکښې ښکاره دي.

۳- دائرة المعارف اسلامي، برطانیا، ج ۱ ص ۸۰۵.

٤- تاریخ سند، میر معصوم کندهاري، ص ۸۹.

﴿۲﴾

یوه ورځ چي فتح خان او ملګري يې جنګ ته تللي وه، چي له جنګه راغله رابيا پوښتنه وکړه چي څه سوبه مو راوړې ده؟ فتح خان ناره پر وکړه :

رابيا تور دي لونګين سپين دي رخسار دئ
د شپېتو بريځو بړغ پر هندوستان دئ

﴿۳﴾

په یوه جګړه کي چي د فتح خان ورور (كرمى) ځان تر خپل بادار قربان كى او د خپل بادار څخه يې دفاع كول، نو ټپي سو، فتح خان داسي ناره پر وکړه :

آفرين كې پر دا هسي نوكر باندي
ځان يې واچاوه د دې بادار د وړاندي

﴿٤﴾

بل وخت چي فتح خان يوازي د دښمن مقابلې ته وزي، رابيا يې نه پرېږدي خو فتح خان داسي ناره پر کوي :

كه نتي نتي، د ګواريو سانګي نتي
يا مي خور يې يا مي مور يې، څو يې نكړم پر دا سپينه سينه پڅي

﴿٥﴾

په دې ډول فتح خان را رهي سو، يوازي و، رابيا په پسې وه، او ده بيا ناره پر وکړه :

كه ښه كه، ښه كه، رابيا نجل كه له ما ښه كه
دا جنګي زغره دي مخي لره راوړي !

﴿٦﴾

فتح خان چي د دښمن سره پر ميدان مخامخ سو ويې ويل :

كه بوټي بوټي هندوستان مي بوټي بوټي
په سپيتانه كي خلاص نه سي اوس راواړوه د سپينو چړو متي

﴿۷﴾

هغه وخت چي فتح خان په جنګ کي ټپي کيږي نو په څه ارمان خپل وطن يادوي :

که پاخه دي د کندهار انار پاخه دي

اسلم خان بابا دې خوري پر ما ترخه دي

يادونه :

ځيني پوهان وايي چي د فتح خان کيسه تر اسلام دمخه واقع سوې ده، ولي چي هلبرانټ Hillebrandt داسي ليکلي دي، چي په رګويدا کي راغلي دي چي پخوا په اراکوسيا (کندهار) کي د يوې قبيلې پاچا (واسوديوا) نومېدی، د دې پاچا زوی (سوداس) پر هند حمله وکړه، او ډېر فتوحات يې نصيب سوه.

مګر دا خبره ډېر تحقيق غواړي ځکه چي تر اوسه لا هم د دې زعم تائيد د علم او تدقيق له خوا نه دئ سوی نو موږ د اوسنيو تحقيقاتو سره سم د فتح خان کيسه او د ده ژوند تر زرم هجري کال دمخه وګڼلی، که آينده تحقيقاتو هغه زعم تائيد کی، البته بيا به تصحيح هم سي، اوس خو موږ د يقين له رويه دغومره معلومات موندلي دي.

﴿۱۳﴾

# رابيا

رابيا د فتح خان بريخ (چي بيان يې دمخه تېر سو) معشوقه وه، او د فتح خان په نکل کي راغلي دي، چي د رابيا پلار د فتح خان د پلار اسلم خان وزير و، رابيا د فتح خان يوه معاصره پښتنه وه، چي خپل پلار فتح خان ته په نکاح ورکړې وه او دا دوه تنه يو له بله خواږه مينان وو.

رابيا د فتح خان معشوقه په جګړو کي د خپل مين سره ملګرې وه او داسي ښکارېږي چي دا يوه توريالۍ او مېړنۍ پښتنه وه، د فتح خان په کيسه کي يوه مهمه برخه دا پښتنه لري او د دې ډيري عاشقانه نارې زموږ په ملي ادب کي پاته دي، نو ځکه موږ رابيا يوه پښتنه شاعره هم ګڼو، او لاندي د دې نارې د نمونې په ډول را اخلو :

﴿۱﴾

هغه وخت چي فتح خان د هند خواته ځي نو دی پر رابيا ناره کوي، چي آيا ته راسره ځې او که پاته يې؟ رابيا د خپل ګران مين په جواب کي داسي ناره کوي:

که ځوړاندي ځوړاندي د کرنګ ورځي ځوړاندي
فتح ځي د هند و لور ته دغه ګل رابيا مي ځي د تا تر وړاندي

﴿۲﴾

يو سهار چي فتح خان لا بيده دئ، د هند د جنګ په ميدان کي د دښمن لښکر راغلی او د پښتنو شاوخوا يې اړولي دي، رابيا چي دا حالويني، نو پر خپل مين داسي ناره کوي :

سر د سره – سره پلنګه لوړ کړه فتح خانه !
نن څه نجتي، نجتي شمس الدين کاپر خېمې دي

﴿۳﴾

په جنګ کي يوه ورځ د رابيا د ورور پردل لاس په توره ځي، او په يوه لاس د جنګ له ميدانه راوزي، نو چي ماښام راځي رابيا داسي ناره پر کوي :

که يو رنګ دي فتح خان سپاهيان يو رنګ دي
دا پردل لالا مي ولي خدايه ولي په يو څنګ دئ

﴿٤﴾

بله ورځ چي پردل خان په يوه لاس جنګ ته وزي، هلته سخت ټپي کېږي، نو يې يو بل ملګری تر شا په آس پوري تړي کورته يې رارسوي، او آس خالي راولي، رابيا چي دا منظره ويني نو داسي ناره کوي :

خدای دي خير کي فتح خانه کرم خانه !
د پردل نيلی کوتل رامعلومېږي

﴿٥﴾

يوه شپه چي فتح خان له جنګه ستړی ستومانه راغی نو بيده سو، سهار وختي د ستړيا له سببه نه سواى راکښېنستلای، نو رابيا په دې يوه ناره کي ده ته وايي، چي که ته جنګ ته نه ځې خو دا دئ زه به مقابلې ته ولاړه سم :

سر د سره – سره پلنګه لوړ که فتح خانه !
رابیا ګلي ، ګلي پنده ورته کړه سپره سوه !

په دې ډول دا توریالۍ پښتنه خپل مین ته د پښتنوالي او مړانې درس ورکوي، او پر جنګ او مقابله یې تشویق کوي.

﴿٦﴾

هغه وخت چې رابیا د خپلو ملګرو پښتنو کمی، او د دوی فداکاري ویني، نو خپل د حسرت جذبات او خوږمن احساسات داسي په یوه ناره کې تصوي کوي :

فتح مې یار، فتح مې یار دئ، پردل مې ورور دئ !
څوك چې داسي یاران وخوري، هغه نجل که ښایسته وي مخ یې تور دئ

﴿٧﴾

هغه وخت چې پښتانه ملګري او فتح خان جنګ ته آخرنۍ پلا وزي، نو رابیا په څه تاثر او ښه وینا د فتح خان کرنګ ته خطاب کوي :

د فتح کرنګه نال، نال به دې زرین کړم !
که دې دا وار فتح راوی، زما امېل به دې د غاړې لونګین کړم

﴿ ١٤ ﴾

# اسلم خان

د فتح خان د نکل د عنعناتو له رویه اسلم خان د فتح خان پلار، او د کلاېست پاچا و، دا سړی د بړېڅانو مشر و، د فتح خان په نکل کې یو څو نارې اسلم خان ته هم منسوبې دي، چې موږ یې لاندې راوړو، نور د ده د ژوندون عصر تاسي د فتح خان د برخې له ویلو څخه معلومولای سئ :

﴿۱﴾

هغه وخت چې فتح خان د پلار بې خوبني د هند پر خوا رهي کېدی، او د تګ له پاره یې په کلابُست کې نغاره وهله، نو یې پلار ناره پر وکړه :

که څه کې څه کې، دا هوډې، دا هوډې فتح خان څه کې؟
پر نیمه شپه یې نغارې وډنګولې، خان پر کوم لوري واته کې؟

﴿۲﴾

هغه وخت چې اسلم خان فتح خان راغواړي، او د تګ سبب ځني پوښتي نو فتح خان د ګیلې په ډول ورته وایي :

ما سلام وای سلام در واچاوه را بیا دي نه کی
چې پر تخت وای تخت در وختم ځای در رانه کی

پلار یې په جواب کې داسې ناره پر کوي :

په یوه لاس، یوه لاس کې اتام په بل قرآن دئ
اسلم خان خو مي پر تېر، وای تېر ویل پښېمان دئ

﴿۱۵﴾

# د فتح خان مور

د فتح خان په کیسه کې د ده د مور یو څو نارې هم سته، هغه وخت چې فتح خان له کلابُسته تی، نو پلار او مور دی منع کاوه، چې مه ځه !

د فتح خان پلار د نصیحت له پاره یوه ډله سپین ږیري ور واستول، چې د ده زوی وپوهوي او د هندوستان له تګه یې راوګرځوي، مګر دا مرکه چې ولاړه پر فتح خان یې اثر نه وکی، چې مرکه بیرته راغله مور یې داسې ناره پر وکړه :

اور دي ګډ سي، ګډ سي د برېښو په سپین ږیرو
مرور یې پخلا نه کی، د لاسه ورښيي یاغي ملکونه

چې فتح خان رهي سو، نو مور يې پر رابيا داسې ناره وکړه :
که بلبلي اې رابيا، رابيا ژيړې بلبلې !
فتح ځي د هند و لور ته په جلو يې لګوه دواړې منګولې

﴿١٦﴾

# کرمی

کرمی هم د اسلم خان زوی، او د فتح خان برېښ يو مېړه ورور او فداکار ملګری دئ، کرمی د فتح خان په فتوحاتو او جګړو کې لويه برخه لري، او د دې داستان يو مهم رکن دئ، داسې ښکارېږي چې کرم خان يا کرمی په دې شپېتو برېښو کې يو بېباك او توريالی سړی و، ځکه چې د فتح خان د کيسې مهم رکن هم دی دئ، او ډېر حوادث يې هم ده ته منسوبېږي نو په پښتنو کې د ده په نامه يو متل مشهور سوی دئ چې : " کرميه ! غم به نه وي، غم به راوړې" دا متل هم د کرمي بېباکي ښکاره کوي.

د کرمي ډېرې نارې د فتح خان په نکل کې سته، او دی هم لکه نور ملګري په مړانه د مغولو په مقابله کې وژل سوی دئ.

اوس د ده يو څو نارې واورئ :

﴿١﴾

د فتح خان په ملګرو کې کرمی د هندوستان د تګ جدي طرفدار او محرك دئ هغه وخت چې فتح خان ځي، او مور او پلار يې له تګه راګرزوي نو کرمی داسې ناره کوي :

که تاك دئ تاك دئ، د هندوستان په سر کې تاك دئ
فتح ځي، نه راستونېږي اچولی يې د بي بي رابيا طلاق دئ

﴿٢﴾

د فتح خان يو بل زړه ور ملګری پردل دئ، هغه وخت چې دوی له کلابُسته راوزي، نو د

پردل مور راځي، وايي چې پردل دي نه درسره ځي، پاته دي سي، کرمی چې د پردل د پاتېدو خبري اروي، داسي د حماسته ډکه ناره پر کوي :

لاس مي پر خپل زړګي دئ ایښی هم بې کښېږدم
دا پردل که ناوکۍ ده زه بې پرېږدم

﴿۳﴾

بل ځای چې فتح خان بیده دئ، کرمی ده ته د تګ او هجوم تشویق داسي ورکوي :

سر د سره پلنګه لوړ که فتح خانه !
یو مي سانګه د هندوستان پر لور کړه ده !

ځکه چې دې نارې پر فتح خان اغېزه ونه کړه، نو بیا کرمی ناره پر کوي :

سر د سره پلنګه لوړ که فتح خانه !
یاغی سوی هندوستان رعیت ملکونه !

﴿٤﴾

هغه وخت چې د هندوستان د پاچا سړی راځي، نو کرمی خپل مشر فتح خان په دې ناره معرفي کوي :

دوري یو داسي پاچا ناست دئ لویه خدایه
شمس الدین یې د نوکر پر ځای ولاړ دئ

﴿٥﴾

بل وخت د شمس الدین د طلاوو یو قافله بار ده پر لاري تېرېږي، او د مملکت پایتخت ته یې وړي، کرمی چې دا جوپهویني نو داسي ناره کوي، او هغه قافله راګرځوي، طلاوي ځني اخلي :

دا کاروان، د شمس الدین شمس الدین په طلا بار دئ
دغه ټول د برېښانو، برېښانو کوکی ښکار دئ

﴿٦﴾

یو وخت فتح خان یوازي مغولو ته د مذاکرې او روغي له پاره ورځي، او د دوی په عهد باور کوي، کرمی په دې ناره دی تنبیه کوي :

فتح خانه ! باور مه کړه، مه کړه د مغل په کلامونه
د مغل مغل اول کلام پسې تيپونه !

﴿۷﴾

فتح خان د کرمي په خوله نه کوي، او د مغولو په قول باور کوي، يوازي ورځي، مګر مغول دی نيسي، لاسونه يې ور تړي، په دې حال کي کرمی د خپل بادار نجات ته ور رسېږي او داسي د غيرته ډکه ناره کوي :

اوس به جوړ کړم د مغولو پر سر ځلي
چي تړلې فتح خان فتح خان نازك لاسونه
وروسته نو د مغولو څخه په فداکاري خپل ملګری خلاصوي.

﴿۸﴾

په يوه جنګ کي کرمی د زمري په څېر حملې کوي، او هر وخت چي پر فتح خان دښمنان حمله وکي، نو يې کرمی مخي ته ځان ډال کي، او فتح خان وژغوري، هغه وخت چي مغولو کرمی سخت ټپي کی، نو کرمي په يوه ناره کي وويل، چي که زه مړ سوم شکر چي بادار خو مي ژوندی دئ :

که وخورئ وخورئ دا د سر کسی مو وخورئ !
که ما مړ کی مړ کی دا زما بادار ژوندی دئ!

په دې ډول کرمی د برېښو يو مړنی او توريالی ملګری و، او په کيسه کي لويه برخه په ده اړه لري، او په پای کي يې ځان تر ملګرو جار کړی دئ.

﴿ ۱۷ ﴾

# پردل

پردل د فتح خان اخښی او د رابيا توريالی ورور، او د برېښو ننګيالی ملګری و، په جنګ کي دې زمري ملګري ډېره مړانه ښکاره کړې، لومړی يې يو لاس د ميرڅمن توري يووی، څو

پلا دی په یوه لاس د میرځمن سره وجنګېدی، څو په پای کې سخت ټپي او مړ سو.

هغه وخت چې پردل د خپلو ملګرو سره له کلابُسته راوتی، او مور یې دی نه پرېښو، او کرمي ده ته د پېغور په ډول وویل : "که پردل ناوکۍ ده نو دې پاته سي" دې خبرې پر دې توریالي پښتون ډېره اغېزه وکړه، او په یوه ناره کې یې داسې خپل د مړاني احساسات ښکاره کړه :

که اوتر کړم، نه دا ستا، ستا نارې اوتر کړم

د دې لور به پاته نه سم، مګر خدای پر مسرۍ توره برابر کړم

په جنګ کې چې دښمنان په یوه کلا کې محصور سول، نو پردل داسې د تهدید ناره پر وکړه :

دروازه ژر رابښیا ، بښیا کړه ګواریه !

اور خو به بل کو د ګجریو پر سرونه

﴿۱۸﴾

# آدم خان

په قام میته خېل یوسف زی، او د سوات په برې کوټ یا بنیر کې اوسېدی، د حسن خان زوی، او د خپل وخت مشهور خانزاده و[۱].

د ده په وخت کې یو بل خان و، چې نوم یې طاوس خان، او دی هم یوسف زی و، د طاوس خان یوه لور وه، چې (درخو) نومېده، او ډېره ښکلې ښځه وه[۲].

آدم خان هم ښکلی ځلمی و، خو له کوچنیوالي یې د درخو سره مینه او د زړه اړېکی درلود، او دا مینه وروسته ډېره سوه، او دواړه یې په لمبو کې وسوه.

د آدم خان د مینې داستان اوږد دئ، یو سړی چې "میرمامی" نومېږي، د آدم خان رقیب دئ، او غواړي چې آدم خان او درخو سره بېل کې.

آدم خان جنګونه کوي، د مینې پر میدان سربازي کوي، خو په پای کې د عشق قرباني

---

۱- حیات افغاني.

۲- حیات افغاني د درخو د پلار نوم پیر جوګي خان حاجي خېل لیکي، ص ۲۱.

کيږي، او په ناکامي مري، درخو هم د ده په ماتم کي له دنيا څخه ځي، او يو ځای سره ښخيږي.

## د آدم خان د ژوندون عصر :

د دې کيسې له بعضو ځايو څخه ښکاره ده، چي آدم خان او درخانۍ د اکبر مغولي پاچا په عصر کي ژوندي وه، او دوی غالباً تر (۹۵۰ هـ) وروسته ژوندون کاوه، ځکه په کيسه کي ډېر ځله د اکبر پاچا نوم يادېږي، او د هغه وخت د مغولي حکومت صوبدار چي محسن خان نومېدی، او په کابل کي يې حکومت کاوه يادوي، دا خو ښکاره ده چي محسن خان حقيقتاً د مغولو د امپراتورۍ له خوا د کابل حاکم و[1]، د جلال الدين محمد اکبر پاچهي خو له (۹٦۳ هـ څخه تر ۱۰۱٤ هـ) نو په يقيني ډول د آدم خان او درخانۍ کيسه تر زرم هجري کال دمخه ده، او د دوی ژوند لکه چي دمخه وويل سوه، تر (۹۵۰ هـ) وروسته يقيني دئ.

## د آدم خان نارې :

آدم خان خو يو پښتون ننګيالی او توريالی او شوقي ځلمی و، ده هر کله رباب واهه، او په دې فن کي خورا ماهر و، د ده په کيسه کي خورا د سوزه او ميني ډکي نارې سته، او د پښتو ژبي له ادبي غورو آثاور څخه شمېرل کيږي.

مسټر راورټي مستشرق ډيري له دغو نارو څخه کښلي دي، او ايلفنسټن انګليس مورخ د کابل په کتاب The Account of Kabul کي د دې کيسې ذکر او شهرت بيانوي.

اوس موږ د ده يو څو نارې د نمونې په توګه راوړو :

﴿۱﴾

آدم خان درخو ته په دې ژبه د خپل عشق اظهار کوي :

درخانۍ مېرمن ملوکي ! چي په درست جهان دي ولاړې د حسن کوکي
آدم ستا کتو رنځور کړ، که ورکوزي کړې، د دواړو زلفو څوکي

---

۱ -اخوند درويزه د پښتو يو مشهور مؤلف هم په دغه عصر کي ژوندی و، او د محسن خان صوبدار نوم پخپل کتاب مخزن الاسلام کي اخلي.

﴿۲﴾

په یوسفزو کي چي آدم خان د دښمن مقابلې ته رهي سوی دئ، خپله سوبه او برې داسي بیانوي :

که تېره ده خو د باز څوکه تېره ده، د دښمن پر لور کړه ده !
ځما به دا سوبه روزي سي، نن ځما په زړه کي ټینګه اندېښنه ده

﴿۳﴾

په یوه ځای کي میټه خېل ځلمی راغلی، او د آدم خان سره په شعر او توره سیالي کوي، نو آدم خان داسي ناره پر کوي :

میټه خېل ځلمي له څرمي شاعران دي، دوی له څرمي قتالان دي
میټه خېل ځلمي د پوري بڼ طوطیان دي، زه به زړه نه کړمه کښته چي مي واړه نوکران دي

﴿٤﴾

یو وخت چي آدم خان د درخو په طلب تللی دئ، نو پر درخو داسي ناره کوي:

که مرونه مرونه له دې هسي غمه مرونه، درخو ورك دي سه کبرونه
ستا نظر ګوره پر چا دئ خبر نه یو، درخو ولي په دعو تږې تربرونه؟

د عشق په حسرت کي داسي ناره کوي :

څه د بدو آدم خان دئ، د آدم څه د بدو ځان دئ
چي ستا یو نظر پر نه سو، په دا ځان پوري حیران دئ
د سرو نتو پرهار څه دئ، چي له زړونو سره جنګ کا ستا پېزوان دئ

﴿٥﴾

د آدم خان د دعا ناره پر درخو :

که ګلي ګلي، درخو ګلي ته په وجود د طاوس خان د بڼ بلبلي
مه دي مات سه مړوندونه مه دي وچي سه څنګلي

﴿٦﴾

چي آدم خان د عشق په شور او جذب د دښمن مقابلې او جنګ ته تی، نو یې پر خپل آس چي (مجلون) نومېدی داسي ناره وکړه :

اې مجلونه اوس دي ټینګ ټینګ ترم تانګونه
چي ځما خورك همېش غم و، ستا خورك و شودې پیۍ په لذتونه

ما اغوستې زنګئ زغره او پر تا باندي پراته برګستانونه
د مېرمن پر زلفو جنګ دئ، د غليم پر لېمه پاس بړده قدمونه

﴿۷﴾

آدم خان په دې ناره کي د تمام جهان له ښکليو څخه درخو غوره کوي :

لويه خدايه اور راباندي لګي لکه عين د زنګله په وچې درګي
که په جهان ښايسته ډير دي زه يې څه کړم، د درخو په شان يې نه وي توري سترګي

﴿۸﴾

يو وخت چي درخانۍ هم د آدم خان په عشق رارهي سوې، او د ده ليدو ته راغلې وه، نو آدم خان داسي ناره پر وکړه :

راغله را روانه، ربه مه يې کړې پښېمانه، ربه مه يې کړې پښېمانه
چي اغوستې يې جوړا ده لښته لښته، د لونګو بوی يې درومي له ګرېوانه
په ميدان کي به لاس راکه، درخانۍ د طاوس لور ده پهلوانه !

﴿۹﴾

آدم خان خپله پرېشاني د درخو په عشق کي داسي ښکاره کوي :

د آدم صورت خو هېښ دئ، دی پر هري بلا پېښ دئ
دی عاشق د ښکلي مخ دئ، نه د چا دوست نه د چا خوېښ دئ

**تبصره :**

ځکه چي آدم خان ښه رباب واهه، او د رباب سره يې عشق درلود، نو اوس په پښتو کي دا مشهوره ده، که څوک د آدم خان د قبر د سر د وني ډوکي پرې او د رباب زخمه يې کړي، نو ژر رباب زده کوي.

﴿۱۹﴾

# درخانۍ

د طاوس خان يوسفزي لور، او د آدم خان معشوقه وه، چي د هغه داستان لويه برخه په دې پښتنې شاعري اړه لري[1].

درخانۍ د آدم خان په عشق کي ډېر تکاليف ليدلي، او يوه وفاداره او د ميني په اور سوې پښتنه وه، دا هم پر آدم خان مينه وه، او ډېري عشقي نارې لري، درخانۍ هم د (۹۵۰ هـ) په حدودو کي اوسېده، او د عشق توري تيارې يې ليدلي دي.

د درخانۍ عشقي نارې په پښتنو کي ډېر شهرت لري، او موږ لاندي يو څو د نخښې په توګه را نقل کوو :

﴿۱﴾

درخانۍ د آدم خان په عشق وسوه، حال يې بل راز سو، نو خلکو چي ويل ناروغه سوې ده، په علاج يې بوخت سوه، دې پر خپلوانو داسي ناره وکړه، چي ما زړه بايللی دی ناروغه نه يم :

ورانه خلکه دېو پېري وهلې نه يم، چي د چا خبره نه اروم کڼه يم

آدم خان کوچ وکړه له ما ولاړ سو، په آدم پسې په تور لېمه ړنده يم

﴿۲﴾

تر تېري نارې وروسته يې په خپل عشق داسي تصريح وکړ :

نه روغه يم، نه لېونيه، په آدم پسي به ومرم تر ګړيه

له کوره روغه رمۍ راغلم، د آدم غشي مي يووړ په پښتيه

﴿۳﴾

آدم خان د درخو کره مېلمه سو، درخو د عشق په ناز او کرشمه کي وه، د ده خوني ته نه

---

۱-هغه قلمي کيسه چي زموږ څخه سته درخانۍ د طاوس خان لور بولي، مګر حيات افغاني (ص ۲۱۱) درخانۍ د جوګي خان حاجي خېل لور ګڼي.

ورتله، آدم هم مرور شانته سو، مګر درخو بيرته دی په دې ناره پخلا کی:

نن شاهي آدم زما کره مهمان دئ، د ده خدمت ځما په ځان دئ
آدم خان مي مرور سو نه را درومي، سپينه خوله يې مېلمستيا ځای يې دالان دئ

﴿٤﴾

د وصال په شپه درخو په انتظار ناسته، يوه سترګه يې څلور دي، آدم خان وځنډېدی، درخو د ځانه سره داسي ګنګوسه وکړه :

په دا نيم پلنګ يم ناسته، دغه نيم پلنګ مي تا وته پرې ايښی
هم چي ته ځلمی رانه غلې، آدم خانه د اوربل وېښته مي ژاړي ګوښی ګوښی

﴿٥﴾

درخانۍ آدم خان ته داسي د خپل عشق اور او شور ښکاره کوي :

آدم خانه ميټه خېله ! د يوسف د مندڼ خانه
زړه دي ډك په دُر ګوهر دئ، په خبرو دُر افشانه
زه په مثل يو صورت يم، ته ځما د صورت ځانه

﴿٦﴾

د وصال شپه ده، خورا خوږه ده، آدم خان او درخو په خورا خوږو مرکو سره ګډ دي، دوی نه دي خبر چي شپه ټوله تېره او اوس سهار دئ، خو يوې مېږۍ ناره کړه، دې د سهار اعلان پر درخو توره شپه کړه، داسي د ارمانه ډکه ناره يې وکړه:

په کومي کي دي خوږ سه اې ځما د بابا مېږۍ
سبا نه و تا سبا کړ دا شاهي ادم مي تا ويوست له غيږۍ

﴿٧﴾

د وصال شپه تېره سوه، درخو ژړل او د زړه درد يې داسي ښکاره کاوه، او ناره يې وکړه :

خانه دا چي مي له تا سره کيسې کړې، دا مي واړه غير ميني انديښنې کړې
روغ عالم راخبر نه دئ، باري ما په ژړا دواړه سترګي سرې کړې
ولي به نه ژاړم آدم خان ! د سهار چرګانو ځای پر ځای نارې کړې

# ښادي خان

د ښادي خان کیسه د پښتو له ملي نکلو څخه ده، وایي چې په پخوا زمانو کې دوه ورونه وه، د بکوا د تلخک په کلي کي اوسېدل، یو ولي محمد او بل علي محمد نومېدی. د ولي محمد زوی ښادي خان او د علي محمد لور "بیبو" نومېده، دا دوه تنه سره همزولي وه، او هر کله به یو ځای ملګري سره ګرځېدل. چې لویان سول نو یوه ورځ دواړه په یوه ځنګله کي وه، د "بیبو" پر تندي سپیني خولې راغلې. نو ښادي خان چې پر بیبو مین و، د دې مخ ته کتل، میني یې د ځان ساتلو وداني ور ونړوله، او بېخوده سو، بیبو ته یې د عشق او میني اعلان وکی، او خوله یې ځیني وغوښته.

مګر بیبو خو پښتنه ننګیالۍ پېغله وه، پر دې خپل پت او ناموس ډېر ګران و، نو یې ښادي ته وویل : چې ته خو زما ګران مین یې ! مګر زه خو پښتنه یم، ناموس لرم، پښتانه خو خپله لور وراره ته ورکوي، نو ته هم ماښام زما پلار ته مرکه وکه، ما به په شرعي نکاح درکي، نو به زه ستا یم، او ته به زما ! دا خو ښکاره ده، چې بیبو هم پر ښادي زړه بایللی و، او تر ده یې بل څوک یو ښه مین او ملګری نه درلود، مګر دلته خو پښتنواله او مینه سره راغله، څرګنده ده چې د پښتنو د پښتنوالي احساس تر هر څه غالب دئ، نو ځکه بیبو خپل مین ته تسلیم نه سوه.

تر دې واقعې وروسته موږ وینو، چې هم بیبو او هم ښادي د عشق ځپو اخیستي دي، دواړه یو په بل پسې لېوني دي، مګر قضا د دوی تر منځ بېلتون اچوي، او ښادي خان د عشق په سوي کي له وطنه ورکېږي، ځي اصفهان ته !

بیبو چې د مین د تګ خبري اروي، راځي زارۍ جګۍ ورته کوي، چې مه ځه! مګر ښادي قسمت پردېسۍ ته کشوي، د ښادي او بیبو دغه بېلتون او دا فراق توري ورځي په اور او سوي کي تېرېږي.

څو عمر وروسته د ښادي پلار ځي، خپل زوی وطن ته راولي، دلته یو ګړی ښادي او بیبو سره ویني، وروسته نو ښادي کوټې ته ځي[1] له هغې خوا چې راځي، پر لاري ناروغه کېږي، او نژدې د خپلي محبوبي کلي ته مري. بیبو او د ښادي خپلوان چې په خبرېږي، راځي ښادي مړ ویني، دلته پښتنه مینه د خپلي میني او رشتیني عشق وفاداري تر سره کوي راځي پر مین باندي لکه بورا

---

۱- اوسنۍ کوئټه په بلوچستان کي.

کړېږي، او ځان پر اچوي، خوله پر خوله ور ایږدي او مري. د ښادي او بیبو خپلوان چي راځي نو ګوري چي بیبو هم ځان تر ښادي قربان کړی، او د عشق په لمبو کي ستۍ سوې ده، وایي چي تر مرګ وروسته دوی دواړه یو ځای ښخوي، د دې دوو رشتینو مینو قبر تر اوسه په دلارام کي پر یوه لوړه غونډۍ موجود دی، او خلك یې په مینه زیارت کوي، دوی دواړه په یوه قبر کي ښخ دي.

دا وو د دې دوو مینانو اصلي حکایت چي په پښتنو کي ډېر شهرت لري، د عشق په دې دوره کي زموږ پښتنو مینانو خواږه اشعار ویلي او سوزاني نارې یې کړیدي، چي زموږ په ملي اشعارو کي غوره ګڼل کېږي، او لاندي به راوړل سي.

## د ښادي او بیبو د ژوند وخت :

دا مطلب خورا مهم او ډېر ورك دئ، څوك نه سي ویلای چي دا کیسه څه وخت پېښه سوېده، او ښادي خان کله ژوندی و؟

دومره ښکارېږي چي پېړۍ پېړۍ دا کیسه پښتنو یو له بله ساتلې، او سینه په سینه رانقل سوې ده.

له یوه کتابه چي "تحفۀ معصومی" نومېږي او سید محمد معصوم د سید صفائي زوی، متخلص په نامی[1] کندهاري لیکلی دئ، هم داسي ښکارېږي چي ښادي او بیبو تر (۹۰۰ هـ) دمخه تېر سوي دي، ځکه سید معصوم خو د هجري زرم کاله په حدودو کي کندهار او فراه ته راغلی دئ، نو ده هم د ښادي خان او بیبو زیارت کړی، او داسي یې لیکلي دي، چي دا دوه تنه مینان وه او یو ځای ښخ دي، نو که تر سید معصوم دمخه په نژدو وختو کي ښادي او بیبو مړه وای ښایي چي میر معصوم کندهاري هم د نژدې عصر اشاره ورته کړې وای، معلومه ده چي د میر معصوم د تېرېدلو پر وخت نه د بیبو او ښادي خپلوان وه، او نه دغه مقبره نوې وه. که نه وي میر معصوم کندهاری خو یو متجسس او مورخ سړی دئ، که د نژدې وخت وای ښایي چي ده پخپله هم د دوی معاصرت ویلی

---

۱-دا سید د مور له خوا د کندهار د بابا ولي صاحب (بابا حسن ابدال) او د پلار له خوا د سید شېر قلندر (د کندهار د سکېلچې مدفون) له اولادې څخه دئ، چي پلار یې د سند بکر ته تللی و، او سید معصوم په (۹٤٤ هـ() زوکړی، او په (۱۰۱۹ هـ) په سکهر کي وفات سوی دئ. دا سړی د جلال الدین اکبر لوی سپه سالار و، او په هند او افغانستان کي یې شهرت درلود، دی د زرم هجري کال په شاوخوا کي کندهار او فراه ته راغلی دئ، په کندهار او بکوا کي ده پر غرو ډېرلیکونه کړي دي، د کندهار په چهل زینه کي هم د ده لیکونه سته، شاعر، ادیب، مؤرخ و، تاریخ سند او تحفۀ معصومي د ده کتابونه ما لیدلي دي.

وای.

## د ښادي نارې :

د ښادي خان په نکل کې د ده نارې ډېر ادبي قیمت لري، او د پښتو په ملي شعر کې شمېرلي کیږي، نو دا دئ چي لاندي یې د نمونې په ډول راوړو :

﴿۱﴾

هغه وخت چي لومړی پلا ښادي خان بیبو ته د عشق اعلان کوي، نو بیبو د افسوس او تعجب په ډول دا ناره کوي :

چي دا ښادي هلك و ما یې تل اودې څړی
اوس چي دا ښادي را لوی سو نو له ما غواړي خولګۍ

﴿۲﴾

چي ښادي د عشق په سوي او لېونتوب کي له وطنه ورك سو، اصفهان ته ولاړ، نو یې له هغه ځایه خط راواستاوه، په عنوان کې دا نارې لیکلي وې :

کاغذه ورسه پر بیبو مي سلام وایه
په صورت روغ یم، په زړه بیمار یم
بیبو ستا د بې نیازیه ! بې نیازیه !
دا ژړی ښادي بندي د اصفهان دئ

﴿۳﴾

ښادي له اصفهانه بیرته خپل وطن ته راغی، پر لاري چي دلارام ته راورسېدی، نو یې د بیبو د لیدو په شوق داسي ناره وکړه :

نن مي د یار ، یار پر لور سفر دئ
خدایه که لنډ کې د بکوا اوږده مزلونه

﴿٤﴾

چي ښادي د بیبو له وصاله محروم سو، نو د هند خواته رهي کېدی، په دې ناره یې د خپلي میني سره د خدای په اماني وکړه :

یو آس مي زین ملا مي تړلې، یو آس مي زین ملا مي تړلې
بیبو راووزه رخصت راکه، چي دا ژړی ښادي مي ځي د هند ولات ته

﴾۵﴿

ښادي د هند مسافر سو، د کوټي د خوا د بازمحمد خان سوداګر کره مېلمه و، د هغه لور شیرین جانه پر ده مینه سوه، مګر د ښادي خان خپله مینه بیبو نه هېرېده، هغه وخت چي شیرینه پر بام ولاړه وه، او پر ښادي یې یو کاغذ راواچاوه، ښادي په یوه ناري کي داسي ځواب ورکی :

پر بام ولاړې، ولاړې نجوني چي کاغذ په ګوتو نغاړې
زړه مي یو دئ بیبو وړی، د بالا مېرمني څه له ښادي غواړې

﴾٦﴿

د دلارام په یوه کنډواله کي ښادي ناجوړه پروت دئ، یو سړی راغی ښادي ورته وویل : چي ځما د رنځ احوال یوسه، چي مور او پلار مي خبر سي، پر بیبو مي هم سلام ووایه، او داسي ناره یې وکړه :

اصفهان نصف جهان دئ، تلخك هم بټ بیابان دئ
پر بیبو مي سلام وایه چي ژړی ښادي جان پروت پر دلارام دئ

﴾۲۱﴿

# بیبو

د ښادي خان معشوقه "بیبو" نومېده، چي کیسه یې د ښادي خان په بیان کي تېره سوه، بیبو یوه پتیالۍ پښتنه وه، او د خپل مین سره داسي وفاداره وه، چي تر مرګ وروسته یې ځان پر مین باندي واری کی، د ښادي خان په نکل کي بیبو خورا د اوره ډکي ناري لري، چي لاندي یې د دې د وینا د نخښې په ډول راوړو :

﴿۱﴾

هغه وخت چي ښادي بيبو ته د عشق اعلان کوي، نو بيبو د پښتونوالي په حکم د عاشق خواهش نه مني، نو ښادي ځي، چي بيبو يوازي کېږي، د ځانه سره فکر وهي، او د مين درخواست او د دې ځواب په څه ارمان په دې ناره کي تصوير کوي:

خدايه د دې پوټې په ها خوا، د دا بل پوټې په دې خوا زما او د ښادي وه سره ناسته

سپنه خولګۍ يې له ما غوښته، ور مي نه کړه، زما ارمان سوې د ښادي اوستريه خواسته

﴿۲﴾

چي ښادي خان ولاړ بيبو د ده په بېلتون وسوځله، نو يې پر خپلي مور داسي د وير او آرمان ناره وکړه :

مورکۍ ورسه     بابك خبر که

زړه مي ډوبېږي    اور را لګېږي

ښادي جان ورك سو     نه راستونېږي

چي ښادي نه وي     ژوند هيڅ نه دی بيبو ته

﴿۳﴾

بيبو د خپل مين په بېلتون کي ناسته ده، د بکوا پر دښت کاروانونه تېرېږي، دا ورته ګوري، چي ګوندي د دې مين په دې کاروانو کي وي، مګر ياس غلبه پر کوي، د خپل زړه سوی داسي ښکاره کوي :

کاروانونه د بکوا پر دښت تېرېږي، کاروانونه د بکوا پر دښت تېرېږي

ښادي جان ورسره نسته، په دا نور کاروان مي مينه نه ماتېږي

زما ارمان ښادي مي بايلو

﴿٤﴾

د ښادي پلار په خپل زوی پسې اصفهان ته ځي، بيبو هم کاغذ کښلی دئ، راغله خپل اکا ته زاری کوي، چي دا کاغذ مي درسره يوسه او ناره پر کوي :

کاکا چي ځې کاغذ مي يوسه ښادي له يې وروړه ورته وايه :

بيبو پروته ده تر زړه يې څاڅي ستا د بېلتون ويني زما ارمان سوی

﴿۵﴾

هغه وخت چي ښادي له اصفهانه راغی، او د بیبو د کور په دروازه کي يې بږغ وکی، چي پردېس یم، یو چلم راډك که چي ویې څکوم، د بیبو مور دې ته وویل چي مسافر ته چلم ډك که، نو ښادي خان ناره پر وکړه :

که ورو ځي بیبو جانه په څه شان په کرشمو ځي
د یوه ښادي له پاره بخملي ګوتي سیځي پر چلم اور بږدي

بیبو چي د ښادي بږغ واروېدی د خوشحالۍ يې داسي ناره پر وکړه :

چلم به ډك کړم د لونګو دا ژړی پېزوان به پاس پر چلم کښېږدم
نو به یوسم دا چلم او سپینه خوله به د ښادي و مخ ته کښېږدم

﴿٦﴾

کوم وخت چي ښادي خان د بیبو په وصال مړفق نه سو، او کوټي ته تی، نو بیبو په خبره سوه، ورغله زارۍ يې ورته کولې، چي مه ځه، مګر ښادي ویل ځم، دلته بیبو ناره وکړه :

ښادي جان ګرځوم نه پاته کېږي، ښادي جان ګرځوم نه پاته کېږي
سپینه خولګۍ که ورکوم، ښایسته ښادي مي هم نه راضي کېږي

﴿ ۲۲ ﴾

# ظریف خان

د ظریف خان کیسه په پښتنو کي خورا مشهوره ده، وایي چي ظریف د یونس خان زوی په قوم اڅکزی او د کندهار په کشك نخود یا د فراه د "چړا" په کلو کي اوسېدی، چي تر اوسه یي د کلاوو پاته آثار په دغو ځایو کي سته. دی د ښادی خان (چي احوال يې دمخه ولیکل سوه) د خپلوانو څخه و.

د ظریف خان کیسه داسي ده، چي د پلار ګران زوی او یو پښتون غښتلی او ښکلی ځلمی و، پلار يې د خپل عصر د ملوك الطوایفۍ مشهور خان او مشر و ظریف خان د پلار په ژوند کي پر "مابۍ" نومي پېغلي مین و، او پلار هم د خپل زوی له پاره دا ټاکلې وه.

خو د ظریف خان پلار مړ سو، او اکا یې "خدری" نومېدی. چي ډېر بد سړی او د ناوړو اخلاقو خاوند و، خدري وغوښته چي د ظریف خان د مشرتوب او خانۍ مقام ونیسي، نو یې ظریف خان خطا ایست او سند ته یې په تجارت بوت، هغه یې د هغه ځای پاچا ته د ده نمامت وکړ او ظریف خان یې هورې بندي پرېښو، خدری راغی د ظریف خاني یې ونیوله، او د ده ټوله جایداد یې واخیست.

د ده خور او ورور او د ده محبوبا "مابۍ" یې په خورا خوارۍ اخته کړه، ظریف خان د سند د پاچا سره په جنګو کي کومکونه وکړه، او هغه پاچا دی په خورا ښه ډول ونازاوه، او وطن ته یې راپرېښو.

ظریف خان په داسي وخت کي وطن ته راغی، چي د خلکو امید د ده له ژونده ختلی و، او خدری یې په خپله خاني منلی و.

ظریف خان خدری ونیو، خپل کسات یې ځني وکیښ او د خپلي ګراني شهۍ سره یو ځای سو، او تر ډېر اوږده بېلتون وروسته سره وصل سوه.

د ظریف خان د ژوندون وخت یقینی نه دئ معلوم، فقط دومره ښکاره کېږي چي دوی تر زرم هجري کال دمخه وه، ولي هغه ځایونه چي د ظریف خان په کلا مشهور او تر اوسه یې خلک کنډوالې پېژني، دا ښکاره کوي چي اقلاً د ځلورو سوو کالو دي، که موږ دا کنډوالي د هغې خوا له نورو زړو ودانیو سره قیاس کو، نو دا مطلب ښه ثابتېږي ځکه چي د کشك نخود د خوا ورانۍ خو د هلمند تر غاړو او کلابُست پوري غالباً تر پنځه سوه کاله دمخه ودانۍ وې، که د هغو کندوالو د ورانۍ اندازه د ظریف خان د کنډوالو سره پرتله کو، نو دا تخمین تر یوې اندازې ټینګېږي.

په هر صورت اوس موږ کوم یقیني سند پر دې تخمین نه لرو، او دا یو ظني یو د یقین و خواته نژدې قیاس دئ، چي د خلکو عنعنات یې هم مني، ځکه چي دوی وایي چي ظریف د ښادي خان تربور او معاصر و، او ښادي خان خو تر (۱۰۰۰ هـ) دمخه و.

د ظریف خان په کیسه کي د ده خورا خوږې او عاشقانه نارې سته، چي د پښتو ژبي په خورا ښو ادبي آثارو کي ګڼلې کېږي، موږ لاندي یو څه د نمونې په توګه را نقل کوو :

(۱)

ظریف خان په پردېسي کي پر بل هیواد اوسي، یوه ورځ چي یې مابۍ په یاد سوه، د عشق په جذب را رهي سو، د وطن پر خوا، پر لاري رود و، دی نه سوای تر را اوښتلای، د ځانه سره یې فکر وکی، چي زامن نه لرم چي مي نوم پر یاد سي، او هم مابۍ تر شا پاتېږي، نه چي دا دریاب به مي یوسي، نو یې ناره وکړه :

که تریخ دئ تریخ دئ دغه کاهي دریاب مي تریخ دئ
دغه ظریف دي نه په ګډېږي، څوك چي بې زویه پاچهي کي احوال یې تریخ دئ

﴿۲﴾

ظریف خان خو د سند د پاچا په لاس کي نظر بند و، یوه ورځ ظریف هغه ته وویل، چي ما ایله که، ځم خپل وطن ته ! پاچا ده ته ظاهراً اجازه ورکړه، مګر خلکو ته یې وویل چي د لاري د رود پل خراب کي، چي ظریف خان نه سي تېر، ظریف خان چي تر رود نه سوای اوښتای، نو یې داسي ناره وکړه :

یو که کوټه سوې د ظریف خان بخته کوټه سوې
قول به یو و د پاچهانو پر ظریف چي راغی نو دو لفظه سوې

﴿۳﴾

د ظریف خان هیڅکله مابۍ له یاده نه وتله، د سند پاچا د ده د میني له پاره خپلي لوڼي ده ته تقدیم کړې، او چا پر ظریف ناره وکړه چي :

که ښاد سوې، ښاد سوې، ظریفه ښاد سوې، ظریفه ښاد سوې
سر راپورته که له خوابه، بخت دي راسته دئ ته د پاچا د لوڼو یاد سوې

مګر ظریف خان خو پښتون ځلمی و، په زړه کي یې یو عشق و، او د وفا ټینګ احساسات یې درلوده، د هغې لوړي نارې په ځواب کي یې داسي ناره وکړه :

که ښاد یم، ښاد یم، اې نجونو ښاد یم، اې نجونو ښاد یم
تاسي دواړه زما خوندي مندي، نن زه د خپلي مابۍ په یاد یم

﴿٤﴾

هغو ورته وویل، چي اوس د دې ځای بندي سوې، مابۍ هېره کړه، ده داسي ناره وکړه :

که مندي مندي د پاچا لوڼې، په کار مي نه دي دغسي نجوني
زما یادېږي، زما یادېږي سپینه مابۍ، وای منګلی سپیني

﴿٥﴾

یو سهار په سند کي د وطن د یاد وږمه ظریف خان ته رسېږي، نو ځي پر پاچا داسي د ارمان ناره کوي :

سهار سهار دئ، باد بلغار دئ، پاچا راووزه بنديان آزاد که !
د دې بنديانو، د دې بنديانو څومري آزار دئ

﴿۲۳﴾

# مابۍ

مابۍ د ظريف خان محبوبا وه، چي تفصيل يې د ظريف خان په برخه کي تېر سو، مابۍ ښکلې او وفاداره پښتنه وه، که څه هم ظريف خان ډېر عمر له وطنه ورك و، او مابۍ پاته وه، مګر مابۍ د ده په عشق کي رشتينې وه، او تر هغو پوري يې له ټولو رقيبانو ځان وساته، څو چي ظريف خان بيرته راتی.

د مابۍ نارې د ظريف خان په بېلتون کي خورا خوږې او د ميني ډکي دي، چي لاندي يې يو څو نخښې راوړل کيږي.

﴿۱﴾

چي د ظريف خان مور او پلار مړه سوه، او کور ده ته پاته سو، نو د ده پر بېوزلۍ مابۍ داسي ناره وکړه :

ظريف خان ګرځي کلي پر کلي، نيازمن مي غواړي پر زړه ويشتلي
دغه نور خلك بيده دي، د ظريف دواړه وزر ختلي، وزر ختلي

﴿۲﴾

چي ظريف خان د اکا په لمسون هندوستان ته عزم وکړ، نو مابۍ داسي ناره پر وکړه، چي ما او خپله خور او ورور چاته پرېږدې؟

تا د نيلي تانګونه ټينګ کړه، نال و مېخ دي د هندوستان پر خوا وهلي
نو خور او ورور او زه دي، پر چا باندي سپارلي او هو سپارلي؟

﴿۳﴾

تر دې وروسته يې بله ناره داسي پر وکړه :

که مه ځه مه ځه ! د هند و لور ته، ظريفه مه ځه د هند و لور ته !
رازق مو خدای دئ، رزق به را رسي زموږ و کور ته زموږ و کور ته

﴿٤﴾

چي ظريف ولاړ نو مابۍ د ده په بېلتون کي داسي ناره وکړه :

اوښانو وخورئ دا اوږدې غاړي، دا لوی ورنونه !
پرون لا دا مال ظريف دلې و، نن خو مو تېر کی تر ولاتونه

﴿٥﴾

مابۍ د ځانه سره فکر وهي، چي ظريف خو ولاړ، اوس به پر کوم چول سفر کوي، حلق به يې ځنګه وچ وي؟ په دې تصور کي ناره کوي :

که دوري دوري، د هند پر لوري، خدايه نرۍ اوريځ پيدا کې !
چي شکر ترې باران تر اوري، های های تر اوري

﴿٦﴾

ظريف خان او خدری ولاړه د هغې خوا بيرته د خدري قافله راغله، مابۍ منتظره ده، چي ظريف خان به هم ورسره وي، نو داسي ناره پر کوي :

سترګي مي ووتې، ظريف ته ګورم پر دغه لاري
که راښکاره کې د ظريف خان وای د اوښو غاړي

﴿۷﴾

چي کاروان را نژدې سو، مابی لکه لېونی ورغله او دا ناره يې وکړه :

کاروان باشي يې، د کاروان سردار يې، د کاروان پر لمبړ[1] ولاړ يې
خلګ پوښتنه د سود و زيان کي، زه خو پوښتنه د ظريف خان کم

---

۱-لمبړ : يعنی اول او لومړنۍ خوا.

﴿۸﴾

تر دې وروسته مابۍ خدرى وليدى، نو يې پر هغه داسي ناره وکړه :

که توره توره خدريه توره ! راغلی مه وای د سند له لوره !
ښايسته ظريف دي څه کئ؟ چي دي مل و د خپله کوره !

﴿۹﴾

چي مابۍ د ظريف خان له راتګه مايوسه سوه، نو ولاړه مخ يې پر صحرا ونيوى، يوه هوسۍ يې وليده داسي د آرمان ناره يې پر وکړه :

که سپيني سپيني هوسيه سپيني د کومه راغلې اې شاهوسيه ؟
دغه کبلی به دي ښکاري وولي، داسي به ګرځې لکه مابيه !

﴿۱۰﴾

د ظريف خان بېلتون پر مابۍ داسي اثر وکی، چي لکه لېونۍ ګرځېده، او دا به يې ويل :

زده زده يم، خلکو زده يم، سينه کبابه، پر اور پرته يم
که په ظريف پسي مړه نه سوم، ټګه مي بولئ حرام زاده يم

﴿۲٤﴾

# مومن خان

وايي چي په پخوانو زمانو کي د کندهار په سيمو کي دوه ورونه وه، چي مشر ورور يې د خپل قوم مشر هم و، مشر ورور اوه زامن درلوده، کشر ورور زوى نه درلود، دوى دواړو سره وويل، که مو زوى او لور پيدا سوه، يو و بل ته به يې په نکاح سره ورکوو، څو موده وروسته د مشر ورور لور وزيږېده، چي "شيرينو" يې نوم پر کښېښنو، او د کشر ورور زوى پيدا سو، چي "مومن خان" يې باله، په کوچنيوالي لا پلار "شيرينو" مومن خان ته ورکړه.

چي هغه دواړه ورونه مړه سوه، نو د اولس په مشرتوب جرګې وسوې، او په پاى کي نيم اولس د مشر ورور زوى " زبردست خان" چي د شيرينو ورور و، په مشرتوب وټاکه او نيم اولس

خپل مشر مومن خان مقرر کی.

د شیرینو ورور زبردست ښه سړی نه و، چې مومن خان خپله محبوبا "شیرینو" ځني وغوښتله، نو یې نه ورکوله، او د خپل پلار پر ژمنه پښېمان و، مومن خان نه غوښته چې په اولس کي بدي جوړه کي، نو د عشق په سوي او اور کي یې وطن پرېښنو او ولاړ بل هیواد ته.

د مومن خان دا پردېسي ډېره اوږده سوه، دوولس کاله له کوره ورك و، او د بېلتون شپې ورځي یې په خورا ویر تېرولې.

مومن خان مېړه پښتون و، هر ځای ته چې به تی، هورې به یې ډېره مړانه ښکاره کوله، او بېوزلو خلکو ته به یې نجات ورکاوه.

تر دوولس کاله وروسته مومن خان د شیرینو میني خپل کور ته راووست خو د قضا کارونه دي دی د شپې راغی.

د کور خلکو دی نه وپېژاند، او د پردي سړي خیال یې پر وکی، او زبردست چې د شیرینو ورور و، دا ګلالی ځوان یې په نافهمي کي وواژه، شیرینو د دې خپل رشتیني مین په مرګ ویرجنه سوه، د مومن خان د کیسې لنډیز دغه دئ، مګر د دوی د ژوندون عصر یقیني وخت نه دئ معلوم، فقط د کیسې په یوه ځای کي داسي راغلي دي چې د مغولو په عصر کي و[1].

د مومن خان په کیسه کي د ده او د شیرینو له خولې خورا خوږې لنډۍ را نقل سوي دي چې موږ لاندي د نمونې په توګه یو څه را نقل کوو :

چې مومن خان د سفر عزم کوي، نو شیرینو راځي پر ده ناره کوي، چې ته ځې، نو ما چاته پرېږدې، مومن خان داسي ځواب ورکوي :

ما د سفر موزې په پښو کړې
د ژیړو ګلو باغ پر خدای سپارم مینه

شیرینو ورته وایي چې ته هندوستان ته ولاړ سې، مبادا چې ما هېره نه کړې، او هلته خپل د پښتونوالي ناميس ونه ساتې، او د هند پېغلي ستا زړه در څخه یو نه سي، مګر مومن د ځان عفت او د پښتونوالي سپېڅلي اخلاق داسي څرګندوي :

د هندوستان و لور ته ځمه
د هندوستان نجوني زما خوندي مندي دینه
د هندوستان و لور ته ځمه
د شیرینو ولور په خپل لاسو ګټمه !

---

۱ـ ځکه چې د مومن خان د ژوندون عصر یقیني نه دئ معلوم او د مغولو دوره تر زرم هجري کال دمخه او وروسته هم وه، نو موږ د لسم قرن په پای کي د ده احوال ولیکل.

تبصره !

وايي چي حقيقتاً زبردست خان مومن خان په ناپوهي کي مړ کی، وروسته چي خبر سو، چي ما مومن خان مړ کی، نو هغه هم د حسرت او ارمان په څپو کي ځان مړ کی، او د دواړ جنازې يې يو ځای واخيستې او يو ځای يې ښخ کړه، خلك وايي چي د دوی قبرونه د کندهار مغربي خواته درې کروه د ملا سعدات پر غونډۍ تر اوسه سته، او خلك يې زيارت کوي.

﴿۲۵﴾

# شيرينو

د مومن خان معشوقه ده، چي دمخه يې د ژوندون تفصيل تېر سو، د دې پښتنې عاشقانه لنډۍ په هغه کيسه کي خورا ډېري دي.

داسي ښکارېږي چي "شيرينو" يوه رشتينې مينه وه، د دې ځيني لنډۍ لاندي را نقل کوو :

چي مومن خان د سفر عزم وکی نو شرينو داسي ناره پر وکړه :

تا د سفر موزې په پښو کړې
د ژيړو ګلو باغ پر چا سپارې مينه؟
يار مي سپرېږي روانېږي
پر نارنجي مخ مي سېلاب اوښکي راځينه
چي دورې ځې خال مي صحيح که
د هندوستان د چټو نسته شنه خالونه

په دې ډول شيرينو د خپلو شنو خالو ياد داښت مومن ته ورکوي، چي مومن خان ځي او دا يوازي پاتېږي نو د ځانه سره داسي د وير نارې کوي :

چي خان مومن له ما جلا سو
بدن مي رېږدي زړه مي صبر نه کوينه
په جدايي سره جلا سوو
مومنه ! کله به وصلت سره کوونه؟
ما جدايي ليدلې نه وه

چي خان مومن راڅه جلا سو وبه مرمه

***

تر دې وروسته د عشق پیمان په دې ناره په څه سوز او ګداز ټینګوي :

مومنه ځه الله دي مل سه

دا شینکی خال او زلفي تا لره ساتمه

مسافري په پوړه زړه که

خولګۍ مي ستا ده که زه خاوري سم مینه !

***

چي تر دوولس کاله وروسته مومن خان کور ته راغی، او د شپې په ناپوهي کي د "شیرینو" ورور دی ټپي او مړ کی، شیرینو پر خپلي مور داسي ناره کوي :

ادې راکښېنه ! اور را بل که !

د مومن خان په وینو سره سوه بالښتونه

وروسته د مومن پر آس داسي د ارمان بږغ کوي :

کرنګه مات دي سه بندونه !

پر نیمو شپو دي مومن خان راوی له کومه؟

***

چي مومن خان مړ سو، او شیرینو د خپل ځلمي مین په مرګ وسوله، نو یې د آرمانه ډکي داسي آخرنۍ نارې وکړې :

ارمان ارمان لا خان مومنه !

ارمان مي دا دئ خانه مړ مي کړې په خپله !

جانان زما پر خولګۍ مړ دئ

عالمه مه یې لمبوئ چي شهید سونه

﴿۲٦﴾

# امیر

د پښتو په زړو ادباوو کي "امیر" یو نوم ورکی شاعر دئ، چي ښایي آثار یې بل چاته نه وي معلوم.

امیر موږ د ده په یوه کوچني کتاب پېژنو، چي په لنډ بحر یې په مثنوي لیکلی، او زموږ د ژبي له پخوانو پاته آثارو څخه ګڼل کېږي، دا کتاب په پښتو ژبه یو خلص او لنډ د قرآن عظیم تجوید دئ، چي د دې علم ابتدایی قواعد او اصول په ساده ژبه پکښې نظم سوي دي.

د دې کتاب له مطالعې څخه دا راوزي، چي امیر د خپل وخت د علومو عالم او په عربي کي یې ښه معلومات درلوده، ځکه چي په دې کتاب کي د تجوید مهمو کتابو ته اشاره او حواله کوي، چي د ده علمي مقام ځني ښکارېږي، د امیر د هستوګي ځای او نور سوانح موږ ته نه دي څرګند.

## د ژوندون وخت :

د امیر د ژوندون وخت د ده د قلمي کتاب د لیکلو له تاریخه څرګندېږي، چي تر (۱۰۰۰ هـ) کال دمخه د (۹۵۰ هـ) په حدودو کي تولد سوی دئ.

د امیر تجوید په (۱۰۲۳ هـ) لیکل سوی او دا نه ده ښکاره چي دا کتاب د ده په خپل خط دی که بل چا لیکلی دی؟

خو د لیك له نېټې څخه یې دا ښکاره کېږي چي د زرم هجري کال په شاوخوا کي زموږ عالم شاعر ژوندی و، او دی په هغو پښتنو شاعرانو کي ګڼلای سو، چي تر (۱۰۰۰ هـ) دمخه زوکړي دي.

## د امیر شعر او شاعري :

د امیر د تجوید کوچنی مثنوی تر (۳۰۰) بیتو پوري موږ لیدلی دئ، چي د شعر له پلوه په منځنۍ ډله شاعرانو کي ګڼل کېږي.

امیر موږ د ملا الف د سبك پیرو، او د هغه مکتب یو غوره شاګرد بللای سو، ځکه چي د ده شعر په دیني مسایلو کي حصر دئ، او بل راز اشعار یې موږ نه دي لیدلي.

امیر د ملا الف هوتك معاصر هم دئ، نو ښایي چي د دې ادبي مکتب له شاګردانو سره

ګڼ سوی وي، د ده په شعر کي رواني او سلاست هم لیدل کیږي.

**د شعر نخښه :**

د امیر له مثنوي څخه لاندي نمونې غوره کوو، چي ښاغلي ویونکي تر یوې اندازې د ده ادبي موقعیت څني تخمین کولای سي :

د کتاب پیل

تــل ثــنــا وایــم شــکــرونــه — د خــاونــد پــه نــعــمــتــونــه
چــي قــرآن یــې راســتــولــی — پــه ســرور بــانــدی راغــلــی
چــي ایــمــان یــې لــه عــرفــانــه — مــوږ تــه وښــو لــه قــرآنــه
صــد هــزار رحــمــت صــلــوات شــه — پــه ســرور نــبــي لا زیــات شــه
چــي پــاك نــوم یــې ســر دفــتــر دئ — او ســـردار د بــحــر و بــر دئ
هــم پــه آل او پــه یــارانــو — پــه هــمــه وو پــیــشــوایــانــو
دوی پــه دیــن هــم پــه دنــیــا دي — لــکــه ســتــوری رهــنــمــا دي

پـه نـامـه سـتـا پـاکـه خـدایـه     د ګـمـراهـو رهـنـمـایـه !
پـه هـغـه دي سـتـا قـسـم وي     هـغـه نـوم چـي سـتـا اعـظـم وي
سـتـا پـه کُـل واړه اسـمـونـه     چـي دي وړی شـي نـومـونـه
سـتـا پـه واړو فـرښـتـګـانـو     مـقـربـوو اصـلانـو !
سـتـا پـه واړه کـتـابـونـه     سـتـا پـه واړه آیـاتـونـه
سـتـا پـه کُـل پـیـغـمـبـرانـو     پـه خـاصـانـو مـرسـلانـو !
پـه هـغـه اې لـویـه خـدایـه !     چـي لـه رویـه یـې دوه سـرایـه
تـا مـوجـود کـړه لـه عـدمـه     هـر هـژده زره عـالـمـه
پـه نـامـه دي د احـد وه     پـه نـامـه دي د احـمـد وه
د قـرآن پـه صـورتـونـه     د قـرآن پـه آیـاتـونـه
د قـرآن پـه کُـل وقـفـونـه     د قـرآن پـه کُـل حـرفـونـه
هـر الـف چـي د قـرآن دئ     مـا شـفـیـع کـړی د ځـان دئ
هـره بـې کـوم رویـداره     زه وتـاتـه کـردګـاره !
هـره تـې ځـمـا تـوبـه کـړې     دا قـرآن دا مـي تـوښـه ده !
هـره ثـې کـړې ثـوابـونـه     کـړې ځـمـا بـرخـه نـمـونځـونـه
هـر یـو جـیـم ځـمـا جـهـاد کـړې     سـمـه لار مـاتـه ارشـاد کـړې
هـره حـې حـیـات د زړه کـړې     پـه خـپـل عـشـق مـي زړه زنـده کـړې
هـره خـې خـالـي لـه تـا نـه     ځـمـا زړه مـه کـړه سـبـحـانـه
هـر دال دیـن ځـمـا روښـان کـړې     پـه خـپـل یـاد مـي جـاویـدان کـړې
هـر ذال ذکـر مـي داوم کـړې     پـوخ مـي تـه دا ثـمـر خـام کـړې
هـره رې مـي روښـنـایـي کـړې     د زړګـوټـي صـفـایـي کـړې
هـره زې زیـرمـه مـي تـه کـړې     لـه عـذابـه خـلاصـیـده کـړې
هـر سـیـن سـم پـه شـریـعـت کـړې     پـه دا لار مـي هـدایـت کـړې
هـر شـیـن شـکـر مـي نـصـیـب کـړې     مـا پـیـرو د خـپـل حـبـیـب کـړې
هـر صـاد صـبـر و مـا را کـړې     راضـي مـا سـتـا پـه قـضـا کـړې
ضـاد ضـرر تـه پـه کـفـار کـړې     هـر مـسـلـم سـالـم لـه نـار کـړې
هـره ط طـالـب تـه مـا کـړې     پـه خـپـل حـسـن مـي شـیـدا کـړې
هـره ظ ظـالـم مـه مـا کـړه     مـا تـابـع د عـلـمـاء کـړه

په هر غین غیره چاره
هره فې فایده راکړه
لام الف غوندي محبوب
هر قاف قهر زوروره !
هر یو کاف کرم پر ما کړه
هر لام لطف پر ما وکړه
هر میم ما حکم بردار کړه
واو وصال ستا جاودانه
هې هادي ځما قدیمه
لام الف غوندي محبوب

له ما لیري کړه یکباره
کامل پیر ځما پېشوا کړه
ما کړه وصل له مطلوب
په ما مه وکړه قادره !
په دنیا هم په عقبی کړه
دا درخواست مې قبول ته کړه !
د عصیا نه مې بیزار کړه
ځما بخره کړه سجانه!
ته شې خلاص مې کړې له بیمه
ما کړه وصل له مطلوب

ستا کرم ډېر دی کبیره !
دریغ یې مه کړه له "امیره" !
(قلمي تجوید د ۱۰۲۳ هـ لیک)

# له

# ۱۰۰۰ تر ۱۲۰۰ هـ

٢٧

# درویزه

اخوند درویزه د ګدای زوی، د زرم هجري کال د حدودو د پښتو یو مشهور لیکونکی دئ، د ده سوانح دمخه د دې کتاب په مخ کي ولیکل سوه.

د اخوند درویزه تالیفونه او د ده د لیك سبك او د کورنۍ حال د دې کتاب په مقدمه او د خیرالبیان د سبک په بحث کي وګورئ، ځکه چي اخوند درویزه او د ده نوره کورنۍ د پښتو د نثر مخصوصاً د خیرالبیان د سبك لومړني پالونکي دي، نو به د دوی مفصل بحثونه د پښتو د نثر په کتاب کي راسي.

اخوند درویزه خپل کتاب مخزن په نیم عروضی مسج نثر کښلی دئ او پوره عروضی اشعار یې په مخزن کي نسته، مګر د ده دغه یو لنډ د وعظ او نصیحت مثنوی میر احمدشاه رضواني پخپل کتاب بهارستان کي راوړی دئ، چي موږ یې دلته د ده د وینا په نمونه کي را اخلو، دغه لنډ مثنوي اخوند درویزه د پښتو په عروضي شاعرانو کي هم شمېري، مګر چي د ده نور عروضي اشعار موږ ته نه دي را رسېدلي، نو دی موږ د پښتو ژبي معروف نثر لیکونکی ګڼو، او د عروضي شعر له پلوه خو د پښتو شاعرانو په درېیمه درجه کي دئ.

## مثنوی

راشه واوره ځما وروره
فضيلت د صبر گوره !

صبر ښه دئ په هر کار کي
ولي زيات په دا روزگار کي

چي ماتم و چاته پېښ شي
ور پيدا د خاطر برېښ شي

که يې زوی وي که يې لور وي
يا يې ورور يا يې تربور وي

پت يې پلار وي يا يې مور وي
يا يې بل مين څوك نور وي

چي سفر وکاندي جانه
ولاړ شي دی له دې جهانه

او صابر پر دا ماتم شي
صبر وکاندي بې غم شي

نه ژړا کا نه فرياد کا
خو خپل مرگ په زړه ور ياد کا

هسي وايي دا فرمان دئ
دا فرمان د حق سبحان دئ

پر دا لار د هر چا تله دي
چي ژړا کا د چا څه دي ؟

رضامن د خدای په کړه شي
که ژړا کړي په دا څه شي؟

خدای له دې بنده اې وروره !
رضامن وي ډېر هر گوره

ثواب ورکاندي اې ياره
دې بنده لره بې شماره

عبادت د سلوکالو
ياد شي دی له خوب خصالو

# عبدالکریم

عبدالکریم مشهور په کریمداد د مشهور اخوند درویزه زوی دئ، چې موږ د دې زوی او پلار ذکر دمخه د دې کتاب په دیباچه کې د خیرالبیان په سبك کې وکی.

عبدالکریم د خپل عصر مشهور عالم او عارف و، دی د عرفان او تصوف په خوا کې ډېر شهرت لري، معارج الولایت یې ډېر مناقب راوړي، او خلاصۀ البحر دی "محقق افغان" بولي. مفتی غلام سرور لاهوري په خزینۀ الاصفیاء کې او رحمان علي په تذکرۀ علمای هند کې د ده ذکر کوي، او وایي چې په (۱۰۷۲ هـ) وفات سوی دئ.

له دې نېټې څخه موږ دا تخمین کولای سو، چې عبدالکریم تر زرم هجري کال وروسته زوکړی و.

عبدالکریم لکه خپل پلار د پښتون او سوات په خواوو کې ډېر شهرت درلود، او ده د خپل پلار مشهور کتاب پښتو مخزن الاسلام سره راټول کړی او یو څو برخې یې پکښې زیاتې کړې دي.

د عبدالکریم د شعر سبك هغه سبك دئ، چې نیم عروضي شعر ګڼه سي، او موږ به یې د پښتو د نثر لیکونکو په کتاب کې مفصلاً بحث وکړو، مګر دا سړی ځیني عروضی عارفانه اشعار هم لري، چې د عروضي شاعرانو په ډله کې هم راځي.

عبدالکریم لکه د خپل پلار نیم عروضی سبك چې یې لږ لږ عروضي کړی دئ، د تخیل او فکر له خوا هم ده خپل اشعار نوي کړي دي، او کله کله عشقي شعرونه هم ویلای سي.

دا دئ چې اوس موږ د ده د یوه عروضي شعر نمونه لاندې راوړو، چې له قلمي مخزن الاسلام څخه اقتباس سوې ده :

د کلام نمونه

ته دایم ورته حضور شه — له جمله غفلته دور شه !
ستا دا خپل صورت تیاره دئ — تیاره واخله کُل یو نور شه
کل امکان دا وچ واښه کړه — ته د دې وښو تنور شه
شهي ستا صورت آفتاب دئ — د آفتاب په دود یو نور شه
اې طالبه که طلب کړې — پر شاه وسوځه چور چور شه
د صورت پرده کړه څیري — د معنی په سر مستور شه

﴿۲۹﴾

# عبدالحلیم

لکه د کتاب په مقدمه کي چي راغلي دي، عبدالحلیم د اخوند درویزه د سبك له پیروانو څخه دئ، دې سرې هم ډېر نیم عروضي اشعار ویلي دي.

عبدالحلیم د عبدالله زوی، او د اخوند درویزه لمسی و، چي تر زرم هجري کال وروسته یې ژوند کاوه، که څه هم دی اساساً د خپل نیکه په سبك او ډله کي داخل دئ، مګر ځیني عروضي اشعار هم لري، چي په دغه لحاظ یې موږ د پښتنو شاعرانو څخه هم ګڼو، د عبدالحلیم دغه لاندي عروضي شعر موږ ته را رسېدلی دئ، چي د نمونې په ډول یې راوړو :

چــي ځــای نــه لــري تــنــهــا وي، دا کــلــي جــهــان ســرای وي
پر هر ځای چي شپه پر راغله، هم هغه سرای د ده ځای وي
پـه مـشـرق مـغـرب کـي ګـرځـي، غـریـب نـه وي بې پـروا وي
پــر هــر لــوري چــي ودرومــي، هــغــه مــلــك د ده د خــدای وي
چي څوك نه لري بې خدایه، ځای یې نه وي یك تنها وي
تــه ګــدای ورتــه مــه وایــه، چــي پــادشــاه د ده ګــدای وي
چــي د زړه پــه ســتــرګــو ویــنــي، د راحــت طــلــب کــویــنــه
د عــارف راحــت بــلا کــي، تــل وایــم پــه هــوی و هــای وي
دا "حــلــیــم" هــم امــیــدوار دئ، ســتــا و فــضــل حــقــانــي تــه
چــي حــلــیــم د عــارفــانــو، نــېــکــمــردانــو خــاکــپــای وي

(له قلمي مخزن څخه)

﴿۳۰﴾

# موسی خان

د موسی خان کیسه د پښتو له ملي داستانو څخه ده، د دې داستان پهلوانان درې تنه دي، موسی خان، ولي جان او د موسی خان مینه ګلمکۍ.

له کیسې څخه ښکاره کېږي چي دوی د پښنین او کاکړستان په خواو کي اوسېدل، او د هرنایي له خواو څخه په قوم هم ترین وه.

موږ ته اوس دا نه ښکاره کېږي، چي دا داستان په کومه زمانه اړه لري، ځکه چي دا خبره و آینده پلټنو ته اړه ده، نو موږ موسی خان او د ده د کیسې ملګري په پخوانو شاعرانو کي نه راوړل، وایي چي په پخوا زمانو کي دوه وروڼه وه، یو فېروز او بل نوروز نومېدل، سوداګري یې کوله، د فیروز یوه لور وه، چي "ببۍ" نومېده، او د هغه ځای کالخوای او مشر چي "سهیلي" یې نوم و، پر دې نجلۍ مین و، او په پای کې له پلاره څخه وغوښته.

د فېروز يوه بله لور هم وه، چي نوم يې "ګلمکۍ" وه، او د نوروز يو زوی و، چي نوم يې موسی و، د پلرو په ژوندون کي لا په کوچنيواله ګلمکۍ و موسی ته په نکاح ورکړه سوه، وروسته سهيلي چي يو شهوت پرست او بې ناموس سړی و، د موسی خان رقيب سو، موسی خان هم له وطنه ورك او بل ځای ته ولاړ، هلته يې (وليجان) نومی ملګری او رفيق سو، د دې وليجان يوه خورا دلاوره او مړنۍ خور وه چي "تانو" نومېده، تانو هم په دې کيسه کي مهمه برخه لري، وروسته موسی خان او وليجان راځي، د سهيلي سره مقابله کوي، ځکه چي د موسی خان معشوقه "ګلمکۍ" سهيلي په زوره بېولې وه.

او هغې په مړانه او پښتونواله د هغه رذيل ځخه ځان ساتلی او مقابله يې ورسره کوله، نو چي د موسی خان په راتګ خبره سوله دی يې پټ مېلمه کی.

سهيلي چي د دې دوو مړو سره په ښکاره مقابله نه سوای کولای، نو يې د يوې بوډۍ په ذريعه موسی خان او وليجان ته په ډوډۍ کي زهر ورکړه، دا ډوډۍ خو موسی خان نه وخوړه، مګر وليجان وخوړه، په پای کي موسی خان خپل مسموم ملګری پر آس وتاړه او خپل کور ته يې راوست، چي هورې مړ سو، د وليجان يو زوی و ميرولی نومېدی، د خپل پلار د انتقام ملا يې وتړله، د موسی خان په ملګري راغله د سهيلي پر ځای يې هجوم وکړ، او "ګلمکۍ" يې ځني بوتله خپل کور ته !

بله ورځ چي موسی خان پر يوه خو اتللی و، سهيلي خبر سو چي ميرولی يوازي دی، نو يې د ده پر کلا حمله وکړه، ده هم څو واره سخته مقابله ورسره وکړه، خو بله ورځ آس په يوه کږهل کي ولوېدی، دی هم سخت زخمي سو، مګر ځان يې خپل کور ته ورساوه، ټپ يې وتاړه څو مياشتي پروت و، بله ورځ بيا سهيلي د ده پر کور حمله وکړه، او "ګلمکۍ" يې بوتله، دی په زخمي بدن راپورته سو، سخته جګړه يې وکړه، بيرته يې ګلمکۍ ځني راوګرځوله، او په دغه وخت د زخم له ډېر والي ځخه مړ سو.

چي د ګلمکۍ دا نجات بخښونکی زلمی مړ سو، نو دې له ناچارۍ ځخه ځان سهيلي ته وسپاره، او سهيلي بوتله، مګر دې په مړوښي قبول نه کی، په چم چم به يې ځان ځني ساته، څو عمر وروسته چي موسی خان له مسافرۍ راغی، کې کتل د ده ملګري نه وه، ميرولي مړ و، ښځي پر ډاګ پاته وې، ګلمکۍ هم سهيلي بېولې وه.

نو ده بله چاره نه ليدله، چي خپله په يوازي سر د سهيلي مقابله وکړي، نو راغی د شپې د سهيلي کره ور ولوېدی، سهيلي هم دی مړ کی، چي موسی خان د عشق په لار کي ځان جار کی، نو ګلمکۍ خورا ويرجنه سوه، سهيلي ته يې وويل چي اوس نو تاته در پاته سوم، ستا يم.

مګر يوه هيله لرم، چي ما يو وار د موسی خان قبر ته بوزه، بيا نو ستا ماينه کېږم. سهيلي د دې دا هيله ومنله، بو يې تله ! ګلمکۍ چي د عشق په اور سوې وه، د زړه له کومي يې له خدايه دا

وغوښته، چي ا لهي ! زيات ژوند نه غواړم، ما هم در تړوله که ! او له دې بې ننګۍ څخه مي وژغوره.

لوی خدای هم د دې د سوي زړه دا دعا قبوله کړه، او پر هغه ځای يې سا وختله، سهيلي چي خبر سو، نو اريانۍ واخيست، خو ګلمکۍ يې هم هورې د موسی خان سره ښخه کړه، تر دې وروسته نو د موسی خان او وليجان په کور کي ښځي پاته سوې، د وليجان خور "تانو" وويل چي بايد اوس نو له سهېلي څخه کسات واخلو.

يوه مياشت يې د خپل کور ښځو ته د توري او سپر تعليم وکی، بيا يې نو سهېلي ته سړی واستاوه، چي زه تا مېږه کوم، درې ورځي پس راسه !

سهېلي هم د دې په ښايست او حسن خبر و، په خورا خوشحالۍ درې ورځي وروسته د وليجان کلا ته راغی، دی دلاور و، چي اوس نو هلته بېله ښځو بل څوک نه دي پاته، ښځو د سهيلي مېلمستيا پر ځای کړه، چي ماښام سو نو تانو سهېلي راوستی د کور په خونه کي يې کښېناوه، يوه توره او سپر يې راوړه د ده دمخه يې کښېښول او وې ويل :

"تا زما ورونه او وراره مړه کړه، نو اوس زما وار دئ، يا به دي مړ کړم يا به مي مړه کې، مګر بې جنګه دي نه وژنم، راسه چي مقابله سره وکو، واخله توره که نه وي مړ مي کړې".

سهېلي چي دا حال وليدی اريان سو له مرګه وبېرېدی توره او سپر يې د دفاع له پاره واخيسته، تانو د ده سره په توره وهلو پيل وکی، او په خورا مېړانه يې دا خبيث او رذيل رقيب مړ کی، خپل کسات يې ځيني واخيست.

دا و د موسی جان او ګلمکۍ د داستان خلص چي وليکل سو، په دې کيسه کي چي دا پهلوانان شامل دي، هر يو خوړې خوړې نارې لري، چي د پښتو ژبي په ملي اشعارو کي غوره ذخيره ده.

نو به يې موږ لاندي د هر يوه په نامه خپلي نارې د نمونې په ډول راوړو :

## د موسی خان نارې :

(۱)

هغه وخت چي موسی جان او وليجان د سهيلي مقابلې ته راوتل نو ښځو نه پرېښوول موسی جان پر خپل ملګري داسي ناره وکړه :

وليجانه ! دا د ښځو د ښځو په قول نه سې
وليجانه ! ژر راووزه د کړوسو به مو پېغور سي

(۲)

پر موسی جان خپل ملګری وليجان ډېر ګران و، چي هغه مړ سو نو يوه ورځ موسی جان

او ګلمکۍ د ده د هديرې پر لار تېرېده، موسی جان داسي د افسوس ناره پر وکړه :

ګل مکۍ ! خوله دي ويړه کې وخاندي
دغه مي ولي ورور دئ کاڼي بوټي کوټه دي پر باندي

﴿٣﴾

يوه ورځ موسی جان په ښکار پسي تللی و، هوسۍ يې وليدله، چي د هغې سترګي ډېري ښکلي وې، نو يې د ګلمکۍ سترګي ور په ياد سوې، په ارمان يې وويل:

لويه خدايه ! لويه خدايه ! پر دامان ګرځي هوسيه
نور صورت يې د هوسۍ دئ دغه دوې سترګي د ګلمکيه

﴿٤﴾

هغه وخت چي موسی جان يوازي د سهيلي کره ورغی، او سهيلي دی ټپي کی، نو موسی جان د مرګ پر وخت داسي ناره وکړه :

رب دي وچ که سهيليه ! سهېليه ! غونډه منډه
اوس دي په خپله چاړه مړ کړم ګلمکۍ دي کړه په تور پېکيو کونډه

﴿٣١﴾

# ګلمکۍ

د موسی جان مينه وه، چي د دې احوال دمخه د موسی جان په تفصيل کي تېر سو، ګلمکۍ مړنۍ پېښتنه وه، تر پايه يې د خپل مينه سره وفاداري وکړه، او آخر يې د عشق پر پت ځان فدا کی، او ځان يې رقيبانو ته تسليم نه کی.

لاندي موږ د دې د نارو يو څو نمونې راوړو :

﴿١﴾

سهېلي ډېر زحمتونه وکښل، چي ګلمکۍ راضي کي، او ماينه يې کي، مګر ګلمکۍ ده ته

داسي څواب ورکاوه :

که توزن دئ دا سهیلي سهیلي دووس توزن دئ
چي موسی جان پر دنیا وینه، سهېلیه پر ما بل مېږه حرام دئ

﴿۲﴾

هغه وخت چي ولیجان مړ سو، نو موسی جان ګلمکۍ راوستله، د ده پر قبر دواړو وژړله، ګلمکۍ داسي د ارمان ناره پر وکړه :

که چاك سو چاك سو، نن زما پر زړګي چاك سو
دا خو دي داسي ورور خوږلی موسی جانه ! زما خو ټول صورت بېواك سو

﴿۳﴾

چي میرولي ټپي و، نو ګلمکۍ سهیلي بوتله، دې تر شا کتله، او د یوه نجات بخښونکي انتظار يې کاوه، او داسي يې وویل :

که لوټه لوټه، د میدان میدان په سر کي لوټه
که به خواست د مکۍ اخلې میرولی او پړانګي[1] راوله لم غوټه

﴿٤﴾

چي میرولي په ټپي بدن د ګلمکۍ نجات ته ورسېد، او سهېلي ګلمکۍ پرېښووه، وتښتېدی او میرولي د دې تر نجات وروسته د ټپ له ډېر والي څخه مړ سو، نو ګلمکۍ داسي د پېغور ناره په سهېلي پسي وکړه :

که ولاړه د سهېلي، سهیلي خېمه ولاړه
سپیه مه تښته رادرومه د میرولي ساه مي د زین پر کوپۍ ولاړه

---

۱- پړانګی د میرولي د آس نوم و.

﴿۳۲﴾

# ولیجان

د موسی خان د نکل یو مهم او غښتلی پهلوان ولیجان دئ، چې د موسی خان رښتین دوست او ملګری و، ده د خپل ملګري په ملتوب کې ځان واری کی، نور تفصیل یې تاسې د موسی خان په برخه کې وګورئ، دلته د ولیجان یو څو نارې واروئ :

﴿۱﴾

هغه وخت چې موسی جان او ولیجان مقابلې ته ولاړه، او سهیلي د دوی د جنګ توان نه درلود، نو یې په چم او حیله دوی ته زهر ورکړه، چې ولیجان د زهرو د خوړو ګوله واخیسته، او وپوهېدی چې مسموم سوم، نو یې پر ګلمکۍ ناره وکړه :

که ټک سو، ټک سو د مکو د ګوښو ټک سو
ستا د لوري خواږه راغله، دا خواږه زموږ مرګک سو

﴿۲﴾

چې ولیجان مسموم سو، او په ځان وپوهېدی نو یې پر موسی جان ناره وکړه:
که ټک سو، ټک سو تر تالو لاندي مې ټک سو
ما د دې ځایه درواخلئ دا زړګی مې د کوټلو وینو ډک سو

﴿۳﴾

په دغه حال کې ولیجان موسی خان ته وایي، چې درځه ما کور ته ورسوه چې مرمه :
که سرې سوې سرې سوې د آسمان کنارې سرې سوې
موسی پښنه اخله سپرېږه چې پر زړه مې د مرګي خولې خپرې سوې

﴿٤﴾

ګلمکۍ چې د ولیجان په مسمومیت خبره سوه، و یې ژړل، ولیجان که څه هم د مرګ پر حال و، د دې د ډاډګیرني له پاره یې داسې د مړاني ناره پر وکړه :

ګل مکیه ! ته ورځه، ورځه اوس دلې اوسه !
که مور دوه پر دنیا وو، ګل مکیه د دې ځایه به دي یوسو

﴿۵﴾

چي موسی خان مسموم او ناروغه ولیجان پر آس رابار کی، نو سهېلي په خبر سو، په دوی پسي یې سپاره را واستول، ولیجان په دې ناره کي خپل ملګري ته د مقابلې ډاد ورکی چي :

موسی جانه چي ما ویل ، ما ویل هغه بیا وسوه !
دغه زما غشی در واخله ! په ګډېړه بېره مه کړه !

﴿۶﴾

چي ولیجان مري، نو خپل زوی میرولي ته داسي وصیت کوي، چي زما کسات واخله او ګلمکۍ ته خامخا نجات ورکه :

میرولیه ! پر سر سمه که بګړیه !
یو مي ساری د سهېل واخله، موسی لره بل راوړه ګل مکیه !

﴿۳۳﴾

# میرولي

میرولي د ولیجان زوی، او د پلار تر مرګ وروسته یې د کسات له پاره له سهېلي سره د مړاني مقابلې کړي دي، چي تفصیل یې د موسی خان په شرح کي راغی.

میرولي په پای کي په مړانه مړ سو، او خپل کسات یې له غلیمه هم اخیستی دئ. د موسی خان په کیسه کي ځني نارې د میرولي هم سته، چي لاندي راوړلي کېږي :

﴿۱﴾

هغه وخت چي د میرولي پلار د سهېلي په چم او حیله مسموم کېږي، او مري، نو پلار ده ته وصیت کوي، چي زما کسات واخله ! میرولي په جواب کي داسي ناره پر کوي :

بابا پلاره ! بابا پلاره ! دا وصيت به دي خوار نه کم
يو به دي ساری سهېل واخلم، بل به هډ او ساری وکم
يعنی د پلار د هر هډ په عوض به يو ساری له دښمنه مړ کم.

﴿۲﴾

هغه وخت چي ميرولي د پلار د کسات له پاره ځي، نو پر لاري هغه بوډۍ پر پېښېږي، چي د ده پلار ته يې زهر ورکړي وه، خو ميرولي داسي ناره پر کوي :

بوډوګۍ ! زما دي داسي ، داسي پلار وژلی
تر هغو به دي پرېنږدم څو پر سر دي جوړ نه کمه څلی

﴿۳﴾

چي ميرولي او موسی خان دواړو ګملکۍ ته نجات ورکی، نو موسی خان راغی، او د وليجان پر قبر کښېنته سو، ميرولي چي راغی، داسي ناره يې پر وکړه، چي درځه ! ځو به چي ګلمکۍ کور ته ورسوو، د مړو د زيارت وخت نه دئ :

موسی جانه ! موسی جانه ! چي پر سر دي لنګۍ توره
موسی پښه اخله سپربېږه ! اوس د ګور د مړو پرېږده مجلسونه

﴿٤﴾

هغه وخت چي ميرولي ګلمکۍ ته نجات ورکی، او کور ته يې بيايي، نو د دې د ډاډ له پاره داسي ناره پر کوي :

که غورځي غورځي د توړۍ زړګی مي غورځي
و سهېل ته به دي ور نه کم، ګلمکۍ څو ميرولي پر دنيا ګرځي

﴿۵﴾

چي ميرولي په ټپي بدن د سهېلي جنګ ته ځي، نو پر خپلي مور داسي ناره کوي :

ادې موري ! ادې موري ! حق را پل که تمام مي آن دئ
زه خو ځم د جنګ پر لوري، د ناويانو ټولۍ پاته پر ميدان دئ

ميرولي د سهېلي جنګ او د ګلمکۍ نجات ته رهي سوی دئ، پر لاري په آرمان داسي ناره کوي :

لويه خدايه ! لويه خدايه ! يو مانده ډك دئ په درګو
خدايه دونه عمر راکې ! چي سهېل او مکۍ ووينم په سترګو

﴿۳٤﴾

# تانو

د موسی خان د کیسې یوه مهمه پهلوانه تانو ده، چي د ولیجان خور وه، دې مړنۍ ښځې خپل کسات په خورا ترډستي له خپل غلیم څخه اخیستی دئ، تانو توریالۍ او ننګیالۍ ښځه وه، د دې د اقداماتو تفصیل د موسی خان په برخه کي ولولئ.

دلته موږ د دې نارې چي د ملي ژبي د حماسه ډک اشعار ګڼل کیږي، لاندي رانقل کوو :

﴿۱﴾

هغه وخت چي موسی خان او ولیجان د سهېلي مقابلې ته رهي کیږي، نو تانو د ولیجان د مرګ پیغام د عالم رویا څخه داسي ورکوي :

ولیجانه ! برایي مي، برایي مي خوب لیدلی !

چي په لاس مي دوه باهو وي، دغه یو له بله وموښلي یو مات سي

﴿۲﴾

چي ولیجان او موسی خان د غلیم مقابلې ته ځي، نو تانو داسي ناره پر کوي:

ولیجانه ! مخ راستون که، زما جانه ! په دیدن دي مړه نه سوم

ورځئ ورځئ په مخه مو ښه سه ! ولیجانه غائبانه سپاره مو مله سه !

﴿۳﴾

چي د کیسې په آخر کي ولیجان او موسی جان او میرولي ټوله مري او فقط ښځي مقابلې ته پاتیږي، نو لکه دمخه چي ولیکل سوه تانو سهېلي راغواړي، چي زه دي مېړه کوم، سهېلي چي راځي، نو د شپې تانو او د دې ملګري نوري د کور ښځي راځي، سهېلي ته توره او سپر په لاس ورکوي، چي اوس راسه ! چي مړانه سره معلومه کو !

په دې حال کي تانو پر سهېلي داسي د غیرته ډکه ناره کوي :

سهېلیه ! سهېلیه ! توره واخله ولاړیږه !

د ښځي خیال راباندي مه کړه ! سهېلیه ښځه نه یم مه شرمیږه !

﴿٤﴾

په دې ډول تانو په مړانه خپل غلیم وژني، داسې نه کوي، چې غلیم په تش لاس وي دا حمله پر وکي، یه ! د پښتنې غیرت خو دا نه قبلوي، هغه ته پخپله توره او سپر په لاس ورکوي، بیا یې نو په مقابله کي وژني، جسد یې تر کلا دباندي د سهېلي ملګرو سردارانو ته ور غورځوي، او داسي ناره پر کوي :

سردارانو ! سردارانو ! تاسي وینئ یاست که بیده یاست؟
سر راپورته کئ له خوبه ! سهېلي خو مو اوس خوري د لحد خاوري !

﴿٣٥﴾

# خوشحال خان خټك

خوشحال خان خټك د پښتو پلار او تر ټولو لوی او خورا ښه شاعر دئ، چي د شهباز خان زوی د یحیی خان لمسی او د ملك اکوړی کړوسی دئ، او د خټکو له نومیالي قامه څخه و، خټك د پښتنو د کرلاڼ (کړان) او بیا د مشهور نیکه څړبن څخه یوه پښه ده[1]. د ملك اکوړی پلار ملك چنجو د مغولي اکبر پاچا په عصر (٩٦٣ – ١٠١٤ هـ) په پښتونواله مشهور و، د ده زوی ملك اکوړی د پښتنو ملي مشر و او اکوړه یې ودانه کړه چي سرای یې هم بولي[2]، چي په ډهلي کي جانګیر مغولي په (١٠١٤ هـ) کال پاچا سو، نو د ده په عصر کي د پښتنو مشر شهباز خان و، چي په اکوړه کي د ربیع الثاني په میاشت (١٠٢٢ هـ = ١٦١٣ ع) د عمر پر دوه ویشتم کال یې یو زوی وزیږېدی او نوم یې خوشحال پر کښېښو، دا پښتون وروسته یو ملي ننګیالی مشر او د پښتو ژبي تر ټولو لوړ او نومیالی ادیب سو.

د خوشحال خان پلار په (١٠٥٠ هـ) کال چي عمر یې (٥٠) کاله و، په یوه جنګ کي ټپي او په پنجشنبې اوله د شوال وفات سو، د پلار تر وفات وروسته خوشحال خان د قام په

١-تاریخ مرصع، حیات افغاني، مخزن افغاني، مرآت الافاغنه.
٢- حیات افغاني.

مشرتوب او خاني وتاكل سو، او شاه جهان د ډهلي پاچا هم په مشرتوب او خاني ومانه[1]، خوشحال خان د مغولو په دربار کي ډېر نفوذ او اقتدار درلود[2]، د اجمير په جنګ کي چي د تاراګډهـ کوټ چا نه سواى نيولاى، توريالي خوشحال خان دا کوټ مات کړ، او په لاهور کي د څلورو لکو روپو او دوو نيمو لکو پټي خاوند سو[3]، خوشحال خان په دې ډول د قام استقلال او آزادي وساتله، او د مغولو له غلامۍ څخه يې پښتانه په امان کړه، مګر تر شاه جهان وروسته چي اورنګزېب عالمګير په (١٠٦٩ ) کي پاچا سو، دې امپراطور وغوښته چي د پښتنو آزادي واخلي او دوى خپل مريي کي، ځکه چي خوشحال خان د شاه جهان په دربار کي ډېر نفوذ درلود او پښتنو پخپل مشرتوب منلى و، نو اورنګزېب وغوښته چي د پښتنو دا ملي مشر ورك کي. ځکه چي په قوه او توره يې خوشحال خان نه سواى ماتولاى، نو يې دروه او ټېټال وکړ، او په غوړه ژبه يې په احترام خان خپل دربار ته وغوښت. خوشحال خان چي پېښور ته ورسېدى نو د هغه ځاى حاکم د مغولو د دربار په نغوته دى بندى کړ، او ډهلي ته يې واستاوه، د (١٠٧٤ هـ) کال د روژې د مياشتي په منځ کي دا زموږ ملي توريالى اديب ډهلي ته ورسېدى، او تر څلورو کالو پوري هلته بندي و، خوشحال په (٢٢٠) بيته کي خپل د حبس کيفيت مکمل نظم کړى دئ او نور يې هم ډېر خواږه اشعار د ګران وطن په ياد ويلي دي، په بند کي د خپل وطن ياران داسي يادوي :

د هواد ياران مي هـــر زمـــــان يادېږي
چي يې مخ په خوب کي ووينم وويارم

تر څلورو کالو وروسته خوشحال خان له بنده ايله سو، مګر هره ورځ به د ډهلي دربار ته تى او د وطن د تګ اجازت نه و، نو د ده آزاد روح له دې قيودو څخه خورا ډېر ربړېدى، او داسي شکوه کاندي (٤ رجب ١٠٧٧ هـ) :

| | |
|---|---|
| هـــره ورځ ورتـــلـــه دربـــار تـــه | ګـــوره دا څـــه مـــشـــقـــت دئ |
| د بـــل حـــکـــم پـــرې زنـــدان شـــي | چـــي پـــر خـــپـــل حـــکـــم عـــادت دئ |
| نـــه شـــيـــريـــن خـــواږه يـــاران شـــتـــه | نـــه د چـــا ســـره صـــحـــبـــت دئ |

خوشحال خان په پاى کي له اګرې څخه فرصت وموند او وطن ته راغى، د اورنګ زېب

---

١- تاريخ مرصع، اسلامي دائرة المعارف.
٢- د سي اې بيډولف (١٧) قرن اشعار.
٣- حيات افغاني.

سره يې سخت سخت جنګونه وکړه، او خپل کسات يې په ښه ډول ځني وکيښ، دې جنګونو دوه کاله دوام درلود، او د مغولو دربار د پښتنو د محوه کولو له پاره ډېري روپۍ خرڅي کړې، د خوشحال خان په خپله کورنۍ کې نفاق واچاوه، په دې وخت کي خوشحال خان خورا زوړ او د (۷۷) کالو و، نو ولاړ او د افرېدو په غرو کې د کتاب او قلم په ملګري ژوندون کاوه[۱]، لکه چي وايي :

پسله بنده دی دا عزم  د خوشحال د خاطر جزم
یا نیولی مخ مکې ته  یا مغولو سره رزم
یا یو ګُنج د غره نیولی  لمونځ روژه د لوستو بزم

خوشحال خان يو سياح او ګرزند سړی هم و، په (۱۰۸۰ هـ) په کابل کي و، دی په خپله د خپلو سياحتو بيان داسي کوي :

کوم ملك دئ له ما پاتو چي مي پل نه دئ پرې ایښی
هر ځای به ورته ياد کړم که څوك شته سياحت کړونی

خوشحال خان يو عالم سړی و، مشرقي علوم يې لوستي، او د عربي او پاړسي د بلاغت او فصاحت علوم يې ښه زده وه، په فقه او تفسير او نورو اسلامي علومو کې معلومات درلوده، په تصوف کي هم خوشحال خان بشپړ و، او د ده له وينا څخه د ده پوره علمي لياقت څرګندېږي.

تر خوشحال خان دمخه په پښتو عروضي اشعارو کي ډېر لږ شاعران تېر سوي دي، موږ دا ويلای سو، چي خان د پښتو د شعر پلار دئ، ځکه چي ده تر هر چا ډېر او ډول ډول شعرونه ويلي دي. خوشحال خان د پښتو ادب د يو مهم مکتب مرسس دئ، چي وروسته په دې مکتب کي ډېر نوميالي شعراء روزل سوي دي، او د ده د سبك پيروان ډېر دي.

د خوشحال خان شاعري او سبك :

خوشحال خان د پښتو په شعر کي ځان ته مخصوص سبك لري[۲] عشقي، اجتماعي، فلسفي، وطني، اخلاقي، حماسي اشعار ډېر لري، د انساني فضايلو او د پښتنوالي د ښېګڼو په بيان کي دی يو پوره مورالیسټ (اخلاقي) او رياليسټ (حقيقي) اديب دئ. په نقد او ادبي شجاعت کي هم ساری نه لري اما د خياليت او ايډياليزم په دنيا کي هم لوړ مقام لري.

د خوشحال خان شعر د معنی او مضمون له پلوه دومره جامع دئ، چي موږ ده ته يو

---

۱- تاريخ مرصع.

۲- د دې کتاب په مقدمه کي د خوشحال خان سبک وګورئ.

جامع او بشپړ د ادب استاد او پېشوا ويلای سو. خوشحال خان په عشقي او بزمي اشعارو کي استاد دئ، پوخ فيلسوف دئ، وطني اشعار يې داسي خواږه دي چي د پښتنو فطري او په ختښه اخښلی د وطن محبت او عشق ځني ځرګندېږي، اخلاقي او حياتي او اجتماعي اشعار يې هم خورا لوړ دي.

په رزمي او حماسي شعر کي هم د ده په شان بل لوړ ويونکی نه لرو. خوشحال خان حق لري چي و وايي :

ما خوشحال په پښتـــــو شعر بيان کړ
د پښتو ژبه به اوس په آب و تاب شي

خوشحال خان په شعر کي ډېر مقلد نه دئ، بلکي يو مبتکر پښتون اديب دئ، وينا يې ډېره خوږه ده، نوي نوي مضامين د شعر په ژبه ويلای سي، د خوشحال د سبك مادي او ظاهري مزايا دا دي چي مغلق شعرونه نه وايي، وينا يې د پښتو د خوږې محاورې سره سمه ده، يو خورا بديع او نوی تخيل په ساده الفاظو ادا کولای سي.

د خوشحال خان اشعار تر (٤٠) زرو بيتو پوري رسېږي، مثنوي، رباعي، قطعه، تخميس، تسديس، ترجيع لري، او ځيني معشر او مربع اشعار هم د ده له ابتکاراتو څخه دي.

خوشحال خان يو نقاد او رشتيا ويونکی شاعر دئ، د ده د تنقيد ژبه ډېره تېره ده، په خپله وايي :

زمـا ژبه نه ده اور ده
ګزارونه د ټوپك کا

***

لکه د ده توره چي تېره ده، او مېړه توريالی دئ، دغسي هم د ده قلم د توري کار کوي :

آفــرين دي پر ويلو شه خوشحاله
چي د توري رژول کړې په قلم کي

***

اجتماعي او اخلاقي وينا :

د خوشحال خان په وينا کي لويه برخه هم اجتماعي او اخلاقي ده، چي دې نامتو شاعر په ډېر اقتدار او خواږه ډول داسي اجتماعي او اخلاقي اشعار ويلي دي چي اوس زموږ ډېر په کار

راځي.

خوشحال خان په اجتماعي او اخلاقي اشعارو کي ډېر ځله خپل پښتني مزايا څرګندوي، او د پښتونوالي درانه اخلاقي او ټينګ او ثابت اصول بيانوي، مثلاً پر ځان ويسا (اعتماد بنفس) چي د پښتنو د اجتماعي اخلاقو يو مهم رکن دئ، څه ښه راښيي :

د مـــــــزريو مړنتوب په لښـــکر نه وي
مټ يې هر کله يوازي په خپل ځان شي

سړی بايد ځان نه بايلي، او هر ځاي په ټولو مشکلاتو کي له همته کار واخلي، دا مسئله داسي بيانوي :

که آسمان دي د مزري په خوله کي ورکا
د مزري په خـــــوله کي مه پرېږده همت

خوشحال خان خپل اخلاقي نظريات داسي ښکاره کوي :

واړه زړونه فـــــراغت وي په ښادئ کي
چي په غـــــم کي مـــــردانه شي زړه هغه
چي دروغ تر خوله وباسي کله خوله ده؟
چي رشتيا تر خوله وباسي خـــــوله هغه

خوشحال خان په اجتماع کي هغه کارونه ښه ګڼي، چي ګټه يې عمومي وي، او اجتماعي ګټي تر شخصي ګټو دمخه کوي، دی وايي : هغه زوی چي د ملي ننګ په ساتنه کي مړ سي، نو دي پلار افتخار پرې کوي :

چي د قام په ننګ کي ومـړ هغه زويه
په عالم کي د خپل پلار غاړه کا لکه

په اجتماعي وينا کي خوشحال خان هغه څوك بډای ګڼي چي نورو ته ګټي ورسوي :

دولتـــــمن ســــــړی هغه بللی بويه
چي له سينده يې جدا د چا واله شي

## حماسيات :

خوشحال خان د پښتنو يو توريالی او جنګيالی شاعر دئ، دی لکه د شعر او ادب استاد چي دئ، د جنګ د ميدان بريالی قوماندان هم دئ، د خوشحال خان حماسي اشعار په پښتنو شاعرانو کي بل څوك نه لري، د ده کلام حربي او جنګي برخي ډيري لري، چي د ده د پښتونوالي ملي روح ځني څرګندېږي، دی د ژوندون د ګټو اساس هم توره او مړانه ګڼي، او دا عقيده داسي ښکاره کوي :

کُل گـــــتښه ده د توري
که کابل دئ که کشمير
مـېړني دي چې يادېږي
په ســــــندرو هم په وير

***

بل ځای توریالیتوب داسې ستايي :
چې ښکـــــــنده سربازي کاندي د تورو
زه خوشحال خټك تر هسې هنر جار شم

***

خوشحال خان چې توره اخیستې وه او د غلیمانو سره یې جګړې کولې، مطلب یې د خپل اولس او خپل ملت ننګه او د خپلواکۍ ساتنه وه :
د افـــغان په ننګ مې وتړلـــــــه توره
ننګیالی د زمانې خوشحال خټك يم

***

خپل د پښتونوالي ثبات او توره په حماسي ډول په دې بیتو کې څنګه ښه ښکندوي :
د عــــالم ډېري خبري لور په لور توري لښکري
زړه مې نه خوځي له ځایه غر خو هسې وي کنه؟

***

لا په خوب کې په لــــړزه پرېوزي له کــــــته
چې د چا تر غوږو زما د توري شرنګ شي

***

د خوشحال ختټك خوښي په هغه وخت ده
چي برېښنا وشي د تورو او د زغرو

## فلسفه او تصوف :

د خوشحال خان په شعر کي د ده د پخې فلسفې او د تصوف افکار هم څرګندېږي، او دا ښکاره کوي چي دا زموږ ملي اديب پوخ فلسفي هم و، او د تصوف له دنيا څخه هم بې خبره نه و.

پوهان او فلاسفه چي د ژوندون اسرار پلټي، وروسته و دې حال ته رسېږي چي خپله ناپوهي مني، او د حيرت په سيند کي لاهو کېږي !

خوشحال خان هم په عقلي سير کي د حيرت و دې درجې ته رسېدلی دئ لکه چي وايي :

ما چي نظر وکړ په ذرات په موجودات
ګول په جهان راغلم ترې به ګول درومم هيهات
يو څادر تر ميان وي فهم پاتو شي له کاره
دا هومره کيسې هومره ادراك د سموات
هيڅ نبي ولي يې درست اسرار موندلی نه دئ
لويه کارخانه ده که وګوري کاينات

***

حيرت خو په حقيقت کي د فلسفې پای او نتيجه ده، له سقراط تر ابن سينا پوري د فلسفې پاخه مقام ته په دغه ځای کي رسېدلی دئ[1].

خوشحال خان د دغه حال په بيان کي څرګندي ويناوي لري، مثلاً وايي :

حيران يم نه پوهېږم چي زه څه يم څه به شم

---

۱- بوعلي سينا وايي :-

دل ګر چه درين باديه بسيار شتافت یکموی ندانست ولی موی شکايت

فخر رازی وايي :

هفتاد و دو سال رنج بردم شب و روز معلومم شد که هيچ معلوم نشد

سپينسر وايي : "د شيانو د حقايقو د پوښتني په جواب کي بې له دې څه نه سوای ويلای چي په هيڅ نه پوهيږو".

له کـــــومه یم راغلی بیا به کـــــوم لـوري ته ځم؟
جــــهان یو کـــــتهوری سو زه په مثل د مېږي یم
حیران پکښېې جار وزم لاس او پښې پکښېې وهم

***

خوشحال خان د تصوف افکار له شیخ رحمکاره اخیستي دي، یعني په تصوف کي په هغه پسې تلونکی دئ. مګر د تصوف منفي لاري پرېږدي، عملي خواته یې هڅه کوي، هر کله د قدرت د جمال نندارې کوي، او د دې پسرلي له کتلو او لیدلو څخه د پېژندګلوۍ او معرفت اسرار پلټي :

په هـــر لوري نوبهار دئ غـوړېدلی
سترګي وخوره چي به دا ننداره نه کا

د مصنوع له لیدو څخه د صانع پر قدرت داسي یو حکیمانه استدلال کوي :

که دې سترګي د عرفان شــــته مبارك شه
د ګلزار په ننداره چي استـــــــــقلال کړې
ګل ته هسي رنګ او بوی ورکړی چا دئ؟
د لالــه د ګل چا هسي پاڼې لال کــــــــړې؟

***

خوشحال خان وګړو ته د دې نړۍ د عجایبو او پلټلو تلقین داسي کوي، چي د ده فلسفي او د تصوف فکر او لار ښه ځني څرګندېږي :

راشـــه وغـــړوه ســـتـــرګـــي — د جـــهـــان نـــنـــداره ګـــوره
چـي ښـایـسـت لـري پـه سـتـوریـو — د اســمـــان نـــنـــداره ګـــوره
د دې خـــپـل وجـــود پـــه بـــاغ کـــي — پـــه هـــر شـــان نـــنـــداره ګـــوره
چـــي هـــر ګـــل وتـــه نـــظـــر کـــړې — د بـــاغـــوان نـــنـــداره ګـــوره

## د خپلواکۍ غوښتنو جګړې :

خوشحال خان د يو ملي مشر او قايد په ډول د پښتنو د خپلواکۍ د ساتني له پاره ډيري جګړې کړي دي، تر خپل بند وروسته چې وطن ته راغی، د عمر تر پايه يې د مغولو د لښکرو سره سخت سخت جنګونه وکړه په (۱۰۸٦ هـ) کي ده په برمول کي يو حماسي قصيده ويلې ده، چې د تهتر په جګړه کي ده (٤٠) زره مغول مړه او تالا کړه، بيا د ميرحسيني او نوښار، او ګنداپ او خاپس په لويو جګړو کي هم دې ملي حربي قوماندان د مغولو سره خپل پښتني همت او توره ښکاره کړه ځکه نو د ده په اشعارو کي حماسې برخه ډېره ده لکه دمخه چې موږ وليکل.

## وطني اشعار :

خوشحال خان لکه نور پښتانه پر خپله مېنه او هيواد مين و، د بند په وختو کي د ده وطني او د ميني ډك اشعار داسي اغېزمن دي، چې د هيواد د ميني حقيقي رنګ ځني ښکاريږي:

د خـــــوشحال د زړه خوښي نه شي بې سرايه
"خپل وطن يې پر هر چا باندي کشمير کړ[1]"

د هند له بنديخانې څخه خپل د زړه مينه او سلامونه داسي ګران هيواد ته راليږي :

---

۱- په دې بيت کي د ارسال المثل صنعت دئ.

که ګذر پر خـــــــیر آباد وکـــــــړې نسیمه !
یـا دي ګښت وشـي د ســـرای د سینـد پـه سـیمـه
پـه وار وار ســـــلام زمـــــــا ورتـه عـرضـه کړه
ورسره زما د لـــــــوریه څــــــــو تسلیمه
اباســـــــــیند وته ناره وکـــــــړه په زوره
و لـــــندئ ته وینا ووایه حلــــــــــیمه
ګنـدي وي چـي بـیـا مـي سـتـاسـي جـام روزي شـي
په ګنـــــــګا جمـــــــنا به نه و له قدیمه
چي سړې اوبه د غره نشــــــــته په هند کي
تـرې تــــــــوبه که واړه ډك وي لـه نـعـــیمه
خـدایـه زړه مـي پـه وصـال د هـغـو خـوښ کـــــړې
دا چـي اوس ورځـنـي لـــــــــیري دي دوه نـیمـه
همېشه به په هند نه اوسې "خـــــــوشحاله !"
عـاقبت بـه عـــــاصي وزي له جحـــــــــیمه

وطن ولي ګران دیٔ؟ اجتماعي پوهان وایي چي د اجتماع او ټولني مرکز وطن دیٔ هلته د سړي خپلوان، او ګران د ژوندون ملګري او خواږه ملي ورونه اوسي، ټولنه چي د ژوندون سټه ده، په هیواد کي جوړېږي، ځکه نو د وطن ګرانښت هم په انسانانو کي طبعي دیٔ، خوشحال خان دا د وطنیت فلسفه داسي راښیي :

چي پکښې خـــــواږه یاران دي
پېـــــښور تر هـــــــــر دیار ښه
ښه په هند کي چنـــــــباګل دیٔ
تر دا ګل د وطن خـــــــــار ښه
د ســـــــرای قدر نور چا نه زده
په "خوشحال" دیٔ تر فرخار ښه

په دې اشعارو کي زموږ د ملي شاعر وطني احساسات ښه څرګندېږي :

د وطن وني چـــــــــندڼ اګـــــــر دي
خــــــاوري یې واړه مښکو عنبر دي
که ســـرای و نورو وته ســــــنګړ دیٔ
کاڼي یې واړه مــــــــــاته سره زر دي

درزي لا گز لري غـــــچي سوزن لري
يو جمدرگوټی خوشـــحال خيرن لري
کوچ يې آسان دئ مشکل هيڅ نه دئ
غـــــــم د يارانو درد د وطـــن لري

له دې لوړې رباعي څخه ښکاره ده، چي خوشحال خان دا ټوله بندونه او زحمتونه د وطن له پاره پر سر اخيستي وه، که نه وي د ده تګ او وطن پرېښوول خو ګران کار نه و.

زموږ ملي شاعر د خپل هيواد په مينه کي داسي ډوب دئ، چي د هند په بنديخانو کي هم د وطن له ياده څخه د خپل ژوند له پاره مرسته غواړي :

پښتنې نجوني دي زلفي باد ته نيسي
چي شمال يې بوی راوړي زنتـــبور ته

## آثار او تاليفونه :

خوشحال خان د پښتو ژبي پلار دئ، ده په ملي ژبه ډېر آثار ليکلي دي، د اروپا مستشرقين د ده تاليفونه تر سلو جلدو پوري بولي، مسټر راورټي يې تاليفونه (۲۵۰) ګڼي، مګر افسوس چي دغه ګران بها آثار او کتب اوس ورك دي، موږ ته په نامه دغه معلوم دي :

١. د پښتو اشعارو کليات تر (٤٠) زره بيته، چي په ١٣١٧ کال په کندهار کي حبيبي مکمل چاپ کړی دئ، علاوه پر دې خوشحال خان په پاړسو هم ډېر اشعار ويلي دي، او روهي يا کوهي تخلص لري.
٢. د پښتو تاريخ چي نسخې يې ورکي دي.
٣. عيار دانش د پاړسو انوار سهيلي ترجمه.
٤. ديني متفرق مضامين چي په يوه کوچني کتاب کي.[1]
٥. د يادونو کتاب چي افضل خان د ده لمسی په تاريخ مرصع کي حواله ورته کوي.[2]
٦. فرخ نامه د توري او قلم جګړه.
٧. فضل نامه شرعي مسايل په بحر خفيف مثنوی.

---

١-راورټي.
٢-تاريخ مرصع د پادري هيوز طبع.

۸. رياض الحقيقت.[1]

۹. باز نامه، د باز او ښکار بحث دئ.

۱۰. هدايه، له عربي څخه په پښتو ترجمه.

۱۱. آئينه، له عربي څخه په پښتو د مذهبي ابحاثو ترجمه.

۱۲. دستورنامه، د بګړئ په باب کي.

۱۳. صحت البدن، حفظ الصحه او طب دئ.

۱٤. زنجيري، راورتې ليکي، چي خوشحال خان يو راز مختصر نويسي او رزم نويسي ايجاد کړې وه، چي فقط د ده کورنئ په پوهېده او بل چا نه سواى لوستلاى.

## کورنئ :

د خوشحال خان نوره کورنئ او زامن هم ادباء او مړلفين دي، چي بهرام خان، اشرف خان، عبدالقادرخان، صدر خان، سکندر خان، ګوهر خان يې شاعران زامن دي، افضل خان يې مړرخ لمسى دئ، کاظم خان او عليخان او خوشحال خان او دوست محمد يې کړوسي او نوميالي ادباء دي، چي دا ټوله د پښتو ژبي ويونکي او ليکونکي (شاعران او مړلفين) وه، او د خوشحال خان په مکتب کي د علم او فضل او ادب خاوندان سوي وه.

## وفات او وروستئ وينا :

خوشحال خان د عمر په آخر کي ډېر سپين ږيرى سو، افرېدو ته ولاړ، او هلته چي عمر يې (۷۸) کالو ته ورسېدى په ۲۸ د ربيع الاول (۱۱۰۰ هـ) سم له (۱٦۹۱ ع) سره په ډېره ناکامئ وفات سو او په خپل مسکن "سراى" د لوړو غرو په لمنو کي ښخ سو[2].

د خوشحال خان وروستنئ وينا دا ده :

"ما هلته ښخ کړئ چي د مغولو سيورى مي پر خاوره و نه سي، او د مغولو د سپرو د پښو ګرد مي پر هديره ونه لوېږي".

---

۱- وګورئ د پادري هيوز د کليد افغاني مقدمه.

۲- هيوز کليد افغاني او د سرحد مجله.

## د خوشحال خان ملي او ادبي مرتبه :

زموږ د ملي ژبي په ادب او زموږ د ملت په تاريخ کي خوشحال خان لوړ مقام لري، دی د پښتو ژبي لومړی او تر ټولو لوړ اديب او شاعر او مړلف دئ.

خوشحال پښتنو او د پښتونوالي محرك او د مليت لوی ساتونکی او پالونکی دئ، ځکه نو موږ دی د پښتو پلار بولو.

او دا نوم او مرتبه په پښتو شاعرانو او ليکوالو کي بل چا ته نه ورکوله کېږي.

همېـــــشه به پرې ناري وي د بلــــــبلو
دا چي سازکړ نن "خوشحال: په ويل باغ

اوس د دې نومیالي او ننګيالي پښتون اديب د وينا يو څو بدلي او شعرونه لاندي ليکو :

غزل

مـرد هـغـه چـي هـمـتـنـاك بـركـتـنـاك — د عـالـمـه سـره خـوړ پـه زيـسـت و ژواك
مخ يې مخ قـول يې قـول عـهـد يې عـهـد — نـه دروغ نـه يـې فـريـب نـه تـش تـپـاك
لـږ ويـل ډېـر يـې کـول پـه خـامـوشـي کـي — د غـنـچـې غـونـدي خـولـه ډکـه سـيـنـه چـاك
چـي خـبـره د پـسـتـئ د بـلـنـدئ شـي — پـه لـويـي لـكـه آسـمـان پـه پـسـتـئ خـاك
پـه تـمـکـين کـي لـکـه سـپـر پـه پـسـتئ کـي (١) — پـه هـر لـور څـانـګـي ژنـګـوري لـكـه تـاك
لـکـه ګـل شـګـفـتـه روی تـازه پـه بـاغ کـي — هـمـېـشـه د ښـو بـلـبـلـو پـر بـلـغـاك

چي دا هسي ښه ويل کا زه حـــــــــــيران يم
چي "خوشحال" راووړ له کومه دا ادراك

١- په سخا کي.

د ښادمنو په خندا ږو [۱۵] — د غمجنو په ژړا ږو
د رندانو په رندۍ — د شیخانو په تقوا ږو
د وصال په سل خوښۍ — د هجران په زر بلا ږو
د بهار په ښو ګلونو — د بلبلو په نوا ږو
چي ترې سبر وني هيڅ دي — په هغه قد بالا ږو
چي مکحولي دي له نازه — په هغو سترګو شهلا ږو
چي نرۍ تر ويښته ده — په هغه باريکه ملا ږو
چي عاشق ورپسي مرينه — په هغه جمال زيبا ږو
چي راځي د يار له لوريه — په هغه باد صبا ږو
چي پېغام راوړي د وصل — د هغه قاصد په پا ږو
چي دوهمه پکښې نشته — د رشتينو په رشتيا ږو
په دا هومره سوګندونه — صد هزار ځله بيا بيا ږو

(۱

چي تر ځان په تا مين يم
زه "خوشحال" خټك پتاږو

توره چي تېرېږي خو ګزار لره کنه؟ — زلفي چي ولول شي خو خپل يار لره کنه؟
ولي راته وايي چي پر ښکليو نظر مه کړه — سترګي چي پيدا دي خو ديدار لره کنه؟
شيخ دي لمونځ روژه کا زه به ډکي پيالې اخلم — هر سړی پيدا دئ خپل خپل کار لره کنه؟
تا وې چي زما د خولې بوسه لکه دارو ده — غواړم دا دارو د زړه پرهار لره کنه؟
ويني مي د زړه خورې مګر نور څه لره ندي — زړه زما پيدا دئ تا خونخوار لره کنه؟
څه ژړا فرياد کړې د شهۍ د تورو سترګو — ته ورتلې په خپله دې تور مار لره کنه؟
خود به ستا تر مخه د ګياه غندي څرګند شي — ګل د لاله راوړه خپل رخسار لره کنه؟

مى شته چنګ و نى شته  د خپل يار سره خوشحاله
خپل بياض په لاس کي څه ګلزار لره کنه؟

---

۱- ږو په پښتو کي د قسم کلمه ده.

چي ګټل خوړل بخښل کا ځوان هغه — چي توره لري د توري خان هغه
کان د لعل د یاقوت د ګوهر څه دئ؟ — چي احسان ترې پيدا کېږي کان هغه
چي يې ته په ګېډه وخورې حبطه شي — د مجلس سره چي خوږ شي خوان هغه
که د مال دي که د ملك دئ که د لېچو — چي توان د چا په کار شي توان هغه
په تمامه شپه په ورځ په مياشتي کال کي — چي د خدای په ياد و درومي آن هغه
چي د څوك د وړاندي وروستی ځی دا څه شي — په تنها وجود چي شان دئ شان هغه

و نور چاوته وران مه وايه "خوشحاله"
چي په قول عهد وران شو وران هغه

د ګلونو قدر چا زده؟ — يا بلبلي يا بورا زده
په جهان کي به يو يو وي — چي هنر يې د کيميا زده
چي وفا ورځني غواړې — بې وفا کله وفا زده
که جهان در خبر نه دئ — ما په تا زده تا په ما زده
ته ښادي کړه زه به غم کړم — تا خندا زده ما ژړا زده

رنګ دي ښه دئ خوی دي بد دئ
زه "خوشحال" يم ما رشتيا زده

لـکـه مـخ زمـا د یـار دئ نـمـر خـو هـسـي وي کـنـه
لـکـه زه پـه عـشـق کـي زیـړ یـم زیـړ خـو هـسـي وي کـنـه
د عـالـم ډیـري خـبـري لـور پـه لـور تـوري لـښـکـري
زړه مـي نـه خـوځـي لـه ځـایـه غـر خـو هـسـي وي کـنـه
بـي د عـشـق لـه شـور و شـره چـي هـر ګـز زمـا لـه سـره
نـه ځـي نـور هـر څـه درومـي سـر خـو هـسـي وي کـنـه
چي یې رېبم عمل لا کا چي یې ورك کړم ځان پیدا کا
ورځ او شـپـه داهـسـي کـر کـړم کـر خـو هـسـي وي کـنـه
و هـغـه تـه مـي سـر کـوز دئ چـي مـعـلـوم ورتـه رمـوز دئ
پـه خـبـره نـه پـوهـېـږم خـر خـو هـسـي وي کـنـه

تـا وې درومـه نـوم مـي زبـر کـړه بـل سـبـق لـه زړه بـدر کـړه
تـل مـي تـه یـې پـه خـاطـر کـي زبـر خـو هـسـي وي کـنـه
پـه دا بـاغ کـي یـوه ونـه تـل تـازه تـره بـرخـنـه
چـي یـې اوړی ژمـی بـر خـورم، بـر خـو هـسـي وي کـنـه
چـي آزاد مـریـی ور درومـي خـپـل مـراد ورځـنـي مـومـي
پـه هـیـچـا نـه دئ تـړلـی ور خـو هـسـي وي کـنـه
پـه یـوه زمـا تـر یـاره ورشـي راشـي څـو ګـذاره
د "خـوشـحـال" خـاطـر تـېـز پـر دئ پـر خـو هـسـي وي کـنـه

## رباعيات

مردان نن جنګ کا آشتي سبا کا — چي سره کښېني صلح و صفا کا
څو يې ژړا وي هونبره خندا وي — څو يې جفا وي هونبره وفا کا

وګړي واړه کارونه خپل کا — مردان هغه دي چي کار د بل کا
څوك چي آرام ګټي د نيکو نام ګټي — د خوږو زړونو دارو به تل کا

ادب چي نه وي په سپين په تور کي — عزت به نه وي په هغه کور کي
دولت به درومي له هغه خلکه — چي سره تل وي په شر او شور کي

بنياد د چاري په مصلحت دئ — بيا د مردانو په ښه همت دئ
چي سره يو شي دا دواړه توکه — واړه دولت دئ عزت حرمت دئ

باغ په خوبۍ کي لکه مخمل دئ — راسره ګوره يو څه مخ مل[1] دئ
ساقي راپاڅه مينا راواخله — پرخه وربېږي ګل دئ حمل دئ

هندو چي بت وته هسي نسکور دئ — مړمن مخ ايښې د کعبې په لور دئ
دا دواړه توکه رسم و عادت دئ — اوده عالمه ! مطلب څه نور دئ

هوښيار به چست و چالاك بيدار وي — په هره چاره به ژر خبردار وي
ډېر به عمل لري لږي خبري — په هر زمان به يې نظر په کار وي

١٦

١- په دې بيت کي د مخمل او مخ مل تر منځ تام تجنيس دئ.

## مربع

د شهۍ تورو سنبلو
پرې غوغا کاڼي بلبلو
په سپین مخ یې تسلسلو
تل به وخت نه وي د ګلو

له ما ګرزي دوره دوره
نور که مري په تېره توره
نظر نه کا له غروره
زه یې مرم په تغافلو

زه هغه اخلاص لرمه
چې ماڼۍ کړي دما مرمه
ستا په سترګو سوګند خورمه
مخ دي تور شي د چغلو

راته نه خاندې غمګین شم
نه به باز، نه به شاهین شم
ستا له جوره په زړه خوږین یم
نه به راشې په منګلو

خپل انداز ورلره بس دئ
ځان ته ګل وایي که خس دئ
خوښ په خپل هنر هر کس دئ
هر یو مست د خپلو ملو

که مې زړه که مې دماغ دئ
په دا بوی مې زړه فراغ دئ
نه یې باغ په کار نه راغ دئ
چې یې راشي د کاکلو

همېشه ورپسې ژاړم
که یې مومم زه یې غواړم
په موندنه به یې ویاړم
په اوراد، د څلور قلو

شکر دا چې په پرواز یم
زه "خوشحال" د غرونو باز یم
و ښکارونو وته باز یم
چې په بند وم د مغولو

﴿۳٦﴾

# اشرف خان "هجري"

اشرف خان د خوشحال خان مشر زوی دئ، چي (هجري) تخلص لري، لوی خوشحال خان د دې خپل لايق زوی د توري او مړاني ستاينه ډېره کړې ده.

اشرف خان چي د پلار په څېر يو توريالی او اديب پښتون و له خپله ګرانه وطنه ورک، او د اورنګزېب مغول په جګړو کي په (۱۰۹۳ هـ) د مغولو د لښکر په لاس کښېوتلی او د بيجاپور په کلا او دکن کي نظر بند و :

بيجـــــاپور هجري په خوب ليدلی نه و
آخر پيښ شي هغه کار چي يې قضا کا

اشرف خان تل په پرديسي کي د وطن او خپلو يارانو په ياد خواږه اشعار ويل، د ده شعر ډېر د وطن د بېلتون نارې او غلبلې لري، او هغه وخت چي له ګرانه وطنه بېلېږي په دې بيتو کي په څه حسرت او تاثير د خپلو ګرانو غرو او خاورو سره وداع کوي:

ما هـــــله مـــــاتم د ځان وکړ په وينو
چي اټك وته مي شـــــاه کړه په ژړا شوم
اوس به څـــــه د وطـــــن کانې بوټې ژاړم
د رخصت سلام مي وکړ ترې جدا شوم

***

دا پر وطن مين ننګيالي پښتون به تل د خپل خوږ هيواد په بېلتون کي ږغېدی او په خپله خوږه ژبه بې د خپل ناکامه او تريخ ژوندون نقشه په ډول ډول اشعارو د خپل ژوبل زړګي پر تخته راکښله، د ده يوه د بېلتون ناره دا ده :

بې وطنه تنـــــها پروت يم په غربت کي
نن له مـــــــا سره همدم د صنم غم دئ
د هـــــــيواد اشنا په سترګو ليده نه شي
که په خوب راته حاضر شي بس کرم دئ

قاصــــدان له روهــه[1] نه راځي مدت شو
ســــــــلام باد رارسوي منت يې تم دی

***

زموږ دا مقتدر شاعر لس كاله د مغولو په لاس كي بندي و، او په دې وخت كې د خپلي ملي ژبي ادبي خدمت كاوه، او ډېر خواږه اشعار يې ويل، چي د دې توريالي پښتون د پاكو او وطنخواهانه احساساتو ډك دي، مگر دا زړه سوی شاعر چي وفات سو، اشعار يې مغولو د ظلم په اور كي ايرې سوه[2].

هجري چي د وطن غوښتو په گناه مغولو بندي كړی و، غالباً د اورنگزېب په عصر كي هورې په خپل محبس كي په ناكامي وفات سوی او اوس يې موږ ته فقط يو څو سوي نارې پاته دي، چي د ده د هيواد مينه څني ښكاره كيږي :

عندليب ختك يې بند په هسي ملك كړ
چي طــــوطا يې ژبه وايي د غــــراب

***

د هجري د عمر او وفات نور معلومات نسته، فقط دومره ښكارېږي چي د سپين ږيرتوب او زوړتيا په وخت كي وفات سوی دئ :

د اروا د كــــوچ نيلي په زړه كي زين شــول
چي پر زني مي وېښته د شباب سپين شول

په دې حساب نو د هجري ژوندون موږ د (۱۱۰۰ هـ) حدود تخمين كولای سو.

## اشعار او افكار :

اشرف خان هجري ځان ته خپل د شعر دېوان لري، چي يوه برخه يې په گلشن روه كي

---

۱-د پښتونخوا غرونه "روه" هم بولي.
۲- د خيبر مجله، مارچ، ۱۹۳۳ ع.

طبع سوې او نوري برخي يې خورا نادري دي.

له دې اشعارو چي موږ ته رارسېدلي دي، د هجري د قريحې لوړوالی او روڼ توب ښه ښکاربېږي، هجري د خوشحال خان په مکتب کي د عبدالقادر خان خپل ورور سره اوږه پر اوږه درېږي، او د دې مکتب له لومړيو شاگردانو څخه دئ.

هجري عشقي، اخلاقي، وطني اشعار لري، لکه عبدالقادر خان ډېر د تصوف خواته مايل نه دئ، بلکي خپل پلار خوشحال خان ته يې شعر نژدې دئ، د هجري اشعار ډېر ښه ښه ادبي او ملي مزايا لري مثلاً : د مېلمه احترام د پښتنو يو خصوصيت دئ، دی يو عشقي مضمون هم پخپله ملي پيرايه په څه خواږه ډول سره اداء کوي :

غم د يار له هـــمه ما کره مېلمه شـــــو
ما حضر مي ورته پېش کړ زړه کباب

هجري يو اخلاقي مبلغ هم دئ، ښه اخلاق او د ژوندون لوازم په ساده ډول ښه ښوولای سي په خورا حکيمانه راز د صبر او استقامت ترغيب په څه آسانه ډول کوي :

شورش مه کړه د گردون له کش مکشه
لـــــــومه کلکه کا مرغۍ په اضطراب

د وخت قدر او د کار پر خپل وخت کولو تبليغ په دې ژبه کوي :

د نن کار طـــمع هر گز د سبا مه کړه
سبا گوره هويدا شي د کوم کار مخ

د هجري له ښو بدلو څخه دا لاندي غوره کېږي :

هـمـېـشـه دي يـار زمـا وي پـر دنـيـا روغ
چـي يـې تـل نـه وي لـه درده زړه ځـمـا روغ
پـوه بـه درد د عـشـق بـدل پـه دوا نـه کـا
هـر گـز مـه شـه لـه دې غـمـه زړه د چـا روغ
تـه د خـوږو زړو لـه حـالـه خـبـر څـه يـې
زه د عـشـق لـه غـمـه زړه گـڼـم سـتـا روغ
ښـايـسـتـه کـه جـفـا کـا څـه مـلامـت دئ
چـي خـالـق يـې کـور د زړه کـا لـه جـفـا روغ
پـه ازل چـي يـې جـفـا و کـښـلـيـو ورکـړه
بـيـا يـې زړه کـا د دردمـنـو لـه وفـا روغ

نن يې زړه په عنايت د بوسې خـــوښ کړه
په وعده به "هجري" نه شي د فـردا روغ

غم ښادي د جهان باد گڼه یا گرد
په دا نه لري پروا آزاده مرد

آمد شد یې تر سبا هم گړندی دئ
تجربه مې کړه د دور گرم و سرد

هیڅ هوس د زمانې و خوان ته مه کړه
یو لقمه بې غمه نه لري د خورد

په څو رنگه نقش پیدا په یوه دم کا
د فلك دورونه تاس گڼه د نرد

چا چې ناز د زمانې په دور وکړ
په خندا کې زخم ورکاندي پر درد

غم ښادي که یې د هوښ په نظر گوري
د بقا عمر یې زیاد نه دئ تر ورد

هجري بد عمل تر شا مخ په صفا کړه
چې په ورځ د محشر نه شې گونه زرد

لکه ماته کا نصیب همه جهان اور
هر گز مه شه په هیچا هسې زمان اور

په هغه جهان کافر په آتش سوځي
هجر بل کا په دنیا ځما په ځان اور

بېلتانه هسې آتش رابانَدي بل کا
لکه بل کا د بلبل په زړه خزان اور

په انداز ځما د سوز کله پوهېږي
چا چې نه دئ آزمیلی د هجران اور

که د یار د هجر غم رابانَدي نه وي
راته سهل و سړیو د زندان اور

جور هونبره طغیان وکړ د سرانو
چې یې وریت کړ د دکن خلك ودان اور

لا تاثر پر ظالم نه کا سبب څه دئ
د "هجري" په هر سرح لوني دهان اور

هغه ورځ د هجر غم لره سزا شوم
چي له ياره په ژړا ژړا جدا شوم

ما هله ماتم د ځان وكړ په وينو
چي اټك و ته مي شاه كړه په ژړا شوم

اوس به څه د وطن كاڼي بوټي ژاړم
د رخصت سلام مي كړی تري جدا شوم

يو ناوك مي په دل لك راوړ له روهه
څار و جار مي د باغ ونه كړ خطا شوم

په محنت مي يو رياض جوړ كا په دهر
لا مي ګل بوی كړی نه ځني سوا شوم

شين فلك په خندا سور شو له هوسه
چي هوډي جبل په مخ زه ورته شا شوم

يو پاړو په دكن نشته چي مي دم كا
ګرفتار په كنج و كاو د اژدها شوم

د وصال دولت مي ګنج پري نازېدلم
تار و نار همه د هجر په دعا شوم

د هوسۍ په ښكر برات د وصل وشو
چي راپوري په ندۍ د نر بدا شوم

نن به څه له هجره زاركوم و چاته
ما پخپله غم خريد كا چي آشنا شوم

زه خټك د يار طلب كړم مونده نه شي
له ناكامه يې له غم سره مليا شوم

دانا څنګه د جهان له كاره سرد وي
چي الم يې لكه باد خوښي يې ګرد وي

آه و سوز مي باطل مه ګڼه درويشه
سترګي هله كا ژړا چي زړه په درد وي

تخت و تاج ته به سر كوز د همت نه كا
چي په داد د دهر پوه آزاده مرد وي

هغه مرد چي په دغل سود و سودا كا
په مجلس چي د حق ورشي مخ يې زرد وي

په حساب د فرزانه تر ګاو بتر دئ
هر چي تل په فكر ډوب د آب و خورد وي

ګردنده ګردون چكۍ سړی دانه شو
لا په زمكه قرار نه بدن يې ارد وي

دا محال دئ چي شاعر به په پښتو كي
بل "هجري" غوندي په فن د شعر فرد وي

﴿۳۷﴾

# عبدالقادر خان خټک

عبدالقادر خان د خوشحال خان زوی د شهباز خان لمسی د يحيی خان کړوسی د ملك اکوړي کوسی، د پښتو ژبې يو پياوړی شاعر او نامتو ليکونکی دئ، چې د خټکو د مشرانو له لوړي کورنۍ څخه راوتلی، او د پښتو ژبې ته يې لوړ لوړ خدمتونه کړيدي.

عبدالقادر خان د خپل پلار په شان په خپله کورنۍ او ولس کې د خانۍ او مشرتوب ښه مقام درلود.

عبدالقادر خان د خوشحال خان د وفات په کال (۱۱۰۰ هـ = ۱٦۹۱ ع) ژوندی و، بيا تر (۱۱۱٤ هـ)کاله هم د ده ژوند يقيني دی[1]. په (۱۱۱۲ هـ) عبدالقادر خان د يوسف او زليخا کتاب پښتو کړی دئ هلته وايي :

په سن راغلم تر پنځوسه
په غفلت کې يم تر اوسه
وېښته سپين خاطر مې تور شو
بد خصلت مې کله نور شو

د دې شمېره که موږ استنباط وکړو، چې په (۱۱۱۲ هـ) کال عبدالقادر خان د پنځوسو کالو و، نو به د ده د زوکړې کال (۱۰٦۲هـ) وي.

د عبدالقادر خان د عمر وروستنۍ ورځې له دې څخه ښکارېږي، چې ده پخپله وينا کې ډېر ځله بهادرشاه ياد کړی دی[2]، بهادر شاه معظم د اورنګزېب عالمګير مشر زوی و، چې په (۱۱۱۸ هـ) پاچا سوی، او په (۱۱۲۳ هـ) وفات سوی دئ، نو تر (۱۱۱۸ هـ) پورې د عبدالقادر خان ژوند يقيني دئ.

عبدالقادر خان لکه د خپلې کورنۍ نور توريالي ډېر عمر د مغولو پاچهانو د خوا له خپله کوره، په هندوستان کې نفي و، او هلته يې د خپل ګران وطن په ياد خواږه اشعار ويلي دي او کوم وخت په کابل کې هم اوسېدلی او د دې استوګې ذکر يې په خپلو اشعارو کې کړی دئ.

۱ -سن زر سل د جدايۍ څورلس دپاسه دا غزل مې په بياض باندې رقم کړ
۲ -هرکاره به بهادرشاه چيري خبر کا حال عبدالقادره مه وايه سپړلی

د عبدالقادر خان د شعر سبك :

عبدالقادر خان د خوشحال خان د مشهور ادبي مکتب يو پياوړی شاګرد دئ، چي د ده په وينا کي د تصوف او زهد رنګ غالب او ويناوي يې ساده دي، خوشحال خان خو د شعر ټول اقسام لري، مګر عبدالقادر خان ډېر د تصوف او اخلاقو خوا ته مايل دئ.

د عبدالقادر خان وينا له تعقيداتو او دروندوالي څخه تشه ده، د هر راز تخيل پر ادا مقتدر دئ، ګران مضامين په ساده ډول ويلای سي، تمثيلات يې طبيعي او مثبت دي، په تخيل کي ډېر ماورالطبيعه ته نه ځي، د حس او تعقل تر دائرې نه وزي، دا هغه د سهل ممتنع مزيت دئ چي د خوشحال خان د کلام څخه ده اخيستی دئ، د عبدالقادر خان کلام له ظاهري ښېګڼو او بديعي صنايعو څخه هم تش نه دئ يعني په عين ساده ګي کي خپل کلام د بلاغت د بدايعو په غميو هم ښکلی کوي، د صنعت له پاره کلام نه مغلق کوي او نه درانه او پېچلي مضامين سره غونډوي، په دې بيتو کي يې د طباق صنعت څه ښه ادا کړی دئ :

چي يې تللم په خندا خندا ديدن ته
اوس يې درومم په ژړا ژړا مـزار ته

يا دا :

هر سحر سترګي د ګل په اوښيو ډکي
په دا باغ کي بې ژړلو خـــــندا نشــته

په دې دوو بيتونو کي تجنيس دئ :

سل زخمه که وخوري ترې به يو څاڅکی پرې نه وزي
هسي رنګه وچـــــه د صـــورت کا مــــينه وينه
خـــــوب به يې بدل په بيداري خـــــوښي به وير شي
هـر چي يې په زړه کي د دلــــبر و مـــــــــينه وينه

په شاعري کي د ويونکي د کمال او د شعر د پوخوالي يوه ښکاره نخښه هم دغه ده چي په حسن طلب پوه وي، عبدالقادر خان په دې رباعي کي د حسن طلب ټوله ښېګڼې يو ځای کړي دي لومړی د عيش او مسرت عوامل په ګلستان کي سره ټولوي، وروسته نو محبوب ته په داسي ژبه د راتګ بڼغ کوي، چي د ادب او ميني احترام هم پکښې دئ، امر نه کوي بلکي د خپل اشتياق او انتظار اندازه څرګندوي، لکه چي وايي :

باران وورېږي څـخواکي څاخي
نسيم را والوت سنبل پرې ناځي
اسباب د عيش واړه مـوجود دي
ساقي ته ګـورو چي دی راپاځي

افکار :

د عبدالقادر خان په آثارو کي علاوه پر خوږو او عشقي شعرونو لوړ لوړ اجتماعي او اخلاقي مضامين هم سته، هغه اخلاق چي په ټولني ژوند کي سړی ورته اړ دئ، په صراحت سره ښيي، او له هري خوا هغه ښېګڼي بيانوي، چي په ژوندون کي ظفر او بری پوري تړلی دئ، مثلاً : زيار او مښود چي په اجتماعي اخلاقو کي يو مهم شی دئ، او ادبا يې هر کله ښېګڼي وايي، عبدالقادر خان هم د دې ښه خوی تلقين په ښکاره الفاظو کوي، لکه چي وايي :

ژرنده هاله څه حاصل کاندي چي ګرځي
يو زمـــان قـــراري مه کـــړه له طلـــبه

د اجتماع په دنيا کي سعادت د هغه ملت نصيب دئ چي افراد يې پخپله ګټه کي د بل چا ضرر نه غواړي يا دا چي د بل چا په ضرر کي خپله ګټه ښه نه بولي، عبدالقادر خان په دې لاندني بيت کي دا اجتماعي رواداري او پېرزوينه تر دې اندازې غواړي چي د خپلي ګټي له پاره هيڅکله د چا بدي او تاوان ښه نه ګڼي :

چي سبب يې د دوزخ زما کشتن دئ
بيا دي نه مـــــومم دا هسي شـــهادت

په دې رباعي کي هم عبدالقادر خان خپل اجتماعي لوړ افکار په ښه ډول څرګند کړي دي :

ځوانمرد هغه دئ چي لکه شمع
د ځـان په سولو مجلس کا جمع
د بل دپاره که په خـــــــندا وي
په مخ يې درومي باران د دمـــع

دا د مړاني او ځوانمردئ مقياس چي دې نوميالي پښتون اديب مقرر کړی دئ، حقيقتاً يو اجتماعي او د ګټي ډک معيار دئ.

عبدالقادر خان يوازي د روغي د ميدان مېړه نه دئ، بلکي د خپل پلار په ډول يو توريالی او ننګيالی اديب دئ، چي په ډېرو جګړو کي يې د پلار سره ملګري کړې ده، په دې دنيا کي د حيات فلسفه او د دې لار هم د توري زور بولي، لکه چي وايي :

چي د توري مخ يې سور کړ په ميدان کي
هم هـــغه سر خـــسرويي يوسي لـــه نبرده

عبدالقادر خان د تصوف په دنيا کي هم استادانه افکار لري، ځکه چي دی عملاً هم په دې ډله کي داخل و، او په عرفان او تصوف کي د شيخ سعدي لاهوري معتقد و، نو په خورا ښه ډول د دې دنيا څخه وييږي، مثلاً د قدرت د جمال ننداره په دې بيتو کي په څه سلاست او صراحت ښيي :

دلـــبر مــــخ راته ښــيي په هر آئين کي
ګه په تور کي جلوه ګر شي ګه په سپين کي
ګه په زلـــفو کي ځـــای وکا زړه راکاږي
ګه په سترګو په رخـــسار او په جـــبين کي
په ځـــــراغ کي تجـــــلا وکا پتنګ ته
بلـــــبلانو ته ښـــکاره شي په نسرين کي
په هر ځه کي ګوره يار عـــــــبدالقادره !
که دي نشته شك ګمان په خـــپل يقين کي

په دې ډول زموږ دا اوږ ژبی اديب په تصوف کي استادانه ږغيږي او د تصوف له خوا پاخه او خواږه ويل کوي.

## آثار :

عبدالقادر خان د پښتو يو مشهور مؤلف دئ، ځيني محققين وايي چي ده شپېته جلده کتابونه ليکلي دي[1] مګر اوس موږ ته ډېله دغو شپږو کتابونو نور ځه نه دي را رسېدلي :

١. د اشعارو ديوان چي تقريباً درې نيم زره بيته دئ او په ١٣١٧ کال له کندهاره حبيبي بشپړ چاپ او نشر کړی دئ.
٢. ګلدسته په دغه نامه عبدالقادر خان د شيخ سعدي شيرازي ګلستان کټ مټ په پښتو ترجمه کړی دئ او ډېر خوږ منصور او منظوم اثر دئ.
٣. نصيحت نامه په تجنيس چي يو خوږ او سليس مثنوی دئ، او ټوله د تجنيس په صنعت ويل سوی دئ.
٤. ځلوېښت حديثه چي تقريباً پنځه سوه بيته دي.
٥. آدم خان او درخانۍ : دا مشهوره ملي کيسه هم عبدالقادر خان ليکلې ده.
٦. يوسف او زليخا : تقريباً ځلور زره بيته په خفيف بحر، دا کتاب په (١١١٢ هـ) کال عبدالقادر خان نظم کړی او خورا خوږ دئ، اشعار يې ډېر سليس او روان دي.

## د عبدالقادر خان د کلام نمونې :

يو ځو ټوټې له ګلدستې ځخه :

---

١ -د پښتو شعر انتخاب، د مسټر راورټي انګليسي مستشرق.

په ښوره مځکه کې کله زراعت شي
د امید تخم هرگز پرې ضایع مه کړه
له بدانو سره ښه بدي له ښو شي
دا وینا ده و هر چا و ته کره
عاقبت به د ارمان ورغویي ژوي
یو زمان دي بدان نه شي چاکره

خر که هر څو بې تمیز دئ
چې بار وړي هسې عزیز دئ
اوښ غځکی چې باربردار وي
له ظالمه بزرگوار وي
د ده چې ومري ترې ددي ځي
دی و دوږخ ته په بدي ځي

چې قانع په یوه څاڅکي شو صدف
قیمتي گوهر یې ځي په هر طرف
چې همای مرغه قانع په استخوان شو
په مرغو باندي یې بیا مونده شرف

## بدلي

ساقي پاخه پياله راکړه پاڼي ببېد کا
د بهار د راتلو باغ وته نويد کا
ستا په ميو کي نشا د يکرنگۍ ده
چي تر فهم مي يکرنگ سيه سفيد کا
د رقيب خاطر به ولي لکه يخ شي
که يار مخ راته ښکاره لکه خورشيد کا
سيا چشمانو څخه بوی د وفا نشته
له دې بابه به څوک څه ورته اميد کا
چي په عشق سره ژوندی وي هغه نه مري
خدای توانېږي که ځما عمر جاويد کا
زړه يې درست له ما نه يووړ لا يې گوره
چي لا څو سحر دمونه مکر و شيد کا
دا ځل ډېر ورځني ښاد "عبدالقادر" شو
چي به بيا د ښايسته و واعتميد کا

خدای به ژر پرېشان ياران سره يو ځای کا
بدخواهان به سر وهي هم به های های کا
په جهان کي نوي نوي بازۍ کېږي
له يوه تمامه نه بله برپای کا
د بهار د گلو گښت کولی نه شم
خپلي اوښي راته مځکه گل و لای کا
تل به وار د رقيب جوړ رابانديې نه وي
هر څو ډېر که وکتي آخر يې بای کا
بزرگي په وزر نه ده په ښه خوی ده
بوم به کله په وزرو ځان همای کا
زخمي شوی دئ هر لور "عبدالقادره !"
څوک اوه اوه آه آه ځني وای وای کا

چي څوك بد راسره كا ورسره ښه يم
هم په دا د ښو د بدو تور لېمه يم
له هغو مي څه اندوه چي په خوی اور دي
پخپل خوی كي سوړ او نرم تر اوبه يم
چي و ماته زما عيب پېشكش راوړي
د دې هسي يار له خدايه په غوښته يم
فرښتې دي غم زما د عصيان نه كا
كه مفسد يم كه ظالم يم بيا د ده يم
نور زما دئ نار زما دئ نورو څه دي
د پتنګو غوندي خير د ځان په سوه يم
په ايرو يې مخ سپېره شي چي نفاق كا
آئينه غوندي مخ سپين تور په زړه نه يم
چيري نه وي چي به بل مخ وته ګوري
په هجران كي خوښ د سترګو په واته يم
له نور چا كله ګله "عبدالقادر" كړم
زه خوار كړی خپلو سترګو يم خپل زړه يم

په ویـل د کـوم بـې رحـم ځـیـګـر ور ځـي
چې دا هـسـي ډېـر پـس رایـشـي بـیـا ژر ځـي
د عـاشـق د سـتـرګـو غـر نـه حـجـابـېـږي
ولـي هـسـي شـان مـخ نـغـښـتـی پـه مـېـزر ځـي
د لـویـیَ پـه مـقـام بـه هـالـه کـښـېـنـي
کـه دور کـړی د مـړانـي پـه وزر ځـي
د هـوسـیـو سـتـرګـي تـوري د بـاز سـرې دي
خـونـرېـزي تـر نـورو سـتـرګـو کـا، لا زر ځـي
در پـوهـېـږم چـي بـه ژر مـصـلـی رنـګ کـړي
چـي دوهـي و تـه ډېـر ډېـره قـلـنـدر ځـي
تـصـدیع مـه کـړه کـشـتـن ګـاه و تـه پـه سـر ځـي
کـه پـه وژلـو د بـېـدل "عـبـدالـقـادر" ځـي

## رباعيات

غم پرې هرګوره د جهان زور شو
دننه زړه مي راڅخه خپور شو
راغلم ناګاهه په آشنا کلیو
کلی هغه دئ عالم پرې نور شو

دا پند له ما نه په زړه کي یاد کړه
څو دي لاس رسي مروت داد کړه
زړونه د هر چا په احسان ښاد کړه
آزاد بنده کړه، بنده آزاد کړه

په مجالس کي بېرون له همه
دا آواز وخوت د خم له فمه
چي زه هم ستاسي میخور زلمی وم
زما له حاله مه شئ بې غمه

چي پکښي ایښې ښه صورتونه دي
ځکه په مځکه ښکاره ګلونه دي
قدم پرې ورو ورو په احتیاط ږده
دا توري خاوري کښلي مخونه دي

آبشاره ولي دا هسي ژاړې
له چا فریاد کړې څوک پسي غواړې
که تل فریاد کړې له کاڼي سر وهې
بیا به رانه شي اوبه چي ولاړې

چي ورو ګړی له تا ویزار شي
خپلوي د خپلو هاله په کار شي
کنه په ورځ د راحت تر خپلو
بیګانه هم تر سړي ځار شي

که سپین او سره یې په کور کې تل وي
چې نه یې علم نه یې عمل وي
بنیاد یې نشته آخر به خوار شي
بخت به تر کومه ورسره مل وي؟

چې نوم یې وشي د محرمۍ
خوب به په څو کا د بې غمۍ
په یوه ټکي محرم مجرم شي
وېره دي کاندي د محرمۍ

بېګاه نژدې شو د غرونو سیورې
په سم راپرېوتې له سپینې تورې
ډېر ډېر وېرېږم یاره نژدې شه
چې خیر دي ګورم هم مې خیر ګورې

چې دي له لاسه آزار وي زړونه
مرګ دي بهتر دئ له دې ژوندونه
څو به دي بلې لمبې د ظلم وي
آخر به وسوځي دا اور ستا خونه

صبر په زړه کې د عاشقانو
دنیا په لاس کې د آزادګانو
لکه اوبه په غلبېل کې نه دري
هسې قرار نه کا، اې تجربه دانو

## تاریخي مشاعره

د پښتنو پخوانو شاعرانو تر منځ یوه ادبي مسابقه یا خوږه مشاعره واقع سوې ده چې ډېرو ادباوو برخه پکښې اخیستې ده.
د پښتو د ادب پلار خوشحال خان خټك یوه خوږه بدله لري، چې مطلع یې داسي ده :

لــکه زه په یار مین یم بل به نه وي مین هسي
لکه زه پسي غمجن یم بل به نه غمجن هسي

د پښتو پلار د دې بدلي په مقطع کي داسي وايي :

چي "خوشحال خټك" يې وايي په پښتو ژبه خبري
په پارسي ژبه به نه وي که پوهـــــېږې سخـــــن هسي

عبدالقادر خان د دې بدلي قافيه اړولې ده، او د خپل پلار شاعرانه استقبال يې کړی دئ، په دې ډول :

لکه زه په یار مفتون یم، بل به نه وي مفتون هسي
لکه زه پسي محزون یم، بل به نه وي محزون هسي
پرون غېږ په غېږ له یاره نن تر منځ شوه هیوادونه
دا انصاف د زمانې دئ چي نن هسي پرون هسي
په کاته د سترګو زړه وړي په خبرو ځني صبر
د جهان په مخ به نه وي سحر هسي افسون هسي
په قیامت به هم په هوښ د محبت لېونی نه شي
چي به روغ شم بې لیدنه زما نه دئ جنون هسي
خط په مخ د دلبر راغی، شور د زړه په بازارګډ شو
چي د حسن پاچا لیږدي د دې خط دئ مضمون هسي
د ژوندون فایده دا ده چي دیدن کوي د ښکلیو
چي يې دا فایده نه وي مرګ بهتر تر ژوندون هسي
آئینه د خپل زنګون و ما ته جام جهان نما شوه
ځکه سر لرم تل ایښی، د فکرت په زنګون هسي
د دنیا په دښمني کي عیسی لاړ شو تر آسمانه
په دوستي کي يې لا ځي تحت الثرا ته قارون هسي

د دې بدلي په مقطع کي عبدالقادر خان پخپل شاعرانه افتخار لکه نامتو پلار د ځان ادبي لوړتیا داسي ښيي :

دا غـــزل په پښـــتو ژبه چي بیان "عبدالقادر" کړه
دروغجن یم که بې خانه وايي بل یو پښـــتون هسي

ځکه چي پښتانه ډېر غبطه او د سیالۍ حس لري نو د عبدالقادر خان د دې خبري پر دوی اغېزه کړې او احساسات يې ور ښورولي دي.

ډېرو شاعرانو د عبدالقادر خان په استقبال خورا خوږې او شیوا او رشیقي بدلي

ویلي او د فصاحت او بلاغت داد یې ورکړی دئ.
په دې مشاعره کې (معزالله، محمدي، صدر، اشرف، عثمان، غفور، اودل) شرکت کړی دئ، چې د دوی استقبالیه بدلي به د هر یوه د حال په برخه کې راسي.

﴿۳۸﴾

# سکندرخان

د خوشحال خان زوی او د ده د ادبي مکتب یو پیاوړی ادیب دئ، راورټي د قاسم علي افریدي په حواله د ده ذکر کوي[۱].
د سکندر د شعر دېوان ورک دئ، فقط یوه بدله یې هیوز په کلید افغاني کې طبع کړې او د هغه لاړه څخه یې یوه مرغلره راساتلې ده.
که نه وي اوس به دغه یوه ګرانبها مرغلره هم لکه د ده نور دېوان ورکه وای. ښکارېږي چې د سکندر خان سبك لکه د خپل پلار عشقي او ډېر روان او کلام یې خوږ دئ، د تاثره ډك دئ او پخپله کورنۍ کي هم ښه ادبي مقام لري، تر عبدالقادر خان او هجري وروسته د علیخان او شیدا سیال دئ.
سکندر خان لکه چې په ټولو معناوو یو ملي او پښتون شاعر دئ په تخیل کي هم له دې محیطه نه وزي، د پښتنو په حیات خبر او پوه دئ، په دې بیت کي د پښتنو فولکلوري د معالجو لاري څنګه یو ځای ښوولي دي:

ستا د زلفو مار چیچلی نه رغېږي
په ستانو په زیارتونو په دم هــــم

سکندر خان د "مهر او مشتري" په نوم یو بل کتاب هم نظم کړی دئ، چې اوس لکه د ده دېوان ورك دئ او نسخې یې هیڅ نه مومو، دا کتاب په (۷۷۸) هجري کال محمد بن احمد العطار التبریزي په پنځه زره بیته نظم کړی و، چې څو تنو شاعرانو په ترکي هم نظماً ترجمه کړی دی[۲].
سکندر خان هم لکه چې دغه کتاب پښتو ته نظماً رانقل کړی دئ او خپل ادبي

---

۱ -تاریخچۀ شعر پښتو.
۲ -کشف الظنون، ج ۲، ۳۷۳ مخ.

اقتدار يې ښکاره کړی دئ.

د سکندر خان دغه يوه بدله چي موږ ته رارسېدلې ده، تر يوه دېوان ګرانه ده :

مـغـنـي ګـوتـي پـه ځـيـر ږدي پـه بـم هـم
هـم سـاقـي شـتـه هـم بـهـار و صـنـم هـم
ستا د عشق د غشي هسي ځای پرهار دئ
چي ريښـه پرې ايښـووی نه شي مرهم هم
سـتـا د زلـفـو مـار چـيـچـلـی نـه رغـېـږي
پـه سـتـانـو پـه زيـارتـونـو پـه دم هـم
تـا چـي مـخ ورتـه ښـکـاره کـړ لـېـونـی شـو
پـاس د غـرونـو پـه سـر ګـرځـي پـه سـم هـم
هـغـه راز د مـحـبـت چـي پـټ لـه تـا دئ
زړه خـبـر ورځـنـي نـه شـو قـلـم هـم
د خـوښـئ پـيـالـه پـه لاس کـي نـن زمـا ده
درد زحـمـت راڅـخـه وتـښـتـېـده غـم هـم
پـه لـذت دي د سرو شونډو کـوثـر هـيـڅ کـړ
د حـيـات اوبـه لا هـم د زمـزم هـم
د يـوه لاس نـغـاره هـسـي آواز کـا
دا افـسـر کـلاه بـه سـتـا نـه وي دم هـم
کـه نـاسـتـې د يـار د کـوی پـه خـاورو مـومـي
بـاغ بـهـار د "سـکـنـدر" دئ ارم هـم[1]

(۱)

۳۹

# صدر خان خټك

صدر خان د خوشحال خان زوی دئ، چي د خپل مشهور پلار تر ادبي او علمي روزني لاندي يې لکه نور خپل اديبان وروڼه، د شعر او ادب متين ذوق او روڼه قريحه

---

۱ -کليد افغانی، ۳۸۸ مخ.

موندلې او د خوشحال خان د ادبي مکتب يو پياوړی اديب دئ.
صدر خان لکه خپل نور ورونه يو اديب او شاعر او پوه پښتون دئ، چې پخپله کورنۍ کې د کلام په متانت او د شعر په پوخوالي تر "هجري" او "عبدالقادر خان" وروسته مقام لري. ژوندون يې عاشقانه دئ، د عشق او مينې د دنيا سوی او خوږ تر هر څه خوښوي، او د نړۍ ټوله دفاتر او علوم، د مينې تر يوه لوست قربانوي[1] :

د عشق يو سبق کافي دئ
نور د کل جهان دفتر هيڅ

## اشعار او آثار :

صدر خان د پښتو يو باذوقه او متين او د لوړې قريحې خاوند اديب دئ، يو خوږ د شعر ديوان لري، چې متاسفانه ډېر نایاب دئ او فقط هيوز انګليس په کليد افغاني کې په (۱۸۹۳ ع) کال يو څو بدلې ځنې اقتباس کړي دي، چې موږ يې ادبي ذوق او اقتدار ځنې معلومولای سو، دی پخپلو بدلو کې کله ځان "صدر خوشحال" او کله يوازې "صدر" يادوي.

"صدر خان" د خوږو اشعارو پر ديوان علاوه، د نظامي خسرو او شيرين هم په پښتو شعر ترجمه کړی دئ، چې نسخې يې خورا لږ دي، او نه مونده کېږي.

"صدر خان" په شعر کې د خوشحال خان پر سبک ځي، او د خپل پلار پيرو دئ، کلام يې د خټکو د کورنۍ په څېر خوږ او بې وله او سليس ښکارېږي، لاندې بدلې د ده د کلام د نمونې په ډول ولولئ :

## غزل

---

۱ -تاريخچهٔ شعر پښتو د حبيبي.

لکه زړه چي زما وسو ستا په غم کي بېلتون هسي[۲]
مه شه وريت د جدايۍ په اورکي بل يو لړمون هسي
خط په مخ د ښايسته وو د قضا نښي هم داسي
هرکمال زوال پذير دئ د دې خط دئ مضمون هسي
لکه زده دي د ستا سترګو د جهان په مخ دلبره
نه دئ هسي چا ليدلی جنون هسي افسون هسي
لکه ما د يار په مخ کي وجود وسو بيا ژوندی شو
هيخ پتنګ موندلی نه دئ، له څراغه ژوندون هسي
څه ساعت به د دنيا وي چي مي هسك ستا په غمونو
ازلي پرېووت محبوبي څوك به راوړي شګون هسي
پرون سور په انبالۍ ته نن په کټ د جنازې ځې
دا دنيا ده دا يې دود دئ چي نن هسي پرون هسي
چي تا ويني ګل ته ګوري اوبه ويني تيمم کړي
په همه مذهب مردود دئ که څوك کاندي تېبون هسي
لکه موج په بېلتانه کي زما زړه وهي له سترګو
په دا موج کله بهېږي جيحون هسي سيحون هسي
ستا ځواب عبدالقادره په دا رنګ "صدر خوشحال" کړه
څو بې خانه زه ويل کړم بل به نه کا پښتون هسي

(۱)

ستا تر لب لعل و ګوهر هيڅ
ستا تر زلفو مشك عنبر هيڅ
حجاب واچوه له مخه
آفتاب محوه کړه قمر هيڅ
خريدار چي يې بې نياز وي
د چشمانو درګوهر هيڅ
چي د عشق بدرقه نه وي
په خونخواره لار سفر هيڅ
ستا تر قده تر قامته
صنوبر چنار عرعر هيڅ
سنګين زړه دي نرم نه شو
په ژړا زما احقر هيڅ
د عشق يو سبق کافي دئ
نور د کل جهان دفتر هيڅ

---

۱ -دا بدله د عبدالقادر خان په مشاعره اړه لري.

ستا ګفتار "صدر خوشحاله !"
کان د کان کـړه د شـکر هیڅ

﴿٤٠﴾

# خواجه محمد بنګښ

خواجه محمد له هغو پښتنو شاعرانو څخه دئ، چي د خوشحال خان معاصر او د اورنګ زېب په عصر کي ژوندی و، د خواجه محمد نور سوانح نه دي ښکاره خو لکه نور خپل معاصرين د مغولو له مظالمو څخه ډېر شکايتونه لري، او دا ځني ښکارېږي چي خواجه محمد هم لکه نور ملګري له وطنه ورك او پردېس و، دی پخپله وايي :

د اورنګ په پادشاهي کي مي نیاو نه شي
زه خواجه محـــــمد به ووزم و بل لـــــور ته

د خواجه محمد له ويناوو دا اوڅارېږي چي دی يو متصوف او جره سړی و، د طريقت او عرفان د لاري تلونکی او يو داسي سالك و، چي د ده کلام هم ټوله په دغو حالاتو ډك دئ.

## اشعار او افکار :

د خواجه محمد اشعار د دېوان په ډول ټول سوي او مردف دي، مګر بشپړ دېوان يې تر اوسه نه دئ نشر سوی، د ده اشعار په فصاحت او بلاغت او نورو ادبي ښېګڼو کي اوسطه درجه دي، عشقي، عرفاني، اخلاقي مضامين لري، چي يوه برخه يې مستشرق راورټي په "ګلشن روه" او هيوز انګليس په "کليد افغاني" کي نشر کړېده.

خواجه محمد په فکر کي پوره صوفي دئ، دی د عرفان په مسئلو کي د مرشد او هادي پر اهميت ډېر تاکيد کوي، چي سړی بايد خپل ځانته د طريقت پر لار کامل مرشد او لارښوونکی ومومي.

د ده د شعر ډېره برخه هم د دغي مسئلې تاکيد او شرح ده، مثلاً:

کاملانو څخه هسي رنګ کیـمیا ده
تر قـــربان د کېمياګرو واړه زر شه
چي کامـــــل و تاته وايي هغه وکړه
که بزرګ نه شوې بيا هله مرور شه

خواجه محمد اخلاقي مضامين هم په ښه ډول وايي، او په ادبي تلازماتو کي هم له خپلو معاصرينو څخه تر شا نه پاتېږي، مثلاً په دې بيت کي يو خورا زوړ او مبتذل مضمون يې په يوه حسي تشبيه سره نوی کړی دئ:

زړونه مه ماتوه لعل د بدخشان دي
بيا مشکل دي رغول د شکسته وو

خواجه محمد که خپل شعر او قريحه فقط عرفاني مضامينو ته نه وای بېله کړې، او په نورو خواوو کي يې هم څه ويلي وای، نو به د پښتو له لومړۍ درجې شاعرانو څخه وای، ځکه چي دی داسي روڼه قريحه لري چي نوي مضامين هم موندلای سي، مګر روحاني جذب او هيجان دی مادياتو ته لږ پرې ايښی دئ. که نه وي کله کله چي د بلاغت او ادب ميدان ته راسي، داسي مضامين مومي، چي بل چا نه وي موندلي، د مثال په ډول د دې يو بيت بلاغت او ادبي طراوت او بديعي کيفيت وګورئ :

ګوتې توري کړې په ما يې کړې راپوري
زه حـــيران يم ســـتا د سپينو ګوتو تور ته

توري ګوتي پوري موښل او تور د پښتو خصوصي محاورات دي، چي د تهمت معنا ورکوي، د سپينو ګوتو تور، يو ښه بديعي کيف لري.

د خواجه محمد يو څو غوره بدلي :

چـي پـادشـاه يـې د جـمـلـه وو ښـايـسـتـه وو
خـبـر واخـلـه د عـاجـزو خـوار خـسـتـه وو
زړونـه مـه مـاتـوه لـعـل د بـدخـشـان دي
بـيـا مـشـكـل دي رغـول د شـكـسـتـه وو
زړه مـي سـتـا پـه مـحـبـت سـره تـړلـی
نـظـر وكـړه پـه دا خـپـلـو دل بـسـتـه وو
د چـمـن گـلـونـه واړه پـرې تـازه شـوه
شـمـال راغـی سـتـا د مـخ لـه گـل دسـتـه وو
درسـت يـې ويـسـتـم لـه عـقـلـه لـه شـعـوره
سـتـا خـوږو خـوږو خـبـرو آهـسـتـه وو
چـي يـې قـد و قـامـت سـتـا پـه سـترگـو ولـيـد
مـلا شـوه ټـيـټـه د هـمـه و آراسـتـه وو
زمـا سـر بـه تـر اووم اسـمـانـه تـيـر شـي
كـه مـي كـړې د خـپـل مـجـلـس لـه نـشـسـتـه وو
يـاره سـتـا پـه څـېـر نـېـك خـويـه سـړی نـشـتـه
مـگـر تـا زده كـړ دا خـوی لـه فـرشـتـه وو
سـر و مـال بـه هـمـگـي ځـنـي قـربـان كـړم
زه "خـواجـه مـحـمـد" مـريـد د ښـايـسـتـه وو

که دا ما غوندي غریب پرېوزي و اور ته
ستا سنګین خاطر به نه شي کښته پورته
د عاشق له آه سرده نه وېرېږې !
ته هر ګوره ډېر غره یې و خپل زور ته
یا وفا دي هیڅ زده کړې چیري نه ده
یا خو نه ګورې له کبره و سر تور ته
ستا په عشق کي هسي چاري په ما وشوې
چي له شرمه کتی نه شم کلي کور ته
ګوتي توري کړې په ما یې کړې راپوري
زه حیران یم ستا د سپینو ګوتو تور ته
نور عالم مي همګي لېونی بولي
دواړه غوږ مي دي نیولي و پېغور ته
د اورنګ په پادشاهي کي مي نیاو نه شي
زه "خواجه محمد" به ووزم و بل لور ته

روغ عـالـم تـه د زړه حـال ويـلـی نـه شـم
کـه يـې نـه وايـمـه درد زغـمـلـی نـه شـم
په تمام خلکو کي هسي رنګ مطعون يم
چي لـه خـپـلـي غـمـخـانـې وتـلـی نـه شـم
د تـهـمـت لـه غـمـه پـروت يـم سـترګـي پټې
زه لـه شـرمـه چـا تـه غـټې کـتـلـی نـه شـم
حلق مي هسي د هجران پر پياله تريخ دئ
چـي د دې دنـيـا خـواږه څـکـلـی نـه شـم
يـار زمـا پـه حـال خـبـر دارو مـي نـه کـا
د رقـيـب لـه وېـري حـال ويـلـی نـه شـم
زه بـه هـم لـه يـاره لـيـري پـر هـيـواد شـم
په هـيـڅ رنګ د يـارۍ پـټ شـلـولـی نـه شـم
د فـراق اوښـي مـي تـل پـر مـخ بـهـېږي
پـه لـېـمـه کـي د يـار خـال سـاتـلـی نـه شـم
هـمـېـشـه لـکـه لالـه ويـنـي د زړه خـورم
زه "خـواجـه مـحـمـد" څـرګـنـد ژړلـی نـه شـم
زه "خـواجـه مـحـمـد" هـرګـوره دروغـجـن يـم
چـي د يـار پـر مـيـنـه سـر ښـنـدلـی نـه شـم

په ما غم دئ واړه ستا د مینې مینې
زړه مې درست پاره پاره شو وینې وینې
اندرون کوګل مې درست له وینو ډګ شو
ظاهري جامې اغوستې سپینې سپینې
بیا دې نوې پرهارونه په ما روغ کړه
لرغونې مې لا روغ نه دي ځینې ځینې
په ژوندون یې څه احسان راسره نه کړه
څه په کار دي که یې کړې په مړینې مړینې
زه دې درست له باغه ویستم دلبره !
تور زاغان پکښې مېوې خوري خوږینې خوږینې
تورو زلفو دې خوشبویه کړه ملکونه
دواړه کلوښتې دې د مښکو چینې چینې
خماري سترګې دې دواړه شنه مزري دي
د "خواجه محمد" و مرګ ته وږینې وږینې

# رحمان بابا

هر کله چي عبدالرحمن بابا په یوه غریبه کورنۍ کي پیدا سوی دئ، نو د دې نامتو شاعر ابتدایي معلومات تر اوسه چا مفصل نه دي لیکلي، د ده د خپلو ځیني شعرونو او د بعضي خارجي پوهانو د معلوماتو څخه دومره معلومېږي چي د میني په کټارو ژوبل عبدالرحمن په قام مهمند[1] (سړبنی) او د مهمندو په علاقه په یو کلي کي چي بهادر کلی نوم لري پیدا سوی دئ. دا کلی د کوهاټ د سړك په غاړه د پېښور له ښاره پنځه میله جنوبي اړخ ته پروت دئ، عبدالرحمن په خپله زمانه کي یو صوفي مشرب او په عشق کي داسي ډوب شاعر تېر سوی دئ، چي خپلي فقیر مزاجۍ او په خپل عشق کي فنا سوي حالت، دی خپل کلي هزارخانې ته په تلو او استوګنه مجبور کړ.

د دې کلي خلك تر اوسه هغه ونې ته چي دا نامتو ادیب به تر لاندي کنښناست او د جمال، او قدرت په ننداره او محبت به بوخت او د خپل حقیقي محبوب د عشق په نشه کي به یې په پښتو ژبه خواږه خواږه اشعار ویل، په ډېره درنه سترګه ګوري او ډېر احترام یې کوي، د ده وفات او د عمر پوره معلومات زموږ لاس ته لا تر اوسه نه دي راغلي، مګر د ځیني محققینو د معلوماتو خلاصه دا ده چي دی په هزارخانه کي د اخوند درویزه هدیرې ته نژدې ښخ دی[2].

ځکه چي رحمان بابا تماماً له جسمانیته وتلی، او د روحانیت په دنیا کي ډوب و نو ده پخپله وینا کي د خپل عمر او حیات کوم ذکر، د نورو شاعرانو په ډول نه دئ کړی، فقط دومره ځني ښکارېږي چي دی تر اورنګ زېب وروسته هم د شاه عالم په عصر کي ژوندی و، لکه چي وایي : (اوس د شاه عالم نوبت دئ).

شاه عالم د اورنګ زېب زوی په (۱۱۱۸ هـ) کي پاچا سوی دئ نو تر دغه کاله خو زموږ دا نومیالی شاعر ژوندی و.

رحمان بابا د خپل عصر وقایعو ته تنقیدي کاته هم لري، دی د خپل عصر د لویو پاچهانو اوضاع په دې بیت تنقید کوي :

---

۱ -هیوز مستشرق لیکي، چي رحمان بابا د مهمندو د ابراهیم خېلو له پښې څخه و.

۲ -د هیوز د کلید افغاني مقدمه، ۱۸۹۳ ع،

بيا دارا او اورنګـــــزېب وته حيران يم
چې يې څه چارې واقع شولې تر ميان

ځيني پوهان دا هم وايي چې رحمان بابا په زلميتوب کي يوه پلا د پښتو پلار خوشحال خان سره په اکوړه کي ليدنه کړې ده او د پښتو دې دوو لويو شاعرانو سره ليدلي دي[1].

د دې روايت سره سم نو موږ د دې خپل نوميالي پښتون شاعر د ژوندون کلونه له (۱۰۵۰ هـ) څخه تر (۱۱۲۰ هـ) پوري تخمين کولای سو، ځکه چې خوشحال خان په (۱۰۲۲ هـ) کي زوکړی او د رحمان بابا ژوند د ده له وينا څخه د شاه عالم تر جلوسه (۱۱۱۸ هـ) يقيني دی.

## د رحمان بابا دېوان :

د رحمان بابا دېوان په دوو دفترونو کي ليکل سوی دئ، په دې دواړو دفترونو کي د شاعرانه فن او اديبانه نازکخيالۍ د رويه څه خاص فرق نسته، دواړه دفترونه د يو پوخ فکر او لوړ دماغ نتيجه معلومېږي.

ځيني مورخين دا خيال لري چې رحمان بابا خپل دېوان په خپل ژوند لکه د نورو اکثرو شاعرانو نه دی مرتب کړی، بلکي ده به چې کوم يو نظم ليکی نو خپلو دوستانو ته به يې د تحفې په ډول وړاندي کاوه.

د رحمان بابا له وفات وروسته دغو قدردانو دوستانو د رحمان دېوان په دې موجوده صورت مرتب او خپور کړ.

محققين مورخين دې خبرو ته اهميت نه ورکوي او وايي چې رحمان بابا خپل دېوان په خپل ژوند غونډ او مرتب کړی دئ، ليکن دا موجوده دېوان د رحمان ټول اشعار نه دي ځکه چې د رحمان ډېر اشعار په دې موجوده دېوان کي نسته، مګر د پښتنو په خولو کي جاري دي. چې پښتانه مجلسيان يې په ډېر شوق سره په خپلو مجلسونو کي وايي او د رحمان بابا اشعار يې ګڼي.

د رحمان بابا اشعار ډېر ساده او سليس او روان دي او د اشعارو مضامين يې عموماً عشقي، اخلاقي، ديني، اجتماعي دي او د تصوف لويه برخه لري، په پښتنو کي دا دېوان يو فوق العاده شهرت لري، چې د بل شاعر دېوان داسي شهرت نه دئ موندلی، د رحمان بابا دېوان د پښتنو په هره طبقه کي په درنه سترګه کتل کېږي او خلک ورباندي ډېره ښه عقيده لري او ټوله پښتانه د رحمان پر شعر مين دي.

---

۱ – هيوز د کليد افغاني مقدمه.

## د رحمان بابا شاعري :

رحمان بابا د شاعرۍ په فن کي د مستقل مکتب خاوند او لوی معلم دئ[1] دی په خپل سبك او شعري تلازماتو او استعاراتو او تشبيهاتو او نورو اديبانه نزاکتونو او روان او ساده ډول کي ځانته د اجتهاد خاوند دئ، لکه چي پخپله وايي :

چي دا نور شاعران کاندي هغه نه کا
رحـــــمان کړی نوی نوی اجتهاد دئ

رحمان بابا په خپل شعر کي د پښتنو د فطري جذباتو او ملي احساساتو په ساده او روانو او خوږو الفاظو داسي ښه ترجماني کړېده، چي هر څوك د خپل ذوق مطابق په هر ځای او موقع کي استفاده ځني کوي.

رحمان سره د دې چي په تصوف کي ډوب شاعر دئ، سره د دې هم د ده په شعر کي د انسانانو د معاشرت او اجتماعي ژوندون لوړ نکات سته، د اخلاقو او تهذيب او نوعي پېرزويني درس ورکوي، او د پښتنو د ملي شئوناتو او فطري جذباتو مخصوصو تېڅيراتو بيان په ښه ډول کوي، او کلام يې له بلاغت او فصاحته ډك دئ.

کله کله چي د فلسفې خوا ته ولاړ سي ځني مهم مسائل په ساده ژبه وايي، مثلاً دا خبره چي د عشق او جذب[2] د دنيا د حرکاتو اساس دئ، د مشرق په شاعرۍ کي ډېره يادېږي، رحمان بابا يې په داسي ساده وينا ادا کوي :

دا جهان دئ خدای له عشقه پيدا کړی
د جمله وو مخـــــــــلوقاتو پلار دئ دا

کله کله چي مين د بېلتون په ترخو کي خورا وربېږي، نو دی غواړي چي خپل دغه خوږ او دوك محبوب ته په دې توګه ښکاره کي، چي کشکي دی عاشق او زه معشوق وای چي زما د زړه خوږ ورښکاره سوی وای، رحمان بابا دا نازك حال داسي معشوق ته ښيي :

تماشه به زما هله درښـــــــکاره وي
که ته ما غوندي بېدل او زه دلبر وی

رحمان بابا په شاعرۍ کي فقط د خپلو پاکو احساساتو ترجمان دئ او دی د خپل شعر مقام په دې لوړوي چي د چا مدح يا هجو نه کوي، پخپله وايي :

بې له عشقه که مي عيب که مي هنر دئ

---

١ ـ د دې کتاب په مقدمه کي د رحمان بابا سبک وګوري.

٢ –مولوي بلخي وايي : دور ګردون را زموج عشق دان
ګر نبودی عشق بفسردی جهان

ما غـــوځ کړی دی له ځـــــــانه دا پیوند

د رحمان بابا د تصوف پاخه افکار له دغه یوه بیته ښه ښکاره کیږي :

زه د یار میني په یار پسي شـــیدا کړم
که څوك ما ګڼي زه نه یم واړه دی دئ

## اجتماعي افکار :

رحمان بابا که څه هم یو متصوف شاعر دئ او دی د دنیا له کرغیړنو څخه بد وړی، مګر بیا هم د ده په کلام کي د پښتونوالي روح سته. یعني دی خلك یوازي رهبانیت ته نه بولي، بلکي د ژوندون ښه ښه درسونه هم ورکوي، او هر کله داسي مضامین وایي چي په هغو کي د ژوند پیغام پټ دئ، دی دنیا ته بده نه وایي او د دنیا ژوند ښه ګڼي :

ښه ده ښـه ده دا دنیا
چي توښه ده د عقبا

دغسي هم رحمان بابا خواږه او ډیر ګرانبها اجتماعي نصایح لري، د اجتماع ځیني اساسي مسائل په ساده الفاظو بیانوي، مثلاً دا مسئله چي هر خادم مخدوم دئ او هر مشر د خپل قوم خادم دئ او د قوم خدمت څومره ګټي لري، په دې بیت کي څنګ راښیي :

هـغه زړه به لـــه توپانه په امــــان وي
چي کښتۍ غوندي د خلکو باربردار شي

رحمان بابا په اجتماعي دنیا کي فقط د نوعي عشق پر خوا دئ، او په دې مینه کي داسي لاهو دئ چي نور امتیازات او د بېلتون شیان ځني ورك دئ او دا هغه مقام دی چي (زیمن عشق به کونین صلح کل کردم) رحمان بابا وایي :

زه عاشق یم سر وکار مي دئ له عشقه
نه خلـیل نه داودزی یمه نه مهــــمند

په دې ډول رحمان بابا د پښتنو پر ځیني قومي بېلتونو هم تنقید کوي، او ځان له دې تنګي دائرې څخه باسي.

رحمان بابا د اجتماعي ژوندون او ښې ګذارې نقشه په دې بیتو کي په څه ښه ډول څرګندوي :

په ښه خوی د بد خواهانو بې پروا یم
په نرمۍ لــــکه اوبه د اور ســـزا یم
و هر چا ته په خپل شــکل څرګندیږم
آئینه غــــــوندي بې رویه بې ریا یم

د انسان له پاره ثبات او ټینګار د ژوندون او بري یو اساسي رکن دئ، رحمان

بابا خپل پښتني استقامت او د مېړاني ثبات څنګه په دې بيت کي راښيي :

لکه ونه مستقيم په خپل مکان يم
ګاه خــزان راباندي راشي ګاه بهار

د رحمان بابا د کلام نمونې :

تـر حـده تـېـره شـوه پـه يـار پـسـي ژړا ځـمـا
نـه ګـروهـېـږي پـه ژړا سـره اشـنـا ځـمـا
کـه مـي هـره ويـنـا دُر و مـرغـلـري شـي
لايـق د غـوږو نـه ګـڼـي ويـنـا ځـمـا
پـه نـارو بـه مـي بـيـدار کـړ کـه خـوب وړی وي
بـاري ويـښ راتـه اوده شـو دلـربـا ځـمـا
زه مـکـتـوب غـونـدي پـه پـټـه خـولـه ګـويـا يـم
خـامـوشـي ځـمـا تـېـری کـا تـر غـوغـا ځـمـا
ګـنـبـت د عـشـق پـه تـوده ځـمـکـه امـان چـيـري
سـمـنـدر بـويـه چـي زيـسـت کـا پـه صـحـرا ځـمـا
دا يـار نـه دئ چـي هـجـران لـه مـا بـېـل کـړی
روح ځـمـا دئ چـي لـه تـنـه دئ جـدا ځـمـا
زه "رحـمـان" بې خـپـلـه يـاره نـور څه نه غـواړم
کـه قـبـولـه شـي د خـدای پـه در دعـا ځـمـا

ستـا پـه مخ کي څـه حسـاب د جمـال نشتـه
ځــکــه مــا څــخــه د صــبــر مــجــال نــشــتــه
تـــه د ســـر و د مـــال وېـــره پـــه مـــا مـــه ږده
وېـــره مـــا څـــخـــه د ســـر و د مـــال نـــشـــتـــه
زه پـــه دا ســـبـــب لـــه وېـــري ســـره رېـــږدم
چـــي ســـتـــا وېـــره د ثـــواب د وبـــال نـــشـــتـــه
کــه وعــده د يــوې چــاري يــو ســاعــت کــړي
د هـغـې چـاري امـيـد مـي پـه کـال نـشـتـه
د شــهــيــدو حــال تــه ګــوره حــال يــې څــه دئ
بې تـا هـسـي ځـمـا حـال دئ بـل حـال نـشـتـه
روښـنـايـي مـي د چـشـمـانـو سـتـا ديـدن دئ
پـه دا کـور کـي بـل چـراغ و مـشـال نـشـتـه
پـه جـويـبـار ځـمـا د سـتـرګـو سـروه تـه يـې
پـه دا نـهـر بـانـدي غـيـر نـهـال نـشـتـه
مـخ دي بې خـط و بې خـالـه هـسـي زېب کـا
چي يې هيـڅ حـاجت پـه خط او پـه خال نشته
د آفـتـاب پـه مـخ کـي هـره ورځ زوال دئ
سـتـا د حـسـن پـه آفـتـاب کـي زوال نـشـتـه
ستا پـه ياد زه "رحمـان" هسي رنګ مشغول يم
چي پـه زړه کـي مـي هـيـڅ غـم د وصـال نـشـتـه

په دنیا کې مخ د یار دئ نور څه نشته
هر څه دئ د یار دیدار دئ نور څه نشته
چې و هجر و وصال ته یې نظر کړم
یو دوزخ دئ بل ګلزار دئ نور څه نشته
کارخانه چې د دې دهر لیده کېږي
همګي د عشق سرکار دئ نور څه نشته
هر مژګان یې په ما هسي چاري کاندي
وایم عین ذوالفقار دئ نور څه نشته
بویه مرد چې یې له مخه زلفې واخلي
دغه ګنج دئ دغه مار دئ نور څه نشته
د محسن د محسنات صفت به څو کړم
کوتاه وایم چې بې شمار دئ نور څه نشته
و هر لور ته چې د زړه په غوږو ځیر شم
جوړ د محبت بازار دئ نور څه نشته
هر طبیب ته چې ځان وښیم دا وایي
چې له عشق دي آزار دئ نور څه نشته
خوار "رحمان" که بې تا مینه په چا وکه
عین د قتل سزاوار دئ نور څه نشته

ګوره بیا به ښه ادا کا په زړه غونده
چي دا هسي مسته ګرځي مخ برمنده
ته چي ګل د آشنایۍ له باغ غواړې
خبر زده کړه د هجران له خار و خنده
طالبان که مرور دي هم پخلا دي
بې مطلوب و چا ته نه رسي دا هنده
ما رستم د دهر ولیده په سترګو
د خپل یار له جوره ژاړي لکه کنده
د عاشق د لاغرۍ سبب هم دا دئ
چي فرقه د معشوقو شوه په زړه پنده
زه به حوري د جنت بې یاره ښه کړم
خدای دي سروه د چا نه کاندي ارهنده
سخت ساعت د بېلتانه به مي هېر نه شي
که را ډکه شي د تور لحد ګورهنده
زه "رحمان" د هغه حسن ثناګوی یم
چي جرګه د عاشقانو ده پرې پنده

مدام ناست یم وچ کوګل سترګي په نم کي
عشق راوښو بحر و بر په خپل حرم کي
ما چي زخم ستا دتوري په خوله کښل کړ
نور مي دا لذت بيا نه موند په مرهم کي
دې مجنون چي سر په پښو د ليلا کښېښو
سربلند شو په عربو په عجم کي
زور ور مدام غالب وي په کمزوريو
زه له نوره غمه خلاص يم ستا په غم کي
لکه زه چي مستغرق يم ستا په غم کي
بل به نه وي په جمله بني آدم کي
لکه مړ چي د ژونديو په ميان پروت وي
هسي بېل يم له عالمه په عالم کي
هيڅ يو دم مي د دم ګريو په دم نه شي
هم په دا چي ځما دم دئ ستا په دم کي
نه مي بې تا ګفتګوی نه جست و جوی شته
مراد مي ته يې په هر دم په هر قدم کي
که نصيب مي شي کوزغالی ستا د سپيو
و به نه کړم نور نظر په جام د جم کي
سره په وينو د سرو ګلو په څېر زانګي
هزار زوړنه ستا د زلفو په هر خم کي
زه "رحمان" کناره خوښ وم له عالمه
ياره ستا کتو رسوا کړم په عالم کي

تــور لــېـمـه مــي د فــراق پــه ژړا ســپــيــن شــو
دوبــاره د زړه پــه ويــنــو کــي رنـګــيــن شــو
مـــا وې زه بـــه لا ديـــدن کـــړم د يـــارانـــو
خـبـر نـه وم چـي يـاران پـه کـوچ تـعـيـن شـو
چـا پـتـنـګ غـونـدي ځـان واچـاوه و اور تـه
څـوک ژونـدی لـکـه بـلـبـل پـه آتـشـيـن شـو
و مـرده و تـه د مـرګ خـوارۍ شـوې پـېـښـې
او ژونـدي پـه زنـدګـي کـي انـدوهـګـيـن شـو
د قـضـا سـپـاهـيـانـو هـسـي لاس پـه تـاخـت کـړ
چـي پـايـمـال هـزار خـسـرو هـزار شـېـريـن شـو
چـي قـدم يـې پـه آسـمـان ايـښـود لـه نـازه
هـغـه هـسـي نـازپـرور زېـر زمـيـن شـو
چـي مدام يې پـه سنجاب د پاسه خوب کـړ
اوس پـه ځـمـکـه بې بـسـتـره بې بـالـيـن شـو
د "رحـمـان" خـاطـر بـه ولـي پـرېـشـان نـه وي
چـي پـرېـشـان ور څـخـه جـمـع هـمـنـشـيـن شـو

کـه دلـدار پـه دلـداري ځـمـا قـدم ږدي
ګـویـا هـر قـدم پـر لـوري د حـرم ږدي
ځـای لـري کـه بـې مـنـتـه بـوسـه راکـه
کوم کـریـم پـر چـا مـنـت د خـپـل کـرم ږدي
مـعـشـوقـه مـشـفـقـه بـویـه مـهـربـانـه
نـه قـارون چـي پـر ځـان اسـم د حـاتـم ږدي
خـدای و مـا وتـه ګـلـونـه د جـنـت کـړه
کـه داغـونـه مـي پـر زړه بـانـدي د غـم ږدي
هـسـي پـټ لـرم دا زیـړ رخـسـار لـه خـلـکـه
لکه زر چي څوك له خلکه پټ پنهم ږدي
هیڅ مانه دي څوك له مستو سترګو نه کا
کوم یو مست دئ چي قدم پر لاري سم ږدي
راحـت بـې زحـمـتـه نـه دئ چـا مـونـدلـی
کوم طبیب پر روغ صورت باندي ملهم ږدي
زه هـرګـوره تـر خـپـل یـار پـوري شـرمـېـږم
برهمن چي سر په پښو د خپل صنم ږدي
و آسـمـان تـه لاس د عـقـل نـه رسـېـږي
ګنه عشق په عرش کرسي باندي قدم ږدي
زه "رحـمـان" یـې تـاج ګـڼـم د یـار لـه لاسـه
کـه مـي پـنـډ پـه سـر د جـور و د سـتـم ږدي

کــشــکــي زه خــاوري ایــرې ســتــا د در وای
چــي قــدم دي هــمــېــشــه ځــمــا پــر ســر وای
خــو یــو ځــلــه ځــمــا و ســتــا و بــل تــه مــخ شــوی
نــور مــي مــوخــه ســتــا و غــشــیــو تــه تېــتــر وای
تــمــام تــن مــي د رنــجــو پــه شــان ووړ ووړ شــوی
خــو پــر مــا د تــورو ســتــرګــو یــو نــظــر وای
پــه زېــړ رنــګ پــه ســپــیــنــو اوښــیــو بــه مــا بــیــا مــونــد
کــه د تــرکــو مــلاقــات پــه ســیــم و زر وای
مــلامــت بــه پــر مــا څــه لــره وایــه شــو
کــه ســتــا لــه دلــبــرۍ نــه څــوك خــبــر وای
مــرتــبــه کــه ســتــا د عــشــق کــړم ور څــرګــنــده
مــلایــك بــه واړه وایــي کــه بــشــر وای
تــمــاشــې بــه ځــمــا هــالــه درښــکــاره شــوی
کــه تــه مــا غــونــدي بــېــدل وی زه دلــبــر وای
پــه خــونــبــار بــه ځــمــا ســتــرګــي غــونــدي نــه وي
کــه پــه مــخ یــې د تــېــرو تــورو پــرهــر وای
یــا نــســیــم د صــبــحــدم یــا عــنــدلــیــب شــوی
چــي دا ســتــا پــر ګــلــشــنــو ځــمــا ګــذر وای
ســتــا پــه درد کــي طــبــیــب وایــي و "رحــمــان" تــه
لا بــه ښــه وو کــه دي حــال تــر دا بــتــر وای

مخ د یار شمس و قمر درې واړه یو دئ
قد یې سرو صنوبر درې واړه یو دئ
حاجت نه لرم په شهدو په شکرو
لب د یار شهد و شکر درې واړه یو دئ
که بې یاره په بستر د پاسه پروت یم
نار و خار و دا بستر درې واړه یو دئ
چې و در او و دېوار ته یې نظر کړم
باغ بوستان او دغه در درې واړه یو دئ
چې غبار یې د کوڅې رابا ندي راشي
دا غبار مشك و عنبر درې واړه یو دئ
خدای د یار له هجره هیڅوك خبر مه کړه
تاخت و قتل و دا خبر درې واړه یو دئ
هغه دم چې سړی درومې له جهانه
توري خاوري سیم و زر درې واړه یو دئ
قلندر که په رشتیا قلندري کا
خان سلطان دا قلندر درې واړه یو دئ
ور دي نه شي په پردئ ځمکه هیڅوك
مبصر و کور و کر درې واړه یو دئ
چې دي نه پکښې یو یار نه دي اشنا وي
هغه ښهر بحر و بر درې واړه یو دئ
په دوکان د نابیناوو جوهریانو
خرمهره لعل و ګوهر درې واړه یو دئ
دا پیران دي عار ځما له عشقه نه کا
پاك عاشق پیر و پدر درې واړه یو دئ
په سبب د ظالمانو حاکمانو
ګور و اور و پېښور درې واړه یو دئ
څه شو څه شو که ځان ستایي و "رحمان" ته
بې هنر و ګاو و هر درې واړه یو دئ

کـه څـه وایـم لـه هـجـرانـه وایـم څـه؟
لــه دې درد بــې درمــانــه وایــم څــه؟
تــوان د دم وهــلــو نــه لــرم و یــار تــه
چـې تـوان نـه لـرم بـې تـوانـه وایـم څـه؟
چـې یـې ووینـم لـه ځـانـه خـبـر نـه یـم
چـې خـبـر نـه یـم لـه ځـانـه وایـم څـه؟
د خـپـل زړه لـه حـالـه هـیـڅ ویـلـی نـه شـم
لـه بـې نـام او بـې نـښـانـه وایـم څـه؟
د عـشـق راز چـې هـیـڅـا نـه دئ بـیـان کـړی
تـرو بـه زه لـه بـې بـیـانـه وایـم څـه؟
د خپل یار له غمه درست په اوښیو ډوب یم
لـه دې هـسـې رنـګ تـوپـانـه وایـم څـه؟
زه چـې پـروت یـم دهـجـران پـه تـنـاره کـې
د وصــال لــه ګــلــســتــانــه وایــم څــه؟
سـر و مـال د سـړي لـوټ کـه زړه یـې یـوسـي
لــه دې هــســې دلــســتــانــه وایــم څــه؟
زاغـان بـولـي بـلـبـلان شـړي لـه بـاغـه
د دې دهــر لــه بــاغــوانــه وایــم څــه؟
هـر چـې وایـم تـر هـمـه واړو بـهـتـر دئ
زه "رحـمـان" بـه لـه جـانـانـه وایـم څـه؟

# یونس

یونس د پښتو له هغو پخوانیو شاعرانو څخه دئ، چې هیوز د کلید افغاني په چمن بېنظیر برخه کې د ده د شعر منتخبات کښلي دي. یونس د یوه ښه او بشپړ دېوان خاوند دئ، چې نسخې یې ډېرې لږ موندل کېږي، او یوه نسخه یې خورا په ښه خط او مطلا لیدلې سوېده، چې په پېښور کې د فیض طلب خان توپچي باشي په امر په (١١٧٦) کال زین الدین نومي لیکلې ده.

یونس د خوشحال خان خټك معاصر او د رحمان بابا د مکتب یو تکړه شاګرد دئ، په شعر کې یې هغه سلاست او رواني او جوش سته چې د رحمان بابا په کلام کې یې بهترینه نمونه موندله کېږي.

یونس خپلې بدلې ټوله د رحمان بابا په پیروي ویلي او د هغه لوی استاد ښه تعقیب یې کړی دئ، مثلاً رحمان بابا وایي :

زه رحمان د عشق په رنځ کې هسې خوښ یم
چې مې نشـــــته په دوا باندې غـــــــرض

یونس دغه مضمون په دې ډول ادا کړی دئ :

ستا د عشق په درد، دردمن ښه یم دلبره !
چې ذره مې په دوا نشـــــته غـــــــرض

یونس هم لکه رحمان بابا د خوشحال خان خټك سره په شعر کې سیالي او همسري کوي، او وایي :

حقیقت یې و یونس وته څرګـــند دئ
ډېر غرور دې پخپل شعر خټك نه کا

یونس د خپل استاد رحمان بابا مرثیه ویلې او د هغه د ابدي فراق په ارمان یې داسې غلبلې کړې دي :

چي پيدا له اشنايئ سره هجران شو
ځکه داغ مي په خاطر باندي ارمان شو
له رحمانه فيض ياب عبدالرحمان شو
چي له دې سرايه په نوي سراى مهمان شو
د پښتو شعر يې هسي نامه يووړه
چي خبر يې په اشعار اېران توران شو
پر لذت شعر به څوک اندې يونسه !
چي په مرګ ځني خاموش عبدالرحمان شو

د يونس د عمر په باب كي څه معلومات نه لرو، فقط د ده له ويناوو ښكاره ده چي د ځلميتوب دوره يې تېره كړې او په زړتيا كي مړ دئ، له دغو بيتو څخه يې موږ د ډېر عمر استنباط كوو :

تللى عــمر به راشي كه ته راشې
ګر چي نه راځي بيا عمر د شباب

بل ځاى وايي :

مــهر د بوسې كـــــه په يونس وشي له ياره
زوړ به د حيات په اوبو سر د سره ځوان شي

ځكه چي د ده د استاد رحمان بابا ژوندون تر (۱۱۱۸ هـ) پوري يقيني دئ[۱]، نو موږ دا تخمين كولاى سو چي يونس تر دغه وخت وروسته هم ژوندى و او د زړتيا په عمر كي وفات سوى دئ، نو ښايي چي د زوكړي وخت يې هم د (۱۰۵۰هـ) حدود وټاكو.

يونس يو عالم او پوه سړى و، په نحو، صرف، معاني، بديع، طب، فقه، تفاسير او نورو ادبي علومو كي يې مهارت درلود، د ده له اشعارو څخه د ده د علم لوړه مرتبه ښكاره كېږي.

د يونس مسكن نه دئ معلوم، فقط په خپلو اشعارو كي يې يو ځاى "ډكه" ياده كړېده، نو ښكارېږي چي د خيبر په شاوخوا كي اوسېدى :

پيادګان، كوتوال، رهدار لېوني سپي دي
پر ډكه دي خداى څـــوك نه كا برابر څوك

د يونس اشعار له ښو صنايعو او بدايعو ډك دي، اكثر بديعي صنايع يې په

۱ -وګورئ د رحمان بابا سوانح.

دېوان کي لېدل کېږي، مثلاً :

ارسال المثل :

عاشقي مي لکه لمر هسي ښکاره ده
پټېدی په ګـــــوته نه شي لمر ځـــــما

تقسیم :

زه له جرمه ستړی نه شوم ته له فضله
دا ځـــــما رسم دســــتور دئ دغه ستا

حسن تعلیل :

په یو خال چي یو په لس شي عجب نه دئ
که په دوه خاله شــــمېره شي لس په صــد

لف و نشر غیر مرتب :

توري زلفي، شــــنه خالونه، سره رخسار
شنه توتیان دي، سره ګلونه، تور ښامار

تقابل :

په اهاړ تر سپینو ګلو سپیني واوري
په ځــله تر سرو ګلونو اور بهـتر دئ

تضمین :

عاشقان دي د سرو سترګو کشتګان دي[1]
په زیارت د شهــــیدانو ګـــــــذر بویه

د محمد په نامه معما :

خم چي یونس واړاوه څخوېکی ځني پرېووت
هـــوښ له مدهوښ ورك کا اسم لوی و د هغه

د یونس په شعر کي راز راز مضامین وینو، اخلاقي، اجتماعي، عشقي غوره بیتونه لري، په تصوف کي هم پوخ ګڼېږي، مثلاً :

چي د خپل وجود له حاله خبر نه يې
بېهوده په قـــیل و قال يې د افلاك

یونس د پښتونوالي پر ډګر هم یو کلك پښتون دئ، د ده له شعره د ده پښتني احساسات ښکاره دي، لکه چي وايي :

---

١ -دوهم مصرع د رحمان بابا څخه تضمین سوی دئ.

د میدان په ورځ چي تېښته کا له جنګه
پاتي هیڅ نه شي باقي له نام و ننګه
له میدانه تېښته کار دئ د زنانو
مرد به نه تښتي له غشي له تفنګه
چي د تورو په برېښنا يې وار خطا شي
مور يې مه وي په هغه غولاټي لنګه
د ضرور په ورځ به تېښت لکه ګیدړ کا
چي همېش کاندي خوښي له نای و چنګه
د عزت صدقه سر، د سر دنیا ده
مړني په شرم سرور کا بېدرنګه

په دې ډول د یونس شعر جامع او خوږ او لکه خپل استاد غوندي هر راز ښه ښه مضامین لري.

اوس موږ د ده د کلام نمونه غوره کوو، په دې نخښنو کي د "تازه" غزل په رشتیا سره یو مخصوص کیف او تازه ګي لري :

## غزل

کــه د ښــکــلــیــو د دیــدن لــرې مــطــلــب
مــقــیــد یــې پــه طــلــب شــه روز و شــب
شـهـد و شـېـر قـنـد بـه دي واړه فـرامـوش شـي
کـه یـو ځـل شـې لـه مـحـبـوبـه لـب پـه لـب
د دلــبــر وصــل مــنــصــب جــاودانــي دئ
صـدقـه تـر دا مـنـصـب شـه بـل مـنـصـب
د وصــال قــدر پــوښــتــه لــه مــهــجــورانــو
څــه پــروا د اوبــو کــړي د وچــي کــب
د دلــبــرو پــه دیــدن عــاشــقــان پــایــي
نـور یـې هـیـڅ د ژونـدانـه نـشـتـه سـبـب
ښـه مـتـاع لـه هـر دوکـانـه چـي وي ښـه ده
د مـعـشـوق پـوښـتـنـه مـه کـړه د نـسـب
د عــاشــق دعــا کــه ونــغــوړي څــښــتــنــه
مـبـتـلا کـړه رقـیـبـان پـه خـپـل غـضـب
مـړنـو لـه تـېـښـتـه شـرم دئ "یـونـسـه !"
د نـصـیـب لـه پـېـښـي مـه اړوه جـلـب

لکه خوښ شي څوک د زرو په کاغذ
زيات ترې زه شم د دلبرو په کاغذ
د دلبر د خط سياهي مشك و عنبر ده
شم خوشحال د مشك عنبرو په كاغذ
عاشقانو دي د زړه په وينو ښكلي
روغ خندا كا د اوترو په كاغذ
چې د يار د در خبرو نامه لولي
نظر نه كا د ګوهرو په كاغذ
د دلبر په لور مي دوې سترګي څلور شوې
انتظار يم د رهبرو په كاغذ
كه مي يار كتابت نه كوي هم ښايي
اعلى خاندي د احقرو په كاغذ
د سرو زرو په كاغذ شاهان خوښيږي
زه "يونس" د لب شكرو په كاغذ

بې دلبره مي په چا نشته غرض
كه د نورو شته څما نشته غرض
هغه چا چي ستا د لبو خواږه نوش كړه
په خوږو يې د حلوا نشته غرض
ستا د عشق په درد دردمن ښه يم دلبره
چې ذره مي په دوا نشته غرض
عاشقان دي په دلبار كي انجمن كا
هيڅ په سيل يې د صحرا نشته غرض
ستا د عشق مستان به نوره مستي څه كا
په مدام يې د مينا نشته غرض
په نن لږ عيش يې عيش د سبا پرېښو
د رندانو په نسيا نشته غرض

ګيله طمع يې له خپله ياره كيږي
د "يونس" په نا آشنا نشته غرض

یو غواړم له یاره ښه دیدن تازه تازه
بل د رقیبانو ځانکندن تازه تازه
ځکه بلبلان چغار کوي په تازه ګلو
نه به مدام ګل وي نه چمن تازه تازه
یو زمان له مدح د دلبرو مه ودرېږه
تل د یار له وصفه کړه سخن تازه تازه
زړه چې د رقیب ځما په بد سره ښه کېږي
مه کړه په آزار ځما دښمن تازه تازه
آه کوي له دله په فریاد له زیږه ګله
واوره له بلبله ښه ګفتن تازه تازه
بل فکر مي نه کېږي بې ستا له ګفتګویه
شېر شکري وایه له دهن تازه تازه
مه کړه په جفا سره آزار د بلبلانو
څه خو په وفا کړه انجمن تازه تازه
سترګي مي خیره سوې چې ولاړ یې زه دي ګورم
وکړه په دا لوري آمدن تازه تازه
زړه د "یونس" چوي ستا د هجر له سختئ
څه خو په خپل مهر کړه غمجن تازه تازه

نور څه مه وایه بې مینې راته، ته
کړه ویل د نازنینې راته، ته
له یوې ګوتې د یار مي ثاني نه دئ
دا چې ستایې ځیني ځیني راته، ته
کل آرام مي غنمرنګ دلارام یووړ
څو به ستایې بشرې سپیني راته، ته
التفات مي د آسمان و ماه ته لږ دئ
بس کافي یې ماه زمیني راته، ته
د هجران تیارې مي کسي بې لیدو کړه
راښکاره شه ماه جبیني راته، ته
که په رغم د تورو مشکو راښکاره کړې
توري زلفي عنبریني راته ته

بې وعدې به مچه در نه کړم "یونسه !"
اوښي څه که ژاړې ویني راته، ته

اول کـار پـه بـې فـهـمـي پـه نـادانـي شـه
بـيـا آخـر يـې بـې حـاصـلـه پـښـېـمـانـي شـه
چـي حـاصـل يـې لـکـه خـورکـه يـا ويـړي وي
پـه رنـځـورو ډېـر خـوراك مـهـربـانـي شـه
هغـه کـار چي بې آفت وي په تـاخيـر کـي
د يــوه زمـــان تـــر بــلـــه آســانـــي شـــه
چـي اقـرار تـصـديـق يـې دواړه حـاصـل نـه وي
بـې فـايـدې د تـش رسـوم مـسـلـمـانـي شـه
دی چـي خـپـلـه هـمـسـا نـه مـومـي پـخـپـلـه
پـر ړانـده بـانـدي د مـال نـګـهـبـانـي شـه
چـي پـه بـتـي بـيـابـان پـروت د لـوږي مـړ وي
د هــغـــه تـــر مـــلا د زرو هـــمـــيـــانـــي شـــه
کم همت چي جمعيت د خاطر بيا موند
نـور يـې غـم د ورور عـزيـز پـه پـرېـشـانـي شـه
مـسـتـمـع چـي سـخـن دان نـه وي "يـونـسـه !"
و هـــغـــه تـــه دي د شـــعـــر ګـــويـــانـــي شـــه

معشر

شــپـــه او ورځ مـــي پـــه زړه يـــار دئ
د هـــر غـــم مـــي غـــمـــګـــســـار دئ
بــــې بـــهــــا يـــې يــــو ديــــدار دئ
تــــازه ګـــل د نــــوبـــهــــار دئ
ښــــه ديـــدن د ګـــلـــعـــذار دئ
يـــو عـــجـــب تـــازه ګـــلـــزار دئ
د بــلـــبـــلـــي پـــر چـــغـــار دئ
چـــي ســوخـــتـــه د عـــشـــق پـــه نـــار دئ

له محبوب سره کـــنار دئ
د محبوب د غاړي هار دئ

چي نظر مي په جانان شي　　دواړه کسي مي روښان شي
غم د ده کړم هېر مي ځان شي　　چي مي فکر د هجران شي
آه فرياد مي هر زمان شي　　پر عالم ځيري ګرېوان شي
هغه څوك چي عاشقان شي　　تهمتونه پر باران شي

که دی غوږ په دا بيان شي
لکه دُر هسي ګفتار دئ !

څه په کار دئ عمر واړه　　چي يار نه وي لاس تر غاړه
چي خوښي د وصال ولاړه　　نور هجران دئ ژاړه ژاړه
په ژوندون دي يار وغواړه　　پسې سر شه په ويجاړه
بېلتون کړمه تر اهاړه　　پوست و غوښي سېځي دواړه

اې د عشق په تاخت لتاړه
بېلتون هر چيري ناتار دئ

ناتاري بېلتون کوينه　　په جهان کي مه کړه مينه
که فرهاد يې پر شېرينه　　سر دي پرې کړه په تېشينه
عاشقان او نازنينه　　رنګ ژيړی جامې رنګينه
معشوقه تر چنبېل سپينه　　توري زلفي عنبرينه

عشق يې سر که هسي ځينه
چي يې سر پر سر د دار دئ

عشق مي څه يو ګرم اور دئ　　بل درون د زړه په کور دئ
آه مي دود په ملکو خور دئ　　چيرته عشق هلته پېغور دئ
چي پر شوی د عشق زور دئ　　سر يې تل ښکته نسکور دئ
تهمت تل د عشق انځور دئ　　چي د يار له ميني سپور دئ

زړه يې مړ کوګل يې ګور دئ
هر دانا په دا اقرار دئ

ورکېده د غم په څه شي — د غم بار به کم په څه شي
وچ د اوښيو نم په څه شي — حك د غم رقم په څه شي
دائماً ستم په څه شي — بې ګناه کرم په څه شي
زلفي پېچ و خم په څه شي — راته مار لړم په څه شي

عاشق خوښ خُرم په څه شي
چي هوس نه غم خروار دئ

په دربار درته پراته دي — عاشقان په دم خاته دي
ورته شرم جارواته دي — عاشقي تر ننګ واته دي
پتنګان په اور ورته دي — عشق په غم کي کښېواته دي
و کوهي ته پرېواته دي — ارواحان په الواته دي

و کرم ته يې کاته دي
وړاندي ملك نوی ديار دئ

ناقرار په تا پسې يم — تل د ستا په بروسې يم
په اميد دي د بوسې يم — بې درمه بې کيسې يم
خلاص د شك له وسوسې يم — تازه ستا په دلاسې يم
مست د ميو په کاسې يم — چي مين ستا په جشې يم

تېر تر سر او تر پيسې يم
عشق د حسن خريدار دئ

تـه کـه مـيـنـه پـه دلـبـر کـړې    سـر بـه خـس د ده د ور کـړې
کـه د عـشـق مـهـم لـه سـر کـړې    پـه وصـال بـه يـې اخـتـر کـړې
کـه زاري عـلـى الـسـحـر کـړې    جـسـې زړه بـه سـيـم و زر کـړې
کـه پـه وصـل يـې خـبـر کـړې    لـه هـسـتـۍ بـه ور ګـذر کـړې

که په عشق باندې نظر کړې
څه غم، څــــــه آزار دئ !

سـتـا لـه عـشـقـه دېـوانـه يـم    پـه عـالـم کـې افـسـانـه يـم
د غـم تـيـر تـه نـښـانـه يـم    سـر زده پـه ويـرانـه يـم
لـه غـمـونـو هـر خـانـه يـم    چـې عـاشـق پـه جـانـانـه يـم
پـه قـيـمـت کـې دُر دانـه يـم    شـمـع سـوی پـر پـروانـه يـم

چې له ياره بېـــــګانه يم
د "يونس" په بل څه کار دئ

﴿٤٣﴾

# عيسى اخندزاده

د کندهار د کاکړو له پښتنه يو مشهور شاعر او عالم او اديب سړی و، چې تر (١٠٥٠هـ) وروسته ژوندی، او په علمي ډلو کې ګډ و.

عيسى اخندزاده د پښتو په لومړۍ ډله شعراو کې د پای درجه لري، د ده کلام عاشقانه او غزليات دي، او يو مدون دېوان يې هم درلودی چې متېسفانه اوس ورك دئ، له هغه دېوانه اوس دغه يوه بدله زموږ څخه سته[1].

---

١ –دا دېوان په ١٣٠٧ ش د کندهار جنوب د ترنک پر غاړو ما ليدلی او دغه يوه بدله مې نقل کړېده. (حبيبي)

په تمام جهان به نه وي بل رسوا څوک نه به بل وي کښېوتلی په بلا څوک
د عشق اور رابلندي بل دئ په وريتېږم خدای دي نه کاندي په دې اور مبتلا څوک
لېوني دي ډېر د عشق درياب لاهو کړه ځني ګرځي لايعقل او دئ شيدا څوک
وير د ميني مي تاخون په زړه کي کښېښو نه مي ويني بې ژړا بې واويلا څوک
خدای دي راوله زما ښکلې شهيه ! سترګ تورن شوه دلته هغه دغه دا څوک

ته د زړه توکـــــرکی يې د ميـــــــــنانو
بې تا نه لري په زړه ويرجن "عيسی" څوک

د عيسی اشعار تر ډېره وخته په کندهار کي مشهور وه، ميرزا حنان وايي:
د عيسی اخندزاده شعر که واورې
آفـــــرين به باندي وايې تل تر تل

﴿٤٤﴾

# ملا شېرمحمد هوتك

ملا شېرمحمد آخوند په قام هوتك او په (۱۰۹۲) هجري کال په کندهار کي پيدا سوی دئ. دی د خپلي زمانې د مشهورو عالمانو په ډله کي ګڼل کېږي. د ځوانۍ وخت يې په هرات او د ايران په مشهورو ښارونو کي په تحصيل تېر کړی دئ او تر تحصيل وروسته يې په کندهار کي په تعليم او تصنيف مشغوليت درلود. دی د صفويانو او هوتکو په زمانو کي و او د دري اتيا کالو په عمر په (۱۱۷۵هـ) کال په کندهار کي وفات سوی دئ چي اوس د کندهار د ښار لمر لوېدو پلو ته د "شاهو اخند" په تکيه کي ښخ دئ[1]. ده په مذهبي او ديني، منطق او په نورو شرقي علومو کي پوره مهارت درلود او ځيني مستقل آثار يې هم پاته سويدي. دی د کندهار د قديمو او پخوانيو شاعرانو څخه دئ چي تقريباً دوه نيم سوه کاله مخکي يې د پښتو له پاره مهم خدمت کړی دئ او دوه منظوم کتابونه يې د پښتو

---

۱ -تاريخچۀ شعر پښتو.

په لنډ بحر کي ليکلي دي.

## اشعار او آثار :

د ملا شېرمحمد شعر ټوله مثنوی دئ. وينا يې ساده او نثر ته نژدې ده، بلکي د نيم مصنوعي ادب نمونه ده، په شعر کي د ده لهجه عالمانه معلومېږي او پر اخلاقي او عرفاني مضامينو او وعظ او نصيحت مشتمل دي. ده ديني و مذهبي او عقيدوي مضامين په پښتو کي بيان کړيدي، دی د پښتو شعراو په متوسطه ډله کي حسابېږي، په شعر کي يې څه نور ادبي نزاکتونه او لفظي محاسن نسته، صرف مطلب يې په نظم او منسجمو الفاظو کي ادا کړی دئ. د ده يو اثر "اسرار العارفين" نومېږي، دا کتاب د پښتو په لنډ بحر کي د مثنوي پر ډول ليکل سوی دئ، مضامين يې ديني او مذهبي دي.

د عقايدو او د فقه، اصول او مسائل لري او د نورو معتبرو علماوو د تصنيفونو او کتابونو څخه اخيستل سوي دي، او رنګ يې د ترجمې دئ چي کټ مټ د آيت او حديث مضمون په پښتو کي ترجمه سوی دئ. د دې کتاب څخه معلومېږي چي شېرمحمد يو ښه عالم او په مذهبي او ديني کتابونو او په فقه، تفسير، اصول داسي نورو علومو کي يې زيات مهارت درلوده، د آيتونو او حديثونو ترجمه يې په ښه آسان صورت د پښتو په نظم کي کړېده.

دا کتاب ډېر بابونه او فصلونه لري، عقايد، اعمال اخلاق هر يو پکښې بېله بېله برخه لري. شېرمحمد په دې کتاب کي د عقيدې او مذهب ګران مسائل ډېر ښه آسان ښوولي، او بيان کړي دي، د ده بل اثر د "تجويد افغاني" په نوم مشهور دئ، دا کتاب هم منظوم، او د پښتو په لنډ بحر کي ويل سوی دئ. د شعر نوعه يې مثنوي ده، چي علم قرائت او تجويد په آسان صورت په پښتو کي بيان سوی دئ. د دې کتاب څخه معلومېږي چي شېرمحمد په علم قرائت کي هم د پوره معلوماتو خاوند و، ځکه چي په دې کتاب کي يې د قرائت او تجويد خبري په خپله ژبه کي ښې ځای کړي دي، او په پښتو يې يو د قرائت او تجويد کتاب زيات کړی دئ.

دا کتاب هم پر ډېرو بابونو او فصلونو مشتمل دئ او د تجويد مسائل يې په بېلو بېلو فصلونو کي بيان کړي دي.

ملا شېرمحمد مرحوم پښتو ته په دې آثارو کي ښه خدمت کړی دئ چي ډېر د قدر وړ دئ، په داسي يو وخت کي چي د نورو ژبو علمي او ادبي اثر پر خلکو باندي پروت و، د پښتو له پاره يو خدمت کول او پښتو تاليف او تصنيف کول رشتيا ده چي د ډېر تقدير وړ ګڼل کېږي.

### د کلام نمونه

له اسرار العارفين څخه :

نه یې شکل نه صورت سته      نه یې خوب نه یې غفلت سته
نه یې پلار سته نه یې مور سته      نه عورته نه یې خور سته
نه دی جسم نه جوهر دئ      نه عرض نه مصور دئ
نه معدود دئ نه محدود دئ      نه معدوم دئ نه مفقود دئ
نه بالا دئ نه پائین دئ      نه یسار دئ نه یمین دئ
بې له ځایه بې مکان دئ      بې له وخته بې زمان دئ
نه خفه دئ نه خندان      نه هیڅوک د ده خپلوان
نه تغیر کا نه بدلېږي      نه له چا سره یو کېږي
هر چې عقل ور رسېږي      هیڅ صفت پرې نه جوړېږي
که څه عیب دئ که نقصان دئ      منزه ځني سبحان دئ
حقیقت یې معلوم نه دئ      د افهامو مفهوم نه دئ
که ملك که جن بشر دئ      له حیرته کور و کر دئ
ستا په فکر کې سود نسته      بې له عجزه بهبود نسته

له تجوید څخه :

ته اصلي حرفونه وروره      د قرآن اته ویشت ګوره
همزه الف راوړه یکسانه      دوئې نسته له دا میانه
بیا هر حرف سره مقام دئ      چې مخرج د هغه نام دئ
که پرسش کړې له اجماله      مخرجونه د دوی لاله
اول حلق بل یې زبان دئ      بل شفت د شونډو میان دئ
همزه، ها، حا، خا، عین، غین      کل حلقي دي نورالعین
دا نور واړه وسطي دي      چې د ژبې پر تلي دي
بې له باء و فا و میمه      شفتي دي اې فهیمه
د حلقوم چې منتها دئ      د همزه مخرج هم دا دئ
په لوستو چې یې رهبر وي      په سینه کې یې ګذر وي
د الف هم دا مقام دئ      شاطبي کې دا کلام دئ
جزري وایي هوا ده      هم د واو او هم د یا ده

(له تجوید افغاني څخه)

﴿٤٥﴾

# شېرمحمد ننګرهاری

د ننګرهار له خوا يو طالب العلم و، چي پسله (۱۱۰۰هـ) کاله ژوندی او د ديني علومو په لوست او تحصيل بوخت و.

ملا شېرمحمد ډېر ديني او اخلاقي اشعار ويلي دي، چي اوس يې موږ ته لږ را رسېدلي دي.

د ده سوانح او د ژوندون وقايع نور نه دي څرګند، له دې قطعې څخه يې شاعرانه تخيل او د ژوندون ډول ښه ښکارېږي :

يا ليتني کنت تراباً

يـــا ګـــوښـــه وای لـــه ســـړيـــو     پـــر آســـمـــان بـــانـــدي ســـحـــاب وای
يـــا عـــاشـــق وای پـــر مـــهـــريـــو     يـــا مـــعـــشـــوق لـــکـــه آفـــتـــاب وای

چي نه دا شـــوې نه هـــــغه شوې
"شېرمحمد" کشکي تراب وای !

د شېرمحمد له ديني او اخلاقي غزلو څخه دا موږ ته را رسېدلي دي :

يـو بـيـان بـه درتـه وايـم مـخـتـصـر     تـه يـې يـاد لـره دائـم د زړه پـر سـر
خدای او مرګ همېشه ياد لره مومنه     چـي تـر دا نـه نـصيحت نشته بـهـتـر
کـه تـه دا وظـيـفـه ونـيـسې مـحـکـمـه     پـخـپـل زړه کـي بـه يـې بـيـا مـومـي اثـر
بـل خـوراک، پـوښاك حـلال کـوه عـاقـلـه     لـه کـلـي حـرامـو ونـيـسـه حـذر
لـه دروغـه لـه غـيـبـتـه ځـان نـګـاه کـړه     چـي غـيـبـت دي تـر زنـا دئ لا بـتـر
د مـومـن آزارول هـيـڅـکـلـه مـه کـړه     چـي مـومـن آزاروي ځـای يـې سـقـر
پر مخلوق باندي زړه سوی کوه مومنه     هسي نه چي په خوله خوږ په زړه يې سخر

ظالمي او ناحقي پر هيچا مه کړه | د ظالمو به خداى واړوي دفتر
د استاد د مور او پلار خدمت دايم کړه | هم عورته دي خدمت کا د شوهر
تل د خداى پر نعمتونو شکر وايه | و بلاوو ته يې صبر کړه سپر
ځو ژوندى يې ته طالب د علم اوسه | په طلب د علم ګرځه ور په ور

شېرمحمد دامنګير اوسه د علم
چي دا علم ستا رهبر دئ مقرر
(د شېرمحمد له قلمي آثارو څخه)

﴿٤٦﴾

# شاه حسين هوتك

شاه حسين هوتك د مشهور حاجي ميرويس خان مرحوم زوى او د نوموړي بريالي شاهنشاه محمود هوتك کشر ورور و، هغه وخت چي د (١١٣٥هـ) په حدودو کي شاه محمود د ده ورور پر اصفهان يرغل کاوه، شاه حسين په کندهار کي و، پسله دې وخته بيا تر (١١٥٠هـ) پوري چي نادرشاه افشار کندهار محاصره کى، شاه حسين هلته پاچا و، شاه حسين د نادرشاه افشار په مقابله کي ډېره مړانه ښکاره کړه، په هرات کي چي پښتانه کلابند سوه نو حسين له کندهاره کومك ور واستاوه، بيا چي نادر راغى او کندهار محاصره سو نو ده يو کال په مړانه مقاومت وکړ او د دښمن سره يې سخت جنګونه وکړه[1].

دا ځلمى پاچا لکه خپل پلار او ورور، د پښتونوالي او مړاني په صفاتو متصف او د دښمن په مخ کي لکه زمرى تر آخره پوري ولاړ و، ځو تر يوه کال جد او جهد وروسته په (١١٥١ هـ) تسليم ته مجبور سو.

په دې حساب نو شاه حسين (١٥) کاله په کندهار کي پاچهي وکړه او د ده تولد هم تر (١١٠٠هـ) وروسته تخمين کيږي.

تر (١١٥١هـ) کال وروسته شاه حسين د هوتکو د شاهي کورنۍ سره نادر شاه

---

١ -وګورئ نادرنامه، جهانکشاى نادرى، سلطانى.

مازندران ته نفي کړه او له خواږه وطنه بېل سو.

وایي چي دا ځلمي مېړني پاچا چي نفیاً مازندران ته ورسېدی، هورې د نادر شاه د مامورینو له خوا مسموم او د شعبان په لسمه (۱۱۵۲ تخمیناً) وفات سو. د شاه حسین د وژلو خبر هغه وخت نادر ته راورسېدی، چي هغه ډیلي نیولی او له هغې خوا بیرته د سند رود ته را رسېدلی و[1].

## شاه حسین شاعر :

دا زموږ مړنی او ننګیالی پاچا د ملي ژبي یو ښه شاعر هم دئ، چي په ملي لهجه یې بدلي ویلي دي، د ده اشعار عشقي دي، او سپېڅلتوب او خوږوالی پکښې لیدل کېږي. د شاه حسین دغه ملي بدله موږ ته د نمونې په ډول لاس ته راغلې ده :

نن دي اوربل پر سپین تندي باندي راخپور کی — بل دي پر ما اور کی
راسه دلبري ته زما د زړه کتره یې — هم ته ښایسته یې
زړګی مي وینې، ته د ناز په نندارہ یې — د ګل دسته یې
دا ستا په عشق کي مي پردی خپل کلی کور کی — بل دي پر ما اور کی
تندی دي برېښې د سپوږمۍ په شان دي مخ دئ — پېزوان دي زانګي
که مي نصیب سولې زما بخت به لوړ وي سخ دئ — تپ مي د سانګي
دې پرهارونو مي زړګی په عشق نسکور کی — بل دي پر ما اور کی
د خدای دپاره یو وار ګوره چي څو رنګ سومه — په وینو رنګ سومه
د خپل پردي د پېغورونو سوم د ننګ سومه — په عشق کي منګ سومه
دا ستا د عشق له توره تور سوم مخ مي تور کی — بل دي پر ما اور کی
زه که پاچا "حسین هوتك" یم ستا ګدا یمه — په واویلا یمه
دا ستا له عشقه زه په دوه کونه رسوا یمه — تل په ژړا یمه
خپل او پردي مي ستا د عشق د تور پېغور کی — بل دي پر ما اور کی

(۲)

---

۱ - تاریخ سلطانی، ۹٦.

۲ -دا بدله د کندهار د کوکران په کلي کي له یوه زاړه جونګه نقل سوې ده.

# بابوجان لغمانی

د بابو جان نوم موږ دوه ځایه لیدلی دئ، یو قاضي میر احمدشاه "رضواني" د خپل کتاب "شکرستان" په آخره کي د بابوجان لغماني له دېوانه پنځه نمونې را اخیستي دي، دا اشعار په کلاسیکي ډول د غزل او قصیدې په اسلوب لیکل سوي دي په دې اشعارو کي ده مذهبي او اخلاقي مضامین بیان کړي دي، پخوانو کیسو او روایاتو ته یې پکښې اشارت کړی دئ.

دا شعر په درېیمه درجه کي شمېرل کېږي او د شکرستان د تصریح څخه دا څرګندېږي چي په دغه رقم باندي یو مکمل دېوان هم لري او لکه چي رضواني ویلي دي دغه بابوجان د لغمان دئ. مسټر راورټي په ګلشن روه کي وایي چي دی د بلورستان د سرو کافرو څخه و، چي مسلمان سوی دئ، په ګلشن روه کي د ده د کتاب یوه حصه هم نقل سوې ده، بل ځای هم میر احمدشاه د راورټي د قول تصدیق کوي او وایي چي بابوجان په یوسفزو کي ښخ دئ او خلك یې د قبر زیارت کوي[1].

پرته د دغه پورته ماخذ څخه موږ یو بل زوړ قلمي دېوان هم لیدلی دئ، چي هغه هم بابوجان لیکلی دئ، د دې کتاب مضامین هم اخلاقي او مذهبي دي، مګر دومره ده چي د دې کتاب د تحریر سبك د اخوند درویزه د سبك غوندي نیم مقفی سبك دئ، دا خو ظاهره ده چي دا دواړه کتابونه بېل بېل دي. نو اوس دا هم کېدای سي چي دا دواړه کتابونه دي یوه بابوجان لیکلي وي، او دا هم له عقله لیري نه ده چي د بابوجان په نامه دي دوه کسه وي، او دغه هر یو کتاب دي بېل بېل بابوجان لیکلی وي. مګر قرین قیاس دا دئ چي بابوجان همدغه یو بابوجان دئ چي لغمانی دئ. د ده د کتابونو له لوستلو معلومېږي چي بابوجان په خپل عصر کي د دیني علومو کامل ملا و، او اکثره یې په دغه کتابو کي د تفاسیرو روایاتو ته اشارتونه کړي دي، د کلام له طور او ډوله یې دا هم معلومېږي چي د اخوند درویزه تر پېړۍ وروسته تېر سوی دئ[2]، موږ د ده د مقفی اشعارو څخه لاندي نمونه نقلوو :

---

١ -بهارستان افغاني، د لاهور طبع ١٩٣١ ع.

٢ -دا مدعا د قلمي مخزن له ضمیمې څخه څرګندېږي.

سینه ستا کړه د دنیا مینې لتاړه
د زړه مینه دې تمامه پسې لاړه
د دنیا له مینې هسې مبدل شوې
څه درواغ الا بلا دې کړه په غاړه
محرمان مستحقان دې نامحروم کړه
د حرام پوښتنه نه کړې هر څه نغاړه
هغه مال به دې بلا شي سیاه سرخه
لکه خوګ، خنزیر، پلنګ ووزي له جاړه
تا به بیا مومي په دومره ډېر عالم کې
ستا بشره به په سومونو کړي لتاړه
په ښکرونو به دې اخلي یو تر بله
هیڅ ذره به دې پرې نه بږدي بې ګذاره
که دنیا دې همه واړه سره یا سپین وي
هره تنګه به دې داغ کاندي له ناره
په صورت به دې داغونه کاله اوره
په عذاب به دې بشره کا ګرفتاره
انبیاء له بخیلانو روی ګردان دي
عرض به نه کا د ظالم بخیل دپاره
د بخیل په باب راغلي آیاتونه
عذابونه به پر سخت کاندي دوباره
د "بابوجان" په بیانونو باور نه کا
د هغو چې برخه شویده له ناره

***

د حاتم نوم به جاري وي تر قیامته
د ازل برخه یې وه له سخاوته
حاجتمن به نا امیده تړینه نه تلو
ورکول یې و بې اجره بې منته
د سوالي زړه به یې روغ په مرحبا کړ

کــاهــل نــه و فــقــيــرانــو لــه خــدمــتــه
هــر ســوالــي چــي بــه د ده پــه ور حــاضــر شــو
غــه رنــځــور بــه فــارغ روغ شــو لــه زحــمــتــه
پــه ښــارونــو يــې نــوم ولاړ د ســخــاوت شــو
پــادشــاهــان يــې پــه غــصــه شــول لــه شــهــرتــه
هــمــت د خــدای لــه خــزانــو دئ "بــابــوجــانــه"
هــمــت نــاك دي ځــښــتــن نــه کــا بــي هــمــت

﴿٤٨﴾

# فياض

هيوز ليکي چي د فياض له سوانحو نور څه لاس ته نه دي راغلي، ښېله دې چي دی يو خانه بدوش او ګرځنده ډم او سازنده و[۱].

فياض د خوږې او رواني طبعي خاوند دئ چي د راورټي د معلوماتو سره سم د هند د مغولي حکومت په دوره کي تېر سوی دئ او تر عيسوي اوولسم قرن پوري دی ژوندی و[۲].

فياض د بهرام او ګل اندامي کيسه په شعر پښتو نظم کړېده او په (۱۸۹۳ ع) کي پادري هيوز دغه افسانه په کليد افغاني نومي کتاب کي نشر او شايع کړېده، او دا کيسه ښېله ځانته هم چاپ سوېده. که د راورټي دا معلومات صحيح وي چي فياض د مغولي حکومت په دوره کي تېر سوی دئ نو فياض لومړی سړی ګڼل کېږي چي د پښتو په شعر کي يې د رومان ليکلو سبك پيدا کړی دئ او هم دا د فياض سبك دئ چي د امير حمزه او توتي نامې په کيسه کي تکميل سوی دئ، اوس غواړو چي د بهرام او ګل اندامي د افسانې خلاصه دلته وليکو :

---

۱ - د کليد افغاني مقدمه.

۲ - د پښتو ګرامر مقدمه.

## د فیاض د افسانې خلاصه :

بهرام د روم د کشور پاچا زوی یو وخت د تفریح له پاره ښکار ته ووت او په یوه هوسۍ پسې یې خپل آس وځغلاوه او په دې سلسله کې یې پر یوه غره گنبده ولیدله او ورغی د گنبدي خوا کې یو سپین ږیری ناست و، بهرام د دغه سپین ږیري څخه د دې ځای د راتلو او گنبدي پوښتنه وکړه، سپین ږیري بهرام ته د گل اندامي د عشق او مینتابه ټولي کیسې بیان کړې او سپین ږیري د گل اندامي هغه تصویر چې ده په دغه گنبده کې ایښی و او د خپل زړگي تسلی به یې په کوله بهرام ته ورښکاره کړ، بهرام د تصویر په کتلو زړه بایلو او د سپین ږیري څخه یې د گل اندامي د ځای معلومات حاصل کړل او روان سو، په دې عاشقانه سفر کې پر بهرام باندي عجیب واقعات راځي، ډېر زحمتونه او تکالیف گالي چې وروسته د ملنگۍ په کالو د خپلي محبوبي (گل اندامي) په مینانو کي کښېني او وروسته د دوی تر منځ لیك او مکاتبې کېږي او یو د بله مینه او عشق سره مني.

د بهرام دا عاشقانه زیار پای ته رسېږي، او د خپلي معشوقې وصال مومي، دا کیسه که څه هم وهمي ده او ډېر ځایونه یې د طبیعت له دایرې څخه ماوراء شیان تصویر کړي دي مگر د شعر له پلوه خو خوږه سلیسه ده، فیاض د دې ادبي اثر په مرسته د پښتو شعراو د دوهمي ډلي په لومړۍ درجه کي درېږي، او په شعر کي د هر راز کیفیت پر تصویر مقتدر ښکارېږي.

په لاندي کرښو کي د فیاض د کلام د نمونې په ډول د کیسې د پای هغه برخه را نقلېږي چې د بهرام د وصال مبادي پکښې سته :

(۱) سراسیا او روح افزا گل اندامي ته د مرگې له پاره ورغلي دي :

یو ساعت سره خوشحاله خندېدلې
سراسیا وې ګل اندامي بهرام شوزي
شپه او ورځ یې های فراق در پسې زور شو
د تصویر په یو نظر پر تا مین شو
بهرام دا وې ته غوږ کېده ګل اندامي
ګل اندامي وې که پلار ځما قبول کړه
ګل اندامي چې دا حال ورته معلوم کړ
دغه حال یې و بهرام و ته ظاهر کړ
بهرام ووې و صیفور ته ځما وروره
بیا صیفور ورته ویل بهرامه وروره
حکم ستا دئ ځما څه زه غلام ستا یم
پس واده هم روح افزا شوه و صیفور ته
دغه پسه د بهرام واده یې جوړ کړ
ګل اندام یې کړه داخله په حرم کې
په اوربل باندي یې قط د ګلو جوړ کړ
چې پېزوان یې په سرو شونډو باندي سور کړ
چې زېور جامې یې واړه پرې انبار کړې
هر چا دا وې چې بېشکه حورالعین ده
څلوېښت ورځې یې واده کاوه یارانو
د بهرام د ګل اندامي نکاح وشوه
په محل یې د بهرام کړله داخله
بیا یې نیت د تلو د روم وکړ "فیاضه"

بیا یې دا خبري منځته واچولې
په ګرېبان باندي یې اوښې بهېدلې
چې دي زلفي په سپین مخ دي غوړېدلې
چې دي پرېکړې د بهرام د زړګي ولې
دی جواب غواړي له تا نه د چین ګلې
د بهرام خبري کل دي ما منلې
سراسیا سهېلۍ واړه رخصت سولې
شاپېرۍ ورته ولاړې ودرېدلې
ګل اندامي په دا شان ګرانه نیولې
سراسیا خور مي و تا ته ده بخښلې
هر چې وایې واړه موږ قبولي کړلې
شاپېرۍ یې په واده کي لوبېدلې
رنګا رنګ جوړې زرینې رغېدلې
د سرو ټیك یې په جبین شغلې وهلې
مرغلري پرې د پاسه جړاو کېدلې
خلقې یې بې ګناهه قتلولې
خلقې یې نندارو ته و درېدلې
په دنیا کي له جنت ده راوتلې
هم بې شانه توپخانې به خلاصېدلې
خلقې شوې کوراکور سره داخلې
د ښه خدای ثنا یې ډېري ورستولې
د بهرام لښکري کل سنبالېدلې

***

ګل اندامه شوه سوره لښکر تیار شو
ادمیان لښکر پېریان کور ته رفتار شو

فغفور ډېر جوهر ګوهر له لور سره کړه
ښلوېښت زره سهېلۍ یې خدمتګار شو

له فغفوره په ژړا ژړا رخصت شوه
ګل اندامي په ژړا ژړا رفتار شو

شهزاده بهرام رخصت شو له صیفوره
په ژړا ژړا به یو د بل کنار شو

چي بهرام په ولایت د روم داخل شو
و شبرنګ[۳] و ته ګویا په دا ګفتار شو

چي ورځه پادشاه ځما په حال خبر کړه
شبرنګ هم ورځني وړاندي په تلوار شو

په کشور باندي یې زېری د ښادۍ کړ
په کشور پاچا جهان لکه ګلزار شو

وي یې شاهه مبارك شه غوړ پر کېږده
پس له دې خوشحال خندان شه اوس دي وار شو

په دربار د پادشاهۍ کي ښه مقیم شوې
درښکاره چي د بهرام ښایسته رخسار شو

اوس بې شکه دي له زړه نه کړه غم لیري
چا چي تا ته عکس کړ هغه اوس خوار شو

استقبال ته یې تمام جهان روان شو
پادشاه ووې شکر شکر بخت مي یار شو

چي نژدې بهرام له راغی په ژړا شو
ویل شکر راښکاره چي دي دیدار شو

وې په خیر راغلې اوس زویه مسافره
په راتله دي ځما زړه رنځور بیدار شو

پلار او زویه په ژړا سره یو ځای شو
دواړه یو تر بله غېږ او هم کنار شو

د بهرام سترګي یې یو تر بله ښکل کړې
تا به وې چي په پادشاه باندي بهار شو

د بهرام واده یې سر دوباره جوړ کړ
ښلوېښت شپې ورځې په روم کي دندوکار شو

نور یې تاج د پادشاهۍ بهرام ته ورکړ
د ښه خدای په عبادت ګوښه کنار شو

په هغه ملك یې نامه خوره شوه ډېره
ناګهانه پرې د موت نښه اظهار شو

خدایه رحم هم پرې ته وکړې رحیمه
هر چي لاړل په نصیب یې پاك دیدار شو

هسې رنګه عدالت بهرام راواخیست
چي عاجز سړی خوشحال دنیادار خوار شو

چي ملکونه یې آباد په عدالت کړه
بادشاهت یې ښایسته لکه ګلزار شو

ګل اندامه شهزاده سره یو ځای و
محبت یې زیات تر حد لیل و نهار شو

۱)

د بهرام د زړه مقصود سر شو "فیاضه"
تماش ګیر د ګل اندامي د رخسار شو

---

۱ - د بهرام نوکر.

﴿۴۹﴾

# مسعود

مسعود د عبدالله زوی او د ښه قلم خاوند دئ، دا شاعر روانه طبعه لري او د پښتنو شاعرانو په دوهمه درجه کي ګڼل کېږي.

د مسعود نور آثار موږ ته نه دي پاته، فقط د ده یو ادبي اثر د ادم خان او درخو کیسه ده، چي په نثر يې پر حقیقي او واقعي ډول لکه په پښتنو کي چي مروجه ده لیکلې ده.

مسعود لکه نور شاعران په دې کیسه کي له ځانه نور شیان نه دي ګډ کړي او لکه چي دغه کیسه مشهوره ده هغسي يې کټ مټ کښلې او ځای ځای يې له خپلي طبعي عروضي اشعار پکښې زیات کړي دي.

په دې ډول مسعود دا ملي کیسه له تحریف او تغیره ساتلې، او ملي ادب ته يې روغه رمۍ سپارلې ده او دا د ده یو د قدر وړ ادبي خدمت ګڼل کېږي.

د مسعود د ژوندون وخت نه دئ معلوم، فقط دومره ښکارېږي چي دی د ادم خان تر عصر (۱۰۰۰هـ) وروسته اوسېدی، او د ادم خان په مرثیه کي يې دا بیتونه ویلي دي :

سل ارمان چي ادم خان ولاړ له جهانه
له فراق يې پښتونخوا شوله ګریانه
مځکي خاوري په سر ولوستې له سوخته
دا سپېره لوخړه ولاړه تر اسمانه
باد تر اوسه لا ساړه آهونه کاږي
مضطرب په جهان ګرځي سرګردانه
د ادم په زړه درخو وه پسي ومړه
ما شهید له خپلي میني کړه سبحانه

د مسعود له مقدمې څخه معلومېږي چي دی د عشق په نړۍ کي خورا لویه برخه لري ځکه چي ده د خپل کتاب مقدمه او سرنامه د عشق په ښېګڼو مزینه کړې ده، او کوم ځای چي يې مناجات ویلی دئ، هغه هم د عشق په جذباتو ډک دئ او پاک خدای ته د خپل عشق سوز او ګداز وړاند کوي.

اشعار :

مسعود چونکه پخپله عاشقانه جذبات درلوده نو له دې وجې څخه يې د ټولو عاشقانو خصوصاً د آدم خان او درخانۍ سره خورا همدردي ښکاره کړې او د ارمانه ډکي بدلي يې ويلي دي، او دا ځني څرګندېږي چي مسعود پخپله هم د ميني په اور سوی او پر دې بټ وريت سوی و، نو ځکه د ده وينا د عشق په خوا کي موثره ده او دی يو خالص عشقي بدل ويونکی ګڼلای سو. اوس وګورئ د ده د وينا نمونه :

## د درخانۍ حال په منيه کي

چـي سـيـنـه يـې د آدم پـه اور کـبـاب شـوه
د حـجـاب مـېـرمـن درخـانـه بـې حـجـاب شـوه
د شـب قـدر پـه څـېـر پـټـه وه لـه خـلـکـه
و عـالـم تـه مـخـامـخ لـکـه آفـتـاب شـوه
نـنـګ نـامـوس، عـقـل تـمـيـز ورڅـخـه لاړ شـو
مـسـئـلـه يـې درسـتـه هـېـره د کـتـاب شـوه
چـي آدم د ربـاب غـوږ وربـانـدي تـاو کـړ
وچـي شـونـډي پـه نـغـمـه لـکـه ربـاب شـوه
د آدم شـرابـو هـسـي مـسـتـي ورکـړه
خـلـکـه يـې و نـظـر و تـه سـراب شـوه
هـسـي تـاو د عـاشـقـۍ ورښـکـاره شـو
لـکـه مـار پـه مـلا وهـلـې پـېـچ و تـاب شـوه
کـوه قـاف غـونـدي سـاکـنـه وه کـراره
د فـلـك پـه شـان دايـم پـه اضـطـراب شـوه
هـمـره وېـر پـه دې درخـانـي بـانـدي راغـی
چـي د زړه خـونـه يـې ډوبـه پـه سـيـلاب شـوه[1]

(۱

---

۱ - د آدم او درخانۍ قلمي کيسه.

﴿۵۰﴾

# دراز خان موسی زی

د دې شاعر نور احوال او د ژوندون وخت او سوانح موږ ته نه دي ښکاره، فقط دومره ویلای سو، چې دی د پښتنو له پخوانو شاعرانو څخه دئ، د دراز خان فقط دغه درې بیته موږ ته را رسېدلي دي، او نور اشعار او آثار یې ورک دي :

ته پر څه زما په زیار او زحمت خوښ یې
ښایسته تر لمر سپوږمۍ زما حبیبه !
که رقیب درته ویلې زما جفا وي
دا دروغ دي پخواني د ده نصیبه
یوسف رویه، عنبر مویه، ملك خویه
په کتنه له ما رنځ واخله طبیبه

﴿۵۱﴾

# افضل خان خټك

د خوشحال خان د کورنۍ او ادبي مکتب یو روڼ ستوری افضل خان خټك دئ چې د اشرف خان "هجري" زوی او د خوشحال خان لمسی دئ.

هغه وخت چې د ده لوی نیکه خوشحال خان د اورنګ زېب د لښکرو سره جګړې او مقابلې کولې، افضل خان د یرغمل په ډول مغولو کابل ته بېولی و، تر (۱۰۹۸هـ) وروسته دوه کاله دی په کابل کي و، او تر (۱۱۰۰ هـ) وروسته چې خوشحال خان وفات سو، دی بیرته لومړی جلال آباد او بیا خټکو ته ولاړ[۱].

۱ - تاریخ مرصع.

هغه وخت چي خوشحال خان لا ژوندی و، ده خپل زوی اشرف خان چي د افضل خان پلار و، پر خپل ځای د قوم مشر کړی و، مګر د ده بل ورور بهرام خان يې مخالف و، په دې مخالفت کي اورنګ زېب اشرف خان "هجري" په هند کي بندي کی، او هورې په ناکامي کي مړ سو، په دې وختو کي خوشحال خان وفات سو، او بهرام خان هم مړ سو، نو افضل خان چي يو لايق مشر و، په اکوړه کي د پښتنو په مشرتوب انتخاب سو او تر (٦١) کالو پوري يې مستقلاً د پښتنو مشرتوب وکی[١].

که څه هم له دغو رواياتو څخه څرګندېږي، چي افضل خان تر (١١٦١هـ) پوري ژوندی و، مګر د ده زوی شيدا پخپل دېوان کي د ده د وفات تاريخ د (١١٨٣ هـ) د شعبان مياشت ښوولې ده[٢] او له نورو تاريخو څخه هم ښکارېږي چي د افضل خان اولاده د هند په سفرو کي د اعليحضرت احمدشاه بابا ملګرې وه[٣]، داسي معلومېږي چي افضل خان د خټکو په کورنۍ کي يو لايق او متدين او ډېر اديب او عالم مشر و، او ده د مشرتوب ښه سياست درلود، ځکه چي د خټکو پر اولس او کورنۍ تر ډېره وخته ښېله مخالفه حکمراني مشکله وه.

## د ده آثار او اشعار :

افضل خان د خټکو په کورنۍ کي يو ماهر او زبردست ليکونکی او مړرخ دئ، د ده د شعر مستقل آثار موږ ته نه دي را رسېدلي، مګر د نثر آثار يې څو کتابه سته، له دې جهته نو دلته موږ فقط د ده ادبي آثار ښيو، او پر نثر به يې البته د نثر په تاريخچه کي چي وروسته ليکله کېږي مفصل بحث وکو.

د افضل خان يو تاريخي او ادبي منثور شهکار مشهور تاريخ مرصع دئ، چي څه فصول يې راورټي په ګلشن روه او هيوز په کليد افغاني کي چاپ کړي دي. مګر د تاريخ مرصع اصلي نسخه متاسفانه ورکه ده، ښېله دغو مستشرقينو د بل چا لاس ته نه ده راغلې، پادري هيوز ليکي چي تاريخ مرصع يو عمومي تاريخ و، چي د پښتنو او مخصوصاً د خټکو احوال پکښې و، او ډېري برخي

---

١ - حيات افغاني ٣٢٢ مخ، خورشيد جهان ٢٤٤ مخ.

٢ - د کاظم خان قلمي دېوان.

٣ -وګورئ تاريخ خورشيد جهان او حيات افغاني.

یې د اخوند درویزه او نخزن افغاني[1] څخه اخیستي دي او یو مفصل عمومي تاریخ دئ[2]. د افضل خان بل تاریخ کتاب د اعثم کوفي تاریخ دئ[3] چي ده په پښتو ترجمه کړی دئ[4]، مګر دا نه ده ښکاره چي دا ترجمه له اصلي عربي څخه ده که د پاړسو نسخې څخه؟

د افضل خان دریېم مهم کتاب د ابوالفضل د کلیله او دمنه ترجمه ده چي ده د "علم خانهٔ دانش" نوم پر ایښی دئ، او دا مهم شرقي اثر یې په پښتو را اړولی دئ[5]. د علم خانهٔ دانش قلمي نسخه موږ لیدلې ده، د کتاب په پای کي داسي لیکي :

"اصل کتاب د کلیله او دمنه تمام شو، خاتمه یې په نظر ثاني په دیرلسم د محرم سن هجري یکهزار و یکصد و بیست و هشت، عجب کتاب پښتنو ته یادګار پاته شو، البته چي خالي به له فایدې نه وي ... د دې کتاب نوم مي علم خانهٔ دانش کښېښو ...".

په دې کتاب کي افضل خان ځای ځای د خوشحال خان او خپل پلار ابیات د نثر په منځ کي راوړي او د کتاب مضمون په خوږوي[6].

## اشعار :

د خوشحال خان د کورنۍ ټوله ادباء او د ده د مکتب شاګردان د شعر د دېوانو خاوندان دي، مګر داسي موږ ته نه ده ښکاره، چي افضل خان هم د شعر دېوان لري که نه؟ تر اوسه ځینو پلټونکو مستشرقینو هم د ده د دېوان ذکر نه دئ کړی.

خو موږ دومره خبر یو، چي افضل خان زبردست ادیب و، او په نثر لیکلو کي یې اوږد

---

۱ -د مخزن افغاني ذکر د دې کتاب په لومړیو برخو کي ډېر راغلی دئ، دا کتاب په ۱۸۲۹ ع د روس د شاهي دارالعلوم رکن پروفیسر برن هارد دورن په انګلیسي ترجمه کړی دئ.

۲ -هیوز - د کلید افغاني مقدمه.

۳ - دا کتاب په (۲۰٤ هـ) خواجه اعثم کوفي د (الفتوح) په نامه په عربي لیکلی او په (۵۹٦ هـ) محمد بن احمد المستوفي الهروي له عربي څخه په پاړسو ترجمه کړی او په (۱۳۰۰) په بمبیي کي طبع سوی دئ.

٤ -هیوز - د کلید افغاني مقدمه.

۵ - راورټي - د ګلشن روه دېباچه، پادري هیوز د کلید افغاني مقدمه.

٦ -د دې کتاب قلمي نسخه موږ ته جناب عبدالله خان صافي د لیدلو له پاره راکړه له دوی څخه تشکر کوو. دا نسخه د ربیع الاول په (۲۵) د (۱۲۲۹هـ) کال د غلام محی الدین ګوالیري په خط د دوست محمد خان ولد مرتضی خان بامیزي له پاره لیکلې سوې ده.

لاس درلود، د ده ځيني اشعار او متفرق بيتونه موږ د کليلې او دمنې په ترجمه کي ليدلای سو، که څه هم افضل خان د نورو ډېرو اشعار پخپل نثر کي تضمين کوي، مګر داسي ښکاري چي ځيني بيتونه او قطعات خاص د ده هم په دې کتاب کي سته. موږ د کتاب له قلمي نسخې څخه د ده ځيني متفرق شعرونه لاندي راوړو :

د کتاب آغاز :

دا آغـــاز دئ په نامه د هـــغه خـدای
چي بې ځايه دئ بې ده نشته بر ځای
"په تخلقو" و خلق و ته رهـنمون دئ
"فاســـــتقم کـــما امــرت" رهـنـمای

درد او ژړا :

په ژړا ژړا درياب دئ يا ســـــــــــېلاب دئ
قـــــرار ونکړې يو دم ځـــــــــای د ژړا دئ
سترګو تاسو په شماره څاڅکي راتوی کړل
د آشــــنا د آشـــــــنايئ درد هـــــــم دا دئ

د يار استقبال :

صورت مي هر څـــو که ډېر زبون دئ
که مي د ځـــمکي د لاندي يون[1] دئ
زه به په لــــــوري د اشــــــنا خــوزم
که يوم مي هر څـــو په شواخـــــون دئ

د کتاب خاتمه :

نصيحت په غوږ کي کله ځـــــای نيولی د ګـــــنو دئ؟
شـــــــنوا به پند ترې اخــــــلي دا کـــتاب د زمانو دئ
شکر دا چي دا نامه مي تر مرګ وړاندي په انجام شوه
دانايان په دې پوهيږي چي جهان سرای د لنبو دئ[2]

---

۱ - رفتار.

۲ - کوچ.

﴾٥٢﴿

# حمید ماشوخېل

عبدالحمید په خټه ماشوخېل[1] و، چې د مهمندو یوه پښه ده او د پېښور په لته د څړبند[2] په کلي کلي یې هستوګنه او ژوند کاوه.

دی په (۱۱۳۷ هـ) کې لا ژوندی و، ځکه چې ده په دغه کال کې د (شاه و ګدا) کیسه پښتو کړې او نېټه یې داسې لیکې:

چې په زړه کې مې لړم د دې فکرت و
سن زر سل اوه دېرش کاله د هجرت و

د حمید له وېناوو ښکاره ده چې دی د محمدشاه ګورګاني پاچا معاصر و[3] او د (۱۱۰۰هـ) په شاوخوا کې زوکړی دئ او د دېوان د لیکلو په وخت کې هم سپین ږیری ښکارېږي، لکه چې وایي:

سپینه ږیره ځما عشق کوټه روپۍ کړه
هېڅ یې نه قبلوي ښکلي په سودا کې

## د حمید افکار او اشعار:

حمید د پښتو د ادب د لوړو او نومیالیو استادانو او شعراوو څخه پیاوړی ادیب دئ. د ده د کلام شهرت او خپوروالی د خوشحال خان او عبدالرحمن په شان لیده کېږي او په ادیبانو کې ځانته مخصوص سبک لري چې هغه ته موږ (د حمید سبک) ویلای سو[4].

---

۱ –چې د عشق طاعوني رنځ د حمید مل شو
ژر به خښ په هدیره شي د ما

۲ –یو مخي د څړبند د ښکلیو نه دئ
مصر که کعنان دئ که کشمیر دئ که کابل

۳ –که د ښکلیو د درګاه ګدایي مومم
هی توبه د محمدشاه له سلطنته

٤ –د دې کتاب په مقدمه کې د حمید سبک وګورئ.

حمید تر خوشحال خان او رحمان وروسته د پښتو په شعر کي نوی مکتب پرانیتلی دئ چي پس له ده څخه ډېر ادباء د ده پر لار تللي دي. دی په خپل شعر کي ادیبانه تلازمات او ښې ښې استعارې او ښکلي تشبیهات په خورا ساده ډول سره راوړي، او د ده د شاعرانه تناسباتو هسکي څوکي ته بل هیڅوك ختلای نه سي، په لاندي بیتو کي د ده مضمون آفریني وګورئ :

د مین زړه :

دا يې ښاخ له ګل سره په تلوار پرې کړ
که له زړه سره مي ترکو لړمون وکیښ

تجنیس :

چي رښتینی سیده صاف نه وې حمیده
بولي بولي عـــاقــــــلان دا هسي بول

که مي ولي پر سر کاښي سل مني
زما خــــوښه ده د یار کبر و مني

تشبیه :

لـکه ګل د باد له مخـــــــه پاڼي پاڼي تار په تار شي
آه فریاد مي خاطر هسي پړکي پړکي کړ ټوك ټوك

حمید مورږ د پښتو ژبي بیدل بللای سو، ځکه چي ده خپل سبك له خپلي روڼې قریحې څخه ابتکار او د پښتو په ادب کي يې نوې لار جوړه کړېده، چي ډېر وروستني شعراء د حمید پر استادئ مائل او مني يې، مثلاً میرزا حنان وایي :

بل حمید موشګاف د خیال په شعر
څه به وایم ناســـــــفته دُر يې پېیل

عبدالله وایي :

د حمید موشګاف و خیال ته هوښ کړه
ګـــــــوندي سو د ده په جـــــذب تېز نظر

عبدالعظیم وایي :

رحمت بیا په ماشـــووال عبدالحــــــمید شه
چي جـــوړ کړی ده کـــــــتاب دئ ښه روښان
بحث د عشق د دې کتاب دئ په هر بیت کي
د باران په دود پـــــر ژاړي عاشــــــــــــــقان

حمید هم لکه خوشحال خان د مغلو تر اثر لاندي کېده، ډېر بد ګڼي او د ده پښتونواله

هيڅکله د چا امر پر ځان نه سي منلای، نو ځکه خپل پښتني غيرت د رقيب په مغولواله کي داسي څرګندوي :

يو به نه سم مغولواله د رقيب ستا
که زوکـړی وم رښتيا د پښتنې زه

دی پر پښتني پت ساتلو لکه د پښتانه خوی چي دئ ټينګ ولاړ او پر پت کلك پښتون دئ. په پښتني احساساتو خپل پت داسي پالي:

پروت په وينو کي لت پت ښه يم په پت کي
نه د ســــــرو زرو په تخـت بانــدي بې پت

ارسال المثل :

حميد سربېره پر پورته ښېګڼو د ارسال المثل صنعت هم په خپل کلام کي راوړی دئ، يعني د پښتو ملي متلونه يې په خپل شعر کي په ښه شان ځای کړي او خپل شعر ته يې يو ښه ملي رنګ ورکړی دئ، چي د هغو موږ لږ مثالونه لاندي راوړو:

(١) متل دئ :

کوهي مه کينه و چاته، وبه کيندل سي تا ته.

حميد وايي :

هم هغه به پکښې پرېوزي دا متل دئ
چي و بل و ته کـــــوهي کيني و بال که

(٢) متل دئ :-

د لندو خټو لږ اوبه دارو دي.

حميد وايي :

د لـــــــندو خـــــــټو دارو لږي اوبه دي
آزمويې راباندي څه لره زور هومره؟

(٣)() متل دئ :

اوبه چي غاړي ته ورسېږي نو زوی تر پښو لاندي کېږي.

حميد وايي :

زوی او لور يې شي تر پښو اوبه تر حلقه
فرامـــــــوش په بېلتانه ځان او جهان شي

(٤) متل دئ :

کشر کشر دئ مشر مشر.

حميد وايي :

لري مشر مشره بخــــــــره کشر کشر
برابر نه دئ چرګ بانګ او ملا بانګ

(٥) متل :

نه به کاڼی پوست سي نه به غليم دوست سي.

حميد وايي :

واقعي نه کاڼۍ پوست نه غليم دوست شي
په بندګۍ د نفس مه غولـــــيږه اې مردکه

## د حميد دېوان او شعر :

حميد يو ډېر ښکلی دېوان لري چي د پخوانو ليکونکو په منځ کي په (در و مرجان) مشهور دئ.

دا دېوان تقريباً (٣٠٠) غزلي لري په پای کي يې مخمس، مثمن او رباعي هم شته او تصوف ته هم ځي، د ده طبعه ډېره روانه او بې تکلفه ده، که د مغولو مظالم نه وای، او د ده د ژوند غمو فرصت ورکړی وای[1] نو د خپل شعر زينې بې اسمان ته ايښي وای او د ادب و جګو ماڼيو ته به پورته سوی وای :

و اسمان ته به د شعر زينې کښېږدي
که حميد د غم له سره زنګون وکيښ

مګر سره د هغه لا هم د بلاغت په لحاظ ډېر لوړ تللی دئ، چي نور، ګرده ادبا د حيرت په سترګو ورته ګوري :

پارســيانو د حيرت ګوتي په خوله کړې
چي حميد سخن سازي کړه په پښتو کي

اوس د فـــکر توره واچوه حمـــيده
چي دي نشته په پښتو کي بل حريف

لنډه يې دا چي حميد په پښتو کي د داسي نوي سبک مبتکر دئ، چي هغه د پاړسو د سبک هند خوا ته نژدې دئ، په تخيل کي ډېر لوړ ځي او نوي نوي مضامين مومي.

---

١ – پر تمام جهان قراره قراري ده
پر حـمید د غم مغل راوخاته

په شعري تلازماتو او استعارو کي ډېر ابتکارونه لري، ځکه نو دی موږ د خپل مخصوص ادب مکتب مېسس ګڼو، او د خوشحال خان او رحمان بابا په مرتبه کي يې دروو.

که څه هم د ده په وينا کي عشقي او بزمي رنګ غالب دئ، مګر بيا هم اخلاقي او اجتماعي مضامين کله کله وايي او کلام يې مؤثر او مبرهن ښکارېږي، د ده نازکخيالي او د شعر خوږوالی له لاندي شعرو څخه تاسي په ښه ډول پرتله کولای سئ :

د يار د شونډو خيال :

دا ځما له غمه شـين زړه، پکښې خيال د يار د شونډو
هسي رنګ زېب و زينت کا، لکه مې په شنه پياله کي

ساقي :

چي نظر يې د ګلرخ ســــــاقي په مخ شو
د نرګس له لاسه جام پرېووت نسکور شو

د يار خيال :

يا مي خـــــوا لره له ورايه دلبر راغی
يا له پاسه مځکي ښکته ته نمر راغی

نسيم ته خطاب :

چي مي يار له خوبه ويښ نکړې نسيمه
ګـــوره الــــــــوزه په ورو په تلـــــطف

د وصل ښادي :

په ښــادي ځما د وصل کواکبو
په وهلو ګوتي ويستې له دفه

د دنيا يو تصوير :

بېهوده يې زړه تړي په ډنګ ډنګ پوري
د ګــــړۍ مېلــــــــمنه ورا ده دا دنيا

د نوخطو تشبيه :

د نوخــــــطو درشتي ځــما آشتي ده
په اغزن بوټي آرام کا عندليب ځما

## د حميد تاليفات :

حميد علاوه پر ښکلي دېوان نور آثار هم لري :

(۱) په (۱۱۳۷هـ) د (شاه ګدا) کيسه چي دمخه هلالي په فارسي ليکلې وه، نو حميد د غلام محمد اخندزاده په زېرمه په پښتو ترجمه کړې، او خپل د طبع اقتدار يې پوره څرګند کړی دئ، هلته

وايي :

چې بازي په تېره تېغ کا د خبرې
وښکي ډېرو پښتنو خپلې ډېرې
يو حريف پکښې پيدا د ميدان نه شو
يو ظريف پکښې پيدا سخندان نه شو
چې هم چشمه د سعدي د نظامي شي
يا هم جام د فردوسي و د جامي شي
نه يې کړې په پښتو ژبه نغمه ده
نه يې ايښې په پارسي ژبه تغمه ده
که هر څو مې د دې کاره کاوه شرم
ما تاوه رابانه دي نه شو دا خپل درم
چې باعث اخندزاده غلام محمد شو
د نفر په څېر ولاړ په خوش آمد شو
ويې ژر قلم واخله تکيه په خداي کړه
په پښتو پارسي کيسه د شاه ګداي کړه
هلالي که د هلال په څېر نګار کړه
ته يې مياشت د څورلسمي په سينګار کړه

(۲) عبدالحميد پر دې سربېره، د مولانا غنيمت د (نيرنګ عشق) مثنوي او د عزيز او شاهد کيسه د پاړسو څخه په پښتو ترجمه کړې ده چې دا دوه آثار په ښېښبور کي طبع سوي دي.

د حميد دا آثار د ادب په کتنه خورا غوره او ډېر خواږه او د نازکخيالۍ ډک دي، او ده خپله استادي او د طبع رشاقت او سلاست ښه پکښې څرګند کړی دئ، د نيرنګ عشق په پای کي وايي :

ما چي وپېيل دا دُر په باريكي
غوړو وركړه يو ځبل مباركي

چي د آب سره هوا يې شوه ولاړه
د ياقوتو له بازاره ګرمي لاړه

بل سر نشته دا رنګ دُر دي ګرامي
مګر يافت شي په دوكان د "نظامي"

كه څوك غواړي دا شراب حيرت انجام
مونده كېږي د "جامي" په ښكلي جام[۱]

شعر نه دئ دا خوناب د زخمي زړه دئ
وتلى د ستي دم له خولې د مړه دئ

يا نغمه د نيم بسمل مرغه د خولې ده
يا مجنون ته معما ښكلې ليلې ده

يا د وينو اباسيند وهلى موج دئ
يا له ښاره د حيرت وتلى پوج دئ

څو وهي د فكر زامي باندي شخوند
زياتوي ځما خبري همره خوند

نه دئ كار د هر نا اهل بوا لهوس
چي قدم ږدي د دې ناوي په جوس

كه يې څوك له مخه پورته كا پلو
د ښايست مخي يې نشته هيڅ پلو

دا ګوهر له نازكيه پېيه نشي
ازميلى دوباره ازميه نشي

د ناپوه له وچو پوچو بې پروا يم
بېهوده ماتي مېچني ته څه وايم

دا تحفه د باتميز يار عزيز ده
نه پېښكښ د ساده لوح بې تميز ده

نامحرم ته نه ښيي دا مستوره مخ
محرم بويه چي يې ځير كاندي په وره مخ

د هغو چي وران په جهل د خولې خوند وي
برابر ورته خواږه ترخه په خوند وي

كه دانا د زړه انصاف خولې ته قرين كا
په ويل به د "حميد" سل آفرين كا

(۱

## زوى ته نصيحت

۱ – شراب او جام او جامي سره راوړل ډېر نزاكت لري.

اي زما د دين دنيا په كوركي شمعي
جلوه گر اوسې مدام زما په جمعي

د اوږده عمر له ونې برخوردار شې
د ښادئ د دائرې قطب مدار شې

دم قدم دې سعادت مل او رفيق شه
څو چنده تر ما فلك پر تا شفيق شه

ناخواسته دي خداى پوره لره مطلب
د زړه خواست دي جلوه گر مه شه په لب

بېله خدايه و هيچا ته محتاج مه شې
و مخلوق وته سركوزى په تاج مه شې

د غفلت كربسكى وكاږه له غوږه
يو څو پنده درته وايم ويې نغوږه

اول وپېژنه خداى ته په يكي
د رسول پر رسالت مه شه شكي

دم قدم لره ځانه سره مل
رهنماى د شريعت علم و عمل

خنډ و خار خوف و خطر لري دا لار
هر قدم په فهم ږده درومه پر لار

هر چي نه ده محمد ) كړې لالنه
مكړه ته هغه بندگي هغه پالنه

څو دي لاس رسي له هري گناه تښته
خصوصاً بيا د آزار اخستو له پښته

هسي تښته له جملو بدو بدانو
لكه گډه بزه چي تښتي له لېوانو

چيري نه چي د دنيا په ننگ و شرم
نس شيطان درڅخه مات كا د دين ورم

كړه بندگي خاصه د خداى دپاره دله
مه غوږ باسه په دا باب بله بدله

كه په غوږ كړې دا گوهر زيبايي ستا ده
او كه نه وي د ناصح غاړه ادا ده

په ادنى خوړو پوښاك باندي قانع شه
په زياتي د نفس هوا حرص مانع شه

كه روزي دي صبر زهد د هماى شي
پاچهى ته به دي سوري رهنماى شي

كه دي كړې هوا او حرص سترگي وړي
په دولت كي به دي چوي زهر سړي

كوه خرڅ د خپل حاصل په اندازه
چيري نه شي په اسراف كي اندازه

آه افسوس بويه په حال د هغه كس
چي يې خرڅ كيږي يوولس حاصل لس

موافق له خپله توانه زيست بسيط كړه
مه افراط كوه يكلخته مه تفريط كړه

كه ساړه وي كه غارمه په ژمي ووړي
تيره مه غړوه پښه تر خپل خرڅوړي

هغه هسي ناندهي مه كوه پياري
چي دي فرض په غاړه وي نفل گذاري

فراخي ښه ده نه همبره چي پر تنگ شې
د هوا هوس پر اور باندي پتنگ شې

احمقان گڼي د عقل له خامى
په يوه نېكه نامه سل بدنامى

چي دي يو پلو لمن فقر راكاږي
بل پلو دي قرض داران پرتوگ وكاږي

نه دئ كم دا سخاوت تر لېونتوبه
دا غوړي وريجي بتر دي تر اتوبه

حاصل مه شه هغه زيب له دُر مرجانه
چي دي ځيري كا غوږونه ځما جانه

ساته كُل د كور سړي تر قبضه لاندي
د خپل حكم هيبت پروت لره ورباندي

هر عمل د خداى دپاره په اخلاص كړه
د مخلوق له پرستشه خاطر خلاص كړه

(له قلمي نيرنګ عشق څخه)

د حميد د دېوان څخه څو غزلي :

خط پر مخ د صنم راغی، که سپوږمۍ شوه په هاله کي
دا يې غاښ په خوله کي زېب که، که ژاله شوه په لاله کي
هسي رنګ سحر و جادو که، په نظر د شهلا سترګو
نه يې شان په هند کي شته دئ، نه ثاني په بنګاله کي
لکه ونبلي مرغۍ په سست دام د سلو لومو
هسي زه پرېشانو زلفو کښېيستم په کشاله کي
دا ځما له غمه شين زړه، پکښي خيال د يار د شونډو
هسي رنګ زېب و زينت که لکه می په شنه پياله کي
ما ويل عين ګڼه ګل دئ د غنچې په لمن نغښتی
که مي کوت يو ګل اندام و، پروت په سبزه دو شاله کي
سر تر پايه تېغ د هجر، لکه نی سوری سوری کړم
ځکه يم مدام دا هسي په فرياد و په ناله کي
که يار غواړې همري ژاړه، څو درځي "عبدالحميده"
دا په دا چي دُر مونده شي په درياب نه په ناله کي

چي پيرۍ مي ږيره سپينه کړه ملا بغرګه
په راستي مي د خپل آه هسي باور دئ
عشق په زړه د تن پرورو کله لګي
پرېږده ما په عاشقي کي وږی تږی
زه د يار غمونو هسي هډوپوست کړم

بويه قد د سرو قد، عصا تر تخرګه
چي همدم به يم له ښکليو پسله مرګه
دا چي نه کا اور اثر په لونده ګرګه
ته ناصح ورځه په ډکه ګېډه ارګه
لکه ونه په خزان کي شي بې برګه

(۱)

په ځواني د عشق غمونو "حميد" زوړ کړ
بې مودې يې ږيره سپينه شوه ملا بغرګه

په خيرات چي يار د حسن پاس لاس ونيو نمر سپوږمۍ ورته کچکول په لاس پاس ونيو
مهتر خضر يې په عمر خريدار شو چي يې خال غلام په مخ د نخاس ونيو
که څوك نيسي، خو يو زړه په اخلاص نيسي باري ښکليو درست جهان په لباس ونيو
شګوفې شګفتګي په شبنم راوړه که مي سترګو په ژړا کي اماس ونيو
چي مي يار په لور د مهر ګذر نه کا خدای زده نه پوهېږم بيا څه وسواس ونيو
زرکا نور ثناخواني د ترکو څه شو که يوه ناصح زبان و سپاس ونيو
چي يې تل سترګوکول پکښي خونونه د مخ ښهر يې د ږيري مواس ونيو

چي نازل شو د عشق تندر له آسمانه
ما "حميد" د غم لايق ورته لاس ونيو

چي اقرر په ناپوهي شه ښه يې پوه چي د پوهي لافو شاف کړې نه يې پوه
چي دي پوهه پخپل عيب نه رسېږي ترو په عيب به د بل په څه يې پوه
که دي وساته خپل ځان د نس له مکره وايه ځان و ته هاله چي ته يې پوه
چي د دين دانايي نه لرې په زړه کي بېهوده د ځان خوښي په خوله يې پوه
ولي غل د خپل کنډو در نيوه نه شي چي د نورو غلا ښيې په غله يې پوه
اول خپل ويران ويجاړ کارونه جوړ کړه که رښتيا د سازول په وله يې پوه

چي مي بې سواله مطلب کوې دلبره
څه عجب ځما "حميد" په زړه يې پوه

(له در و مرجانه)

---

۱ - ارګه يا اړره يعني تېغونه کاړه !

(۵۳)

# خانګل خلیل

دا شاعر د لومړۍ درجې ادیبانو د پای په پوړ کي درېږي، دی د (۱۰۵۰هـ) په حدود د پېښور په خواوو کي اوسېدی، او په قام خلیل و.

خانګل په پښتو ښه اشعار ویلي دي، چي دېوان یې متاسفانه اوس ورك دئ، داسي ښکاره کېږي چي خانګل د پښتو د مشهور ادیب او نومیالي شاعر حمید ماشوخېل پر سبك تللی، او له هغه موشګاف شاعر څخه یې زده کړه کړېده.

د خانګل د شعر دوې نمونې زموږ څخه سته، چي یوه څلوریزه او بله بدله ده، موږ دواړه لاندي رانقل کوو :

بدله

دا حسینه پري مسته پخوا راغله ... که و مځکي ته سپوږمۍ د سما راغله
په رونېتوب زما د اوښو شبنم نه دئ ... غنچه خوله چي د ګلرخ په خندا راغله
د جنون ځنځیر مي پرېووت و ګردن ته ... چي په زړه مي ستا د زلفو سودا راغله
چي دي تېغ د غمزې واچاوه و څنګ ته ... زه هغه ساعت په پوه شوم قضا راغله
په ژړا به مي لمن لنده وي ډېره ... که څرګنده مي په سترګو شها راغله
چي مي سترګي ولوېدې پر تا شهید ! ... پر زړه باندي مي یو بله بلا راغله
"خانګل" ګل د مضمون تول تر هسي حد کړ ... چي بلبله د پارسي په ژړا راغله

رباعي

بلبل هر چا ته دا خبرونه کا ... وخت د بهار شو غوټۍ ګلونه کا
پسرلی د هغو چي یار تر څنګ لري ... هیواد بېل شوی لا ارمانونه کا

# قلندر اپرېدی

د قلندر په نوم یو پښتون شاعر تېر سوی دئ، چې د ده قلمي دېوان سته، ډار مستېر فرانسوی مستشرق لیکي چې دی په قام اپرېدی و[١]، د قلندر د اشعارو څخه هم دا ښکارېږي چې د باړې او جمرود په شا او خوا کي اوسېدی، ځکه چې شاعر له خپلي طبیعي ماحول څخه متېثر کېږي او په خپل شعر کي یې یادوي، نو قلندر هم په یوه شعر کي د خپلو اوښکو تشبیهه د لوړو دوو رودو سره کوي[٢] او دا ځني ښکارېږي چې دی د دې رودو پر غاړو اوسېدلی دئ، له دې پلټني څخه ښکارېږي چې قلندر اپرېدی و او هلته اوسېدی.

قلندر د عبدالحمید ماشوال معاصر دئ، چې پسله (١١٠٠) هجري کاله ژوندی و، دی پخپله د حمید بابا معاصرتوب او شاګردي مني :

د پښتو ژبي په شعر په دا خپله زمانه کي
پرې دي نښو قلندره بې حمیده بل حریف

قلندر د حمید بابا د ادبي مکتب شاګرد دئ، ادبي استفاضه یې له دې منبعه کړېده، په شعر کي یې ځان پیرو ګڼي لکه چې وایي :

فضل د سبحان د قلندر په شعر وشو
دا واړه سبب فصیح بلـیغ و د ماشو

د قلندر له مضامینو داسي معلومېږي چې دی یو معمر سړی و او پر دنیا یې د عشق د وارداتو ډېري ترخې او خوږې څکلي وې :

وار په وار د هر اشنا په حال خبر شوم
راشه عـــمر مي تر ډېرو کالــو تېر شو

قلندر یو عاشق مشرب او مین سړی و، عشق خپل مسلك او مشرب ګڼي[٣]، دی پر

---

١ - د پښتونخوا د شعر هار او بهار د پاریس طبع ١٨٨٨ ع.

٢ -ستا د حسن په چمن کي دوه رودونه
له دوو ســـترګو ځما ځي باړه جمرود

٣ -عشق د ښکلیو دین مذهب د قلندر دئ     نور یې مه پوښـــته له دینه له مذهـــــبه

میرا نومي باندي مین و، یا یې دغه سړی پیر او مرشد و[1]، قلندر د هري بدلي په مقطع کي د میرا نوم هم له ځانه سره راوړي، خو په هر ډول دا ښکارېږي چي قلندر د میرا سره د زړه مینه درلوده، او د خپل محبوب په مینه کي یې ټول عمر تېر کړی او خواږه اشعار یې ویلي دي.

د قلندر او میرا د عشق او میني کیسه په پښتنو کي خورا مشهوره ده، په ټوله پښتونخوا کي دا کیسه په وګړو کي خپره ده، د قلندر د نقل نارې او سوزان اشعار داسي مړثر او دردناک دي چي پښتانه ژړوي.

"د قلندر او میرا" د میني کیسه ډېره د ارمانه او ژړا ډکه ده، وایي چي دوی له کوچنیوالي سره مینان وو، یو پر بل مین او زړونه یې سره بایللي وه، دوی په وړوکتوب د کندهار په شاوخوا کي اوسېده، مګر د قلندر عشق داسي پیاوړی و، چي هر کله به یې میرا ته وکتل بې سده کېدی به، یوه ورځ چي "میرا" له قلندره بېلتون کاوه، نو قلندر پر ناري کړه :

کـــه راســـه راســـه دلـــبـــره راســـه
زه دي غـــلام یـــم تـــه مـــي آغـــا ســـه
یـــار دي پـــر شـــوخـــو ســـترګـــو مـــیـــن کـــړم
بـــیـــا راتـــه وایـــې لـــه مـــا جـــلا ســـه

۲)

د قلندر د بېلتون دوره په داسي سوزانو واقعو ډکه ده، مثلاً پخپل مین پسي تل ګرځي، هر ځای پوښتنه کوي، د هر چا پل چي ویني په دې خیال چي دا زما د محبوب پل دئ خاوره یې اخلي په سترګو پوري یې موږي :

زه چي تل په لار کي ناست په انتـــظار یم
یار مدام بې غمه ناست خوښ او خرم دئ
هغه خـــاوري به رانجه کړم زه د ســـــترګو
چي آشـــنا مي باندي ایښی خـــپل قدم دئ

دا د بېلتون دوره ډېره اوږده ده، هر ځای چي یې محبوب ځي دی هم پسي ځي :

---

۱ -پخپله وایي :
"میرا مي پیر و زه یې مرید وم"
۲ - یار د یو وار مخفف دئ.

و هر لور ته چي يار ځي ورپسې ځمه
چي په غــــاړه مي د تورو زلــفو پړی
"ميرا" د هند لور ته تللی او قلندر د ده د بېلتانه په اورکي سوځي او دا د بېلتون حال داسي ښيي :
نصيب راوکړې چاري ناپسندي
د سيند پر غاړه مړ سوم له تندي
که قلندر راشي د هــــند له لوري
هله به وايم نصـــــــيبه رند يې !

***

چا چي جـــامونه د ميـــني ښبني دي
هــــر ننګ نام يې دواړه پرې يښي دي
که هــند له تللی آشـــنای مي راشي
څو صدقي مي په زړه کي ايښي دي
د هند تر بېلتانه وروسته "ميرا" سوات ته راغلی دئ، قلندر په مسجد کي د ده د ليدو په اميد پټ دئ، مګر پر "ميرا" د خپل مين بوی لګېږي مسجد ته نه ورځي، په دې وخت کي د خدای په قدرت مسجد اور اخلي او قلندر د اور له منځه پر "ميرا" داسي د اوره ډکه ناره کوي :
که اور دئ اور دئ بېلتونه اور دئ
زه قلندر يم پکښې مي کـــور دئ
د اور په سونګ به د چـــا رضا شي
رضــــا مي نه ده راباندي زور دئ
د قلندر د مرګ په خصوص کي خلك داسي وايي چي ده ميرا ته ډېري زارۍ او جګۍ وکړې چي راسه د سوات د غونډۍ پر سر په ختټه کي خپل پل کښېږده نو زه که تا نه سوای ليدلای پر دغه پل به دي قانع يم ... !
ميرا هم دغه خواهش مني او قلندر د سوات پر غونډۍ د ميرا پر پله کوډله دروي، هلته په کلو کلو ورته اوسېږي، د قلندر د ژوندون دا زمانه هم ډېره د ميني ډکه ده، يوه شپه سپوږمۍ ته ګوري او دا پيغام د سپوږمۍ په ذريعه لېږي:
که سپيني سپيني ســپوږميه سپيني
احــوال مي يوسه د يار تر ســـيمي

پر مـــــياجان مي ډېر ســـــلام وايه
چي يار دي خوري وی د زړګي ويني

وګورئ د قلندر د بېلتانه نارې غلبلې څومره سوځوونکي او د تاوه ډکي دي، په پښتو ادب کي د ده کلام په تېڅير او اغېزه کي مثل نه لري او د قلندر د زړه اور ښه ځني ځرګندېږي، د سهار خواږه نسيم ته وايي :

که باده باده ! د ســـــــــهار باده !
څه ښه هـــــوا لرې د لــــوړ هوا ده
پر مـــــــيرجان مي ســـــلام ووايه
د يار دي شنه سوه سترګو سواده

درسته شپه يې په بېلتون کي تېره کړې، د سهار قاصد څنګه ورلېږي :

ســـــهار ســبا شو پټېږي ســـــــتوري
خـــــــبر را نه غی د يار د لـــــــوري
قاصـــــــده ورشه خـــــبر يې راوړه
پسې مي سپين شوه د سترګو توري

د قلندر دا د بېلتانه نارې چي د اوره ډك زړه څخه راختلې، يو بشپړ دېوان ځني جوړ سوی دئ، مګر بېلتون او د هجران اور او سوی دا اور ژبی شاعر په ناکامي وژلی، او د فراق په ترخه دنيا کي يې ساه ختلې ده، د ځکندن پر وخت خپل ګران محبوب داسي راغواړي :

د رب دپاره کاغـــــــــذه ورشه
هغه اشـــــنا ته په نارو ســـر شه
چي تا ويشتلی قلندر پروت دئ
پر ځکـــــندن يې تلقين له ورشه

مګر افسوس چي ميرا د قلندر پر دې سخت حال نه دئ رارسېدلی وروسته چي قلندر مړ او د سوات پر غونډۍ پروت دئ ميرا د ده پر خاورو راځي او داسي د زړه د سوي ناره پر کوي :

د سوات په سر کي ځـما دلــــــبر دئ
دی په ښايست وی شمس و قمر دئ
يارانو راســــــئ ديـــــدن يې وکئ
د يار ديدن وی حـــج اکـــــبر دئ

## د قلندر دېوان :

د قلندر او ميرا کيسه خو په پښتنو کي هغسي مشهوره ده، چي موږ يې لنډيز لوړ وليکلی، دا دوه تنه مينان د ميني او عشق په دنيا کي پښتنو ته لوړ موقعيت لري او په ملي عشقي

کیسو کي دا هم یوه خوړه کیسه ده.

مګر قلندر یو د شعر دېوان هم لري، چي تقریباً دوه زره بیته او (۱۱٤) بدلي او (۳۵) رباعۍ پکښې سته، دا دېوان تر اوسه نه دئ طبع سوی قلمي نسخه یې سته چي په (۱۲۸۳هـ) د امیر محمداعظم خان په عصر کي د منشي عبدالنبي خان په سپارښت "حبیب" نومي بارکزی لیکلې وه. د ټولو غزلیاتو په مقاطعو کي خپل نوم قلندر او د خپل محبوب نوم "میرا" هم راوړي.

## اشعار او افکار :

قلندر یو طبیعي شاعر دئ، شعر یې حقیقتاً د احساساتو او د عشق د بې آلایشه تخیلاتو ښخه ترجماني کوي، کلام یې ټول عشقي دئ، فوق العاده میني او محبت یې کلام ډېر رنګین کړی او خوږ کړی دئ، د ده عشق په واقعي طور سره د حقیقي عشق نمونه ده.

قلندر د شاعرۍ په لحاظ د لومړۍ ډلي په پای کي درېږي کلام یې تاثرناك او د عشق او ګدازه ډك دئ، د ده په شعر کي د حمید د کلام رنګ معلومېږي، که ښه هم د حمید کلام ډېر لوړ او د تشبیهاتو او نازك خیالۍ کان دئ، مګر ده هم د ده د طرز پیروي او د تعقیب کوښښ کړی دئ.

قلندر د خپل محبوب نوم ځای په ځای راوړی دئ او هیڅ وخت یې د خولې نه اچوي، همېشه د خپل اشنا په مینه کي مستغرق و او په کایناتو کي یې د بل هیڅ شي سره علاقه نه ده پیدا کړې، دی یو حقیقي مین و او د عشق په لار کي د پاکنفسۍ او عزۍ النفس خاوند و، ده هیڅکله د یار مخ ته په وړکوتوالي کي نه دي کتلي، تش د هغه د مخ په تصور به یې عمر تېراوه[1] داسي معلومېږي چي میرا د هند پر لور ځني تللی دئ، نو ځکه همېش هندوستان یادوي :

زه مجنون نه یم نور ښه یم روغه خلکه
چي میرا رانه روان د هـــند په لور دئ

بیا چي یې د یار په غم کي د اوښکو سېلاب رابهېدلی دئ پر مخ یې رودونه را روان دي، نو هلته یې هم په علاج نه پوهېږي او د بندولو او ایسارولو چاره یې نه لري، نو وایي :

اوښي د باڼو په ســر چي راشي نه درېږي
نه دي چا بند کړي په ګیاه سره سیندونه

د دې سره سم یې د غمونو ډك زړه ښخه آتشین آهونه راوتلي دي او د صبر په درمند یې اور لګېدلی دئ نو د دې اور د علاج او وژلو ښخه هم عاجز دئ، لکه چي وایي :

---

۱ - مــه ګوره بې خـطه قلـندره د یار مخ ته
بې تورو ږندېږي چي ښوك ګوري و کاغذ ته

نه شي څوك ساتلی سره بڅری په ګرېوان کي
و مي ســــــوه په آه سره د صــــبر درمندونه

د ده زړه د زمانې د ګردش د لاسه ذرې ذرې او ټوټې ټوټې سوی دئ، نو لکه يو سړی چي د بل چا د لاسه ډېر په عذاب سوی وي او ورته وايي :

"چي نور راڅخه څه غواړې؟ څه چي دي غوښتل هغه دي وکړل. اوس خو مي پرېږده !". دا رنګ دی هم فلك ته په ويلو لګيا دئ :

ناست يم ستا د لاسه زړه پاره سينه افګاره
ته له ما نه څه غواړې فلکه ستمـــــګاره !

پر قلندر چي د هجر ډېره زمانه تېره سوه نو غواړي چي د خپل آشنا څخه د وصل وعده واخلي، وګورئ په څه ښه صورت سره ورته وايي چي زه خو په سفر روان يم، هر څه تيار دي، يو تا ته معطل يم، يعني ژر مرم، نو که اوس رانه سې څومره به ښه وي دا د حسن طلب يو برجسته مثال دئ :

قاصــده ورشه خـــبر يې راوړه
چي د راتللو وعـــــده يې کله ده؟
قلندر درومي نيت يې د کوچ دئ
کډه يې تا ته ميرا معـــــــطله ده

## لفظي محاسن :

د قلندر په کلام کي لفظي محاسن هم پيدا کېږي، شاعرانه تخيلات، استعارات، تشبيهات او داسي نور بديعي کيفيتونه پکښې سته، د دې خبرو د اثبات له پاره لاندي نمونې راوړلي کېږي :

طباق :

هم خندا کړې هـــــم ژړا په يوه دم کي
ګوره څرنګ لرې سوز او ساز د شمع

کاکل :

چي نســـيم يې لفافه د کاکل وا کا
آهو ځای به په ميدان کي د خطا کا

د عشق اثر :

زه مقيم شوم لـــکه ګنج په ويرانه کي
عاشقۍ په خــــرابۍ کي ابادان کړم

د يار د مخ سهار او ماښام :

نه دئ چا لـــیدلی صبح و شام په یوه ځای کي
ما ته لمر ښکاره شو ستا د زلفو په تورتم کي

د سرو شونډو خیال :

د سرو لبو خیال مي نقش دئ په زړه کي
ځکه سرې اوښــکي مي څاخي په بستر

د بادامي سترګو غمزې :

د بادام په دود مي زړه سوری سوری شو
چي راپورته په غمزه ســـترګي بانړو کړې

## د کلام نمونه :

دا پـه خـواب کـي راحـضـور شـو د دلـبـر مـخ
کـه پـه ابـر کـي ښـکـاره شـو د قـمـر مـخ
چـي یـې ولـیـده دا سـتـا جـوهـر د غـاښـو
پټ له شرمه په خپل آب کي کړ ګوهر مخ
لـه حـیـا دي غـټ و مـخ تـه کـتـی نـه شـم
کله لـید پـه خوړو سترګو شي د نمر مخ
را پـه یاد چي دي د سرو شونـډو خواږه کړم
ټکوم لـکه مګس عـبث خـپل سر مخ
کــه مــي ور ولــې د ورک آشــنـا تــر وره !
ځـکـه نـیـسم زه و تـلـو تـه د رهـبـر مـخ

"قلندر" د میرا هلته عاشق بوله
که یې ونیو ستا بانړو ته د ټټر مخ

دا تـور خـط راغـی پـه مـخ د نـاز پـرورکـي
کـه مـاښـام پـه بـیـرتـه راغـی پـه سـحـر کـي
دا دوې سـتـرګـي دي پـه سـر ځـمـا د سـرو
کـه چـا ایـښـي دي ډېـوې پـه صـنـوبـر کـي
تــر دنــدانــو یــې د ژبــي ســرخــي خــپــژي
کـه د لـعـلـو خـزانـه ده پـه ګـوهـر کـي

چي د هر سړي خاطر پرې ګرفتار دئ
اول زلفي دوهم خال درېيم رخسار دئ

چي مدام د عاشقانو سره مل دئ
يو وصال دويم هجران دريم انګار دئ

چي پېرزو يې بېله ښو په بدو نه شي
اول مور ده دويم پلار دريم ښه يار دئ

دا درې څېزه دي رب واخلي له مينو
يو ګناه دوهم خواري دريم چي عار دئ

دا درې څېزه دي سړو لره جوړېږي
شيخ تسبيح ملا کتاب هندو زنار دئ

چي دا درې صفته شته دي اميدوار يم
يو رحيم دوهم کريم دريم غفار دئ

نتيجې د عاشقيو خو دا درې دي
يو ديدن دوهم بوسه دريم کنار دئ

چي پرې غم غلطاوه شي هغه درې دئ
يو قلم دوهم بياض دريم اشعار دئ

ډېر تالاښ ورپسي وکړه "قلندره !"
دين په کار، علم په کار، باطن په کار دئ

## رباعيات

پاس په تندي مي آسمان ترپېږي — له تاوه جوشه ماغزه مي لوېږي
که ته رادرومې تلوار راوکړه — په تش کاته دي رنځور ښه کېږي

وفا دي ښه ده جفا دي سوی يم — زه سمندر يم هجران داغلی يم
زه قلندر دي په هجران وسوم — بې رحمي مه کړه درله راغلی يم

دا سرې لمبې مي په تندي بلي دي — تندی مي سوځي کولمې مي جلي دي
خوشحالي نشته د عاشقانو — د هجر هسي ناتاري چلي دي

زه په هجران کي دي مبتلا کړم — غريب همېش دي په واويلا کړم
د رب دپاره جفا نو پرېږده — زه قلندي دي ميرا جليا کړم

تر زني تېري د زلفو څوکي دي — تر ګل ختلي د بورا نوکي دي
دا قلندر دئ د ميرا صفت کا — که په چمن کي د بلبل کوکي دي؟

د حسن وار دي آشنا تېرېږي — جفا له تا نه اوس نه ښايېږئ
د رب دپاره له جفا واوړه — ګل چي سي مړامی بوی يې زياتېږي

﴿۵۵﴾

# ميرا

د قلندر مرشد او مين او دوست و، چي تفصيل يې دمخه د قلندر په برخه کي تېر سو، ښکارېږي چي قلندر د ميرا سره عشق درلود، خو د ميرا هم د قلندر مينه په زړه کي وه. مګر د قضا لاس دوی سره بېل کړي او په بېلتون يې لړلي وه.

ميرا هم د قلندر په مينه کي د اوره ډکي نارې لري، چي دی هم تر (۱۱۰۰هـ) وروسته اوسېدلی، لاندي د ده يو څو نارې د نمونې په توګه ليکو :

چي قلندر مړ سو او ميرا ته له ليري د ده د ګران يار د مرګ الهام وسو، نو را رهي سو پر لاري يې د يوه بزګره د قلندر پوښتنه وکړه، هغه ورته وويل چي قلندر يې پر هغه غونډۍ ښخ کئ، ميرا ناره پر وکړه :

کښت دي شين کيږه بيا ريبل کيږه !
غـــــنم دي من او خروار کـــــيږه
زمـــــا د يار احـــوال خو دي راکی
بل پر ايمان دي ډېر فـــــضل کيږه !

چي پر غونډۍ راوخوت هوسۍ يې وليده، نو يې ناره پر وکړه :

هوســـــيه وخورې د ســـــترګو توري
پر لـــوړ ولاړه ښـــــکاريان په وري
ښکاريان لا کله د ګور بنديان شوه
خـــــزي ولاړي دي تـشي تـــوري

پر غونډۍ سربېره د قلندر کوډل ولاړه وه، نو ميرا د ده په ياد داسي ناره وکړه:

که خـــــاصه خاصه دلـــــبره خاصه
خـــــېمه دي نجتي د لـــوړ دپاسه
ستا د اجل ســـــپاهيان چي راغله
ځيرك يې وخوت خېمه پرېباسه

تر دې وروسته يې د قلندر پر قبر داسي نارې غلبلې وکړې :

د سوات په سر کي ځـــما دلـــــبر دئ
دی په ښايست وی شمس و قمر دئ
يارانو راسئ کې ديـــــدن کانـــــدی
د يار ديدن وی حـــــج اکـــــبر دئ

د ميرا وروستۍ ناره :

خدايه دا مځـــــکه پاره پاره کې
پردېس لالی زما راته ښکاره کې
په بېلتانه کي الوی مکوټ سوم
يو وار يې ديد بيا راســـــره وکې

وايي چي تر دې نارې وروسته ميرا هم د ميني په جذب او کشش مړي، او د قلندر سره يو ځای ښخېږي.

# غلام محمد

د پښتو له دريمي درجې شاعرانو څخه دئ، چي د مستر راورټي په قول په عيسوي اووه لسم قرن کي ژوندی و[1].

د غلام محمد وينا ساده او عموماً د مثنوي په ډول ده، د شعر فنون او نزاکتونه نه لري، فقط د بحر او قافيې لحاظ کوي. دی يوه کيسه ساز شاعر دئ، چي د سيف الملوك په نامه يې يوه کيسه نظم کړېده. يوه "معراج نامه" يې هم منظومه ليکلې ده.

دوه نور کتابونه "جنگنامه" او د "والضحی منظوم تفسير" هم له ده څخه پاته دي، د ده له تفسيره ښکارېږي چي د دې د علم په کتابو کې ښه معلومات درلوده. د غلام محمد نور د ژوندون وقايع موږ ته نه دي ښکاره، فقط د ده کيسې په عوامو کي شهرت لري، او ځکه چي ساده ويل يې کړي دي، نو د ده کتب او اشعار هر ځای لوستل کيږي او د عوامو پر ذهنياتو باندي سم دي.

لاندي به موږ د ده له تفسر والضحی څخه چي قلمي نسخه يې سته، څو بيته د نمونې په ډول رانقل کړو :

1 - د پښتو گرامر مقدمه، د کلکتې طبع ۱۸۵٦ ع.

### د بې وزلو کومک

هسي وايي د صديق په خلافت کي | يو سړی و ډوب تمام په معصيت کي
ډېر فاسق زاني ميخور ډك له عصيان و | نقل کړی ده له دې فاني جهان و
هغه شپه صديق په خوب کي و ليدلی | شاهانه تاج يې پر سر و ځلېدلی
ابوبکر ځني وکړله پوښتنه | دا عزت دي په څه بيا موند له څښتنه؟
ته په فسق او په فجور هر چرته معروف وې | بېرون تللی له نېکيه له وقوف وې
غه سړي ورته عرض وکړ اې صديقه | دا خبر رښتيا و تا ته کړم تحقيقه
يوه ورځ هر ګوره وږی بې قوت وم | کور ته تللی د مړی خوړو په نيت وم
چي مړی مي په لاسونو واخيستله | هغه وخت فقير پر ما ناره وکړله
غه مړی مي هغه وخت و فقير ورکړه | زه هم هسي وږ:ی کښېناستم باور کړه
اوس هغه مړی دلې ځما په ښه شوه | راوستم يې تر دې ځايه ځما مله شوه
باري خدای مي رامعاف کړه ګناهونه | را يې وبخښله واړه نعمتونه

﴿۵۷﴾

# بای خان

دا شاعر موږ په لاندي دوه سنده پېژنو :
لومړی خو د کندهار د هوتکو يوه مشهور شاعر عبدالرحيم د ده نوم په يوه بيت کي راوړی، او دی يې د خوشحال خان خټك سره سيال ګڼلی دئ، هغه بيت دا دئ :

که مي ناړي ستا تېري کړې تر ستوني
پير کامل به د خټك او د بای خان شم

له دې تذکاره موږ دا را ايستلای سو، چي بای خان د عبدالرحيم تر عصر دمخه و د عبدالرحيم د ژوندون دوره خو د (۱۱۵۰هـ) په حدودو کي ده[1]، نو موږ دا تخمين کولای سو چي بای خان د (۱۱۰۰هـ) په حدودو کي ژوندی او د خوشحال خان خټك له معاصرينو څخه و، ولي

---

۱ -په دې کتاب کي د عبدالرحيم برخه وګورئ.

چي عبدالرحيم هم دی د خوشحال خان سره سيال او يو ځای ياد کړی دئ.

دوهم مسټر راورټي د خپل ګرامر په مقدمه کي ليکي چي بای خان د بنير و، او ده د مولانا جامي ليلی و مجنون په پښتو نظم کړی دئ[1]، دا کتاب اوس ورك دئ، او داسي ښکاريږي چي هغه مدقق مستشرق يې نسخه موندلې وه.

راورټي د خپل ګرام په (٥٠) مخ کي د بای خان له ليلی او مجنون څخه فقط دغه يو بيت راوړی، او د هغو مرغلرو له لاړه يې موږ ته دغه يوه دانه راساتلې ده، نور اشعار يې اوس زموږ لاس ته نه راغله، له دې بيته ښکاريږي چي د بای خان ليلٌی مجنون په لنډ بحر کي د قصيدې په ډول و.

د بای خان هغه يو بيت دا دئ :

له دې خپلي بدي بخري
چا ته ژاړم په چا داد کړم

﴿٥٨﴾

# حميدګل د پلوسه

لکه چي ډارمسټټر ليکلي دي، حميدګل د پښتو د مشهور شاعر عبدالرحمان بابا خوريی و، چي پېښور ته نژدې په پلوسه کي اوسېدی، ځکه چي پخپله رحمان بابا د (١١٠٠هـ) په حدودو کي ژوندی و، نو موږ د حميدګل د ژوندون وخت هم تر (١١٠٠هـ) وروسته ټاکلای سو.

حميد ګل يو ملي شاعر دئ، چي په ملي لهجه يې ښې بدلي ويلي دي او د ده بدلي يوازي په پېښور کي نه بلکي تر کندهار او فراه پوري پښتانه لولي.

د حميد ګل دا بدله په پښتنو کي ډېر شهرت لري، او ډارمسټټر يې ځيني ځايونه غلط چاپ کړي دي، موږ يې دلته صحيحه ليکو :

---

١ - وګورئ د راورټي د پښتو ګرامر مقدمه د ١٨٥٦ ع د کلکتې طبع.

## بدله

یا ټیك ستا پر جبین دئ یا ستورګه د سبا ده
یا جام د چین ماچین دئ یا سپینه خوله زېبا ده

یا عطر د ګلابو یا ستا د مخ خولې دي
یا توري د پولادو یا سترګي د لیلې دي
یا کیف دئ د شرابو یا بنګ د بنګالې دي
یا هجر سخترین دئ یا تبه یا وبا ده

یا ستا خوږې خبري یا قند د سمرقند دئ
یا ستا شونډې نادري یا د خرماو خوند دئ
یا پولادي زغري یا ستا د اوربل بند دئ
یا کمیس ګلګین دئ یا دو زیر قبا ده

یا میاشت د پنځلسي ده یا ستا تندی روښانه
یا عرش لاندي کرسي ده یا ستا زرین دالانه
یا ستا د لاس ترسي ده یا تخت د سلیمانه
یا لاس د هیبتین دئ یا د موسی همسا ده

یا ستا سترګي رڼې دي یا ستوري د اسمانه
یا د کابل منې دي یا ستا سپین زنخدانه
یا د طاوس بڼې دي یا زلفې دي شانه شانه
یا خوند د انګبین دئ یا ستا خوله مربا ده

یا باغ د ښکلیو ګلو یا ستا ښکلی کاکل دئ
آواز دئ د بلبلو یا زړه "حمیدګل" دئ
یا تېغ د غوڅولو یا ستا خوني چارګل دئ
یا دا مرغه زرین دئ یا هغه محبوبا ده

# کاظم خان "شیدا"

شیدا یا د شعر او ادب د پخې کورنۍ یو نازکخیال مبتکر شاعر چې د افضل خان زوی او د خوشحال خان کړوسی دئ، په (۱۱۳۵هـ) کې پیدا سوی او لکه چې د پښبنور سید رسول خان رسا لیکي د ځلمیتوب په وخت کې د خپل مشر ورور اسدالله له لاسه له کوره وتلی، لومړی کشمیر او پس له هغه سرهند ته تللی دئ، او وروسته یې په رامپور کې استوگنه غوره کړې او هورې مړ سوی هم دئ[1].

دی پخپله د خپل قلمي دېوان په مقدمه کې له خپلې مسافرۍ او غُربت څخه شکایت کوي او د خپل دېوان د ترتیب تاریخ په دې مصرع کې : "شیدا دېوان دئ شهد او څه نبات" په (۱۱۸۱هـ) کال ښیي نو د ده د تولد او د کتاب له تاریخ څخه معلومېږي چې دی په ٤٦ کلنۍ کې د دېوان خاوند سوی دئ.

د شیدا له یوې رباعي څخه معلومېږي چې دی تر (۱۱۹۱) پوري ژوندی و، ځکه چې دی په دغه کال د یو چا د وفات تاریخ ښیي، نو د ده عمر تر دغه وخته (٥٦) کلو ته رسېږي، تر دې وروسته یې د ژوند تاریخ نه دئ ښکاره، د شیدا دېوان چې تر اوسه پوري نه دئ طبع سوی او یوه قلمي نسخه یې لیدلې سوېده په دې راز ترتیب سوی دئ :

۱. مقدمه
۲. مثنویات
۳. غزلیات
٤. قصاید
۵. مخمس
٦. رباعیات
۷. قطعات
۸. مسدس

---

۱- د پښبنور د خیبر مجله، اپریل ۱۹۳۴ ع.

## د شیدا شاعري :

شیدا پخپله شاعري کي د نازکخیالۍ خو اته زښت ډېر مایل دئ، مګر ده په عین نازکخیالۍ کي د پښتو د شعر سبك او خصوصیات نه دي پرې ایښي او په یوازي خیالي او تصوري دنیا کي نه دئ ګرځېدلی، ځیني مثالونه یې حسي او وقوعي هم راوړي دي، او له خیالي تشبیهاتو څخه یې ځان ساتلی دئ. شیدا په شعر کي مضمون او رنګینو الفاظو دواړو ته اهمیت ورکوي او د شعر په نسبت خپله نظریه په دې ډول ښکاره کوي :

مضمون د شعر لکه پیکر وي
رنګین الفاظ یې رخت و زېور وي
ورته ضرور دي دا دواړه څیزه
پیکر که هر څو دلرباتر وي

شیدا له مبتذل مضمون څخه ډېر څنګ کوي او خورا خواږه مضامین په شعر کي راوړي، مګر په مضامینو کي یې تامل او فکر کول ډېر ضرور دي، دی پخپله خپل ځان او خپل شعر په دې شان ستایي :

هنر نه دئ چي ځان ستایم — که په فن کي بې همتا یم
مناسب د تقریر دا شوه — چي مي طبع خودستا شوه
سخنور که توتیان ډېر دي — کله دوی زما په څېر دي
چي ادا شېرین نفس کړم — نیشکر چوب د قفس کړم
چي لب وا لکه صدف کړم — ډك په درو هر طرف کړم
هر مضمون مي طبعزاد دئ — کل زما د رای ایجاد دئ
نه غلط نه مبتذل دئ — توارد یې محتمل دئ
ګیله من یم له حاسده — ښه متاع کاندي کاسده
انګبین سکنجبین کا — په مزه یې تریو جبین کا
چي نازك د چا خیال وي — هم بلند لکه هلال وي
تامل پکښې ضرور شي — پس له هغه پرې مرور شي
که صحرا ګل ګلزار وي — آهسته خرام په کار وي

شیدا د پښتو پر اکثرو شاعرانو تنقید کوي او یوازي څو کسو ته قایل دئ. په دې لاندي بیتو کي دی د پښتو او پښتنو شاعرانو په نسبت خپله نظریه ښکاره کوي، او د خپلي کورنۍ خصوصاً خپل نیکه خوشحال خان استادي بیانوي، دی خپل اصلي ځای سرای د اکوړې، د شعر او ادب ځانګو ګڼي، او لکه خوشحال خان پېښور هم پخپل پخواني نوم بګرام باندي ستایي :

د پښتو ژبه تمامه ده بې نظم او بې نظامه
چې اشعارو ته یې ګوري خود زما تر شعر پورې
جوړ د نثر عبارات دي مسجع په فقرات دي
عندلیب وایي و ځان ته راشي دا زیبا بوستان ته
ګل پرېشان کا له آهنګه بیا غنچه کاندي دلتنګه
په دا هونبره پښتنو کې بیا په ژبه د پښتو کې
په دا فن کې څو اشخاص دي ډېر زموږ خاندان خاص دي
یو میرزا، دولت، واصل هم ښه کلام لري حاصل هم
چې قلم په لاس د "خان" شو مرتب یې لوی دېوان شو
تصانیف یې فراوان شول مستند د درست افغان شول
سلیقه یې کړه عیانه طریقه یې کړه بیانه
هر شاعر چې د افغان دئ رېزه چین د "خان" د خوان دئ
في المثل که بل مهتاب وي مستفید د دې افتاب وي
چې پر غرونو شي لار صافه قافله درومي تر قافه
چې وي پل په دریا باندې څوک به غم د شنا کاندي
له حسده که پاك زړه کړې په دا کار کې انصاف وکړې
خان استاد د تمام روه دئ بل استاد د دې ګروه دئ
سرای مطلع د دې آفتاب دئ په عالم یې هر ځای تاب دئ
پکښې هسې شان نکات دي چې نازك لکه ذرات دي
په رنګین خیال رنګین دئ سر تر پایه ګل زمین دئ
دا قطعه ده ګل افشانه رنګینه تر بدخشانه
که انصاف کړې قابل خیز دئ دا بهار عنادل خیز دئ
هم یې ښه آب و هوا شته بلبلان یې خوشنوا شته
څو ګردان وي دا سپهر درخشان وي ماه و مهر
څو باده جام و ساقي وي څو نشه خمار باقي وي
تر هغه دې سرای ودان وي هم دې جوړ دا خاندان وي
ګلستان یې خرم اوسه بلبلان یې بېغم اوسه
پرې ګذر د خزان مه شه عندلیب یې نالان مه شه
څو دا کاخ دل افروز وي پکښې دا جشن نوروز وي
تر هغه پورې بګرامه په جهان مه شې بې نامه

شیدا په نازکخیالۍ کي بې حمیده، بل څوك خپل ساری نه لري او بل هیڅ‌چا د ده په اندازه شعري صنایع په پښتو کي نه دي ځای کړي. بلکي کله کله حمید هم په مضمون آفرینۍ، نازکخیالۍ او ابتکار کي ده ته نه رسېږي. مګر په عبارت کي یې سلامت او د پښتو رنګ له دغه څخه زیات لیدل کېږي او برسېره پر دې د قدامت حق هم لري، نو ځکه موږ حمید د دې راز سبب لومړی استاد ګڼو، شیدا پخپل شعر کي د تلازم رعایت هم ډېر کړی دئ، دی اکثره په یوه مصرع کي مدعا او په بله کي مثال او دلیل راوړی، لکه په دې دوو بیتونو کي :

سرکشان وي مسخر د خاکـــــــسارانو
زمین بوس دئ د ساحل توپان د موج

په ذلت کي مي عـــــزت د ارتفاع دئ
که مي څوك لــــکه غبار وهي په لته

شیدا پخپلو تعبیراتو کي له اختصاره ډېر جذابیت هم لري او خپله مدعا ډېره ښه ښکاره کوي.

د شیدا په شعر کي ښېله دې چي الفاظ او کلمات یې زیاتره پارسي او عربي دي نور د هیڅ عیب ګوته نه ایښووه کېږي، سره له دې چي د ده شعر د عبارت له کبله پارسي ته نژدې دئ تخیل او سبك یې بیخي پښتو دئ، څوك چي د شیدا شعر ته ښه ځیر سي او تر الفاظو وړاندي تېر سي دا به ورته معلومه سي، چي دی پخپل تخیل او مضمون آفریني کي په هیڅ‌چا پسي نه دئ روان، د ده له دې بیته :

چي سرور په مستعار کا شیدا واروه
د دهقان په دانه رقص لــــکه آسیا کا

په ډېر ښه شان معلومېږي چي د ده له پردي مضمونه ډېره کرکه کېږي او لکه چي پخپله وایي :

هر مضمون مي طبعزاد دئ
کل زما د رای ایجـــــــاد دئ
نه غلــــط نه مبــــــــــتذل دئ
توارد یې محتــــــــــمل دئ

د ده هر مضمون خپل ابتکار او ایجاد دئ چي که بل چا هم د ده مضامینو ته لاس اچولی وي هغه به یا توارد وي او یا به یې له ده څخه اخیستی وي.

## د شیدا اساسي افکار :

ځیني پخواني شاعران د تصوف په رڼا کي روان وو، دنیا او د دنیا آرایش به ورته هیڅ او بې حقیقته ښکارېده، کله به یې ورته سېراب ویل او کله به یې ورځني نور تعبیرونه کول، مګر شیدا تر دې تاثیر لاندي ډېر لږ راغلی دئ، یوازي په دې دوو بیتونو کي د دنیا بې ثباتي بیانوي او آرایش ته یې بد وایي، مګر د ادبي برهانه سره:

اعتماد نشـــــته په کار د آسمان ځـــــکه
چي له دې اوجه یې لمر وویشت په مځکه
د دنیا آرایش هیـــــــــــــخ دئ و دانــا ته
پخـــــپل حسن غـــــــولوي نادان نیزکه

شیدا بعضي اساسي افکار لري چي دی یې پخپل دېوان کي تر آخره پوري تعقبیوي او لکه بعضي نور شاعران چي کله یو څه وایي او کله بل څه، بې ارادې هر طرف ته نه ځي، نو موږ شیدا یو مسلکي شاعر بللی سو، چي خپل کام ته یې ډېر ښه ښه درسونه ورکړي او د ژوندانه لاري یې پوره ورښوولي دي.

شیدا ډېر زیات د میني او محبت طرفدار دئ چي دی ورځني په حرارت او ګرمي سره تعبیر کوي او بالعکس سردئ او خمود ته ډېر بد وایي نو دی د هر شي ښه والی او بدوالی په همدغه لحاظ بیانوي او په مختلفو پیرایو کي دغه مضمون ادا کوي.

اول ځل پخپل مناجات کي له خدای تعالی څخه د میني او سوزګداز سوال کوي، له سردئ څخه پناه غواړي او د حرارت او درد آرزو کوي :

| | |
|---|---|
| ا لـــــهـــی د مـــیـــنـــي درد را | ګـــرم دل آهـــونـــه ســـرد را |
| خـــلاص کـــړه مـــا لـــه بـــې دردئ | لـــه دې هـــســـي دلـــســـردئ |
| زړه پـــه شـــان د غـــنـــچـــې راکـــړه | آتـــشـــي زمـــا مـــیـــنـــا کـــړه |

وروسته له دې څخه په نورو مختلفو ځایو کي وایي :

شــــــیدا زده کړه د آفـــــتاب ګرم رویي
لار به طی د خپل مقصد په یوه ګام کړې

تر هـــغه چي سردجـــــوشي د حـــــنا وینم
خـــوبش په طور د ســمك بې دست و پایم

چي په شان د آفـــتاب نه دئ ګـــرم رويه
ســـتا په سر که په ســـايه د هما خوښ يم

چي لـــــــيده پکـــښې اثر د الـــم نه شي
څه حـــــاصل لـــــکه شبنم له چـــشم تره

د دوران سردجـــوشي هسي تقاضـــــا کا
چي په اور کي دا نه سبزه شي د ســپاندي

د تنور شـــــــعله به آب د فــــــــوارې شي
سردجـــــــوشي که ورته ياده د ايـام کړې

شيدا پخپل دېوان کي ډېر ښه انتهايي او تعليمي مضامين لري، چي موږ ورته د پښتو اجتماعي شاعر ويلای سو، ځکه چي دی د خپل قوم ټولو نقايصو او عيبونو ته ښه ملتفت سوی دئ او هغوی هم ورته ملتفت کوي، يو ځای د تنګ نظرۍ او ناپوهۍ په نسبت وايي :

نادانۍ درته بيـــــضه وسيع جـــهان کړ
د هــوا په طـــــيران پوه نه يې معذوره

ناداني ګــــــښه غـــفلت د رهـــــروانو
لکه طفل د ځانګو په تله کي خواب کا

په بل ځای کي د ځان ساتلو او سياست پيچيده مضمون په دې شان د خلکو غوږو ته رسوي :

همېشه وي نرم چـــــوب عذاد کرم
شيدا مه شه مردخالي له ســــياسته

سترګي نه سوزي د خس له نامردانو
که همه لـکه ايرې آتـــش نسب وي

شيدا لويو او وړو دواړو ډلو ته ډېره ښه لارښوونه کوي او هر يو له خپلي وظيفې خبروي، مشرانو ته وايي :

د ذرې په احـــــوال تل د لـــمر نظر وي
لوی به نه ګوري واړه په ســترګه ســـپکه

بار د هر خس و خاشاك په خپل ګردن بړده
حوصله دي په مـــــثال د لـــوی دریا کړه
په بل ځای کي وړو او کشرانو ته دا راز نصیحت کوي :
سرګردان کاندي ګرداب خلاف د بحر
بېروي د لــــــــــویو ده بې مـــــضرته
شیدا پخپل دېوان کي یو ځای د سعي او طلب په نسبت وايي :
همـېشه کـــوه طلب کــه پر مـــــایه يې
د کنبتۍ کچکول په لاس روان جیحون دئ
په بل ځای کي د اجتماعي خدمت له پاره خلکو ته ترغیب دا راز ورکوي :
ډېر به ستا په سبب خــوب د راحت وکا
که د مهد په شان ورك د ځان آرام کړې
شیدا په لوړ همتۍ کي ډېر لوړ پوړ ته ختلی او وايي :
که دي جام لکه حباب ونه نوی سیند ته
آفــــرین دي په همت شـــیدا خـــتکه
په بل ځای کي وايي :
چي همت مي نه کا دیر په هســـــــکولو
لـــــکه مــــوج نه کړمه بیم د پرېوتلو
سوال مي خوی له درافـشانه ابره نه دئ
صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو
د آفتاب په کمند نه خـــــېژم آســمان ته
نه بړدم بار لــــــــکه شبنم په دوش د ګلو
د شیدا دغومره لوړ همتي د ډېر قدر وړ ده، ځکه چي د ده عمر په مسافرت او غربت کي تېر سوی، چي دی پخپله خپل دغه حالت په دې شان تصویر کوي :

د اشفاق طمع به څه کړي له اخوانه نتیجه یې ورکېده دي له کنعانه
آخر وژاړم په شان د غریبانو که هر څو د وطن صبح ده خندانه
زمانه په رعایت د ګاوخر ده پرورش د علف زار بویه باغوانه
د کورۍ نیل دي کړه پوري په دیده خپل بصارت د تمیز نه لري اسمانه

مګر سره له دغه حاله شیدا خپل همت او فطري جوهر له لاسه نه دئ ورک کړی او له خپل معنوي برمه نه دئ لوېدلی، نو که موږ د شیدا لوړ شخصیت په نظر کي ونیسو او د ده په هر بیت کي تامل وکړو لکه چي دی پخپله وایي :

چي نازك د چا خیال وي هم بلند لکه هلال وي
تامل پکښي ضرور شي پس له هغه پرې مرور شي
که صحرا ګل و ګلزار وي آهسته خرام په کار وي

شیدا د خپل سبك له پلوه یوازي د پښتو په شاعرانو کي نه بلکي د دنیا په شاعرانو کي لوړ مقام لري چي باید پښتانه ورباندي فخر وکړي، شیدا سره له دې ټولو صفتو او دومره ښه شاعریته په عامو پښتنو کي لکه "رحمان" او "حمید" عام شهرت نه لري د دې سبب ښایي چي دا هم وي لکه بعضي خلك چي وایي د ده کلام د عامو خلکو له فهمه لوړ دئ، چي هر څوك یې په مطلب نه پوهیږي، مګر اصلي سبب به یې دا وي چي دی پخپل وخت کي له محیط څخه وتلی و او په داسي ځای کي اوسېدی چي څوك د ده د اشعارو په خوند نه پوهېده او پس له مرګه یې هم تر اوسه پوري دېوان نه دئ طبع سوی، نو ځکه یې عام شهرت او مقبولیت نه دئ موندلی.

## سبك :

شیدا د شاعرۍ په سبك کي د حمید د مکتب له شاګردانو څخه دئ، او د پښتو په شعر یې د پاړسو د هندي سبك تخیل او مضمون آفریني ګډه کړېده، په تخیل او شاعرانه تلازم کي ډېر ګړندی دئ، کله کله په دې لار کي تر حمید هم دمخه کېږي، مګر د حمید استادي خو دا ده چي لکه شیدا خپل شعر یې د مضمون آفرینۍ او نازکخیالۍ له پاره په ډېرو پاړسو او عربي الفاظو نه دئ ککړ کړی.

### غربت او د وطن مینه :

شیدا د روه د لوړو غرو عقاب چي د هند په توده مځکه کي نفي او ورك و، هلته هر كله خپل وطن او پښتانه یاران یادوي، او هغه د میني ګرمي چي دی غواړي، د هغه ځای له خلكو څخه یې نه مومي :

"شــــیدا" نه مومــــــم ګرمي له هم صحبته
كه خپل ځان په سرو لمبو كي سمندر كړم

نو ځكه دی خپل رنګین اشعار له هنده د خپل هیواد یارانو او ملګرو له را استوي او د خوږمن زړه سوده په دې سره كوي :

"شیدا" ورستوه رنګین اشعار له هنده
ســتا له رای سره آشــنا د روه یاران دي

### د شیدا یو څو بدلي :

كـه ســاقـي تـلـخـه بـاده دریـای شـور كـا
د فـلـك پـه جـام بـه مـسـت كـلـه مـیـخـور كـا
آراسـتـه وي تـل مـحـفـل د خـنـده رویـو
زمـانـه بـه د ګـل جـام څـه رنـګ نـسـكـور كـا
چي په لاس كي یې تل چوب لكه شانه وي
بـې افـسـونـه بـه نـیـول د تـور مـنـګـور كـا
دلـتـنـګـي كـړم لـكـه ګـل پـه خـنـدا وركـه
كـه مـي بـل د سـبـا بـاد پـه خـونـه اور كـا
چي په سر یې سبز آسمان زري دستار ږدي
عـاقـبـت یـې لـكـه شـمـع بـیـا سـرتـور كـا
لــكـه ګـل كـړې ګـران بـار تـر دامـنـۍ
بـاد دي څـه لـكـه غـبـار پـه كـتـف سـور كـا

چي امـــید پخپل صـــورت د وفا نشـــــته
" شیدا" څوك د ځان اشنا یا یې خمسور كا

د شـبـنـم دانـه كـه تـخـم شـي د ګـلـو
زړه بـه سـوړ پـه دیـدن نـه شـي د بـلـبـلـو
چي یـې نـشـتـه لـكـه ګـل ښـه رخـسـارونـه
څـوك بـه څـه كـا تـوري زلـفـي د سـنـبـلـو
حـال د سـوي طـالـع څـه بـیـان كـړم چـا تـه
لـكـه لـمـر ځـمـا جـبـیـن دئ د داغـلـو
مـعـطـل پـه عـارضـه د شـام غـریـب دئ
كـه مـي زړه پـه حـلـقـه بـنـد شـو د كـاكـلـو
د آسمـان پـه شـان یـې تېـز د فتـنـو تېـغ كـړ
صـبـح و شـام ګـرځـي ښـكـاره پـه سـرو مـنـګـلـو

د دریاب له سردجوشۍ د حباب زړه چوي
"شیدا" قـــطع د امــــید بویه له خــپلو

روغ به نه شم بې وصاله راشه کښېنه      شه خبر ځما له حاله راشه کښېنه
آخر کړی دئ قرار رم سرشتانو      د وحشت په خوی غزاله راشه کښېنه
په مراد د عندليب بېوفا ګله      جلوه ګر شوې پسله کاله راشه کښېنه
زه آرام لکه بسمل په پرهار مومم      له تا نه غواړم دسماله راشه کښېنه
تل په دا خمو ابرو په شهلا سترګو      د خپل يار شام و هلاله راشه کښېنه
چې ايام کړو سره ياد د بې غمئ      يو ساعت ځما همساله راشه کښېنه

نازکي د يار د طبع کړه موزونه
اې "شيدا" نازکخياله راشه کښېنه

څه افسون دي په ما وکړ پري زاده      چې يو دم نه يم خالي ستا له ياده
زړه مې ډک لکه سپند دئ شعله بويه      که د زړه په مراد وکړم څو فرياده
بهانه د دې غرض مګر شانه کړې      ته يې لاس ور وړې و زلفو ته شمشاده
چې آواز دي د تيشې په کوهسار نشته      د شيرينې په طلب لاړې فرهاده
په اسباب کې مې زړه بند په اسباب نه دئ      د چمن په قيد سرو ده آزاده
مهيا ورته قفس د ښاخ ګل کړه      که څه رحم پر بلبل کوې صياده
چې په هر منزل کې سر خورې لکه شمع      د هغه لاري څه نفع ده له زاده
په سختې کله امساک د دولت کېږي      جوهر نه ځي په هيڅ وخت کې له پولاده

همېشه يې پېچ و تاب لکه جوهر وي
چې "شيدا" راغی تر دا حيرت آباده

که ښکاره ځما خاطر د لاله داغ کا      په ژړا به سترګې سرې د ګلو باغ کا
د حباب غوندي مې ډک په آه سرد کړه      ځوک ځما په ګور به بل څرنګ څراغ کا
افروخته يې وي محفل په شان د شمع      په سوخته د بل په کار کي خپل دماغ کا
د ګردش نوبت يې هيڅ په ما رانه شي      که ساقي د زمانې فلک اياغ کا

زنګ که هر کله "شيدا" د تېغ جوهر خوري
د مګس په بال به څرنګ استفراغ کا

## رباعیات

نشو د ونو نما د ګلو ده
خوبان په رقص مطرب سرود کاندي
نوا په باغ کي بیا د بلبلو ده
ځما په لاس کي مینا د ملو ده

چي د هند سبزو خوړلی پان وي
زرکي چي ګرځي د روه په غرونه
لعل و یاقوت یې دواړه لبان وي
ښایسته روغي، په دغه شان وي

هغه یاران چي اهل وفا وي
په اعانت کي تل یو د بل وي
لکه عصا و صاحب عصا وي
که ایستاده وي که ره پیما وي

پیدا چي سترګي لکه حباب کړم
وویـنم هونبره تر دامنۍ
نظر و ځانته په دا دریاب کړم
چي صورت واړه له شرمه آب کړم

نسیمه ورشه د سرای سواد ته
سلام مي وکړه په دواړه لاسه
له هغه پسه افضل آباد ته
در و دیوار و ګل و شمشاد ته

د نازك دلو اطوار مشکل دئ
مرهم یې نشته ګنډل یې هم لا
په دا به پوه شي هر چي عاقل دئ
که زخمي شوی، د مینا دل دئ

طرفه صحرا ده ښه مرغزار دئ
له خوبه پاځه غنوده یاره !
موسم د سیل، هنګام د ښکار دئ
زیبا ګلونه، تازه بهار دئ

(د شیدا له قلمي دېوانه)

# محمدي صاحبزاده

محمد صاحبزاده په کام ځمکنی د میا عمر صاحب زوی دئ، میا عمر صاحب د پېښور په څوکنو کلي کي ښخ دئ، محمدي په پښتو شاعرانو کي د لومړۍ درجې آخر مقام لري. د ښه فکر خاوند دئ، د ده اشعار او ادبي طبع ډېره خوږه او ښه ده، محمدي صاحبزاده له داسي کورنۍ څخه دئ، چي پخپله خوا کي روحاني مقام لري، او خلك یې د ارادت په سترګه ویني، د ده د پلار زیارت تر اوسه هم د خاصو او عامو مرجع دئ.

محمدي د کاظم خان شیدا معاصر او د ده له ملګرو څخه شمېرل کېږي، چي پسله (۱۱۵۰ هـ) د ده د شاعرۍ او ادب بڼغ لوړ سوی، او په پښتو ادیبانو کي یې ښه مقام موندلی دئ.

کاظم خان شیدا د خپل دېوان په دېباچه کي دا زموږ شاعر داسي معرفي کوي:

"او سبب د تالیف دا و چي مخدوم زاده عالي مقدار والاتبار محمدي سلمه الله خلف الصدق د شیخ الاجل ولي الاکمل میا محمد عمر دام برکاته طبع جیده لري، او سلیقه د سخن شناسۍ کامله، په دبدبه د سخن آرایي قصب السبق له همسرانو وړي، او په کوکبه د خوش سرایۍ مقدمتۍ الجیش د همکارانو دئ، اکثر دواوین د اسلافو یې فراهم کړي دي او په مطالعه یې تفریح د قلب کوي".

په دې ډول محمدي صاحبزاده خپل معاصرین هم د قریحې په صفوت او ادبي اقتدار مني.

اشعار :

د محمدي اشعار عموماً عشقي دي، د یوه ګرانبها او ډېر نادر دېوان خاوند دئ، چي نه موندل کېږي، فقط څو بدلي یې د مسټر هیوز کلید افغاني موږ ته راساتلي دي. دا شاعر د خپل مبتکر فکر او ښې قریحې په زور، زاړه مضمون ته نوی رنګ ورکوي، لکه چي ده د زلفو یو زوړ مضمون چي د شاعرانو په ډېر استعمال بالکل مبتذل سوی دئ د یو فقهي تلازم په اثر دومره نوی کړی دئ، چي بالکل بکر او تازه ایسي، دی وایي :

ستا د زلفو درې ډېر ډېر کاږه سم کړه
لا د سپي غــــماز تعزیر نه دئ نصیب

محمدي په شعر کي د حمید مهمند پر سبك ځي او اشعار یې سلاست لري، محمدي هم په هغه تاریخي مشاعره کي چي د عبدالقادر خان په برخه کي مو اشاره ورته وکړه شامل سوی او د

خپلي روڼي طبعي قوت يې پکښې ښکاره کړی دئ، هغه بدله چي په دې مشاعره کي محمدي ويلې ده، په لاندي نمونو کي راځي:

دا سور اور دئ که څه نور دئ او که تاو د بېلتون هسي
لکه وړی چي مي وريت کړ په تڼاکو لړمون هسي
سپلني ځان سره لمبه کړ چي ترق وچاود په لوګي کي
زيست جدا له ياره څرنګ، څه په کار دئ ژوندون هسي
نه يوازي لاله ګل دئ، ډوب د سرو وينو په جام کي
ستا د غم وژلي واړه ځي ښخېږي ګلګون هسي
په لېندو د کبړو ورځو، د بڼو تېرو شتيو
هغه يار مي زړه غلبېل کړ، چي يې ونيو زنګون هسي
ستا د سرو شونډو په نوم اخيسته عقل له ما لاړ شو
دا مستي نه د شراب شته او نه کيف د معجون هسي
که پاچا د وخت اقليم وي د اسمان دوره يې خوار کا
لکه ما غوندي به نه وي سر د غم په زنګون هسي
نه يې حسن ستا په شان و نه يې عشق زيات و له ما نه
د ليلی کيسه که شته ده په عالم د مجنون هسي
خط پر مخ د نګار راغی ښايست خپل بار وليښ لاړ شو
اوس يې څه په ملا لولم د دې خط دئ مضمون هسي
په لمبه د آه و نه شو شين په هغه شان مدام دئ
ستا د غم بوټي په زړه کي چي ځما سو زرغون هسي
ومړ ستا په بېلتانه کي د ديدن په ارمان ګوره
"محمدي" غوندي لا بويه چي پيدا شو پښتون هسي

يو څو بدلي :

هیڅ په عقل په تدبیر نه دئ نصیب
چا تړلی په زنځیر نه دئ نصیب

ستوري والوزي که هر څو لمر به نه شي
د بادشاه بخت د فقیر نه دئ نصیب

په سینه کي مي زړه نښه درته تل دئ
د کږو بڼو ستا تیر نه دئ نصیب

د تصویر غنچه په باد ګل شوې نه ده
چي هوس د زړه زهیر نه دئ نصیب

ستا د زلفو درې ډېر ډېر کاږه سم کړه
لا د سپي غماز تعزیر نه دئ نصیب

پتنګ هسي ځای د شمعي لمبې وسو
چي د چا له خولې یې ویر نه دئ نصیب

چا ته وایم د غم له بده حاله
چي د مړه د خولې تقریر نه دئ نصیب

باد څه دوړه ده په موټې کي راوړې
د حباب د کور تعمیر نه دئ نصیب

ستا په زلفو کي دا بند زړه خواست له چا کا
چي خلاصی د دې اسیر نه دئ نصیب

د بڼو قلم ځما په اوښو لوند دئ
لا د غم د حال تحریر نه دئ نصیب

کوم یو سیخ ده د لاله سینه داغلې
چي مرهم یې د ضمیر نه دئ نصیب

"محمدي" اوښي مي غم په مخ جاري کړې
ودرېده د دې بهـــــېر نه دئ نصـــــیب

ځما نه لګي په غوږو د چا وعظ
چي لاړ ورك مي شو په شور د ژړا وعظ

هر یو دا وایي چي مه ژاړه په غم کي
ځکه نه اورم د درستي دنیا وعظ

راته مه وایه د صبر په دا اورکي
راشه ته واوره ناصحه له ما وعظ

غم له ځانه وایه چا په منت ستون کړ
له چا نه اوري لېوه د صحرا وعظ

په ژړا هسي ما ځان پرې آګاه نه کړ
لکه تېر کا لېوني په خندا وعظ

هغه نور دي نه یم زه چي په غم ژاړم
چي ورو ورو اوري د شیخ و ملا وعظ

زه ستا غم کړم لېوني دا عالم څه کا
په هنر مکرر هسي بیا بیا وعظ

زه پرې یښی بل یې کوم له ژړا چپ کړ
د ناصح له خولې ووزي په خندا وعظ

"محمدي" د غم په چغو بېلتون کوڼ کړ
ځکه نه اوري اوس په غوږو د ستا وعظ

شرموي هر يو سړی د دنيا طمع
د سپيتوب نامه حاصل کا په دا طمع

چي ارهنده يې په کورکي وي ولاړه
د کجوري ورنه کاندي خطا طمع

چي کري به نن اوربوشي په پټي کي
د غنمو خوشي کا تري صبا طمع

يوه ورځ به يې مړی شي خوله کي زهر
له غليمه چي څوك کا د حلوا طمع

د هغو وربوز د سپي که د سړي دئ
چي آشنا کا د دنيا له آشنا طمع

همت ناك سړی که خوار وي دولتمند دئ
څاڅکي ګوره نه کوي له دريا طمع

د هغه د شرم پوزه په مخ نه وي
چي کوي د نس دپاره له چا طمع

لکه څوك لويي په خپله حيا کاندي
هسي ما وته ښکارېږي دا ستا طمع

لکه يو سپی چي مېچن څټي بل هغي
هسي ده د يو له بل ناصلا طمع

د هغو د عزت پښه ده ښويېدلې
چي په دا بړيره له چا کاندي بيا طمع

تل د خواست لاس يې نيولی وي کوڅه کي
"محمدي" چي څوك کا بل ته پيدا طمع

﴿٦١﴾

# علي خان خټك

د خوشحال خان د کورنۍ يو مشهور اديب دئ، چي تر (۱۱۵۰هـ) کال وروسته ژوندی و، دی د محمدافضل خان خټك زوی، او د اشرف خان هجري لمسی د خوشحال خان کړوسی او د کاظم خان شيدا ورور و، چي د خپل پلار تر مړيني وروسته د خټکو په اکوړه کي مشر خان سو، د ده په اتو ورونو کي يو بل ورور سعدالله خان و[1]، چي هغه په تېرۍ کي حکومت کاوه، مګر علي خان وروسته خپل حکومت بايلو او له اکوړې څخه ووت[2].

---

۱-حيات افغاني، ۳۲۲ مخ.

۲-خورشيد جهان، ۲۴۴ مخ.

دی پخپل شعر کي ډېر ځله پېښور او تیراه او اشنغر یادوي، مثلاً:

پېښور مي همــــګي پسي پره کا

بیا مي نه موند بې رقیبه د دلبر مخ

یا دا چي بل ځای د باګرام نوم داسي راوړي :

د ختن تورکي دي ژر راځي سلام له

نن د تخت لایقه تورکه باګرامۍ ده

د علیخان د ژوندون اواخر نه دي ښکاره، او نور سوانح یې چا نه دي کښلي، فقط دومره څرګنده ده چي دی د خټکو د علمي کورنۍ یو مشهور او جنګیالی سردار و، او ډېر وخت یې حکومت هم کړی دئ.

داسي ښکارېږي چي د حکومت تر ورانۍ وروسته نو دی د خپلو رقیبانو او مخي سردارانو له لاسه له وطنه ورك او د هند په کومه خوا کي له هیواده لیري و او د ژوندون د پای ورځي یې د خپلي مېني په بېلتون کي تېري کړي دي.

هغه وخت چي دی د وطن پرېښوولو ته اړ کېږي، نو داسي ځان ته د بېلتون سلا ورکوي :

عاشقي په قام کي نه شي علي خانه

راشه اوس له کور و کلي پسي وزه !

بل ځای د وطن بېلتون داسي یادوي : "زه یو لوغړن یم خوار خسته جلا وطن یم" د علي خان د عمر په باره کي فقط د ده له دې بیته دوني استخراج کولای سو چي خپله شاعري یې د ځلمیتوب په دوره کي شروع کړېد، لکه چي وایي :

ستا د هجر محنتونه به یې زوړ کا

که له دېرشو کم په سن وي لـکه زه

علي خان تر (۱۱۸۰هـ) پوري لا ژوندی و، ځکه چي ده پخپله یوه بدله کي دغه کال ښوولی دئ[1] تر دې وروسته نو نه ښکارېږي چي دی کله او چیري مړ دئ؟

## آثار او اشعار :

علي خان د خپلي کورنۍ او د خوشحال خان د ادبي مکتب یو نومیالی او لایق شاګرد دئ، دی د پښتو شعر ښکلی دېوان لري، چي په (۱۳۵۸هـ) له پېښوره خپور سوی دئ او تقریباً دوه

---

۱-سن د هجر غر و – سر د کاڼي ترې کمتر و، غر په ابجد (۱۲۰۰) کېږي، چي ک (۲۰) ځني بېل کو نو (۱۱۸۰ هـ) کېږي.

زره بیته لري. داسي ښکارېږي چي دا دېوان په پښتنو کي ډېر مشهور و، ځکه د کندهار وروستني شاعر شمس الدین کاکړ هم دا دېوان لیدلی و، لکه چي وایي :

"علي خان" په رنګین شعر که خبر سې
هر غــزل یې دئ تنــــها دېوان د شعر

علي خان د پښتنو شعراو په لومړۍ مرتبه کي آخره درجه لري، وینا یې د خپلي کورنۍ پر سبك ساده او خوږه ده، ده د پښتو شعر او علم له څو پښته څخه په میراث وړی، پلار او نیکه او ور نیکه یې ادباء او شاعران وو، نو ځکه علي خان د پښتو یو پوخ او پیاوړی شاعر ګڼل کېږي، د علي خان د شعر نزاکت او د طبع روڼوالی له دې لاندي بیتو څخه ښه ښکارېږي :

ټول دي په زار او په قربان او په جان بولي — جـان خـو ځـما یـې وایـه جـانـه جـان د چا یـې؟
نور که در لـه جانـه جانـه وایي لـباسـي دي — خود به پرې پوهېږې په رشتیا چي جان د چا یې؟
زه درپسي درسته شپه پټ ژاړم لکه پرخه — تـه سبـا خـنـدان لـکـه ګـل واز ګرېوان د چا یـې؟

بـده جـدایـي ده سـره لـمـبـه د تـنـاره ده — زه یـې اور لـړونـی کـړم ګـرځـم پـه انـګـاره ده
څرنګ به مي روغه د زړه خوا را دوباره شي — تـرکـو چـي رېـبـلـې د ابـرویـو پـه لاره ده
زړه راڅخه رغړي غم کټار دئ صورت سپړي — مـرمـه پـه اجـل خـو لـه هـجـرانـه مـي سـیـاره ده
یـون یـې د تـدرو درېـده یـې دي سـرو — پـېـر کـوي پـه پـلـیـو کـي حـمـلـه یـې د سـپـاره ده
تا چي د عاشق خواري محنت واړه برباد کړه — کـوم پـاچـا خـوړلـې مـزدوري د مـزداره ده

وصف به د مخ د دلبر کړی "علي خان" و
څه وکړي چي تل د تورو زلــفو پر تیاره ده

## غزل

لـټـوم پـخـپـلـه ورکـه پـسـي هـر مـخ — کـوم غـواص بـه راښـکـاره کـه د ګـوهـر مـخ
وچي شونډي په نم ډکي سترګي ګرځم — پـسـې غـواړم د دنـیـا د بـحـروبـر مـخ
کـه د مـځـکـي مخ یـې لانـدي تـر قـدم شي — څوك به بیا مومي له مخه ستا بهتر مخ
بـدي نـه شـي کـه عـاشـق لـه غـمـه ژاړي — هـمـېـشـه پـه ویـنـو لـونـد وي د پـرهـر مـخ
پـېـښـور مـي هـمـګـي پـسـي پـره کـړ — بـیـا مـي نـه مـونـد بې رقـیـبـه د دلـبـر مـخ
چي لـه مـخ سـره سـیـالـي کـه د دلـبـرو — ځـکـه خـړ پـېـروی ونـیـو د قـمـر مـخ
څـه پـه دا بـه یـې پـایـه نـیـمـګـړې نـه کـا — ښاپـېـرك غـریـب کـه نـه ګـوري د لـمـر مـخ

بې د ستا له ښکلي مخه ستا په مخ ږو
چي په کار د "علي خان" نه دئ ديگر مخ

ونه چاوه يوازي د بلبل زړه	قسم قسم خواریٔ گوره د بل بل زړه
که يې زړه د عندليب د بورا وسو	خزان چرته سلامت پرېښو د گل زړه
هزاره هزار پاره شو له افسوسه	د رېدي غريب يې وريت کړ په دا غل زړه
د بلبل د غم کيسه ده ډېره لنډه	تر کمره يې الوېزاند کړ د سنبل زړه
د خوږ زړه بيان هله وکه مخ توري	چي سر بايلي قلم خوږ که په چول زړه
کوم يو زړه د زماني له لاسه روغ دئ	څه چوم د خوږ زړونو په شمارل زړه

پردي زړونه رغوه څو دي قابو وي
"علي خانه" رضا مه غواړه د خپل زړه

د لمر مخ چي دي له مخه ډېر شرمېږي	ځکه هره ورځ په غرونو کي پټېږي
سپوږمئ شپول تر ځان چاپېره کړ صنمه	چي د حسن له تاراجه دي وېرېږي
مخ يې لمر خوله يې حيات تعجب دا دئ	چي زلال په رڼا کي څنگه پټېږي
خال په منځ د وروځو ايښی زه حيران يم	چي کارغه له ليندو څنگه نه تورېږي
نرم زړه مي ستا د مخ له عکسه تور شه	اوبه لمر ته لکه لمر هسي زلقېږي
مخ يې اور زلفي يې ځکه پر تاو تاو شوې	چي وېښته و اور ته نيسي خو تاوېږي
يا وفا په هوايي لاله کي نشته	يا د غره په اور لاسونه نه تودېږي
صاف نازك دئ لکه سترگه حيرانېږم	چي په دود د آدم ولي نه نرمېږي
ما يې غوټه جبين پوست په ژړا نه کړ	ولي غوټه چي لنده شي لا کلکېږي

خط يې وار د زلفو تېر کړ "عليخانه"
كله مار له مېږتون سره چلېږي

يـار اشـنـا چـي کـبـرجـن وي مـه يـې ويـنـه
چـي بـې پـتـه دروغـجـن وي مـه يـې ويـنـه

کـه دي وروركـه دي عـزيـز وي کـه دي يـار وي
چـي کـاسـر او بـدلـمـن وي مـه يـې ويـنـه

کـه هـر څـو دي دلـبـري او دلـجـويـي کـا
نـاديـده چـي دولـتـمـن وي مـه يـې ويـنـه

چـي خـودبـيـن او کـوتـابـيـن او کـمـيـنـه وي[1]
چـي د ښـې ورځـي څـښـتـن وي مـه يـې وينـه

چـي اشـنـا د حـقـارت پـه سـتـرګـو ګـوري
کـه رسـتـم يـا نـريـمـن وي مـه يـې ويـنـه

کـه هـمـه لال او جـوهـر يـې تـر خـولـه زېـږي
چـي کـلام يـې پـه ثـمـن وي مـه يـې ويـنـه

بـې اخـلاصـه اقـربـا واړه پـردي دي
که دي پلار وي که دښمن شي مه يې وينه

که يې پوست تر سپوږمۍ سپين وي په دا څه شو
چي خاطر دي ترې خيرن شي مه يې وينه

چـي مـدام يـې پـنـډ پـه سـر وي د کـبـلـو
که د ښو آسو څـښـتـن شي مـه يـې ويـنـه

چي پـه مـال پـسـې پـخـپـلـه لـرګـي واخـلـي[2]
کـه يـې دوغ واړه روغـن شـي مـه يـې ويـنـه

چـي بـې آبـه بـې حـرمـتـه پـکـښـې اوسـي
هـغـه ځـای کـه دي وطـن شـي مـه يـې ويـنـه

(۲)۱

چي ظاهر په صورت روغ شي علـــيخانه
چي په خوی خصلت پمن شي مه يې وينه

---

۱- کمينه : پست او رذيل.

۲- مال : د پښتو په اصطلاح غېلي، اغنام.

چي د خيال په لاس کي تن د دلبر نيسم
د هلک په دود په لاس کي قمر نيسم

توري زلفي سپين رخسار ورڅخه غواړم
ځکه خدای ته لاس په شام و سحر نيسم

چيري اوښي مي لاهو نه کا وېرېږم
له ژړا ځکه دا دواړه بصر نيسم

عاقبت به مي غرمه د هجر وريت کا
د آه چتر به تر کومه په سر نيسم

چي د پله دي خاوري باد راباندي راوړي
هغه خاوري زه په مشک و عنبر نيسم

وايم اوس به د همزولو سره راشي
په هر ځای وته د لوبو ګودر نيسم

چي يې بوی د زلفو شته بې ادب نه يم
چي سپږمو ته به د مښکو مجمر نيسم

زړه چي وسوځي لا ښه تازه پخته شي
په سکرو د هجر ځکه ځيګر نيسم

ستا د غاښو لا به څنګه جوهر وايم
ړوند خو نه يم چي پسر په پدر نيسم

ستا د در خاوري و ما ته غنيمت شوې
خاوري خښتي به په سيم و په زر نيسم

سودايي که همتناکه دېوانه يم
چي د عشق و درنو پېټهو ته سر نيسم

چي ژر ژر کا خرام زرکه غوندي رود ته
د ګودر غاړه په هر مازديګر نيسم

دم د بخت مي په زلفو اثر نه کا
بې هنره يم چي يار په هنر نيسم

که دي خلاص نه کړم له شوره له شغبه
عليخان به دي لمن په محشر نيسم

لا به کله شي د يار جور و ستم تام
چي به ما ته شي په لطف و په کرم رام

زاهدان که افتخار کا پخپل زهد
د عاشقو وظيفه دي د صنم نام

عاشقان وصال د يار غواړي له ربه
روغ تري غواړي د زړګوتې د شکم کام

ما قوت د يار په غم کي و ليدلی
رستم پرېږده لا به نه شي له ما سم سام

چي بندي به ترې ځان خلاص کړي تر ماښامه
هسي مه ګڼه د يار د زلفو خم خام

ملک نه لري سودا د تورو زلفو
دا يي ايښی دئ په مخ کي د آدم دام

دا اکثر چي يې ځان خاص ګڼي له خاصه
که روپۍ ورڅخه نه وي وي به عم عام

محبت د حقيقت له جامه غواړي
عليخان له خدايه نه غواړي د جم جام

آه پسرلی مي د خزان په ناتار تېر شو
ما لا ګل بوی کړی نه و بهار تېر شو
اوس که ځان وهم که خاوري په سر لونم
په هیڅ رنګ به بیارته نه راځي وار تېر شو
لا مي غېږ ورته په ځير کتلي نه و
لکه برق رخشنده په تلوار تېر شو
لکه ډېر پري پيکر هم پريرو و
هم هغه رنګه تېز رو پري وار تېر شو

يوه ورځ به دا غبږ وشي علیخانه
چي فلانی هم لکه ګرد و غبار تېر شو

څه خو راشه نن د عشق د مړو په څليو
ورته وايه اې د هجر تېغ وژليو
چي د عشق د ځکندن پيالې مو نوش کړې
شهيدګی مو مبارک شه خدای بخښليو
چي زبېرګی کوم وګړي راته ټول شي[1]
روغ عالم تماشې کا د وير ژړليو
په ځواني کي يې ټپ ټيپ لکه همزه کړم
بېلتانه مي ګوتي کېښودې په وليو
خود يې زړه دلارام وړی په منګول دئ
بيا به څه غواړې آرام له زړه وښکليو
د لبانو دې حکمت ته يې حيران يم[2]
چي هم درد دئ هم دوا پر پرهارجليو
بوټي پسله رودو لا تازه غندل کا
تازګي نه وي د سترګو د رودليو
څوک مي څه پوښتي چي يار درسره څه کا
خود پخپله حال څرګند دئ د رټليو
خلق وايي چي طوطيان دا د چمن دي
خو فرياد دئ د مژګانو د ويشتليو

(۲)۱

د جنت مانۍ زاهد ته ما بخښلي
عليخان ته دي خدای پرېږدي درد د ښکليو

۱- زبېرګی يا زګېروی : د مريض انين.
۲- پرهار جلی : يعني ټپي او زخمي.

## رباعیات

که شپه و ورځ یې په ورکي رغېږم
یا د زړه نواړي و یار ته سپړم
نه راته ګوري، نه څه پروا لري
بېهوده پړی د شګو غړم

که مي زهره ده له غمه چاوده
خو ککرۍ مي ترې لا بچاو ده
پرې به یې نه ږدم د یارۍ پټ دي
دنیا مي واړه په یارۍ داو ده

اې چې تر لمره روښانه جبین لرې
اننګي دواړه تر سپوږمۍ سپین لرې
غم دي د نورو دوستانو لیري کړ
ما به تر کومه پوري غمګین لرې؟

د غم کرکنډي راپسې رغړي
بل تماشا شوم د روغ وګړي
سېلاب د هجر هسي لاهو کړم
که بوټي نیسم له وېخه لوړي

نا آشنا ښه دئ آشنا ټګل کوي
یاران ماران شوه اکثر چیچل کوي
آزموده یار کړه له غیرو ډار کړه
واړه غلول کوي، کار چلول کوي

بار داري وني مهجور ته شنډي شوې
دروغ دروغ وپسي کرکنډي شوې؟
"علیخان" څنګه له غم په څنګ شي
چې د خوار سپیني هجران ته لنډي شوې

# خوشحال خان شهید

د لوی او مشهور خوشحال خان ختټك له کورنۍ څخه یو بل نومورکی ادیب او شاعر خوشحال شهید دئ، چي د سعدالله خان زوی د محمدافضل خان لمسی او د اشرف خان کړوسی و، دا سړی تر اوسه د یوه شاعر په حیث نه دئ پېژندل سوی او موږ‌نه یو خبر چي دی د بېل دېوان خاوند دئ که نه؟

خو یو پاړسو کتاب چي په (۱۱٦٦هـ) د ختټکو په اکوړه کي لیکل سوی دئ، پر دې کتاب د دې نوم وري شاعر یو څو بیتونه لیکل سوي دي.

دا خوشحال خان د خپل پلار سعدالله خان د مشرتوب په وخت کي د تېرۍ حاکم و، هغه وخت چي اعلیحضرت احمدشاه بابا لومړی پلا پېښور ته ولاړ خوشحال خان یې پخپل فرمان د دغه ځای حاکم مقرر او د ده بل ورور سعادتمند خان یې په اکوړه کي حاکم کی.

وروسته خوشحال خان د خپل شهنشاه په امر د مرهټانو د حسن ابدال په جګړه کي داخل او هوري شهید سو. احمدشاه بابا د ده ورور سعادتمندخان ته د سرداریٔ په لقب تر جهلم پوري حکومت ورکی او د ده بل ورور شهباز خان یې د تېریٔ حاکم کی[1].

تر دې زیات د دې شهید شاعر احوال موږ ته نه دي معلوم، له لاندي څو بیتو څخه چي زموږ لاس ته راغلي دي دا ښکارېږي چي شهید خوشحال خان یو خوږ ژبی شاعر او د خپل لوی نیکه خوشحال خان د مکتب یو پیاوړی شاګرد و، د خوشحال خان د شهادت کال تقریباً (۱۱٦٦هـ) دئ، چي په دې حساب موږ د ده د تولد وخت هم د (۱۱۰۰هـ) حدود تخمین کولای سو، د دې شهید دغه بدلي موږ ته رارسېدلي دي :

---

۱-حیات افغاني، ۳۲۴ مخ.

زه چي مست په لب د يار يم هيڅ حاجت د شراب نشته
اور د عشق مي زړه کباب کړو هيڅ حاجت د کباب نشته
تمام تن مي وچ لرګی شو، رګ مي تار ورباندي پرېووت
زېر و بم آواز ترې خېژي، هيڅ حاجت د رباب نشته
پر پرهار نمکپاشي کړي، چي پرسش کوي له مانه
حال مي خود ورته معلوم دئ، هيڅ حاجت د جواب نشته
لکه مرغ نيم بسمل يم، تپش کړم پر مځکه باندي
ځان مي ورکړ ستا په عشق کي، هيڅ حاجت د قصاب نشته

## غزل

چي پر ما باندي دا يو ساعت کال کال دئ
خبردار مي له احواله ذوالجلال دئ

له فراقه به لا کله و چي مړ وم
چي ژوندی ورباندي پايم د يار خيال دئ

چي جدا يمه د يار له بدره مخه
خميده مي ځکه قد لکه هلال دئ

د وصال په يوه کال مګر برپای شي
د هفتې په هجر زړه هسي ملال دئ

چي نه خال لري نه زلفي نه سرې شونډې
څوک به څه وايي چي لمر د آشنا سيال دئ

کا سيالي د يار د سترګو تل ګولۍ خوري
آهو خوب په مېړتون کا په کشال دئ

په زمان زمان اوبه ورکوم ژاړم
په کوګل کي نوی يار مي نونهال دئ

مياشت مي ونه ليدل خپله په درست کال کي
چا ليدلې په دا رنګه مياشت او کال دئ

څو څو کاله باندي تېر نه آشنا کيږي
جدايي په يوه درنګ دا څه احوال دئ

﴿٦٣﴾

# محمود رفيق

له هغو شاعرانو څخه دئ چي احوال او ځای يې هيڅ نه دئ ښکاره، او موږ يې په يوه مثنوي پېژنو چي ده د علم تجويد په بيان کي نظم کړی او د هغه علم مسائل يې ښه پکښې بيان کړي دي.

ښکارېږي چي محمود رفيق يو ښه عالم او په عربي او هندي ژبو پوه و، د ده دا مثنوي په لنډ بحر دئ، د ليك او نظم کولو وخت يې نه دئ معلوم، فقط د يوې قلمي نسخې خط او کاغذ دا ښکاره کوي چي کتاب زوړ دئ.

د قلمي نسخې پر حاشيه يو مهر سته، چي سنه يې (١١٨٥هـ) ده، نو دا څني څرګندېږي چي محمود رفيق خپل کتاب تر دغه کال دمخه نظم کړی دئ.

محمود رفيق د شعر له رويه په دوهمه ډله کي داخل او کلام يې ډېر ادبي او بديعي مزايا نه لري، فقط د تجويد مسايل يې په ساده ژبه سره پېيلي دي، دی وايي چي ما دغه کتاب له هندي ژبي څخه په پښتو نظم کړی دئ :

دا قاعده په هـــــندي ژبه
ما پښتو کړه اې طالـــبه
په پښتو ژبه دوی نه وې
ځکه ما په پښـــتو ووې

د کلام نمونه :

اوس د محمود رفيق له تجويد څخه د نعت او نور يو څو بيتونه د نخښبي په ډول ولولئ :

که ته نه وای اې احمده | هیڅ به نه وای بې احده
بې له تا به نور څه نه وو | که ته نه وای نور به څه وو؟
نه آدم نه به حوا وه | نه پیدا به دا دنیا وه
نه به دا خلک عالم وو | نه به لوح و نه قلم و
نه به ارض نه سماوات و | نه به نار و نه جنات و
اې حبیبه رهنمایه ! | لویي تا راوړه له خدایه
نه دي سیال و د سیالۍ | نه شریک ستا د بزرګۍ
په تا زر زر برکات | وي دي ډېر ډېر صلوات
ته سردار یې د نبیانو | هم د واړو مرسلانو
بډایي فخر په تا کړو | بې له تا بې په بل چا کړو؟
په دوستي خدای یې نیولی | هم پر حق یې راستولی
موږ په تا باندي نازېږو | هم په تا موږ هوسېږو

# په مطلب پيل

اې طالبه نېکوکاره          کړه دعا د خداى دپاره
که حيات پر دې دنيا يم          هم محتاج دي د دعا يم
چې سفر کړم له دې سرايه          مغفرت رابانـدي وايه
وايه خدايه پرې کرم کړې          او "محمودرفيق" بېغم کړې
هر چې موږ په دعا ياد کا          هغه څوك دي الله ښاد کا
مسافر د ليري ځاى يم          څه ښو نن که پر دې سراى يم
عاقبت خو به سفر کړم          توښه نه لرم خطر کړم
نوي ملك لره به ځم          ځکه غم د لاري خورم
په تش لاس به ځم له کوره          ځکه ځان ژاړم اې وروره
هيڅ عمل له ما نه نه شي          نور مې دا فکر په زړه شي
چې يوه نخښه پر پاڼې          راشه پرېږده د نيکې
چې هر څوك درته دعا کا          خداى دي خلاص له کل بلا کا
بېهوده کلام مې نه کړ          خاص ددين بيان مې وکړ
واړه هسې قواعد دي          چې د دين خاص فوايد دي
دا کتاب چې مې جوړ کړى          هم پر دا نوم مې نومړى
قواعد مې يې نوم کښېښو          د دعا کچکول مې پرېښو

(له قلمي مثنوي څخه)

# کاظم

کاظم هم موږ د هغې یوې بدلي په تعارف سره پېژنو چي په کلید افغاني کي نقل سوې ده، د ده د دېوان پته هیچیري نه لګیږي.

کلام یې روان، خوږ او تاثیرناك دئ، خصوصاً د غزل وروستی بیت، چي د معشوقې له خولې وایي :

زه غــنچه غوندي خــــندان ورځني لاړم
افسوس دا "کاظم" ګریان شو له ما پاته

څومره خوندور دئ، عاشق چي د عین اشتیاق او امیداورئ پر ځای معشوقې ته ولاړ وي، او معشوقه ورباندي په خپل ناز چي د غرور سره صنم دي راسي، عاشق په عاجزانه او ژړغونې وضع خپل سوال او التجا وړاندي کول غواړي، او دا وربانديِ د معشوقانه دستور په تقاضا په خندا بې پروا تېره سي، ولي وروسته د تېرېدو څخه یې پر عاشق زړه وسوځي، نو وایي : "افسوس زه ورنه په خندا تېره سوم او ... راځني په سرو سترګو پاته سو". او دا واقعه فطري واقعه ده، پېښېږي. لیکن څومره رقت آوره ده. زموږ شاعر دغه منظر څومره ښه تصویر کړی دئ.

د دې شاعر نور څه معلومات موږ نه لرو، مګر دومره ده چي دی "شیدا" خټك نه دئ مګر د هغه معاصر و.

خټك کاظم خان "شیدا" د خپل دېوان په مقدمه کي لیکلي دي، چي زما د دېوان د تصنیف باعث دا و، چي د میا عمر صاحب زوی محمدي صاحبزاده د پښتو د شعر ډېر شوقي و، او پخپله یې هم شعر وایه، نو ما دا کتاب د ده حضور ته تقدیم کړ، په دغه ځای کي دا هم وایي چي په دغه عصر کي زما په نامه یو بل کاظم هم سته چي هغه هم شعر وایي. نو د دې له پاره چي زما شعر د هغه د شعر سره ملتبس او ورك نه سي نو ما "شیدا" تخلص غوره کړ.

و دي سي چي دغه کاظم چي "شیدا" ستایلی دئ همدغه کاظم وي، چي موږ تبصره پر کوو. دی ښه شاعر معلومېږي، موږ یې په دوهمه طبقه شاعرانو کي ګڼلی سو:

د کلام نمونه

ستـا پـه دور گـلـسـتـان شـو لـه مـا پـاتـه — سـيـر د گـلـو د بـوسـتـان شـو لـه مـا پـاتـه
پـه ژړا کــي مــي زړه نــرم لــکــه مــوم شــو — هغه سخت خاطر سندان شو له ما پاته
لــه قــالــبــه مــرور شــو راتــلــه نــه کــا — پـه کـوڅـه کـي د يـار ځـان شـو لـه مـا پـاتـه
هسي شان شوم په هجران کي بې طاقته — آه فـريـاد نـالـه فـغـان شـو لـه مـا پـاتـه
د مـجـنـون پـه دود مـي ځـای پـه ويـرانـه شـو — کـور او کـلـی خـانـمـان شـو لـه مـا پـاتـه

زه غــنچه غوندي خندان ورځــني لاړم
افسوس دا "کاظم" گريان شو له ما پاته

﴿٦٥﴾

# معزالله

معزالله د پښتو پخوانو شاعرانو په لوړه درجه کي آخرنۍ مرتبه لري، دی د عبدالقادر خان خټك معاصر دئ، چي د (١١٠٠هـ) کال په شاوخوا کي ژوندی و.

د معزالله له اشعارو څخه دا څرگنديږي چي دی يو عالم او اديب سړی و، په ادبياتو کي يې ښه لاس درلود.

## اشعار :

د معزالله اشعار چي موږ ته رارسيدلي دي، خو عموماً عشقي دي، مگر وينا يې خوږه او د نريو تلازماتو او ډيرو بدائعو ډکه ده، سره د دې په کلام کي يې ډير نزاکتونه او اديبانه مزايا سته، مگر سلاست او رواني هم لري.

معزالله په حسي او واقعي تشبيه سره اجتماعي مسايل هم ښه مبرهن کوي، مثلاً لکه دا بيت :

پرېکول يې درد لري پرېښول يې عيب دئ
ناخلف دئ د پدر په مـــــخ کي زخـــــه

معزالله هم د پښتنو شاعرانو په تاريخي مشاعره کي[11] برخه لري، ده د عبدالقادر خان په جواب کي يوه خوږه بدله ويلې ده، چي تاسي به يې د ده د وينا په نمونو کي ولولئ.

په دې بدله کي د معزالله د ادبي قريحې اقتدار له دې بيته ښکارېږي :

دا ځما د آه دادخواه دئ چي د حسن دامنــــګير شو
ستا د مخ له خطه ما ته، معلومېږي مضمون هسي

په دې بيت کي معزالله د محبوب د خط خورا مبتذل او له کاره وتلی مضمون د خپل مبتکر خيال او قوي طبيعت په مرسته په داسي ابتکار او بداعت ادا کړی دئ، چي د يوه پښتانه مبتکر او پياوړي اديب سره ښايي.

معزالله وايي چي د دلبر په اننګيو کي يو مضمون لوستلی سي، چي هغه په حقيقت کي خط نه دئ، بلکي ځما د آه دادخواه دئ، چي نن يې د ښايست لمن نيولې ده. معزالله خو د دېوان خاوند شاعر دئ، مګر متاسفانه د ده دېوان هم ورک دئ، مسټر هيوز دا لاندي نمونې په کليد افغاني کي ځني نقلوي :

## د کلام نمونه

که فـلـک وکـړي ګـردش پـه کـام ځـمـا
ګـونـدي کـښـېـوزي دا آهـو پـه دام ځـمـا

اور مـي بـل پـه هـر انـدام د اشـتـيـاق شـي
چـي جـلـوه کـړي هـغـه ګـل انـدام ځـمـا

ما چي وصل په هجران کي د يار بيا موند
پـه رڼـا ورځـي بـدل شـو شـام ځـمـا

لـکـه نـقـش د نـګـيـن پـه نـګـيـن ډوب وي
هـسـي ډوب شـو پـه ګـوښـه کـي نـام ځـمـا

زه چـي تـل مـخـموري سـترګـي د يـار وينم
ډک پـه مـيـو د عـشـرت شـو جـام ځـمـا

تـر ابـده سـتـا د وروځـو و مـحـراب تـه
شـو خـصـلـت رکـوع سـجـود قـيـام ځـمـا

چي دولت د بې خودۍ "معزالله" راغی
مملـــکت دئ د ښـــــادۍ مدام ځـــما

---

۱– د عبدالقادر خان برخه وګورئ.

مه کوه د دښمنانو په مرګ سخه
د دوستانو دي هم دا ده لار په مخه

له هر چا سره سينه کړه خپله صافه
مه له چا سره حسد کوه مه رخه

تربيت په نااهلانو حبطه وي
وربېژه نه شي د دهقان په زور شمخه

له کمينه به بې بدو څه وانه وړې
همېشه له ګنجي سره رژي پخه

پرېکول يې درد لري پرېښوول يې عيب دئ
ناخلف دئ د پدر په مخ کې زخه

ستا د خيال و سليمان ته مي ځان ونيو
د مېږي په لاس هيڅ نشته بې ملخه

"معزالله" لره طناب د زلفو ورکړه
چي پرې ووځي له کوهي ستا د زنخه

لېونی کړمه عالم ته ستا د سترګو افسون هسې
خدای ځما تر لاسه راکړ دا دولت د جنون هسې
جور جفا له اوسه نه دئ د خوبانو په عشاقو
له ازله مقرر دئ د دې قوم تړون هسې
غنچه غرقه شوه په وينو چې يې فکر د دهن کړ
له قامته يې شوه سرو لکه بيد مجنون هسې
که و مخ و ته يې ګورې يوه شمع کافوري ده
په کږو وروځو يې ځير شه د لوګي دئ نمون هسې
د عالم وسعت که ګورې تر دوه ګامه زياتي نه دئ
لکه راغلې په پوښتنه ترې به ووځې بېرون هسې
ثمره د نېکخويۍ ده چې عيسی په آسمان وخوت
لا به ځي له بده خويه مخ په ښکته قارون هسې
پرون ناست په تخت د پاسه نن برمنډ پر تخته پروت دئ
د فلك ګردش ته ګوره چې نن هسې پرون هسې
چې د چا غمزده زړه له مفرحه دلکشا شي
د فلك حقه که ګورې پکښې نشته معجون هسې
دا ځما د آه دادخوا دئ چې د حسن دامنګير شو
ستا د مخ له خطه ما ته معلومېږي مضمون هسې
په وصال چې مشرف دي له هجرانه خبر نه دي
په ارمان به يې جدا کا خوی مدام د ګردون هسې
په خلوت دننه راز کړې بيا بهر راسره ناز کړې
دا دي کوم عدل و انصاف دئ بېرون هسې درون هسې
په هجران کي زما عمر پاس په دار باندي تېرېږي
هيڅ د عمر په شمار نه دئ چې تېرېږي ژوندون هسې
روايت ځما د قتل تا راوړی دئ پوهېږم
چې دي خط په رخسار وکيښ د دې خط دئ مضمون هسې
"معزالله" دي ځواب وکړ په پښتو عبدالقادره
اوس ثاني د ستا پيدا شو په دا دور پښتون هسې

# عثمان

عثمان هم له پخوانو شاعرانو څخه دئ، په کلید افغاني کي د ده دوې بدلي نقل سوي دي، اوله بدله يې هغه ده چي د عبدالقادر خان او خوشحال خان په تاريخي مشاعره کي يې ويلې ده، څرګندېږي چي دی د عبدالقادر خان معاصر دئ د ده سبك عشقي او شعر يې ساده او روان دئ.

دی د پښتو شاعرانو د متوسطي طبقې په دوهمه درجه کي ګڼل کېږي، تر دې زيات مونږ ته د ده د ژوندون سوانح نه دي ښکاره فقط دوني ويلای سو چي عثمان د دېوان خاوند يو شاعر دئ.

د کلام نمونه

بې د خپل آشنا له وصله تېرومه ژوندون هسي
چي به نه وي په دنيا کي بل محزون او زبون هسي
له اوله څو پيدا يم واړه سر په واويلا يم
ترو به څه و چا ته وايم چي نن هسي پرون هسي
ته مي تن جامه مه ګوره لړمون ډك لرم له اوره
د فانوس په دود اې وروره کړم د ترکو بېلتون هسي
ستا له ډېره جوره ملا مي ما ته شوله بغرګه
بل به نه وي لکه زه يم زوړند سر په زنګون هسي
د آشنا له ډېره غمه شومه سر په غره په سمه
هيڅوك مه شه لکه يمه بل بې صبر و سکون هسي
حريف نه ويني خټکه لافي ډېري وهې څکه
چي به هيڅ پښتون ونه کا بل غزل په مضمون هسي
چي قلم مي په سياهي شو په کاغذ باندي راهي شو
په "عثمان" دي آفرين وي چي پيدا شو پښتون هسي

چي مي ولیده دا ستا ښکلی بشر نن
عقل هوش شو په وداع ځما له سر نن

معجزه دي د ښایست او د رخسار ده
چا لیدلي دي یو ځای شمس و قمر نن

ستا د زلفو له حلقو راته ښکارېږي
بې موسمه هر یو ګل د پیغمبر نن

له حیا دي آسمان لمر مخ په نقاب کړ
چي ښکاره شو له پردې د غبرا لمر نن

عشق پیاله د لبونتوب راته په لاس کړه
مستغني یم له زمزم او له کوثر نن

که الله یې په کرم سره قبول کا
ستا د وصل سوال مي وکړ په سحر نن

تار د زلفو راله راکړه پریزاده
چي پرې وګنډمه زه د زړه پرهر نن

د جـــــنون جامه پرې قـــطع شوه دلـــبره
ستا له لاسه شو "عثمان" په صحرا سر نن

(٦٧)

# اودل

د پښتو له پخوانو شاعرانو څخه یو اودل (عبدل) دئ، سید محمد امین خانجی لیکي چي : "اودل له زړو شاعرانو څخه دئ، چي د خوشحال همسلك و[١]". اودل د خوشحال خان او د ده د زامنو معاصر دئ، دی په پښتو د شعر دېوان لري چي اوس ورك دئ، فقط د ده له دېوانه څخه پادري هیوز دوې بدلي رانقل کړي دي. د نور دېوان پته يې نه ده ښکاره، دی هم د پېښور د شاعرانو څخه دئ او د متوسطي طبقي په اوله درجه کي ګڼل کېږي، د ده سبك عاشقانه او شعر يې خوږ دئ او دقت راجلبوي. اودل هم د عبدالقادر خان او خوشحال خان په تاریخي مشاعره کي داخل سوی دئ او ډېره ښه بدله يې لیکلې ده، په آخره کي يې ویلي دي چي : "عبدالقادره ! ستا جواب صدر په ښه شان وکړ او اودل دي هم جواب وکړ او داسي پښتون پیدا شو، حال دا دئ چي تا ویلي وه چي بې خانه بل پښتون نه شي پیدا کېدای چي داسي غزل ووایي".

---

١- منجم العمران د معجم البلدان مستدرک، د مصر طبع ١٣٢٥ هـ، ٣٣٥ مخ.

"صدر" چي ده په دې بدله کي ذکر کړی دئ د خوشحال زوی دئ، چي موږ یې په دغه کتاب کي تفصیل راوړی دئ، عبدالقادر خان خو مشهور ادیب دئ نو دا څرګندېږي چي صدر خان، عبدل او عبدالقادر خان معاصرین دي. د اودل په شعر کي شاعرانه دلکشي او لطف څرګند دئ، وګورئ د ده د کلام نمونه :

لکه زه یم ستا په غم کي ډك له وینو لړمون هسي
نه به پان نه به حنا وي پُر په وینو درون هسي
ستا د حسن سپاه جوړ دئ په دا خط د زره پوش شو
د عاشق کور به تالا کا د دې خط دئ مضمون هسي
په ازل به دېوانه و په عالم به افسانه و
بل به څوك د ده په څېر شي دا نصیب د مجنون هسي
چي مین په دلربا شوم په مثال ګل رعنا شوم
په ظاهر زېړی لیده شم اندرون یم پر خون هسي
خط په مخ د ښایسته و صف بندي وکړه ډېره شو
د ښایست دکان به لوټ کا چي یې وکړ شیخون هسي
عشق هاتي دئ که زمری دئ پر هر چا دده بری دئ
شیخ زاهد په پنجه واخلي نور پري کېږدي زنګون هسي
عشق و عقل سره ګوره څه جګړه کا ځما وروره
عقل شرم حیا غواړي عشق دئ خوښ په جنون هسي
څه افسون کا د یار شونډي چي کوي چا ته خبري
دل و دین تري دواړه یوسي چي پري وکړي افسون هسي
ستا ځواب عبدالقادره ! په ښه شان دئ صدر کړی
هم "اودل" دي ځواب وکړ چي پیدا شو پښتون هسي

زه هــزار ځــلــه صـدقــه شـم تـر دردمـن — که مجنون دئ که فرهاد غوندي کوهکن
د دردمـنـو تـر خـولـې تـل آهـونـه خېـژي — پـه ژړا ژړا پـه دوه سـتـرګـو لـېـچـن
تـل د خـيـال پـه بـراق سـور يم پـسـي ګـرځـم — نـه مـي مـلـك د چـا پـه کـار دئ نـه وطـن
سـتـا د زلـفـو بـوی هـمـه واړه خـجـل کـړي — کـه هــزار هــزار نــافــي وي د خــتــن
د چـمـن پـه سـيـل هـر څـوك سـره درومـي — چـې تـه نـه يـې بـې تـا څـه کـوم چـمـن
سـتـا غـمـزو وژلـي واړه شـهـيـدان دي — شـهـيـدان واړه خـښـېـږي بـې کـفـن
د ښايسته وو ديدن رنګ په رنګ پسرلی دئ — بـاد خـزانـه يـې زه مـحـروم کـړم لـه ديـدن
له هيچا مي وېره نه شي ستا په کوی کي — کـه رقـيـب غـونـدي هـزار لـرم دښـمـن
پـه نـور چـا بـه څـه تـور بـريـښ کـوې دلـبـره — سـتـا د نـاز تـوري تـه مـا ونـيـو ګـردن
زه "اودل" بـه لـه غـمـونـو هـالـه خـلاص شـم — کـه مـي سـتـرګـي د ګـلـرخ پـرېـږدي ديـدن

﴿٦٨﴾

# اشرف

اشرف هم د هغو شاعرانو څخه دئ چي دېوان يې د زمانې سېليو وړی دئ، صرف دوې بدلي يې د کليد افغاني مؤلف رانقل کړي دي، دی د پښتو شاعرانو د متوسطي طبقې څخه ګڼل کېږي.

معلومېږي چي د عبدالقادر خان د معاصرينو څخه دئ، ولي چي دی هم په دغه تاريخي مشاعره کي چي د هغه عصر ډېرو شاعرانو پکښې شرکت کړی دئ، داخل سوی دئ. د ده شعر سليس او روان ښکارېږي، پېچيدګي او نور څه نه لري.

دا اشرف د "هجري" خټك پرته بل شاعر دئ.

زه ژړېږم ستا له غمه تر صباحه
ته ناترس په پلنګ خوب کوې تر راحه

د هجران په درياب ډوب يم غړغړې کړم
جګې جګې لاس راواچوه ملاحه

نېکوکار عالم وفا کا جفا پرېږدي
ولې خوند د حنظل نه شي له تفاحه

ته مې ځان يې بې تا مرمه خود پوهېږم
جدايي د تن مشکله له ارواحه

لا به کله ستا د خولې په جام سېراب شم
شپه او ورځ مې دغه خواست دئ له فتاحه

ستا د حسن لوټېريو لاس په تاخت کړ
بې پروا ګرځي له صلح له صلاحه

هزار شکر که بندي يم ستا په زلفو
په دا هسي بند کې خوښ يم تر فلاحه

د دروغو په وعده هزار داستان يې
په رشتيا دي غنچه خوله نه کړه مفتاحه

"اشرف" ستا په مينه مست دئ لا به مست شي
په خندا که سپينه خوله کړې ور مباحه

د آشنا له تازه خطه رامعلوم شو مضمون هسي
د وصال دولت که تېر شو هم به تېر شي بېلتون هسي
عشق رهبر د عاشقانو د آشنا پر لور يې بيايي
لکه عشق دئ بل به نه وي په دا لار رهنمون هسي
که ژوندون دئ خو هغه دئ چې د يار په ياد تېرېږي
چې بې ياده د يار درومي په کار نه دئ ژوندون هسي
په وشتو د رويو سترګو هر ګذار يې رسا لګي
چې هيچري خطا نه ځي دلبر ونيو زنګون هسي
بې سوزنه د مژګانو د زلفينو له تارونو
په آسان به رفو نه شي زړه مې چاود دئ درون هسي
د ژوندون اميد مې نشته چې يو څو ګاهه وپايم
که همېش هسي ګردش خوري لکه نن دئ ګردون هسي
څوك يې شاه د درست جهان کړ څوك ګداى کچکول په لاس کي
د هر چا بخره جدا ده موسى هسي قارون هسي
لکه باز واخلي کوتره په منګل هسي ستا سترګو
زړه ځما يې له تن يووړ هم يې عقل سکون هسي
چې تا وې عبدالقادره کوم پښتون به بې خوشحال
دا شان وايي "اشرف" و وې خداى پيدا کړ پښتون هسي

﴿٦٩﴾

# فاضل

فاضل د پښتو د شاعرانو په متوسطه طبقه کي لومړی ګڼل کېږي. د ده کلام خوږوالی، سلاست او رواني لري. راورټي د قاسم علي اپرېدي د يوې قصيدې په حواله د دې شاعر بحث کوي، فاضل د تازه تازه په رديف يو تازه مضمون لري. په کليد افغاني کي پادري هيوز د فاضل د کلام درې نمونې راوړي دي. د فاضل کلام عاشقانه دئ او نوی والی لري. دی غواړي چي نوې زمينه پيدا کړي او شعر پکښي ووايي.

## د کلام نمونه

په دا دور آخرين کي هوښيار ګرزه
چيري نه قدم غلط کړې بيدار ګرزه

که دي ځان له خندوخاره پاکيزه کړ
په اصلي ګوهر کي خوښ لکه تار ګرزه

د چندن په دود که ځان په سنګ ګسان کړې
نور بې غم د محبوبا په رخسار ګرزه

له څادره پښې اوږدې په هورته مه کړه
لکه ته يې په خپل قدر مقدار ګرزه

که طاقت د بل مرکب درڅخه نه وي
دغه خپلي پښې مرکب کړه پرې سوار ګرزه

په خپل حد حدود کي هر سړی سلطان دئ
تر خپل ځان چاپېر په څېر د پرکار ګرزه

که دي رنګ بو لطافت هنر د ځان کړ
نور د ګل په څېر يې پاس په دستار ګرزه

چي هر څوک صورت د حال په تا کي ګوري
صاف صافي د آئينې په کردار ګرزه

کميني هرګوره ښه څېز دئ که ګورې
د هر چا بارونه وړه بردبار ګرزه

نن سبا به خزان راشي اې "فاضله"
که د ګل ننداره کړې په ګلزار ګرزه

سـرو کـه لـیـده شـي د چـمـن تـازه تـازه    سـتـا حـسـن تـرې وینـم مـاه مـن تـازه تـازه
نـوم دي د مـهـروي شـان شـوکـت دي د پـېـرۍ    مـلا دي ده نـرۍ ښـه دي رفـتـن تـازه تـازه
زلفي دي سنبل دي یا ښامار دئ په چندڼو    یـا دواړه نـافـې دي د خـتـن تـازه تـازه
ساه راځني خېژي روح مي پاس راغی په شونډو    راوړه پـه خـسـتـه بـانـدي دیـدن تـازه تـازه
وایي به رقیب چي لـه آشـنـا سره مه خانده    نـه وي چـیـري زده کـړې د دښـمـن تـازه تـازه
ګـر چـه کـه سـمـن د ګـلـسـتـان تـروتـازه دئ    سـتـا جـبـیـن سـل ځـلـه تـر چـمـن تـازه تـازه
ګوره ستا له میني زړه یې ډك دئ وینې وینې    رحـم کـړه شـېـریـنـي پـه کـوهـکـن تـازه تـازه
سترګي د یعقوب ورباندي ځکه شوې روښاني    بـوی تـه د یـوسـف د پـېـراهـن تـازه تـازه

ساز دي ښه مجلس دئ ښه یاران درسره جمع
وایه اې "فاضـــــله" هر ســـــخن تازه تازه

یـار پـه سـتـمـونـو د خـپـل یـار نـه زهـیـرېـږي    سـتـرګـي د ښـڼـو پـه درانـه بـار نـه زهـیـرېـږي
ځـو کـبـر لـویـي ده و خـوبـانـو خـدای ورکـړې    هیـچري یې زړه په عـاشق خـوار نه زهیرېږي
څه شو که ترې سل ځله ځارېږي په ساعت کي    ګـل د بـلـبـلانـو پـه چـغـار نـه زهـیـرېـږي
ښه رنګ یې بدرنګ کا چي پرې والوزي بې وخته    زړه د خـزان ګـوره پـه بـهـار نـه زهـیـرېـږي
ګـرانـي دي هـرګـوره نـوي چـاري نـو آمـوز تـه    هر چي مدام مـی خوري په خمار نه زهیرېږي
زر دئ چـي خـبـر بـه شـي د سـتـړو لـه احـوالـه    هـر چـي د ویـشـتـلـیـو پـه آزار نـه زهـیـرېـږي

سر غواړه له خدایه خولۍ ډېري دي "فاضله"
هر چي غم د سر کا په دستار نه زهیرېږي

﴿۷۰﴾

# ابراهیم

ابراهیم هم د تېرو نومورکو شعراوو څخه دئ، پادري هیوز په کلید افغاني کي د ده یوه بدله نقل کړېده د ده کلام رواني لري. سبک یې عشقي دئ او د متوسطي طبقې شاعرانو په ډله کي ګڼل کیږي.

د ده د لاندي بدلي مقطع په یوه دېوان ارزي، خو افسوس چي دېوان یې ورك دئ، که نه وي داسي ډېر ښه او قیمتي مضامین به مو پکښې موندلي وای.

چي د عشق سودا په سر کړم کله مرد یم
سر پرېکړی په میدان کي د عشق فرد یم

د عشق نوم ځکه په ما باندي صحیح شو
وچي شونډي لنډې سترګي ګونه زرد یم

که مي سر و مال د یار په مینه لاړ شي
خدای دي نه کا چي پرې ګرم یا پرې سرد یم

تعلق هستي مي دواړه پسي شا کړل
جریده د عشق په لار کي روان فرد یم

لمن واخله چي په ګرد آلوده نه شې
خسته پروت د ستا په ورکي لکه ګرد یم

بې دردان د عشق له سوزه خبر نه شول
"ابراهیم" ځکه منت بار د اهل درد یم

﴿۷۱﴾

# فضیل

پادري هیوز په کلید افغاني کي د فضیل یوه بدله رانقل کړېده، په همدغه غزل سره دی پېژنو. د ده دېوان او نور حالات اوس نسته، سبک یې عشقي دئ، کلام یې ساده او روان دئ، دی د متوسطو شعراوو په طبقه کي ګڼل کیږي.

د ده د کلام نمونه

مــیــنــي ســتــا رابــانــدي وکــړ اثــر ورو ورو
چي يې وويستم له خواب او له خور ورو ورو

دم په دم مي ستا د عشق جنون زیاتېږي
لـېـونـی دېـوانـه اوس شـوم اوتـر ورو ورو

نـنـگ نـامـوس و مـا تـه څـه ښـيې نـاصحـه
لـه مـا پـاتـه شـو د عـقـل دفـتـر ورو ورو

واړه سـتـا د مـیـنـي اور دئ چـي رالـگـي
مدام سول شي په سکروټو ځگر ورو ورو

د غـمـزې پـه تـېـغ دي ووژلـم دلـبـره
اوس مـي وکـاږه لـه زړه نـه خـنـجـر ورو ورو

سـل افـسـونـه سـل مـنـتـره يې خـجـل کـړل
چــي کــوي را تــه خــبـري دلــبـر ورو ورو

د نارو فریاد "فضـــــیله" حاجت نشته
ورد کړه نوم د یار په شام و سحر ورو ورو

﴿۷۲﴾

# حسین

حسین هم له هغو شاعرانو څخه دئ چي مور يې د پادري هيوز په واسطه پېژنو، هيوز په کليد افغاني کي د ده دوې بدلي رانقل کړيدي، د دغو د لوستلو څخه معلومېږي چي دی د پښتنو شعراوو د منځنۍ ډلي څخه د دېوان خاوند شاعر دئ، چي کلام يې اغلاق نه لري، روان دئ، او ښې ښې نکتې هم پکښې ليدلي کېږي، د ده زړه چي په شها پسي تللی دئ، داسي يې ستايي :

ښه چي زړه مي مسافر شو ستا په لوري
عقـــيق لا شي قېمتي چي وطن پرېږدي

په معشوقې پسي د تللي زړه تشبيه د کانه څخه وتلي يا بل وطن ته د وړي عقيق سره ځومره مزه ناکه او ښکلې تشبيه ده.

## د کلام نمونه

چې دي وګوري و مخ ته وطن پرېږدي
وطن څه دئ چې روح والوزي تن پرېږدي

که څښتن وي د تومنو ستا په مینه
دروېزه کاندي اختیاره تومن پرېږدي

که د زلفو بوی دي ورشي تر ختنه
ختنیان به پسې ملك د ختن پرېږدي

بلبلان که دي له حسنه خبردار شي
ستا د مخ په نندارو به چمن پرېږدي

څه خو مخ و بتخانې ته و جار باسه
چې د بتو پرستش برهمن پرېږدي

څو شکست دي حسن ور نه کړي په باغ کي
د خوبي لافي به کله سمن پرېږدي

ښه چې زړه مي مسافر شو ستا په لوري
عقیق لا شي قیمتي چې وطن پرېږدي

د جفا د مرېو ژوند څه دئ "حسینه !"
که د جور خوی زما ګلبدن پرېږدي

څو بې خوده د سرو شونډو په مې نه شم
په نظر به د سرو سترګو سړی نه شم

د آشنا د مین هسي خمخانه ده
چې دیدن لره یې ورشم تري تلی نه شم

چیري نه چې له نظره شې دلبره
له دهشته دي و مخ ته کتی نه شم

په دربار د معشوقو کي نه قبلېږم
څو له خپلو آشنایانو پردی نه شم

په کوهي د زنخدان کي چې څوك پرېوزي
وایي دا چې ختی نه شم ختی نه شم

نوې میاشت د شاه رکاب آسمان یې آس دئ
کنجوغه ځکه د ترکو نیوی نه شم

ته مي هله دروغجن په مینه بوله
که سپند غوندي تر سر ستا لوګی شم

که دي نیت د یارئ وي تر ما به راشې
زه "حسین" په ځکندن یم درتلی نه شم

# مهين

په پخوانو شاعرانو کي د هر راز خيالاتو خاوندان سته، يو له هغه عجيبه خيالاتو څخه دغه نظم دئ چي مهين ليکلی دئ. دا نظم پادري هيوز په کليد افغاني کي را اخيستی دئ، د مهين د نورو اشعارو پته نسته او نه معلوميږي چي څوك دئ؟

دومره سړی حدس وهلای سي چي تر همدغي زمانې دمخه دئ، چي هيوز د پېښور په حدودو کي د پښتو د نظم د راغونډولو زيار کيښ ښايي چي د هجرت په ديارلسمه پېړۍ کي تېر سوی وي.

معلوميږي چي مهين يو ساده عالم او سپېڅلی نه و، بلکي يو خورا کاڼ سړی او چالاك شاعر و. لوړ سياسيات او اجتماعي افکار د خوشحال او رحمان په کلام کي ډېر دي.

مگر دغه رقم فکر چي مهين يې بيانوي، موږ يې په همده پوري مخصوص گڼو او دا هغو ادبي تلقيناتو ته ورته دئ چي په پاړسو ادب کي يې مثالونه ډېر دي، خاص بيا د سعدي غوندي شاعرانو په کلام کي، مهين په دې منظومه کي دومره موده دمخه کټ مټ د دې عصر ذهني کيفيت ښودلی دئ.

مگر که په حکيمانه نظر وگورو که يوه جامعه ټوله په همدغه رنگ روانه سي، نو عاقبت به يې څه وي؟

د شعر کيفيت داسي دئ لکه د زړه واردات، سړی په دې نظم قطعاً حکم نه سي کولای چي شاعر جداً دا تلقين کوي او که مراد يې په څه پيرايه کي د نور څه اظهار دئ او دا طنزاً وايي. که د ده نور کلام لاس ته راغلی وای خدای زده چي هغه به لا څه و؟

د مهين دا فکر خو په پښتو ادب کي ډېر غنيمت دئ، موږ به يې د جامعې په افرادو کي يو له بله نه تطبيق کوو، که ټوله جامعه خپل ميرڅمن ته دغسي تدابير عملي کړي، خو ښه دئ، مهين د پښتو شاعرانو په منځنۍ ډله کي دئ.

د کلام نمونه

بـد سـړي تـه نـصـيـحـت وايـه پـه ورو ورو
رنـګ د آشـنـايـۍ ورسـره بـيـايـه پـه ورو ورو

نـور يـې پـه تـدبـيـر د ورکـولـو ځـان بـيـدار کـړه
بـښـخ ولـي يـې وکـاږه لـه ځـايـه پـه ورو ورو

بل ځای يې ګرفتار په دښمنۍ کړه که دانا يې
شـکـر نـور د خـدای پـه درګاه وايـه پـه ورو ورو

دا توره بلا وه خدای ژوندی ورځني خلاص کړې
اوس يـې تـمـاشـې کـوه لـه ورايـه پـه ورو ورو

ښه يې په پوست ننوزه له حاله يې خبره شه
ويـې پـوښـتـه ښـه تـرا لـورايـه پـه ورو ورو

کـور مـحـلـت هـمـه پـه دښـمـنـۍ ورتـه تـيـار کـړه
دا طـرحـه يـې وبـاسـه لـه سـرايـه پـه ورو ورو

مرګ دې د دښمن له لاسه شي يخ پرې ځګر کړه
ورشـه خـولـه يـې ډکـه کـړه لـه لايـه پـه ورو ورو

پرېږده فن فرېب "مهينه" نورو ته چې کاندي
ته خــــو يــګانه محــــبوبه ستايه په ورو ورو

﴿٧٤﴾

# عصام

عصام هم د پېښور د شاعرانو څخه دئ چې پادري هيوز په کليد افغاني کې د ده له دېوانه يوه بدله نقل کړېده. نور احوال يې نه دئ ښکاره، کلام يې ساده او سبک يې عاشقانه دئ، دی د متوسطو شاعرانو په طبقه کې ګڼل کېږي او دېوان يې ورك دئ، لاس ته نه راځې.

د کلام نمونه

په طبيب به څه کومه د شفا عرض و دلبر ته کړم د مرګ د مدعا عرض
هيڅ احوال مي و دلبر و ته نه وايي که همېش کوم په باد د صبا عرض
که د سلو په خوله زر عرضونه وکړم اثر نه کا ستا په زړه کي څما عرض
اوس به ستا په ورکومه تل عرضونه شو عبث څما په حق د ماسوا عرض
خدای دپاره که مي وبولې يواځي چي به کړمه له رقيبه جدا عرض

حيف دئ ستا په دا ژوندون باندي "عصامه"
چي دي يار و ته شـــو سپـــك تر ګياه عـــرض

(۷۵)

# ابوالقاسم

ابوالقاسم هم د هغو نومورکو شاعرانو څخه دئ چي پادري هيوز په کليد افغاني کي ذکر کړی دئ او فقط يوه بدله يې د ده له دېوانه څخه نقل کړېده، د ده سبك عاشقانه دئ. کلام يې ساده او له اغلاقه تش دئ. دی د متوسطو شاعرانو په لومړۍ درجه کي ګڼل کېږي. په دې لاندي غزل کي دوهم بيت پر ښه حياتي فلسفه بنا دئ.

د محنت خاوري مي واخـــــوې[1] په اوښو
اوس مي ګل زيږي په ګل د خپل محنت کي

همدغه ده چي څوك د محنت خاوري د تحمل په اوښو واغږي او اوبه يې کړي نو بېشکه پکښي ګل زرغونېږي، ولي که د اوښو په ځای يې خولې ذکر کړي وای، نو دا به ښه مناسب وای، مګر دومره ده چي د شاعر نظر تر خولو اوښي ډېر جلبوې.

---

۱-واخوې د اخل له مصدره مشتق دئ يعني ومي اخښلې.

د کلام نمونه

دا مي میاشت وه چي مي راغله په خلوت کي
که ډېوه شوه راته بله په ظلمت کي

د محنت خاوري مي واخوې په اوښو
اوس مي ګل زېږي په ګل د خپل محنت کي

پس له مرګه که مي یار په قبر راشي
ګلستان به مي پیدا شي په تربت کي

قمر هم ځما له نوره منور شو
همره نور یې خدای پیدا کړ په طلعت کي

ما خپل ځان کړ د آشنا د کوځې خاوري
که هر څو مي طعن کاندي په خدمت کي

له کینې مي رقیب سپی د آشنا بولي
ولي دې لقب یې لا کړم په عزت کي

د "ابوالقاسم" غرض د یار وصال دئ
خدای یې لا برکت کېږدي په همت کي

﴿۷۶﴾

# صدیق

صدیق هم زموږ د هغو پخوانو شاعرانو څخه دئ چي سوانح او پوره واقعات یې موږ ته نه دي معلوم. پادري هیوز په کلید افغاني کي د ده له دېوانه څخه دوې بدلي غوره کړي او لیکلي دي.

د ده د کلام د مطالعې څخه معلومېږي چي دی یو پرجوشه، رندمشربه او سرشاره شاعر دئ، د ده په کلام کي د عشق او عرفان جلوه برېښي.

په لاندي دوو بیتونو کي د تصوف او اخلاقو ښې نکتې په روان عبارت بیانوي :

چي دي یو زمـــان جـــدا نه وي له دله
په معـــنی کي هم هغه شو ستا معبود
په هر لوښي کي چي څه شي واچولي
عـــاقبت به شي بیا هـــغه ځني نمود

صدیق په متوسطه طبقه شعراوو کي د رحمان بابا له پیروانو څخه ګڼل کېږي، د ده کلام له مستۍ او شوره څخه حکایت کوي.

څه وخت چي د ده لومړنۍ غزل چي قافیه یې مست ده، سړی لولي، نو ربښتیا مستېږي او په ځان کي خوشحالي او سرور احساسوي، وګورئ د ده د کلام نمونه:

نن مي ولیده په سترګو هغه یار مست
سم په لاري نه کا تله هغه مې خوار مست
په مستئ ځما د میني واړه مست شو
کور مي مست محلت مي مست کوڅه بازار مست
شیخ ځما د یار د لبو شراب نوش کړه
دی پرې مست شو خرقه مسته هم زنار مست
د مستانو مجلس هسي مکان غواړي
چمن مست عمارت مست نقش و نګار مست
د مستانو په مستئ چي زړه نشاط کا
ویل مست کا، کتل مست کاندي هر کار مست
برندي سترګي چي راپورته په مستي کړې
ما کا مست، روزګار مست، در و دېوار مست
زه هم مست دلبر مي مست د ګلو سیل کړو
ساقي مست، شرابي مست، هم لاله زار مست
په مستئ ځما په رقص فلک ګډ شو
مطرب مست، چغانه مست، دف و مزمار مست

د "صدیق" مستي یوازي د ځان نه ده
قلم مست، قلمدان مست لري اشعار مست

ولي نه یې راضي من په هغه سود
هغه سود چي همېشه لري بهبود
تمامي قباحت دا دئ که باور کړې
چي مرید له خپله پیره شي مردود
چي دي یو زمان جدا نه وي له دله
په معنی کي هم دغه شو ستا معبود
په هر لوښي کي چي څه شي واچولي
عاقبت شي بیا هغه ځني نمود
د مسلم نښانه څه ده بندګي ده
د اخلاص طاعت به کله کا جهود
د هغه له یادو ځله فراغت شوې
چي تر تا نه تل و تا ته دئ موجود
جدایي ځني ذره د یار و مه کړه
که هر څو دي شي اندوه په زړه افزود
سلامت ته سلامت بخښلی خدای وي
څه شي اور ته خلیل واچاوه نمرود

ته تل مې د محبت نوشه "صدیقه"
په دا څه شي محتسب که وي حسود

# غفور

زمونږ په نوم ورکو شعراوو کي يو غفور دئ.

د ده له دېوانه په کليد افغاني کي فقط دوې بدلي نقل سوي دي د دغو له مطالعې څخه څرګندېږي چي غفور د متوسطي طبقې شعراوو په لومړي صف کي درېږي. د ده په فکر کي نوی والی او جدت ليدل کېږي. په روان عبارت خوږه پيرايه او ساده روزمره او قريب الفهم تشبيهاتو سره خپله مدعا اوښاروي.

لکه دا لاندي بيتونه :

د کږو وروځو غـــوڅ کــــړي مـــدام ژاړي
ولي ســـــخت وي د کږې توري ګذار کـــج
که غفور له خلکو بېل شي باك يې نشته
تل آواز د روغو لـــــــــګي په بيمار کـــج

په دغه پورته مزاياوو کي دی د رحمان بابا پيرو برېښي.

ده د رحمان بابا کتاب مطالعه کړی دئ او په غيرشعوري طور سره د هغه د ساحرانه شعر څخه متاثره دئ. پوهېږي خو به نه ! مګر ذهن ورته هم هغه څه حاضروي چي ده متخيلې ته سپارلي دي، لکه دا بيت :

کجي زلفي کـــــج مژګان لويه فتنه ده
لا يې ګوره چي دلبر کاندي دستار کج

چي په دې بيت کي د رحمان بابا د دې بيت څخه :

کږې زلفي تور بانړه لکه چي ستا دي
نه لړم شته، نه ماران دا هسي شـــوخ

تاثير معلومېږي او دا يوه ذوقي خبره ده.

د غفور په پورته بيت کي د پاړسي شاعرانو د امرد پرستۍ د خيال اثر هم ښکاره دئ او دا څرګندېږي چي غفور د پاړسي ادب ډېر کتلی او د هغه اثر يې قبول کړی دئ.

هغه شاعران چي د عبدالقادر خان او خوشحال خان په تاريخي مشاعره کي داخل سويدي معاصرين يا پرله پسې او نژدې سړي دي.

غفور هم په دغه ډله کي داخل او په دغه مشاعره کي شريک سوی دئ، او د عبدالقادر

خان له دغه مفتخرانه شعر څخه چي ده ویلی دی : "دروغجن یم که بې خانه بل پیدا شي پښتون هسي" د ده د سابقې او خودۍ حس چي طبعاً په هر پښتون کي پروت دئ، خوزېدلی دئ او بدله یې لیکلې ده او د دې مسرۍ څخه چي :

"وکړه تا ګوره خټکه ! دا خبره ډېره سپکه !"

معلومېږي چي پوره متاثر سوی او د پښتنانه په څېر د مسابقې او مشاعرې ډګر ته ور وتلی دئ.

د غفور کلام خوږ، ساده، متین او کلك دئ، او دا څو بدلي یې نمونه موږ ته پاته ده.

## د کلام نمونه

| | |
|---|---|
| ځکه ږدم قدم د ښکلیو په دلبار کج | چي مخمور ګرزي په حال کي د خمار کج |
| د کبږو پګړو څښتن خاك سیاه کا | چي دلبر د زلفو تار کا په عذار کج |
| کجي زلفي کج مژګان لویه فتنه ده | لا یې ګوره چي دلبر کاندي دستار کج |
| د زړه فکر مي د یار په لیده ورك شي | لکه جوړ فکر د کور شي په بازار کج |
| د رقیب له ویري هسي یار ته دروم | لکه مات د چا په پښه شي تېره خار کج |
| که دستار په تندي کج ږدمه ګرم نه یم | ځونډی تل وي د بلبل په نوبهار کج |
| د کبږو وروځو غوڅ کړي مدام ژاړي | ولي سخت وي د کبږې توري پرهار کج |
| که عاشق له هجره پړمخ پروت وي ښایي | روغ صورت د مینا تل وي په خونبار کج |

که "غفور" له خلکو بېل شي باك یې نشته
تل آواز د روغو لګي پر بیمار کج

لــکــه قــد د یــار مــوزون دئ بــل بــه نــه وي مــوزون هــســي
که یې درست جهان تمثیل کړم صدهزار دئ افزون هسي

یو زه څه چي څوك مین شي معشوقې تري استغنا کا
درست جهان په حال آګاه دئ لیلی هسي مجنون هسي

په صفحه د ښکلي مخ یې خط د وینو دا تقریر کا
چي شاه قتل د عالم کا د دې خط دئ مضمون هسي

عقل اسباب د نام و ننګ کا مینه دواړه چنګ په چنګ کا
تحیر په دا پتنګ کا عقل هسي جنون هسي

ناصح وایي صبر ډېر کړه غم اندوه له دله هېر کړه
خدای هم دی ځما په خبر کړه چي پرې تل وي شبخون هسي

بیرون تر تازه لیده شم، درون پر د زړه په وینو
د یار غم برګ حنا کړم درون هسي بېرون هسي

راشه ګوره ځما لاله ! کمال نه دئ بې زواله
د دلبر له خط و خاله رامعلوم شو مضمون هسي

وکړه تا ګوره ختهکه ! دا خبره ډېره سپکه
چي به بل پښتون ونه کا دا ځواب په قانون هسي

که منصف "عبدالقادر" شي د "غفور" په قال ناظر شي
امید دئ چي پرې شاکر شي، هر یو حرف دئ موزون هسي

﴿۷۸﴾

# فتح علي

فتح علي د کاظم، یونس او صدیق غوندي په پښتنو شاعرانو کي متوسطه درجه لري. دی د دېوان خاوند دئ، خو دېوان یې اوس نه موندل کېږي، پادري هیوز په کلید افغاني کي د ده فقط یوه بدله نقل کړېده. چي موږ یې د ده د کلام د نمونې په ډول لاندي رانقلوو :

چي راپېښږ د یار بېلتون شو الغیاث ‌ ‌ ځما زړه له غمه خون شو الغیاث
د وصال ساعت به څه ګورې په سترګو ‌ ‌ چي پیدا غماز زبون شو الغیاث
د آهو په دود د هجر له دهشته ‌ ‌ ځما ځای په مېړتون شو الغیاث
اوس په عشق کي د هجران له ډېره غمه ‌ ‌ په عذاب ځما ژوندون شو الغیاث
د غماز د بدنیتۍ، د سنګ له لاسه ‌ ‌ ډك د وینو مي لړمون شو الغیاث
په سبب د کاهلۍ د خپلي برخي ‌ ‌ په عتاب راته ګردون شو الغیاث

"فتح علي" هوس به څشکله کېدی شي
جام د بخت دي سرنګون شو الغیاث

﴿۷۹﴾

# علیم

علیم ښه شاعر دئ او روانه طبع لري، د کلید افغاني مؤلف د ده له دېوانه یوه بدله رانقل کړېده ، دېوان یې نه پیدا کېږي، هغه کتابونه چي اوس زموږ په لاس کي دي په هغو کي هم د علیم څه نه دي لیکلي شوي. ځکه نو موږ دی په همدغه نمونه سره چي په لاس کي یې لرو معرفي کوو. علیم د پښتو شعراوو په منځنۍ ډله کي داخل دئ.

د وفا طمع کوي له اعدا پوچه — په بتانو پسې کړې اقتدا پوچه
چي په ګنج د حسن ناست وي هغه ښکلي — ورښکاریږي د عاشقو غوغا پوچه
سریکار یې شو همېش له جګرخونه — چي یې شوه د یار په درکي دعا پوچه
زه چي غوخ شوم د چشمانو په مسرئ — اوس مي زېرمه ده، د درد دوا پوچه
چي د عشق په تجارت کي بهرمند شي — هغه وګڼي د هر څه سودا پوچه
ګل په وقت د صبحدم کي پروانه کا — بلبلان که ورته کاندي ژړا پوچه
چي د عشق په میخانه کي مستانه شي — هغه ګوري وداني د دنیا پوچه
خو همه د عشق په لاري کي تور تم دئ — صبوري ورپسي بیایي رڼا پوچه

همېشه کاندي رفتن په قرار نه دئ
اې "علیمه" ده د عمر بقا پوچه

(۸۰)

# کامګار

کامګار هم د هغو شاعرانو څخه دئ چي موږ یې د پادري هیوز په معرفۍ سره پېژنو، هیوز په کلید افغاني کي د ده د کلام درې نمونې رانقل کړي دي، د ده دېوان اوس ورک دئ او نسخې یې نه پیدا کېږي د دغو نمونو څخه چي زموږ په مخکي پرتې دي معلومېږي چي دی د پښتو شاعرانو په لومړۍ طبقه کي ګڼل کېږي، دی ښه بدیع او نوي مضامین په خوندورو او دلچسپو کنایو، استعارو، او تشبیهاتو کي تاووي. دی په سبك او اسلوب کي د حمید ماشوخېل پیرو دئ، وګورئ د ده دا لاندي بیتونه څومره بداعت لري :

چي خیال یې ځما په سر کي همېشه و
ترکو سر په دا تاوان راځخه یووړ

که ستا مخ یو ځله ویني په سترګو — بت پرست به نور سجود د وثن پرېږدي
د خوبانو د مخ هسي شان جذبه ده — چي سیماب یې په طلب کي وطن پرېږدي
که دي ولیدې سرې شونډې جوهریانو — په یاقوت پسي به تله د یمن پرېږدي

د ده یو څو بدلي :

له کوګله زړه جانان راښخه یووړ — عشق یې غم د دل و جان راښخه یووړ
چي یې خیال ځما په سر کي همېشه و — ترکو سر په دا تاوان راښخه یووړ
که مي زده کړه د صبرونو داستانونه — آهو چشمو په دستان راښخه یووړ
په چوګان د تورو زلفو هغه ښکلی — ګوی د زړه یې په میدان راښخه یووړ
همبره ژاړم زه د عشق له ډېره غمه — خجالت ابر نیسان راښخه یووړ
هسي عشق لرم بې صبره بې سامانه — چي یې واړه سر سامان راښخه یووړ

زه "کامګار" ځکه رسوا لکه مجنون شوم
چي درست عقل دلســـتان راښخه یووړ

ساقي زر پاښه و ما آب حیات را — وریسې نقل د سرو شونډو نبات را
آزادي مي خوښه نه شوه له دې پسه — ځما پښو لره زنځیر د عشق حمات را
که هر څو د هجر غم رابانديي ډېر شي — لکه غر د یار په مینه کي ثبات را
نوکري دي کړم دنیا مي په کار نه ده — یاره ما لره د خپل دیدن برات را
غیر فکر مي له دله زدوده کړه — خیال په زړه د یار د مخ لکه مرآت را
په کمال چي دي نصاب د تا د حسن — مستحق یم آشنا ما لره زکات را

ربه دا آرزو "کامـــــګار" لري په زړه کي
چي هر چا ته وي یك سان هغه صفات را

نه به څوك له ناچارۍ وطن پرېږدي
نه به روح هر ګز په خوښه بدن پرېږدي
که د زلفو په چین چین بوی په چین ورشي
له خجلته به هوسۍ ختن پرېږدي
که ستا مخ یو ځله ووینې په سترګو
بت پرست به نور سجود د وثن پرېږدي
د خوبانو د مخ هسې شان جذبه ده
چې سیماب یې په طلب کې وطن پرېږدي
په خاطر به مې بې غمه قراري شي
که مې سترګې د خوبانو دیدن پرېږدي
د یوسف غوندې به څو ځنې بېرون کا
که د زنې چاه ته زلفې رسن پرېږدي
که دې ولیدې سرې شونډې جوهریانو
په یاقوت پسې به تله د یمن پرېږدي
که دلبر په دا ښایست لاړ شي چمن ته
د خوبۍ دعوې به ګل د چمن پرېږدي

د قیامت په شور و شر کې ګمان مه کړه
چې "کامګار" به دې له لاسه لمن پرېږدي

﴿۸۱﴾

# صمد

موږ څه ووایو د تحولاتو انقلاباتو سېلاب زموږ څخه هر څه وړي دي، د صمد د دغه یو شعر څخه چې پادري هیوز په کلید افغاني کې نقل کړی دئ سړی معلومولای سي، چې صمد څومره ښه شاعر دئ، د ده دېوان که زموږ لاسو ته راغلی وای په دې کې به څومره قیمتي اشعار وای !

د ده سبك عشقي او د حمید ماشوخېل سبك ته ورته دئ، په خوږو تشبیهاتو، کنایاتو او استعارو کې مطلب بیانوي، وګورئ دا بیتونه څومره حسن لري:

سر نشېب مې سر د غم په ګرداب درومي
سزاوار د عقوبت لکه قارون شو
چې د عشق په مکتب ما د غم داستان لوست
هك حیران راته فرهاد و هم مجنون شو
د قلم په دود په چاکه سینه قې کړم
د مرجان په طور وینې مې لړمون شو
د حیرت ګوتې په غاښ کړې طبیبانو
له قانون او له شفا مې رنځ بېرون شو

قانون او شفا د شیخ الرئیس بوعلي سینا دوه مشهور کتابونه دي. قانون په طب او شفا

په فلسفه کي ده. په عین زمان کي چي دی وایي زما رنځ د طب د قاعدې او جوړښت څخه ووت او طبیبان ورته حیران پاته سول، دې ته هم تلمیح کوي چي زما رنځ د بوعلي سینا د قانون او شفا د اصولو څخه وتلی دئ، نو ځکه ټول طبیبان پکښې حیران دي. ولي چي د طبیبانو استناد که څه دئ نو په دغو کتابو دئ. په شفا طبیبان ځکه اړه لري چي طب هم حکمت دئ او شفا د حکمت مشهور کتاب دئ، د دې کنایې څخه د ده علمي مقام معلومېږي.

## د کلام نمونه

بې لـه یـاره راښـکـاره ژونـدون زبـون شـو
اشـتـیـاق مـي د زړه مـرګ و تـه افـزون شـو

وچ کـوګـل لـکـه بـیـابـان د اهـاړ تـوسـنـد
لـه دوه سـتـرګـو مـي روان آب جـیـحـون شـو

بـې آرام شـوم د جـهـان پـه سـړه زمـکـه
د هـوسـۍ پـه دود مـي خـوب پـر مـېړتـون شـو

سرنـشـېب مـي سـر د غـم پـه ګرداب درومي
سـزاوار د عـقـوبـت لـکـه قـارون شـوم

چي د عشق په مکتب ما د غم داستان لوست
هـك حـیـران راتـه فـرهـاد و هـم مـجـنـون شـو

د قـلـم پـه دود پـه چـاکـه سـیـنـه قـی کـړم
د مـرجـان پـه طـور ویـنـي مـي لـړمـون شـو

د حـیـرت ګـوتـي پـه غـاښ کـړې طـبـیـبـانـو
لـه قـانـون او لـه شـفـا مـي رنـځ بـېرون شـو

د آشـنـا مـاتـم چـي پـټ کـړم لـکـه خـاوري
سـر مـي هـسـك تـر نـه طـبـق د ګـردون شـو

د "صـــمد" ویل به ولي شـــېرین نه وي
چي د شاه فرید د عشق رنځ یې طاعون شو

﴿۸۲﴾

# ملا عبدالرشید

عبدالرشید د سلطان حسین زوی د عبدالرحیم لمسی په ختهٔ قریشي فاروقي د ملتان د هغي لویي علمي روحاني کورنۍ څخه دئ، چي په علم او فضل کي یې پوره شهرت درلود او دې کورنۍ ته اکبر مغولي پاچا په ملتان کي اعزازاً یو کلی بخښلی و، د عبدالرشید ور نیکه د خپل اصلي ځای ملتان څخه د ځینو وجوهاتو په اثر لنګر کوټ ته راغلی و، او په دغه ځای کي یې استوګنه غوره کړې وه، دوی په لنګرکوټ کي هم کامل روحاني او علمي اعتبار درلود، او عبدالرشید د خپلي زمانې مروجه علوم لوستلي و او د خپل عصر ښه عالم او پوه ادیب بلل کېدی، او د ده له وینااوو ښکاریږي، چي په (۱۱۲۹هـ) ژوندی و، نو د ده د زوکړي وخت موږ تر (۱۱۰۰هـ) دمخه تخمین کولای سو.

د عبدالرشید شعر :

د عبدالرشید رشیدالبیان نومی کتاب چي د فقه ابتدایي او د عقایدو د ضروري مسائلو مجموعه ده تر زرو بیتو ډېر او د پښتو په روان او سلیس شعر د مثنوي په لنډ بحر کي لیکل سوی دئ. دا مثنوي د مبتدیانو له پاره ډېر مفید دئ او په پښتنو کي ډېر شهرت او عمومیت لري او د پښتنو په کورني مکاتبو کي یې نجوني او هلکان لولي، او د کورني مکاتبو په نصاب کي مهم کتاب دئ، چي په پنځمه د محرم (۱۱۲۹هـ) کي یې له تالیفه فارغ سوی دئ، رشیدالبیان د پښتو یوه ښه منظومه ده، چي په ټوله پښتونخوا کي یې شهرت موندلی دئ او د شعر په لحاظ په لومړیو آثارو کي راځي، که څه هم ملا رشید یوازي دیني مسایل منظوم کړي او بلي خوا ته یې په شعر کي توجه نه ده کړې، مګر داسي ښکاریږي چي روانه طبعه یې درلوده، او ښه ادیب و، اوس له دې کتابه یو څو بیتونه د نمونې په ډول ولولئ :

## د لمانځه ثواب

چې محکم پر لمانځه اوسې　　له دنیا به ایمان یوسې
هم به خدای پرې رضامن شي　　پرې آسان به ځکندن شي
تاریکي به ترې رب دور کا　　پرې به قبر کلي نور کا
له صراطه به یې تېر کا　　تېر به دی د باد په څېر کا
ښایسته به لکه لمر وي　　دی به کل نورالبشر وي
پاك رسول به یې شفیع شي　　ملایك به یې مطیع شي
په ښی لاس به نامه ورکا　　سخته ورځ به یې اختر کا
لوږه تنده به پرې نه وي　　نه ولاړ به په غارمه وي
هم روزي به یې جنت شي　　هم سېراب به په نعمت شي
د جنت په ښه قصورو　　تل به عیش کاندي له حورو
ښې جوړې ښکلي تاجونه　　مرصع ښکلي تختونه
ښایسته ښه براقونه　　مرصع پرې ښه زینونه
ښې مېوې ښکلي باغونه　　سره او ژېړ پکښې ګلونه
نقاشي بوستان سرایونه　　ترې چاپېر جاري نهرونه
د انګورو دوښابونه　　وریته کړې کبابونه
د عسله ډك حوضونه　　د شرابو ډك جامونه
د خوشرنګو آوازونه　　چې به سازکړي سرودونه
د ګوهرو محلونه　　پکښې ناستي ښکلي جونه
له هر قسمه نعمتونه　　چې یې نه شي حسابونه

خدای به ده وته عطا کا
ملایك به یې ثنا کا

﴿۸۳﴾

# عبدالرحیم هوتك

عبدالرحیم خوشبختانه له هغو شاعرانو څخه دئ چي پخپله يې خپل اغلب سوانح په خپل دېوان کي ځای پر ځای ښوولې ده. د ده مسقط الرﮈس او اصلي وطن کندهار دئ او په غربت کي يې ډېر ډېر يادوي[1] د ده دېوان د مطالعې څخه معلومېږي چي دی د هوتکو په عصر د کندهار په زاړه ښار کي اوسېدلی دئ او هلته يې دوستان درلوده[2] او بيا چي د افشار نادر شاه په لاس د (۱۱۵۰هـ) په حدودو کي کندهار خراب سو نو عبدالرحیم په مفارقت او مسافرت کي هم د خپل ښار ياد له زړه نه دئ ايستلی.

عبدالرحیم ذاتاً له هوتکو څخه د ښه بولان (کلات) معلومېږي، او د زاړه او اوسني کندهار په حدودو کي يې هم ژوند کړی دئ او بيا نو له وطنه جلا سوی دئ[3] دئ پر لسم کال د څه ناچاريو په سبب له وطنه وتلی دئ[4] د ده د مفارقت او غربت دا زمانه تر اتيا کالو پوري رسېږي، او د دې مفارقت او جدايي په عمر کي دی تل وطن او د وطن ياران يادوي او په سوران سوران ژاړي، او وايي :

---

۱-ښايسته کندهار ډېر ډېر يادومه
نه هېرېږي که هر څو يې هېرومه
۲- پر زاړه ښار مي راوړای قدمونه
د فراق نارې مي وکړای په کوکار
هغه ښه ياران چي ما ليدلي وونه
پرې پوهېږم يو به نه وي پر قرار
۳- ستا قسمت شوه بخارا عبدالرحیمه !
غزيزانو اختيار ټول "ښه بولان" کړ
٤-لس کلن له ملکه ووتم بېرون سوم
په سراغ د مهوشانو جګرخون سوم

زه رحـــــيم په بخـــارا کي آرزو کـــــړم
که مي خدای کړي په بلاد د کندهار ګډ

عبدالرحیم د خپل مسافرت او پردېسۍ ځایونه ټول یاد کړي دي، نشاپور، تهران، ورامین او بیا له دې ځایو څخه بخارا ته تللی دئ او په تورکستان کي یې ډېر عمر په یو جهان سوز و ګداز کي تېر کړی دئ[1] او د ترکستان په مشهورو ښارو بخارا او سمرقند کي یې پنځوس کاله په یوه اوږد انتظار او فراق کي پای ته رسولي دي[2] بیا نو په دغه غربت او مسافرت کي بوډاتوب او سپین ږیرتوب ته رسېدلی، نور حالات یې نه دي ښکاره.

## اشعار او افکار :

عبدالرحیم یو مرتب او مردف دېوان لري، چي تقریباً په (۳۰۰) مخو کي تخميناً زر مردفي غزلي لري او ټول ابیات یې تقریباً شپږ زرو ته رسېږي، مګر کوم دېوان چي زموږ لاسو ته راغلی دئ، متاسفانه د سر او آخر پاڼي نه لري[3] د دې دېوان متن په جلا خط لیکل سوی دئ، او د غزل پر سر یې لیکلي دي (وله ایضاً مد ظله تعالی) لکه چي د ده په ژوند لیکل سوی دئ او پر حاشیه باندي یې څه نوري غزلي په بل خط لیکلي سویدي، لکه پخپله د شاعر خط چي وي، عبدالرحیم په پښتنو شاعرانو کي د رحمان بابا د مکتب یو رکن دئ، دی طرفدار د ساده ویلو دئ. په کلام کي یې هیڅ تکلف نسته.

عبدالرحیم یو خوږ وینا مقتدر شاعر دئ د شعر ژبه یې خورا سلیسه، روانه او خوږه ده. دی هیڅکله په تلازم کي د طبیعت د دائرې نه وزي. د عبدالرحیم اشعار او غزلیات لکه په پارسي کي د حافظ دغسي خوږه، روان او د سلاسته ډک دي.

عبدالرحیم په اصل کي د وطن د علمي خلکو څخه و، ده غالباً د وطن متداول علوم، لکه : فقه، تفسیر، صرف، نحو، فلسفه، منطق ویلي دي[4] په دغه سبب د ده په شعر کي قوت، متانت

---

۱- بخارا او سمرقند مي زړه زخمي کړ
غواړم پاڅم په زیارت د کندهار
۲-پنځوس کاله زیاتي وکم وسوه رحیمه
په سراغ د اشنا ناست په ترکستان یم
۳ -د پېښور د اسلامیه کالج په کتابخانه کي د دې دېوان مکمله نسخه سته.
٤- صرف و نحوه، فلسفه، تفسیر او فقه
ټول مي هېر کړه چي مي زړه په عشق خبر سو

او علمي رنګ ښکاره دئ. د عبدالرحیم په شعر کي عشقي، اخلاقي، اجتماعي او فلسفي اقسام ټول سته.

د وطن محبت د ده د شعر یوه خاصه ممیزه ده. عبدالرحیم د روحاني دنیا سره ټینګه علاقه لري، غالباً له مادیاتو څخه تښتي، له دې جهته دده په اخلاقي شعر کي د عزلت او تجرد، صبر او د نفس د اصلاح خوا ډېره ده، دی په دنیا کي د روحاني خوند او ذوق قائل دئ، د جد و جهد او کوښښ تبلیغ هم کوي.

د عبدالرحیم په شعر کي رباعي، غزل، قطعې او د شعر اکثره اقسام سته، دی لکه رحمان او خوشحال په اوله درجه شاعرانو کي ګڼل کېږي، اخلاقي او عرفاني مضامین ډېر وایي، مثلاً :

منبر وسوځه په اور کي شراب وښنه
درته وایم خو د زړونو آزار مه کړه
په ظاهر شکستګي فایده نه کاندي
په باطن کي ځان د هر چا خدمتګار کړه

ناخوانده له کوره مه وزه که مرد یې
چي دي نه بولي، مېلمه د خپل پلار مه سه
که ته غواړې چي په دوه کونه عزیز سې
بې له خدایه د مخلوق طمع دار مه سه

د خاموشۍ تلقین په دې ډول برهان سره کوي :

همېشه بې حلق شېرین لکه نبات وي
چي بسته یې خوله په مهر خاموشي کړه

د نورو د زړه زهیرولو بدۍ داسي ښي :

که هزار ځله تقوا پرهېزګاري کړې
ښه دي نسته چي مدام دل آزاري کړې

دا خبره چي انسان باید پر ځان ویسا یعني پر خپل نفس اعتماد ولري، د اوسنیو اجتماعي ترقیاتو او اخلاقو اساس ده، عبدالرحیم دا پر ځان ویسا په داسي ډول بیانوي :

چي د پلار او د نیکه په نوم خوښېږي
لکه سپی ښادي په محض استواخ کړي
دا یې واړه بې عقلي ده که پوهېږي
چي هوس د نورو خلکو په بیان کړي

د سعي او عمل تلقين داسي کوي :

د هر چــــــــا برخــه له خـــپله برآورده
چي کار ډېر کا و هغه وته مزد ډېر سو

د عبدالرحيم عشقي اشعار هم ډېر تاوده دي، خپل مشتعل احساسات په شعر کي داسي ښکاره کوي او د سهار نسيم خپل وطن ته داسي رالېږي :

سـحـر بـاده ! د اشـنـا پـر مـقـام ورسـه — ځـمـا دپـاره پـکـښـې وګـرزه کـوتـر سـه
لـوی و کـم چـي وي ټـول ووينـه پـه سـترګـو — پـه احـوال سـره د هـر يـوه خـبـر سـه
هـر يـوه چـي زمـا لـه حـالـه پـوښـتـېدو وې — پـه ژړا ورتـه پـه اوښـکـو کـي احـمـر سـه
کـه خـــبــري زمـــا دپـــاره درتـــه وکـــړي — مـخ راکـوز کـړه زمـا و لـوري تـه چـپـر سـه

د نسيم په زباء دي ښه نه سي "رحيمه"
د دلــــدار پر لور پخـــپله قلــــندر سه

له دې لاندي بدلو څخه د عبدالرحيم د کلام سلاست او رواني او د ميني تاوده احساسات او د عشق د دنيا سوز او ساز ښه څرګندېږي :

راسـه راسـه سـتـا تـر دواړو سـترګـو جـار سـم — هـم تـر مـخ دي پـروانـه غـونـدي نـثـار سـم
د زړه ولـي مـي پـه تـا پـسـي پـرې کـېږي — راتـه وګـوره قـربـان دي تـر ديـدار سـم
شـېـريـنـي بـه دي د وصـل هـېـره نـه کـړم — کـه هـر څـو غـربـت زده او خـوار و زار سـم
چـي دي خـيـال پـه زړه کـي رايـسـي دنـنـه — اور مـي واخـلـي پـه نـارو او پـه کـوکـار سـم
د اخـتـر پـه ورځ کـه مـخ راتـه څـرګـنـد کـړې — قـربـانـي بـه دي پـه مـيـنـه د رخـسـار سـم
جـنـتـونـه پـر خـاطـر کـلـه را دروي — چـي پـه شـوق ګـډ سـتـا د حـسـن پـه ګـلـزار سـم
ستـا وصال پـه بخارا کي "رحيم" بيا موند — صـدقـه تـر ټـولـه مـځـکـو د بـخـار سـم

بـهـار راغـی خـلـك درومـي و صـحـرا تـه — رنـګـا رنـګ ګـلـونـه ډېـر د غـره و خـوا تـه
لـوی او کـم دي پـه لـګـډ ښـادي هـوس کـا — مـا لـه غـمـه مـلا تـړلـې و ژړا تـه
هـر سـړی يـو کـار لـري مـشـغـول پـه کـار دئ — بـې لـه يـاره کـلـه ګـوري و بـل چـا تـه

اويا کاله د "رحيم" په عشق کي تېر سوه
عقل، هوښ يې مدام وي و دلـــــــربا ته

## د وطن بېلتون :

دا بدله عبدالرحيم په بخارا کي د خپل ګران وطن په ياد ويلې ده :

ښايسته کندهار ډېر ډېر يادومه[1]
نه هېرېږي که هر څو يې هېرومه
خصوصاً د ارغنداو باغ او ولو ته
زړه مي غورځي بې طاقت شم ندرمه
سرپوزه او کاغانک چي پر زړه راسي
اور مي واخلي پر ځان پيک وښورومه
کوکران او ګنديګان د خدای په حکم
څه فيضونه باندي اوري کې شمېرمه
سرپوزه چي لو ويالې پکښې بهېږي
د ويل ږغ يې مدام پر زړه لرمه
يو دم کښېنه په ايوان د چلزينو کي
تماشا وکړه چي زړه دي سي بې غمه
څه فيضونه چي له دې ځايه زه وينم
چي له غيبه باندي تل اوري هر دمه
ما هم ياد کړه که دي خدای کړي برخه لويه
چي غريب په بخارا کي يم له غمه
نيازمن درو له پر زړه ناري وهنه
چي دي ورسي ناره پر درست عالمه

دغه خوار "رحيم" چي دا اشعار بيان کړه
غرض دا چي قدردان وژړومه

## يو څو نوري بدلي :

حريفانو د شرابو پيالې نوش کړې
ميخانې يې ټوله طی پنهان سرپوش کړې
اوس ځما و ستا دئ وار که څه پوهېږې
که ژړا کړې، که ناري کړې، که خروش کړې
که ته غواړې چي د دوی مرتبه مومې
شپه به تېره لکه دېګ هسي به جوش کړې
هم به ناست يې په ژړا و خپل دلبر ته
بې له ياره به نور واړه فرامو‌ش کړې

دا دولت به ته هله مومې "رحيمه"
که خوله ونيسې له ګفته ځان خاموش کړې

---

۱- په دې بدله کي د کندهار شاوخوا سرسبز کلي ارغنداو، سرپوزه، کاغانک، کوکران، ګنديګان او چلزينه ستايلي سوي دي.

د چمن په سیل ولاړم و صحرا ته
په امید چي یار به وګوري و ما ته

نه مي ولیدې په سترګو زړه مي چوي
پښې مي وپړسېدې پروت یم شاوخوا ته

زه له خپله غمه پروت په ژړا ژاړم
زاهدان تول حیران ځما و ژړا ته

قدردان هر چیري ښه دئ که پوهېږې
له بې قدر څخه درومم و بل خوا ته

دغه خوار "رحیم" تنها یوازي پروت دئ
مخې نه ګرزي بې یاره و بل چا ته

د سحر نسیمه زیا، د دلدار راکړه
خبردار مي په منزل او په ماوا کړه

زه به ستا حلقه بګوش مریی بنده یم
ترهېدلی یار له ما سره اشنا کړه

د هجران له لاسه تېږی وړی ګرزم
اوبه ور مي د وصال په لوی دریا کړه

هیڅوك نه لرم چي راز ورته ووایم
بې له تا د زړګي غوټه مي را وا کړه

خوار "رحیم" منتظر ناست دئ ستا و لور ته
د دیدن زېری پر خوار باندي عطا کړه

﴿٨٤﴾

# سعادت خان

سعادت خان د عبدالرحمن زوی د پښتو ژبي د درېیمي درجې شاعرانو په قطار کي درېږي، دی په اصل د هند د بهار د صوبې د رهتاس علاقې دئ، چي پخپله یې په کابل او ننګنهار کي استوګنه درلوده او کم وخت چي نادرشاه افشار د کابل د لاري پر هندوستان حمله کوله دی په کابل کي و او په دغو ورځو کي ژوندی و (۱۱۵۱هـ) دی د لاهور د محمدسعید صاحب چي د خپل عصر مشهور عالم و شاګرد او د حضرت مسعود لاهوري مرید دئ، د ده د کتاب د مطالعې څخه معلومېږي چي دی په پارسي هندي او پښتو ژبه پوهېدی او کیمای سعادت نومی کتاب یې د ځینو خپلوانو په سپارښت په (۱۱۵۰ هـ) کال په کابل کي په پښتو لنډ بحر منظوم کړی دئ، چي دیني

او طبي مضامين لري، تر دوه زره بيتو پوري رسيږي. دا كتاب په دې شعر شروع كيږي :

| | |
|---|---|
| ربــه ســتــا ثــنــا بــه وايــم | ځــو ژونــدی پــه دې دنــيــا يــم |
| كــل ثــنــا ده ســتــا لايــقــه | اې د كــل جــهــان خــالــقــه |
| ګــواهــي كــړم چــي احــد يــې | لــم يــلــد و لــم يــولــد يــې |
| شــريــك نــه لــرې ســبــحــانــه | مــبــرا يــې لــه نــقــصــانــه |
| نــه لــه چــا يــې پــيــدا شــوی | نــه پــه حــكــم د چــا شــوی |

له هر عــــيبه له نقــــصانه
پاك يې ته پاكه سبحانه

۸۵

# احمدشاه بابا

اعليحضرت احمدشاه بابا د زمان زوی د دولت خان لمسی د سرمست خان بن خواجه خضر بن سدو كړوسی و.

دی په ختهٔ سدوزی او د باميزو پښتنو له پښته و، اعليحضرت احمدشاه بابا د پښتنو يو فاتح او برميالی شهنشاه او د منځنۍ آسيا لوی بريالی دئ، چي د (۱۱۳۵هـ) په حدودو په هرات كي زوكړی، او پلار او اكاګان يې د هرات پاچهان وه، اعليحضرت احمدشاه بابا په (۱۱٦۰هـ) د افشار نادرشاه تر مرګ وروسته كندهار ته راغی، او د شېرسرخ په كلي كي د پښتنو مشرانو په پاچهي وټاكلی، احمدشاه بابا پخپله پاچهي كي پښتنانه سره يو كړه، او د افغانستان طبيعي حدود يې فتح كړه، په بخارا، خراسان، او هند كي يې ډېر فتوحات وكړه، په خراسان كي يې شاهرخ ميرزا پاچا كی، او د بخارا د پاچا شاه مراد بېګ سره يې روغه وكړه، نه واره هند ته ولاړ او هلته يې لوی لوی فتوحات وكړه.

اعليحضرت احمدشاه بابا د پښتونوالي په دود د ډهلي تر نيولو وروسته د هغه ځای مغولي پاچا هلته پر خپل حال پرېښود، په (۱۱۷٤هـ) كي چي يې د پاني پت پر ډګر د تقريباً لسو

لکو مرهټانو سره جګړه وکړه، په دې جنګ کي اعلیحضرت احمدشاه بابا او پښتانه چي تقریباً (۸۰) زره تنه وه بریالي سوه او تر دوه لکه پوري دښمنان يې مړه کړه، بیا هم احمدشاه بابا د ډهلي تخت شاه عالم مغولي ته وسپاره او خپل وطن ته فاتح راغی.

اعلیحضرت احمدشاه بابا یو مدنیت روزونکی او عالم او متدین پاچا و، د کندهار او د تاشقرغان ښارونه ده جوړ کړي دي، د سند د حیدرآباد ښار هم د ده نائب الحکومه جوړ کړ.

احمدشاه بابا د اوسني افغانستان د سلطنت مؤسس دئ، چي دا مملکت يې په خپله توره او تدبیر سم کی، تر (۲٦) کالو پاچهۍ وروسته د جمعې په شپه ۲۰ رجب (۱۱۸٦هـ) وفات او د کندهار په ښار کي ښخ سو[۱].

## ادیب او شاعر احمدشاه بابا :

تر اوسه خلك احمدشاه بابا د منځنۍ آسیا یو نامور بریالی او معروف شهنشاه ګڼي، او دی د توري او مېړاني خاوند بولي، چي په دغو اوصافو يې مځکي نیولي او د افغانستان د شاهنشاهۍ لومړۍ تیږه يې کښېښوه، مګر احمدشاه بابا لکه د آسیا دمخني فاتحین (چنګیز، تېمور، نادر) یوازي پخپلو عسکري سوقیاتو او د توري په برکت جهانګیري نه ده کړې، بلکي ده د خپلي توري سره قلم او د خپلي سربازۍ او توریالیتوب سره علم او فضیلت، تقوی او ادب هم ملګري درلوده، ځکه نو دی د پښتو ژبي یو زبردست ادیب، یو عالم او عادل پاچا، لوړ شاعر، او اجتماعي مصلح او روحاني مقتدا هم ګڼل کېږي.

اعلیحضرت احمدشاه بابا د شعر یو مدون او مردف پښتو دېوان لري، چي په (۱۳۱۹ش) پښتو ټولني نشر کړی دئ او تر (۳۰۰۰) بیتو پوري رسېږي، دا دېوان بدلي، قطعات، رباعیات او نور د شعر اقسام لري او د ده په شعر کي د ده لوړ فکر او هسك همت او د پښتونوالي جذبات او د شاهنشاهۍ جګ افکار، د بخښني او ښندني هسك عواطف، د توریالیتوب برجسته احساسات د جهانګیرۍ د شجاعت عزم د ایمان او عقیدې ټینګار، د عشق سوزان دردونه، د مینی د دنیا عجیبي پېښي ښکاره دي.

احمدشاه بابا د توري پر میدان یو بریالی او ننګیالی سرباز دئ، د پښتونوالي پر ډګر بشپړ پښتون دئ، د سیاست او مشرتوب له پلوه، د خپل عصر لوی سیاسي مشر او فاتح دئ. په اجتماعي دنیا کي تکړه مورالیسټ **moralist** یعني اخلاقي شاعر دئ.

---

۱- د احمدشاه بابا سوانح له سراج التواریخ او تاریخ سلطاني او تتمة البیان او خورشید جهان او نورو څخه خلص سو، ځیني مؤرخین د ده عمر (۵۰) کاله ښیي.

ویل یې ډېر ساده مؤثر دي، شعري صنایع او بدیعي فنون هم د ده پر وینا اثر لري، د تصوف له دنیا څخه ډېر بډغېږي، شاعري یې د تصنع او نمایش له پاره نه ده بلکي د زړه بړغ یې دئ، تشه وینا نه ده پخپله وایي :

بې له عشقه شعر وایې
له ویلو شـــــرم ته که

احمدشاه بابا په شعر کي د رحمان بابا مکتب ته نسبت لري، وینا یې له تعقید او ابهامه تشه ده، خپل لوړ افکار او د سوي زړه بړغ په ساده او خوږو الفاظو څرګندوي، ګران تشبیهونه نه لري، له وینا څخه یې پښتونوالی ښکاره دئ، د تصور او تخیل په دنیا کي د پښتونوالي تر حدودو نه وزي. اوس به موږ د ده د وینا ځیني ټوټې تاسي ته در وړاندي کو :

## د وطن مینه :

احمدشاه بابا د خپل وطن سره دومره مینه لري چي په لږو شاعرانو کي لیدله کېږي، لکه ده چي عملاً هم خپل وطن ګران ګاڼه او دغه خاوره یې د ټولو افتخاراتو او ادبي او عمراني او اقتصادي چارو مرکز کړه، دغسي هم قولاً خپله مېنه ستایي.

احمدشاه بابا د شهنشاهۍ د شوکت او عظمت سره د هندوستان په ځنګلو کي پروت دئ، د ده بریالي لښکر د ډهلي ښار فتح کړ، او د پښتنو پلار په برم او جلال ور داخل سو، مګر په دې حال کي هم د خپلو غرو خوږ نسیم نه هېروي، او د زړه ګل یې بې له دې وږمې نه غوړېږي:

د زړه ګل به مي له خاورو کا سر پورته
که نســـیم له کوهســـــــــتانه وزېده

په دې رباعي کې هم خپل وطني احساسات ښه څرګند کړي دي :

د زړه فـــــرياد مي له جـــدایۍ
اور مي ورك نه شي د آشـــنایۍ
چي پر وطن وي زړه څه قرار وي
یم بې طاقــــــــته په پردېسۍ

د احمدشاه بابا دا لاندینۍ وطني بدله د یوه دېوان قیمت لري او د پښتو په وطني ادب کي خورا مهمه ده :

ستـا د عـشـق لـه ويـنـو ډك سـوه ځـګـرونـه
تـا تـه راسـمـه زړګـی ځـمـا فـارغ سـي
کـه هـر څـو مـي د دنـيـا مـلـکـونـه ډېـر سـي
د ډهـلـي تـخـت هـېـرومـه چـي را يـاد کـړم
د رقـيـب د ژونـد مـتـاع بـه تـار پـه تـار کـړي
د "فـريـد" او د "حـمـيـد" دور بـه بـيـا سـي
کـه تـمـامـه دنـيـا يـو خـوا تـه بـل خـوا يـې

سـتـا پـه لاره کـي بـايـلـي ځـلـمـي سـرونـه
بـې لـه تـا مـي انـدېـښـنـې د زړه مـارونـه
ځـما بـه هـېـر نـه سي دا سـتـا ښـکلي بـاغـونـه
ځـما د ښـکـلي "پـښـتـونخـوا" د غـرو سـرونـه
چـي پـه تـورو پـښـتـانـه کـا ګـزارونـه
چـي زه وکـانـدم پـر هـر لـوري تـاخـتـونـه
زمـا خـو خـوښ دي سـتـا خـالـي تـش ډګـرونـه

"احمدشاه" به دغه ستا قدر هېر نه کا
که ونيسي د تمام جـــــــهان ملـــکونه

په دې بدله کي تاسي وګورئ چي زموږ ښاغلي پلار د شاهنشاهۍ ټوله ښېګڼې او خوندونه تر خپله وطنه پوري هېروي، او د شېرشاه سوري (فريد) او سلطان حميد لودين د پښتونوالي رونې دورې پخپل همت او وطنخواهي بيرته جوړوي.

## ملي وحدت :

احمدشاه بابا ډېر مدبر او هوښيار سړی و، دی پوهېدی چي د پښتنو لوړتيا په ملي وحدت اړه لري، د پښتنو تاريخ يې کتلی او دا يې ځني را ايستلې وه، هر کله چي پښتانه سره يو سوي دي، نو يې هري خوا ته خپل د برم او جلال توغ جګ کړی دئ، نو ځکه دا پوه او نوميالی پلار خپل ښاغلي ملت ته د ملي وحدت تبليغ کوي او وايي :

قـافـلـه د عـشـق راغـلـيـه لـه کـوم خـوا ده
ټـولـه يـو دي کـه غـلـجـي دي کـه اودلـي[1]
چـي عـمـل يـې د نـېـکـۍ وي مـېـړه هـغـه
پـښـتـانـه دي ټـولـه لاس سـره يـو کـانـدي

پـر زړګـي بـانـدي مـيـشـتـه کـا څـه غـوغـا ده
ښـه هـغـه چـي يـې ښـيـښـه د زړه صـفـا ده
کـه اغـوسـتـې يـې ګـدلـه د خـمـتـا ده
چـي مـو نـن غـزا هـر لـوري شـاوخـوا ده

(۱)

۱-ابدالي په پښتو اودل بولي، دا د درانو زوړ نوم دئ، په پښتو متل دئ : "د خدای داسي رضا ده، چي اودلي ودوي ترين يې ورا ده".

د بري لار :

احمدشاه بابا په ژوندون کي د ټولو لوړتیاوو او بریو لار زیار او مبنود ګڼي، لکه چي وایي :

بې زحمته راحت چیري مونده نه سي
د "احمد" ځکه پر هر لوري غـــــزا ده
احمدشاهه دلته جوړه سربازي ده
د لوړتیا خرید کـوه له دې بازاره

احمدشاهه څو دي کار په لاس دي مټ کړه
حیف هغه چي په تېر کار موږي لاســـــونه

حماسیات :

احمدشاه بابا د پښتنو په دود لوړ لوړ حماسیات لري او لکه عملاً چي هم یو بریالی قوماندان و، په وینا کي یې داسي لوړ احساسات ښکاره دي :

راته یو دئ بحـــــــــــروبر
که څـــه ســـمه دئ که غـــر
په همت به یې تسخیر کړم
شــــــاهانه په شـــــان وفر

په برېښنا د توري ژوند کوه "احمده"
د بري جولان پر لور د هـــــــــر دیار کړه

په پښتونواله کي پت او ننګ هغه مقدسات دي، چي تل یې پښتون په سر ساتي، احمدشاه بابا د پښتونوالي پر دغه ښېګڼه داسي ټینګ ولاړ دئ :

پـر نــنــګ مـړ خــو څـه مـړ نـه دئ — د بـــې نـــنـــګـــه ژونـد جـــفـــا ده
لاس بــه وانــه خــلــم لــه نــنــګــه — کــه پــه نــنــګ پــاتــه دنــیــا ده
چــي سـر پــرې کـړي "احـمـدشـاهـه" — د هــغـــو مـــیـــنـــه رشـــتـــیـــا ده

په دې بدله کي زموږ د پلار حماسي او رزمي افکار ښه برېښي :

چي بر کړی مي خدای لاس پر رقيبانو ترو به زه د هند پر لور په تماشه ځم
چي د هند د ملکو فتح مي روزي شسوه نور ايران لره په توغ په نغاره ځم
پر دا کړي داد دي خدای نه سي ناراضه تر نګين مي ايران لاندي شاهانه ځم
چي ځما د ولايت فتحه روزي سوه ترو به څه د يار له نازه کناره ځم

## اخلاقيات :

د احمدشاه بابا د وينا اخلاقي برخه هم خورا مفيده او ښه ده، مثلاً د شاهنشاهۍ د برمه سره هم ځان نه ورکوي :

ياره زه خو هغه ستا د درګدای يم
څه سو نن که احمدشاه درانی يم

د تکبر بدوالی :

تکبر دئ له شيطانه مه يې نغوره
چي په کبر به سر وچ کړې لکه لوخه

عجز داسي ستايي :

کميني شکستګي ستا کمال دئ
خودبيني په بداي ګنه ګناه

د وفا ضرورت :

مرګی ښه دئ په دنيا کي
نه چي څوك سي بې وفا
سر په تېغ پرېکړی ښه دئ
تر بې پته په دنيا

رشتيا په څه ښه ډول ستايي :

په رشتيني بازار تل قلپي کوته ځي
سخ د هغو چي په دې بازار مخ سپين کا

## اجتماعي پېرزوينه :

په اجتماعي تعاون کي احمدشاه بابا داسي پاخه افکار لري :

چــي د يــار پــه درد رضــا كــا لــه اخــلاصــه　　　پــه دنــيــا كــي دغــه هــســي كــار د مــرد دئ
يــو د بــل پــه درد او غــم چــيــري خــبــرېــږي　　　مــګــر هــغــه چــي پــه درد يــې بــيــا هــمــدرد دئ
يــار هــغــه دئ چــي پــه غــم د يــار شــريــك وي　　　چــي پــه غــم يــې غــمــجــن نــه، هــغــه نــامــرد دئ
يــار چــي ښــه وايــي لــه يــاره هــغــه يــار دئ　　　كــلــه يــار دئ چــي لــه يــاره يــې نــبــرد دئ

"احمدشاهه" بې پتي تنګ کړه يارانو
چي پر پت د يارئ سر ښندي اوس فرد دئ

## تصوف :

د احمدشاه بابا د وينا لويه برخه تصوف دي، مګر دا تصوف يو راهبانه منفي تصوف نه دئ چي سړی به ضرور دنيا پرېږدي، او د رهبانيت په ګوټ کي به ميشتېږي، بلکي د احمدشاه بابا د تصوف افکار له هغه کانونه تاوده سوی دي، چي د حضرت شيخ احمد فاروقي کابلي مجددي الف ثاني ټوله عرفاني او سلوکي اصلاحات پکښې سته. احمدشاه بابا د ميان فقيرالله جلال آبادي ثم الشکارپوري لوړ جناب ته ارادت درلود او د تصوف درس يې له ده څخه لوستی و، د دوی په تصوف کي جهاد او عمل او د خلکو هدايت ډېره برخه درلوده، نو ځکه احمدشاه بابا يو مجاهد او مصلح او متشرع صوفي و، د ده په ديوان کي ډېري د تصوف خوږې بدلي سته، چي دلته يو څو بيته راوړو :

د انسان فطرت :

دا ځـــــما د صورت خټه
په څـــــلور عنـــصره پټه
که څلور عنــصره واخلي
پخپل ځېر ده دا کټ مټه

د انسان د اصلي وطن ياد :

چي د روح په روڼا ورك ســوم
ځـــــــکه مــــا لــــيدلی يار و
"احمد" اوس که يك تنها وې
ســـــــتا وطن د يار کـــــنار و

## علم ته تشويق :

احمدشاه بابا عالم پاچا و، نو ځکه په خپله وينا کي ملت ته د علم ډېر تشويق ورکوي، مثلاً :

څـو ډېـوې د عـلـم دي هـمـېـشـه بـلـي		د غـفـلـت پـه تـيـاره څـو ګـرزې عـجـوزه
دا يـقـيـن عـلـم لـه ځـانـه سـره مـلـه کـړه		د هـــمـــت پـــه وز رالـــوزه، الـــوزه

لـه څـلـور خـوا بـه در درتـه ځـلـېـږي		کـه د عـلـم رون څـراغ تـه درتـه بـل کـړې
روح لـه عـلـمـه رڼـا اخـلـي هـلـه زده کـړه		"احمدشاهه" چي بدخوی په ښه بدل کړې

عـلـم ګـوره څـه څـرګـنـده لـوی دريـاب دئ		بـيـا هـم دی رابـهـېـدلـی پـه څـو بـاب دئ
دا د عـلـم دريـاب هـر چـيـري مـحـيـط دئ		عـلـم زده کـړه چـي د عـلـم لـوړ جـنـاب دئ

## بديعي صنايع :

د احمدشاه بابا کلام بديعي صنايع هم لري، چي يو دوې نمونې يې دا دي :

طباق :

زړه مي تورو زلـــــــــفو بند کـــړ
اوس ارمان د سپين رخسار کړم

تجنيس تام :

ستا پر مخ ګوره اوربل دئ
ځکه اور بل په کـــوګل دئ

## د احمدشاه بابا يو څو بدلي :

ګوره بیا په سره ګلزار کي ‌ ‌ ‌ لاله رنګ په سپین رخسار کي
لونګین یي تل په غاړه ‌ ‌ ‌ بلبل مست کا په چیغار کي
هوس بېږم ورته ګورم ‌ ‌ ‌ خزان سوی په ناتار کي
د وصال نوبت مي دا دئ ‌ ‌ ‌ نن د ګلو په بهار کي
یار مي ګل او ګلبدان دئ ‌ ‌ ‌ لکه زرکه په رفتار کي
مخ یي لمر غوندي ځلېږي ‌ ‌ ‌ زلفي مشك دي په تار تار کي
رنګا رنګ ګلونه ډېر دي ‌ ‌ ‌ د بلبل عشق په ګلنار کي
تا چي حسن د ګل واخیست ‌ ‌ ‌ زړه به څه وي په قرار کي
څه علاج یي څه طاقت دئ ‌ ‌ ‌ چي شها سي په سینګار کي
همېشه یي روزګار دا دئ ‌ ‌ ‌ مین زړه نیسي په ښکار کي
لېندۍ وروځي بانړو غشي ‌ ‌ ‌ عاشق ولي په کنار کي

ناري وکړه "احمدشاهه"
د روغ خوی نسته بیمار کي

څه سوه زه که په ظاهر صورت زهیر یم ‌ ‌ ‌ چي د خپل یار نظر سته په زړه امیر یم
بدایي هرګز پخپله لویي نه کړم ‌ ‌ ‌ همېش ستا د قدمونو دامنګیر یم
که مي برق د سپیني توري بیا برېښنا کړه ‌ ‌ ‌ ستا په مهر په هر لوري عالمګیر یم
و بل لوري ته مي هیڅ مخ مخی نسته ‌ ‌ ‌ یاره زه چي ستا و ور ته تل فقیر یم

د رقیب لاسه نه ژاړم و تا ته
د بېلتون په توره شپه "احمد" په ویر یم

زړه د يار په فراق چوي هم لړمونه
بيا را مه سې د اشنا سخته بېلتونه

هر چي زيست روزګار د چا مدام له يار وي
بې له ياره يې روزګار پر ځان اورونه

که ژوندی وي هم هغه په زړه بيا مړ دئ
څه طاقت د بېلتانه له شواخونه

د دنيا ساعت خو هر رنګه تېرېږي
نه تېرېږي د يار هجر لکه غرونه

اې دلبره ته چي خدای لکه عنقا کړې
و عنقاو ته د چا رسي لاسونه؟

چي اميد مي ستا و لوري ته پيدا سي
لکه ګل د پسرلي کړم هوسونه

چي له خوبه ويښ سم ګورم زه جدا يم
په ژړا د سترګو جوړ سي دريابونه

"احمدشاهه" هغه تل په زړه نولېږي
چي پر جوړ د اندېښنو سي ناتارونه

﴿۸۶﴾

# اعليحضرت تېمورشاه

اعليحضرت تېمورشاه د احمدشاه بابا مشر زوی چي د پلار تر وفات وروسته په (۱۱۸٦هـ) په کندهار کي پاچا سوی او پايتخت يې له کندهاره کابل ته رانقل کی.

اعليحضرت تېمورشاه هم پخپله پاچهي کي څو واره هندوستان ته ولاړ، او د هغه ځای ياغيان يې اېل کړه، او د پنجاب سکان چي د احمدشاه بابا تر وفات وروسته سپين سترګي سوي وه ښه يې تاديب کړه، وروسته دوهمه پلا هم هند ته ولاړ او تر سختو جنګو وروسته يې هغه افغاني ولايات سره سم کړه، بيا يې نو د شاه مراد بېګ د بخارا د پاچا سره هم مقابله وکړه او تر ماتي وروسته يې معاف کی.

په دې ډول اعليحضرت تېمورشاه (۲۲) کاله پاچهي وکړه او په يکشنبې ۷ د کوچني اختر (۱۲۰۷ هـ) په کابل کي مړ او ښخ سو.

## د تېمورشاه اشعار :

اعليحضرت تېمورشاه لکه خپل پلار اديب پاچا و، دی په پاړسو يو دېوان لري چي په

(۱۱۹۹هـ) او د پاچهۍ په دیرلسم کال یې له نظمه فارغ سوی دئ، دا دېوان (۲۱۹) بدلي او رباعيات دي، چي د پاړسو ژبي په شعر کي ښه بلاغت او سلاست لري.

تېمورشاه په پښتو ملي ژبه هم ښه ښه اشعار ويلي دي، چي متاسفانه موږ ته لږ را رسېدلي او نور ورك دي، د تېمورشاه پښتو شعر عشقي او بزمي رنګ لري او د ده د حيات يوه مهمه برخه ښرګندوي.

په پښتو شعر کي د ده ژبه لکه پاړسو بې تکلفه او روانه ده، او په ظاهري سبك کي د خپل پلار شاګرد دئ، مګر په معنا کي يوازي د بزم او عشق ترانې وايي او له نورو ويناوو ښخه نه بېغېږي.

د تېمورشاه دا لاندي بدلي موږ ته را رسېدلي دي :

نن مي بيا له تورو سترګو سره جنګ دئ　　پر لبانو يې د زړه د وينو رنګ دئ
که پري کېږي سر په لاس ورلره راسم　　لا په دا يې باور نه سي زړه يې سنګ دئ
ستا د حسن لښکر راغی ځان يې بايلو　　د عاشق د زړه ميدان هرګوره تنګ دئ

عشق دي مشك پټول نه سي "تېمورشاهه"
چي پخپله ځان رسوا کا هغه رنګ دئ

هی هی د يار صورت لکه ګلونه　　چي وهلي يې پر مخ دي شنه خالونه
تېر سو عمر د وصال په انتظار کي　　اوس پر زړه مي د هجران لګي اورونه
په رخسار باندي يې زلفي تار په تار کړې　　د عاشقو آوېزان په هر تار زړونه
د پتنګ په دود د يار په غمو وسوم　　د بانو ناوك يې بېدي په زړه زخمونه

توکل دي پر خپل خدای کړه "تېمورشاهه"
ښه په کار دي د فاني دنيا کارونه

(د تېمورشاه له قلمي دېوانه)

# پیرمحمد کاکړ

پیرمحمد په کام کاکړ دئ، د کاکړو اصلي وطن ږوب دئ، چي د کوږك د لیکي څخه هغه خوا ته پروت دئ. لیکن خپله د کندهار په علاقه کي هم د کاکړانو ډېري کورنۍ او خصوصاً علمي کورنۍ پرتې دي ولي په افسوس سره وایو چي موږ ته د پیرمحمد غوندي لوړ سړي معلومات لاس ته نه دي راغلي. هو! دومره قدري معلومېږي چي پیرمحمد د اعلیحضرت احمدشاه بابا معاصر دئ او د دغه علم پالونکي او پښتو روزونکي پاچا د دربار علمي رکن او د احمدشاه بابا د زوی شهزاده سلېمان استاد و، پیرمحمد په زوړوالي[1] په کندهار کي وفات سوی دئ، او په لویه هدیره کي د حضرتجي صاحب زیارت ته نژدې د شاه د ولې پر غاړه ښخ دئ، دی د خپل عصر لوی عالم او مدرس و، چي د ده شاګردان لا تر ډېره پوري ژوندي وو، یو د دوی د شاګردانو څخه ابراهیم خان کاکړ دئ، چي د ده دېوان یې په (۱۲۰۳هـ) کي نقل کړی دئ[2] د پیرمحمد له اشعارو داسي ښکارېږي چي دا د پښتنو نامور شاعر په ږوب کي زوکړی، او له هغه ځایه کندهار ته راغلی دئ، دی د خپل مولد او مسکن او هغه ځای د ښو ملګرو یاد په خورا سوزناکو اشعارو کوي :

موږ له هــیواده تنها راغلي یو
د بڼ توتیان یو په دام وتلي یو
غمازه ظلم را باندي مه کړه
د ښــو یارانو فــراق نتلي یو

د پیرمحمد د زوکړي نېټه موږ د (۱۱۲۰هـ) کال حدود تخمین کولای سو، ځکه چي دی د احمدشاه بابا په عصر کي سپین ږیری و، د ده ژوند د اعلیحضرت احمدشاه بابا د وفات له کاله (۱۱۸٦) لس کاله نور هم یقیني دئ، ولي چي خپل دېوان یې په (۱۱۹٦هـ) کي تمام کړی دئ.

هغه وخت چي اعلیحضرت احمدشاه بابا وفات سو، او شهزاده سلېمان د ده پر ځای په کندهار کي د افغانستان پر تخت کښېناست نو پیرمحمد د "معرفۍ الافغاني" په نامه یو کتاب د

---

۱-ښه موسم د شباب تېر پر پیرمحمد سو
بوالهوس هنوز سودا د ګل و مل کا

۲-د پښتو شعر تاریخچه.

پښتو د صرف او نحو او لغت او محاورې په باب د پښتو د شوقمندانو او زده کوونکو له پاره د اعليحضرت سلېمان حضور ته تقديم کړ، چې د پاچا له لوري ښه ومنل سو او قدر يې وکړی سو. دا کتاب په افغانستان کي د پښتو لومړنۍ صرف و نحو بلل کېږي او په دې بيتونو شروع سوی دئ، چي د شهزاده سلېمان علمي روزنه ښه څرګندوي :

پس له حمده له درووده — سوه د شاه مدحه مقصوده
شاه سلېمان د حکم نمر دئ — کل عالم پرې منور دئ
د شاه تخت سلېماني دئ — عجب لطف يزداني دئ
زېب زينت دئ شاه د علم — سيال يې نسته څوک په حلم
پر ميدان د جنګ هم شېر دئ — د اعداء په حق شمشېر دئ
صاعقه د ده د قهر — ورانوي د دښمن ښهر
پښتانه وربانديي ښاد سوه — له همه غمه آزاد سوه
شاه زاده د علم کان دئ — نن رونق د درست جهان دئ
د دولت يې زه دعا کړم — د بخت خواست يې تل له خدا کړم
څو امکان د بقا وينه — دا آفتاب دي رب لرينه
چي عالم باندي روشن دئ — تمام ملك په ده ګلشن دئ

## د پيرمحمد مکتب او سبك :

پيرمحمد د خپل عصر د لويو ادباو او شعراوو څخه دئ چي د کلام په سلاست، بلاغت او متانت کي يې له ټولو څخه نوم وړی دئ.

په شعر او ادب کي د ده څخه يوازي د ده د شعر قلمي دېوان زموږ څخه سته، د ده د دېوان قلمي نسخې ډېري کميابه دي.

په عمومي طور سره چي سړی ملاحظه کوي نو دېوان يې په عشقي مسلك روان دئ. ليکن وينا يې دومره خوږه او خوندوره او سوځوونکې ده چي په دې کي د ده سره اکثر شعراء برابري نه سي کولای، لکه چي پورته مو وويل پيرمحمد د کلام په تاثر او د خپلو بديعو او سوزناکو اشعارو له جهته د پښتو په لومړۍ درجه شعراء کي ګڼل کېږي، ده په کندهار کي د پښتو د ادب يو نوی مکتب پرانيتلی او د ملي ژبي د شعر يو بديع سبك يې موندلی دئ، چي تر ده وروسته نورو د ده د سبك پيروي هم کړېده.

د پيرمحمد سبك په سادګي او سلاست او متانت کي د خوشحال خان او رحمان مکتب ته ورته دئ، او په مضمون آفريني او نزاکت او اديبانه تلازماتو او استعاراتو کي د حميد او شيدا د مکتب ښېګڼې لري. ځکه نو د ده ويناوي خورا خوږې او د خونده ډکي دي او د ده ادبي مکتب د

پښتو ادب يو غوره سبک منځ ته را ايستلی دئ چي تر ده پخوا نه و، په بل عبارت :

د ده په کلام کي د شعر او ادب ټول مزايا موجود دي او په خپل سبک کي يو متجدد او نوی شاعر دئ، تر ده وروسته ډېرو شاعرانو د ده پر لاره تګ غوره کړی دئ او د ډېرو شاعرانو استاد بلل کېږي، دی سره د دې چي خپل کلام د شعر او شاعرۍ په ټولو بديعي مزاياو او محسناتو ښايسته کوي، مګر سره د دې د روانۍ، سلاست او سادګۍ ملونی هم له لاسه نه ورکوي او دا يوازي د ده خاصه بلله کېږي.

معلومېږي چي ده تر خپل عصر د پخوانو شاعرانو ټولو دېوانونه په دقت او تنقيدي نظر تر مطالعې ايستلي دي او د هر يوه حسن او قبح يې ښه پېژندلې ده او بيا يې کوښښ کړی دئ، چي په خپل کلام کي د تېرو پښتنو شاعرانو ګرده مزايا راغونډ کاندي. پيرمحمد د پښتنو د ډېرو نورو شاعرانو غوندي د رحمان بابا په اسماني شعر باندي زړه بايلودلی دئ، د پيرمحمد دا ادبي تنقيدي نظر له دې بيتو څخه ښه ښکاري :

جوړ په شعر کي رحمان غيب اللسان دئ
په دا څېر نسته هر ګز د انسان شعر

تر مصرع يې جار سه لاړ د مرغلرو
په څه تار يې آوېخته کړ يکسان شعر

بل په شعر کي هم سيال د خوشحال نسته
که څه درشت دئ دا د ده سخندان شعر

که څوک بحر مواج وايي ورته ښايي
په دېوان کي ې مونده سي هر شان شعر

هيڅ تر شعر د رحمان به ډېر کم نه وي
و منصف ته د خټک خوشحال خان شعر

لکه شعر دئ د ده په پښتونخوا کي
بل به کم وي په دا وخت د افغان شعر

بيا رنګين شعر بيان عبدالقادر کړ
د اشرف دئ هم تر ده نه سوزان شعر

پس له دويه موشګاف "عبدالحميد" دئ
چي يې ووې ښه نازک نکته دان شعر

د ميرزا شعر به جوړ و ولي دربغه
په وحشي الفاظو ده کړه ويران شعر

دمشهورو شاعرانو حال مي ووې
نه و ما وته د نورو عيان شعر

چي انصاف زه "پيرمحمد" کړم لافي نه کړم
په همعصرو کي مي خوښ دئ د ځان شعر

دې مبتکر او نازک خياله شاعر د پښتو په شعر کي د رباعي، مخمس، ترجيع، مسدس، څخه علاوه د خپلي لوړي قريحې او نازک خيال په زور معشر، مربع او داسي نورو کي د شاعرۍ حق ادا کړی او د مضمون په لحاظ د ده شعر په اخلاقي، عشقي، تصوفي، مدح او رثا او داسي نورو باندي وېشل کېږي، او تر پښتو علاوه يې په عربي او فارسي کي هم شعر ويلی دئ، چي د ده پر لوی علم او حاوي ادب باندي دلالت کوي.

پيرمحمد پخپل سبک کي لومړی استاد او لکه چي د دې کتاب په مقدمه کي د ده د سبک مزايا او خواص ذکر سوه، د شعر سبک يې ډېر خوږ او ممتاز دئ، او دی حق لري چي په معاصرينو

کي خپل شعر غوره او خوښ کړي.

د پیرمحمد دېوان (۵۰۰۰) بیتونو ته رسېږي او په (۱۱۹٦هـ) کي یې دی له لیکلو څخه فارغ سوی دئ، لکه چي وایي :

زر سل شپېږ نوي کلونه | د هجرت تېر سوي وونه
ما انشا د عشق دېوان کړ | په پښتو مي ښه بیان کړ
په دې طمع چي یادګار سي | بیا منشور په هر دیار سي

د پیرمحمد استادي او لوړ ادبي مقام تر ده وروسته نورو شاعرانو هم منلی دئ، لکه :

د اخوند ملا پیرمحمد نظم که واورې
هر ګفتار یې دئ په مثل د بلبل

(مرزا حنان کندهاری)

پیرمحمد کاکړ په شعر کي نامدار و
یووړ قبر لره ده ارمان د شعر

(شمس الدین کاکړ)

دغه دئ اوس موږ د نمونې پر ډول د ده د دېوانه څخه څو نظمونه خوښوو :

غزل

شنه خالونه چي د پاسه پر جبین بږدې | دا ځما پر زړه داغونه آتشین بږدې
د عشق اور مي ویلوي د زړګي شمع | بېهوده مي پر موم نقش د نګین بږدې
شین توتي دي کړ محروم له شکرلبو | و مګس ته څو پیاله د انګبین بږدې
ما دي خیال لره فرش کړي تور لېمه دي | ته بې نیازه قدم ولي پر زمین بږدې
اوس نقاب له مخه واخله په خندا سه | تر څو غم مي پر خسته خاطر حزین بږدې
په شپه حال د مهجورانو په یاد راوړه | په راحت چي سر له نازه پر بالین بږدې

آزرده به دي له جوره "پیرمحمد" سي
چي اغیار سره بنا د آن و این بږدې

ما له یاره سپینه خوله په خندا غوښته — دې له نازه د غوټۍ په دود ونغښته
حال د زړه به مي مدام ورته تحریر کړ — که دلبر نه وای خبر له دې خواهښته
محبوبا پر بستر واوښته له خوبه — که هوسۍ وه د بهار پر ګلو رغښته
کښت د عشق مي سو زرغون په خراب دل کي — په هیڅ وخت یې نه خلاصیږم له کاهښته
رب دي نه کړي چي جمال به یې زه هیر کړم — که تر سر لاندي مي کښیږدي د ګور خښته
سپین مړوند د دلربا که مي سر وېړد سي — سر به هسک نه کړم د وصل له بالښته

و هر چا ته چي حجاب خپله هستي سوه
پیدا مه وای "پیرمحمد" د چا له پښته

فراق په ما خوري د څګر ویني — ښه حال مي نسته الله مي ویني
عیش د دنیا مي غمونو تریخ کړ — راپوري اور دي جامي رنګیني
زړه مي غمزو د صنم چور چور کړه — سینه مي سوځي په اور د میني
فلك له ما نه نیازمن جدا کړ — ظالم مي پرې کړې د زړګي سپیني
باران د اوښکو مي پر وریږي — تر خاورو لاندي دي مه جبیني
ما به ډېر نه و نیازمن ژړلي — که د بې نیازو تندی وای ویني
د خزان باد کړې غبار آلودي — د ښکلیو زلفي وې عنبریني
دریغ نن څه سوې هغه سرې شونډي — چي وې تر شهدو راته شیریني

سراغ له چا زه "پیرمحمد" نه سم
چرته به غواړم اوس نازنیني

ناز د خوبانو پر لېمه وړ سي — چي څوك یې نه وړي په حق به پړ سي
پر سجده ژاړه و خپل حبیب ته — څو دي په اوښو مځکه چکړ سي
اور چي د میني په لمبو بل وي — په واړه څاڅکي به کله مړ سي
رتبه که غواړې فروتني کړه — چي پورته خېژي آخر به څوړ سي
غماز که بولم چي سپی دي څه سو؟ — پخپل نامه خو هر شی نومړ سي
آهسته درومه د سحر باده — د یار ګیسو به په خاورو خړ سي

زه "پیرمحمد" یې د غم آشنا کړم
زیبا نګار دي له بلا زغړ سي

رباعیات

جفا د یار کړم خاطر ناښاده    زهره مي چوي له آه فریاده
روح مي تازه کړه په بوی د زلفو    د خدای دپاره د صبا باده

عزم د سیل ځما جانان کا    میل پر لوري د ګلستان کا
که سره لبان په خندا وسپړي    چاك به له غمه غنچه ګریبان کا

خزان خالي کړي د ګلو ښاخه    غم د بلبل کړه سینه سوراخه
خوبان لحد ته له تا لېږدي    ودان خو مه وای د دنیا کاخه

چهره د ګل سوه شمع افروزه    بلبل چغار کا له درده سوزه
چي په موسم دي خوبان هوس کا    تر هوا جار سم ستا نوروزه

پیدا تنها یم زه لکه شمع    عرض پر فنا یم زه لکه شمع
اوښي مي څاڅي په شپه له سوزه    لوند سر تر پا یم زه لکه شمع

پر کوڅه تېر سه د یار شماله    کیسه بیان کړه ځما له حاله
که درته وایي اوس حال یې څه دئ    وایه بلبل دئ بې پر و باله

زه په خاطر کي د عشق څراغ لرم    مدام په کښلیو پسې سراغ لرم
فراق مي زړه په داغونو ونیو    جوړ په سینه کي د ګلو باغ لرم

د صبا باده سراغ د تللیو !    یو ځل خو راوړه تر کام و کلیو
"پیرمحمد" پټ کړ د آه دودونو    په اور کي وسو فراق د کښلیو

## معشر

بېلتانه دي کړم سر توره	پر لمبو يې کړم نسکوره
زړه مي سوځي لور له لوره	هېڅوک نه لرم غمخوره
آه د خلکو له پېغوره	تر خوله نه سم کښاى په زوره
راسه نن د زړونو جوړه	يو ځل بيا ځما تر کوره

بې له تا مي اوښي ګوره
پر مخ درومي لاري لاري

فلک تل جور و جفا کړي	کله مهر يا وفا کړي
بېګانه سره آشنا کړي	بيا هم دوى ځله جدا کړي
هر يو بېل په واويلا کړي	په ډېر غم يې مبتلا کړي
ولي چاري چي په ما کړي	هغه کله په نور چا کړي

نن پر حال ځما ژړا کړي
چي مي ويني بوري وراري

## مسدس

هجران انبار کړه پر ما غمونه	ضعيف نحيف سوم په تن زبونه
اور مي بيا بل سو د زړه په خونه	ګهي ژړا کړم، ګهي آهونه
اوښي مي څاڅي له ځګرخونه	رنځ مي زياتېږي له دې تاخونه

پټن چي مينه پر دې څراغ کا	آخر سينه به وربانده داغ کا
زړه دي له کښليو عاقل فراغ کا	فراق را درومي فتور به چاغ کا
ځاى د محنت به د دنيا باغ کا	دا مرګ خزان دئ، خوبان ګلونه

## مربع

زړه مـــي نـــادان و د مـــيـــنـــي غـــل ســـو    فـــراق يـــې اورو و رابـــانـــدي بـــل ســـو
راحـــت مـــي واړه پـــه غـــم بـــدل ســـو    اوښي سېلاب دي صورت مي سل سو

په باغ کي شخول دئ بيا د بلبلو    ثـــنـــا صـــفـــت کـــا د تـــازه ګـــلـــو
رضـــا دي کـــښـــېـــږدي آخـــر پـــه ســـولـــو    چي باندي جوړ، د بېلتانه چل سو

## مخمس

بېلتانه په سرو لمبو يم کړولی    مدام ژيړه ګونه ګرزم نښتېځلی
شېرين خوب مي له چشمانو دئ وتلی    تر مژګانو مي خوناب دئ اورېدلی

د غم سېل له مخه يووړم لکه خلی

يار آشتي راسره نه کړي په جنګ راغی    بيا مي قتل و ته ځير شوخ و شنګ راغی
خراب زړه مي له دې غمه په تنګ راغی    ګويا تنګ له خپله غمه پتنګ راغی

اوس به دروميي دل سوخته سينه داغلی

تبصره :

له معشر او مربع او مسدس او مخمس څخه د نمونې په ډول دوه دوه بندونه را اخيستل سوي دي، په اصل ديوان کي اوړده دي، دا ټوله نمونې له قلمي نسخې څخه غوره سوي دي.

# ابراهيم خان

ابراهيم د نصرالله خان زوی په قوم کاکړ، د اعليحضرت احمدشاه بابا په عصر کي زېږېدلی او تر (۱۲۰۳هـ) پوري ژوندی و، ابراهيم د خپل عصر د مشهور شاعر ملا پيرمحمد شاگرد او عقيدتمن و، او له هغه نامتو اديب څخه يې ادبي علوم کسب کړي او د پښتو ژبي ښه شاعر و، وايي چي ابراهيم هم د عشق په لمبو سوی، او يو د لېونتوب حال پر راغلی و، په پسرلي به د کندهار په ښو کي گرځېدی او خپل خواږه اشعار به يې په ارمان په خواږه ږغ ويله، ابراهيم خان د خپل استاد دېوانونه مکرر ليکلي او خوشخط سړی و، د ابراهيم خان کاکړ اشعار ډېر دي، ځيني بدلي هم لري، خو اوس زموږ څخه د ده د کلام نمونې لږ دي، فقط دغه څو بيتونه او رباعي خپلو ښاغلو ويونکو ته وړاندي کوو :

## د خپل استاد مدح

ځـمـا اسـتـاد مـلا پـيـرمـحـمـد و — چـــي پــــر لار د پـــاك احـــــد و
دی مــــلا پـــــه هــــســــي شــــان و — چـــي عــــالــــم ورتـــه حــــيــــران و
ســــروکـــــار يــــې و لــــه درســــه — تــــل مــــدام د خــــدای لــــه تــــرســــه
پــــه رســــول چـــــي وو راغـــــلـــــي — هــــغــــه ټــــول وه ده مــــنـــلـــــي
يــــو ولاړ پــــر شــــريــــعــــت و — بــــل قــــانــــع پــــه مــــصــــيــــبــــت و
خــــصــــلــــتــــونــــه چـــــي د ده وه — پــــه هــــمــــزولــــو کــــي يــــې نــــه وه
مــــراتــــب يــــې هــــمــــره ډېــــر دي — تــــر حــــســــاب تــــر شــــمــــاره تــــېــــر دي
کــــه هــــمــــه واړه تــــمــــام کــــړم — پــــرې مــــلال بــــه خــــاص و عــــام کــــړم
بــــعــــضــــي بــــعــــضــــي مــــي ويــــلــــي — و عــــالــــم تــــه مــــي ســــتــــايــــلــــي

حاصل دا چي ښه سړی و
ښـــه سړی و ښه شـــړی و

## رباعيات

په زړه مې اور دئ ستا له اوربله
پاته مې کور دئ ځم له اوربله
په درست جهان به اورونه بل کړم
لولم به ساندي کړم به کور بله

د بڼ بلبل وم، بندي په ښار سوم
نن په سيالانو بې اعتبار سوم
دوني مې بس ده چې تل په وياړم
باري چې خاوري ستا د دربار سوم

په مخ ښايسته يې ښکلي ملوکي
پر شاوخوا دي د حسن کوکي
بلبلان ستايي، تا به ګلزارکي
توتي دي ستايي، په سرې مشوکي

ته خو زما ګل يې، زه بلبل ستا يم
په زړو ژبو، به دي تل ستايم
جانانه ستا يم، چې تل دي ستايم
زه خو تل ستا يم، نو تل دي ستايم[1]

(۱)

۱- په لومړۍ او آخرنۍ رباعي کې د تجنيس صنعت دئ.

# اخوند ګدا

د اخوند صاحب نوم نه معلومېږي، خو په ګدا مشهور دئ، په اشعارو کي هم تخلص ګدا راوړي، او دی د خپل نوم په ځېر یو فقیر او ګوښه ګیر سړی دئ، ډېر شهرت نه خوښوي.

ګدا د مغولو تر زمانې وروسته د سدوزو په وخت کي تېر سوی دئ، ځکه چي د ده د یوه بیت څخه معلومېږي چي د مغلو د سلطنت کمبله د ده په حیات او یا د ده تر پیدا کېدو مخکي ټوله سوې وي، هغه بیت دا دئ :

چي له عدله له انصافه یې ځان وښکو
د اورنګ له کوره ځـــــکه سلطنت لاړ

ګدا په خپلو اشعارو کي د پښتنو د یوه جنګ ذکر کړی دئ، او په دې جنګ کي یې د پښتنو د یو مشهور مشر قایم خان د مرګ تاریخ ښودلی دئ :

د تاریخ حساب یې (بلغ العلی) دئ
له دنیا په دا تاریخ بلند مـــــکان لاړ

بلغ العلی د ابجد په حساب (۱۱۷۲هـ) کېږي، چي په دې وخت کي د پښتنو د لویي پاچهۍ مؤسس احمدشاه بابا لا ژوندی و، تر دې وخته د ګدا حیات او ژوند یقیني دئ، زیاتي نو نه معلومېږي چي تر کومه پوري ژوندی و.

## مذهب او لاس نیوه :

ګدا یو سني مسلمان دئ چي نقشبندي میانګل شیخ سعادت خپل سلوکي مرشد بولي او وایي :

ګدا شکر د خدای ځکه ډېر ډېر کاندي
چي مرید د میانګل شیخ سعادت دئ

## علوم او تصنیف :

ګدا یو عالم سړی و، له هره علمه یې څه نه څه برخه لرله، خصوصاً په دیني او مذهبي علومو کي یې خورا لاس درلود، ګدا د نافع المسلمین په نوم یو اثر لري، دا کتاب په "اخون ګدای" مشهور دئ او د پښتو په نظم په متوسط بحر کي لیکل سوی دئ، د شعر ډول یې مثنوي دئ، دا

کتاب تقریباً د ډېرو علومو مجموعه ده. عقاید، فقه، تفسیر، حدیث، تصوف او داسي د ځیني نورو علومو مسایل پکښې سته، او د پښتو په مذهبي او دیني کتابونو کي پوره اهمیت لري.

په دې کتاب کي ځای په ځای یو نیم غزل هم پیدا کېږي او د هر غزل په آخر کي د ګدا تخلص هم وي. دا غزل یې د دې کتاب سره څه مناسبت نه لري. داسي معلومېږي چي ګدا صاحب د غزلو یو مستقل دېوان هم لري، او دا غزلي له هغه ځایه چا رانقل کړیدي.

## اشعار او افکار :

د ګدا د یو څو غزلو څخه چي په نافع المسلمین کي راغلي دي معلومېږي، چي په متوسطه طبع کي ښکلی شاعر دئ، شعر یې یو مخصوص رنګ او خوند لري، کلام یې عشقي او صوفیانه دئ، د ده په کلام کي د سوز او ګداز اثر معلومېږي، وېناوي یې د تخیل او نزاکته خالي نه دي، تخیل یې ساده مګر حقیقت ته نژدې او ډېر مقبول دئ، لکه دا :

د سحر چرګه خوږ شې په کومي — چي تا ناري کړې دلبر مي درومي
یو مي دلبر ځي بل را نه زړه وړي — زړه مي په دا وړي چي دلبر نومي

چي په زړه کي دي د ښکلو مینه وینه — ګډي وډي دغه اوښي ویني وینه
چي عاشق د معشوقې په غم غمجن شي — معشوقه یې هم په غم غمګین وینه

ګدا د شعر ډېر انواع ویلي دي، په دې کتاب کي یې ځای ځای غزل، رباعي، مثنوي، ترجیع بند، قصیده او داسي نور پیدا کېږي، ګدا بعضي ډېري موزوني او دلچسپي قافیې هم لري. د ده په شعر کي ظاهراً د بل چا د کلام رنګ نه معلومېږي، دومره سړی ګمان کولای سي چي د شعر طرز، او سبك یې "رحمان بابا" ته نژدې دئ.

ګدا پخپله هم لکه چي په دې فیصله خوښ وي او ځان د رحمان بابا قایم مقام ګڼي، او داسي وایي :

زه ګدای یې په خپل ځای باندي قایم کړم
له جهانه چي شاعر عبدالرحمان لاړ

د ګدا په کلام کي ځیني بدیعي محاسن هم پیدا کېږي، مثلاً په یوه بیت کي یې خپل تخیل په ډېر اعلی صورت سره راوستی دئ، په دې صنعت باندي د "حسن المقتطع" اطلاق کېږي، لکه دا :

ما وې ستا د در ګدا یم هېر مه نه کړې
شا وې کله هر ګدا دئ ځما یاد

په دې لاندیني بیت کې ګدا د یار د تورو زلفو او سپین مخ تشبیه په ښه ښه صورت سره کړېده، په دې کې یې دا کمال کړی دئ، چې په هغه شي چې دی شپه او ورځ لګیا دئ او سر او کار یې هم د هغه سره دئ د یار د زلفو او د سپین مخ تصویر یې کښلی دئ، لکه چې وايي :

زلفې دې پرتې د شاه پر مخ باندې ګـدایه
پاس به سپین ورق د کتاب توري جلوه کا

**د ګدا یو څو شعرونه :**

اوښـکـې ویـنـې شـې د مـیـنـې لـه دولـتـه
سـترګې سـپـیـنـې شـې د مـیـنـې لـه دولـتـه
پـه خـونـاب سـپـیـنـې جـامـې د عـاشـقـانـو
سـرې رنـګـیـنـې شـې د مـیـنـې لـه دولـتـه

نــن و مــا وتــه د مــیــنــې بــلا راغــلــه
لــکــه رعــد د آســمــان پــه تــنــا راغــلــه
د جـهـان بـلا هـمـه سـره یـو ځـای شـوې
پــه بــانــه د عــاشــقــۍ پــه ګـدا راغــلــه

بـــلاوې ډېـــرې مـــیـــنـــه یـــې کـــور دئ
د مـــیـــنـــې کـــور کـــې د بـــلا شـــور دئ
جـــنـــت یـــې نـــښـــه د یـــار وصـــال دئ
دوزخ یـــې نـــښـــه د هـــجـــران اور دئ

د دلـــبـــرو د رخـــســـار پـــه اور یـــم ســـوی
لــکــه تــورې زلــفــې تــور یــم تــور یــم ســوی
د نـاصـح پـه نـصـیـحـت مـې سـوی زیـاتـېږي
پـه یـو ګـل سـره تـازه شـوم سـکـور یـم سـوی
بـیـا مـې څـه د بـېـلـتـانـه پـه لـمـبـه سـېـزې
سـتـا د غـم پـه لـمـبـه پـروت نـسـکـور یـم سـوی
سـتـا دیـدن لـکـه بـاران رابـانـدې بـنـد شـو
پـه صـورت شـوم وچ ګـیـاه سـمـسـور یـم سـوی

زه "ګدا" کله په سوو باندې راضي یم
شـــمع مخ دئ پروانه په اور یم سوی

که ملک یا شاه جهان شي ځما څه
که ملك د هندوستان شي ځما څه
که په نور یې تمامي جهان روښان دئ
چې تیاره ځما د ځان شي ځما څه
چې ځما مشکل آسان وربانديي نه شو
که پادشاه د درست جهان شي ځما څه
چې دي فیض او کرم نه رسېږي ما ته
که دي فیض لکه باران شي ځما څه
چې په ما باندي دي مهر کرم نشته
که په نورو بې پایان شي ځما څه
چې غنچه پرې د مراد پرانتې نه شوه
که نسیم دي په ښه شان شي ځما څه

چې یې ګل ستا د چمن په سر کي نشته
که "ګدا" د ګل باغوان شي ځـــــما څه

ځما زړه هسي محزون دئ ستا په غم
درست پاره پاره د وون دئ ستا په غم
غم دي هسي ځای ځما په زړه کي وکړ
چې بل غم تربنه بېرون دئ ستا په غم
ناخبر عالم مي شیخ مشایخ بولي
ما سر ایښی په زنګون دئ ستا په غم
نه یوازي زه محزون یم ستا په غم کي
چې محزون تمام پښتون دئ ستا په غم
اوښو رنګ واخیست د وینو له تاثیره
په خوراك مي جګرخون دئ ستا په غم
په راتلو د هر سبا مي غم زیاتېږي
چې مي تن لکه پرون دئ ستا په غم
پاس د مځکي پر سر نیل د اوښو دروي
آسمان ژاړي سرنګون دئ ستا په غم
معلومېږي چې له غمه سړی نه مري
په دا هسي رنګ ژوندون دئ ستا په غم
ملا دي ماته د وګړي په بېلتون کړه
الف قد د هر چا نون دئ ستا په غم
واړه ننګ د پښتانه دئ "ګدا" نه ځي
حال یې ورځ په ورځ زبون دئ ستا په غم

﴿۹۰﴾

# برهان خان

برهان خان د پښتو له شاعرانو څخه د دوهمي ډلي په لومړي پوړ کي ګڼل کېږي، د ده نور د ژوندون وقایع نه دي ښکاره، فقط دومره څرګندېږي چې برهان خان د پېښور له خوا و او د احمدشاه بابا معاصر دئ.

په (۱۱۷٤هـ) کال چي اعليحضرت احمدشاه بابا د پاني پت پر ډګر مرېټانو ته تاريخي ماته ورکړه، داسي ښکارېږي چي زموږ دغه شاعر هم د غازيانو په ډله کي و، برهان خان د دې تاريخي جګړې، او د پښتنو د لوی بري کيسه نظم کړېده.

له دې شمېره چي برهان خان د اعليحضرت احمدشاه بابا معاصر و، موږ دا اټکل کولای سو، چي دی پسله (۱۱۰۰هـ) زوکړی او تر (۱۱۷٤هـ) يې هم ژوندون يقيني دئ.

د برهان خان اشعار د خلکو په خولو کي شهرت هم لري، فرانسوی مستشرق ډار مستټر هم د سرحد په ايبټ آباد کي د ده بدلي ميندلي او نقل کړي دي، دا محقق وايي چي برهان خان د نادر زوی او يو ځلمی و، چي د سرحد د هزاره په علاقه کي اوسېدی[1].

## اشعار :

برهان خان ملي شاعر دئ، په ملي لهجه او وزن شعر وايي، د ده اشعار سپېڅلی ملي رنګ لري، او سبك يې خوږ او ساده دئ.

داسي ښکارېږي چي زموږ ملي شاعر يو حماسي اديب دئ، ډېر ځله دی د خپل شعر په دنيا کي لکه يو بريالی پښتون د جګړو او سرو تورو په ميدانو کي ګرځي، او د پښتنو حماسي روح ژوندی کوي.

برهان خان پخپله يوه بدله کي د پاني پت د تاريخي جنګ او د پښتنو د بري ټوله وقايع په داسي خوږه ژبه چي حماست او د پښتنو په ختَه اخښلی غيرت او شهامت ښه ځني اوځارېږي بيان کړی دئ، په دې بدله کي ملي شاعر د احمدشاه بابا هغه حماسي او ملي افکار، چي د دغه جنګ سبب سوي دي هم ښيي، چي احمدشاه بابا د ملي ننګي له پاره په دې جنګ اقدام کړی و، ده غوښته چي د پښتنو ننګ او ناموس د پښتنو د زړې امپراتورۍ په مملکتو کي بيا خوندي سي. ډار مستټر ليکي چي برهان خان د خوصا خان او افضل خان خټك جګړه، او د آدم خان او درخانۍ کيسه هم نظم کړې ده.

لاندي بيتونه د پاني پت د کيسې لومړۍ برخه ده، وګورئ چي برهان خان په څه حماسي او د غيرته ډکه لهجه خپله کيسه شروع کوي؟ او څنګه د پښتنو د توريالي شهنشاه د مېړاني احساسات څرګندوي! خصوصاً په دريم بيت کي د پښتنو د پسيکولوژي لب لباب څنګه راښيي.

---

۱- د پښتونخوا د شعر هار او بهار د پاريس طبع ۱۸۸۸ ع.

## د کلام نمونه

احمدشاه بابا په جارو وويله — د غزا په نيت ځمه له کابله
پښتني مغولي لاندي کړې کفارو — دا خبره مې په زړه وګرزېدله
يا به ننګ د پښتانه بيرته په ځاى کړم — يا به بايلم ککرۍ پرې باندي خپله
اميران وزيران واړه ترې چاپېر وو — د غزا په مهم خوښ شوه يو تر بله
يو دېرش ورځي يې نېټه په منځ کي يښوه — په ړومبۍ ورځ پيش خانه يې وويستله
چي دېرشمه ورځ پوره شوه پادشاه سور شو — په ډېرو اوښو يې خزانه ولېږېدله
د پادشاه دري لکه لښکر همه سوار وو — د هندوستان په لاري تله واړه خوشدله
پادشاه څو ورځي دېره په پېښور شو — د اخون[1] په زيارت پروت دعا يې غوښتله

(۱)

پادشاه پرېووت په مانجه يې ميشته کړله — د اټك په سيند يې دوه پوله تيار کړل
د روتاس کوټ يې بې جنګه واخيستله — هر سپاهي يې له برېڅو نه کم نه و[2]

(۲)

---

۱-مطلب اخوند دروېزه دئ.

۲- د فتح خان برېڅ او د ده ملګري په پښتنو کي په شجاعت مشهور دي.

احـمـدشـاه پـادشـاه غـازي او هـم سـخـي و
تـول جـثـه يـې لـکـه شـمـع بـلـېـدلـه

د بـاهـو نـه لـکـه پـوځ وريـسـې راغـی[۱]
شـپـه او روځ يـې خـالـي نـه وه لـه مـزلـه

بـاهـو وويـل پـښـتـون ځـمـا د ځـواب نـه دئ
ده پـه زړه کـې لـويـي ډېـره تـېـرېـدلـه

مخامخ شو جنګ يې جوړ کړ په ميدان کي
دو روخـه يـې تـوپـخـانـه وچـلـولـه

سمند خان مړمن خان دواړه شهيدان شول
احـمـدشـاه د زړګـي سـتـن ونـړېـدلـه

اوه ورځـې وه تـيـاره بـيـا رڼـايـي شـوه
د بـاهـو تـنـه پـر مـځـکـه لـغـړېـدلـه

مـرېـټـې پـه لـور د غـم نـارې سـورې شـوې
پـښـتـانـه تـوره يـې هـالـه ومـنـلـه

۱)

پادشاه جنګ وګټه هر څوك پرې خوشحال شو
بيا "برهـان" يې مـدام سـتايي له غـزله

---

۱- باهو لکه چي د مرېټو سردار و.

# جان محمد

جان محمد د پېښور او ننګرهار د خوا د پښتو شاعرانو د اوسطي ډلي وروستنی سړی دئ، چي د احمدشاه بابا په دوره کي ژوندی و او د (۱۱۵۰هـ) کال په حدودو کي يې حيات درلود.

د جان محمد ديني اشعار ډېر دي، يو کتاب يې "نورنامه" مطبوع پاته دئ داسي ښکارېږي چي د ده طبعه په پښتو کي مقتدره وه، جان محمد د خپل عصر عالم و، په سيرت نبوي کي يې ښه معلومات درلوده، د ده اشعار هم دغسي ديني او اخلاقي رنګ لري.

د جان محمد ډېر اشعار موږ ته نه دي رارسېدلي، د ده د شعر دېوان هم چا نه دئ ليدلی له عشقي اشعارو څخه يې فقط دا يوه بدله موږ موندلې ده، چي لاندي يې ليکو :

بد لښکر د بېلتانه راته ولاړ شو — پر دغه ځما د زړه ښهر ويجاړ شو

د وصال له ډېره قدره دي خبر کړم — چي مي زړه ستا پر بېلتون باندي لتاړ شو

د وصال بهار مي تويه شو پر ځمکه — چي راپېښ د جدايۍ تود اهاړ شو

هيڅ اخلاص مي بې لباسه ترې بيا نه موند — يار مي تګ د بنګالې او يا کراړ شو

چي مي تل د زړګي غوښي خوري عالمه — د خپل يار بېلتون همېش راته ولاړ شو

د بېلتون په سخر دي ولي ويشت اشنايه
"جان محمد" چي سينه ما ته له تا لاړ شو[1]

---

۱- د اخوند درويزه له مخزنه نقل چي په (۱۱۷۶هـ) په ملتان کي ليکل سوی دئ.

﴾۹۲﴿

# عبدالکریم کاکړ

د کندهار له علماوو څخه و، چې په مشرقي علومو او فقه او اخلاقو کې يې ښه لاس درلود او د پښتو ژبې په اوسطه درجه شاعرانو کې و.

عبدالکریم اخندزاده په علمي کورنۍ کې روزلی سوی، او عالمانه ژوندون يې درلود، په (۱۱۵۱هـ) کال هغه وخت چې افشار نادر شاه پر کندهار حمله کوله، زېږېدلی او په (۱۲۳۵هـ) د څلور اتيا کالو په عمر په کندهار کې وفات سوی دئ.

د عبدالکریم اخندزاده يو پښتو منظوم کتاب "زين العلم" د عربي "عين العلم" ترجمه ده چې قلمي نسخې يې ښخې لږ ميندلي کېږي، دا کتاب ده په (۱۲۳٤ هـ) منظوم کړی دئ.

عبدالکریم اخندزاده بې له دغه کتابه نوري بدلي هم په پښتو لري، لکه چې حاجي عبدالله پوپلزی د ده د بدلو په خصوص داسې وايي :

د عبدالکريم غـزل مي اروېدلی
زړه له ښخه پرېکوي لکه خـنجر

د دې مرحوم شاعر فقط دغه څو بيتونه موږ ته را رسېدلي دي، چې لاندي يې ليکو :

# اخلاق

د ښه خوی ګټه ده ډېره
له ګڼلو تر اند تېره

هغه څوك چي اخلاقي وي
د هغه نوم به باقي وي

كه د چا اخلاق ښه نه وي
د هغه به ژوند ښه نه وي

د اسلام خو ښه اخلاق دي
چي په درست اديانو طاق دي

د اسلام دين دئ راغلى
پيغمبر دئ پاڅېدلى

چي پوره كي ښه اخلاق
او پر ځاى كي دا ميثاق

چي "اني بعثت" وروره
"لاتمم" هم ګوره :

ښه اخلاق كه نه وي ياره
نو به دين وي ډېر بېكاره

نه حاجت به د دين وينه
نه به څوك اسلام غواړينه

نه به وحي نه انزال وي
نه به فقه نه كمال وي

كه علوم دي كه حكمت
ټول به شي بې منفعت

د اخلاقو تكميل دين دئ
هر ښه خوى پوره آئين كړي

په خويو انسان انسان دئ
كه نه دى خو تش حيوان دئ

مكارم انسانيت دئ
رذائل حيوانيت دئ

زه خو غواړمه پښتونه
چي بيان كړم ښه خويونه

په ښى غوږ يې ته ونغوږه
په بد خوى مي زړه مه توږه

﴿۹۳﴾

# الپوري حافظ

حافظ د پښتو يو مشهور شاعر دئ، چي نوم يې معظم و[1]، دی د الپوری د کلي دئ، چي د سوات د غرو د کاڼا غرپند درې څخه يو وړوکی کلی دی[2] دا دره د بنير قطب پلو، او د سوات لمر خاته خوا ته پرته ده.

داسي ښکاره کېږي چي حافظ د اعليحضرت احمدشاه بابا معاصر او وروسته د اعليحضرت تېمورشاه په عصر کي هم ژوندی و، ځکه چي ده پخپل دېوان کي د تېمورشاه نوم ذکر کړی دئ، نو د حافظ د ژوندون دوره موږ تر (۱۱۵۰هـ) وروسته ټاکلای سو، حافظ د خپلي زوړتيا منی هم ليدلی، او تر سپين بږيرتوبه لا ژوندی و، لکه چي پخپله وايي :

برګ مېوه مي توی شوه د پيری خزان لغړ کړم
تېر لکه برېښنا شوې د ځـــواني اردي بهشته

دېوان :

د حافظ دېوان مرتب او مردف سته، چي لومړی پلا په (۱۳۵۲هـ) د کاکا صاحب له زيارته نشر سو، وروسته بيا دوهمه پلا اصلي نسخه چي پخپله د حافظ په خط وه، د کاڼاغربند د حاکم معين الدين خان په ذريعه پيدا او صحيحه چاپ سوه.

د ده شاعري او افکار :

حافظ په متوسطه ډله کي اول نمبر شاعر دئ، کلام يې موزون او دلچسپ دئ، د ده اوږده بحرونه ډېر خوښ دي، نو ځکه د دېوان زياته برخه يې په اوږدو بحرونو کي ويلې ده، مګر کمال يې دا دئ چي دا اوږده بحرونه يې خوندور او موزون راوستي دي.

حافظ صاحب کله په صريحه لهجه، او ښکاره ژبه لګيا کېږي، او کله کنايو او استعارو

---

۱-سوال د معظم که په درګاه د رب قبلېږي

۲-ته چي په غربند کي شناخت قيمت غواړې حافظه
بوی د مښکو غواړې د درب ګرو په دوکان کي

ته ټوپ وهي، د ده د کلام زياته برخه پند او نصيحت دئ او ځيني برخي يې عشقي او سلوکي هم دي او په دواړو خواوو کي پوره دسترس لري. حافظ صاحب په عوامو کي هم ډېر مقبوليت لري د وعظ خبري يې ډېري خوږې او رقت آوري دي او په زړونو کي يو خاص اثر اچوي په ادبي لحاظ هم د ده شعر ډېر محاسن او مزايا لري، ښه تخيل، استعارات، تشبيهات پکښې پيدا کېږي، په دې لاندي بيت کي يې د يار په شونډو کي متضاد صفتونه جمع کړي او د طباق صنعت يې راوړی دئ :

په سرو شونډو کي يې اور دئ هم اوبه دي
دواړه زيست کا په يو ځای کي بې جداله

حافظ د يار د کله کله رنجش څه ښه تسلی ناك مثال راوړی :

يار چي نرم خوږ وي که لږ تريو کا جبين څه شو
وايي اطـــــــبا نافع دارو اســــــــکنجبين ته

حافظ پر منصور تنقيد کوي او وايي د دلبر ستايل په پټه ښه دي، خزانې خلك په پټو کي سنجوي، داسي نه چي پر ميدان ودرېږي او نارې وهي، نو سزا به يې هم دا وي لکه منصور :

مـصـنـور سـر ظـاهـروه وسـولـئ تـه وخـوت
د خـــلا خـــبـــري کـــلـــه پـــه مـــلا شـــي
پـه خـلـوت پـه خـامـوشـي کـي دلـبـر سـتـايـه
خـزانــه ښـخـول هــر کـلــه پـه غــلا شــي

د حافظ د شعر سلاست او رواني البته چي د دې لاندي بيتونو نه معلومولی سئ :

بـرګ مـېـوه مـي تـوی شـوه د پـيـریَ خـزان لـغـړ کـړم
تـېـر لـکـه بـرېـښـنـا شـوې د ځـوانـئ اردي بـهـشـتـه
سـود سـودا هـغـه کـا چــي بـازار لـه بـهـا يـوسـي
تـه چي دست خـالـي ځـي پـه بـازار کي وړيا څه شـتـه

د حافظ د نورو آثارو په باب کي موږ ته معلومات نسته، صرف يو دېوان يې ليدل سوی دئ چي تر دوه درې زره بيتونو پوري رسېږي، دا دېوان د مضامينو په لحاظ پر پنځو برخو وېشل سوی دئ:

١. توحيد او رسالت
٢. حقيقي عشق
٣. د اهل سلوك نصيحت

٤. مجازي عشق
٥. نصيحت عامه.
موږ د هري برخي څخه لاندي يوه يوه نمونه راوړو :
توحيد او رسالت :

اول چـــــــي احـــــــديـــــــت و خـــود پـــه خـــود يـــې ســـلـــطـــنـــت و
بـــيـــا خـــواهـــش د كـــثـــرت و نـــور پـــيـــدا پـــر نـــېـــك صـــورت و

## تر كلـــــــــياتو مقدم

بـــيـــا بـــاهـــر چـــي هـــغـــه نـــور شـــو د عـــــدم تـــــر كـــــومـــــي دور شـــو
د مـــمـــكـــن مـــخ پـــه ظـــهـــور شـــو پـــه شـــپږ ورځـي مـلـك مـعـمـور شـو

## آسمانونه مځكي يم

الـــــف اول لـــــه كـــــايـــــنـــــاتـــــو نـــور د پـــاك نـــبـــي نـــېـــك ذاتـــو
خـــوش ســـيـــرتـــه نـــيـــك صـــفـــات و لـــــكـــــه لـــــمـــــر وځـــــلـــــېـــــده

انـــــس و جـــــن كـــــه مـــــلائـــــك و د عـــــدم پـــــه شـــــپـــــه كـــــي ورك و
لـــمـــر صـــادق وخـــوت رڼـــا شـــوه هـــر چـــا خـــپـــل وجـــود مـــونـــده

كه ته غـمـخور شې په دنيا عقبا ځما وروره مـشـكـل بـه واړه كړي آسـان مولا ځـمـا وروره
خداى راستولى يې رحمت لطف عـالمو لره بې ستا به څوك واوري فرياد ژړا ځما وروره
د جـهـنـم لـمـبې لـه سـلـو كـالـو اوړي درومـي بـشـر نـګـاه كـړې لـه دغـي بـلا ځـمـا وروره

حبيبه مه رټه "حافظ" له خپله پاكه دره
نشـــته بغير له دې درګاه پنا ځما وروره

حقيقي عشق :

زړه مي ظلمت لاندي د هجران کړو بدن لا    مخ راته ښکاره کړه تر مهتابه روښن لا
ستا د حسن کوکي چي په پارس په روم شام دي    رام شو درته کل خوبان د مصر و مدين لا
څوك چي ګدايان شو ستا د حسن دروېزه کا    خوار ګڼي شاهان د خراسان و ختن لا
در هله ښايست کړي چي بېرون شي له صدفه    ستا دندان ساطع دي اندرون په دهن لا
مخ که نموده کړې غم به ورك له غمزده کړې    خوار به آسوده کړې خوشه چين د خرمن لا
سم قامت مي خم کمان د دوست په مهجورۍ شو    تاو شوم لکه ژی، په جنګ جدل د دښمن لا

ياد که د يار نه يې ته يې ياد لره "حافظه !"
شاه بيرته نه ګوري سپاهي تېز کړو توسن لا

د حيرت په شپه د حسن مشال غواړم    د عسرت په ورځ دولت د وصال غواړم
چي سبا يې نتيجه ورځ د اختر شي    نن مژده نېکه د ښکلي هلال غواړم
چي له يمنه يې ګدا سلطنت مومي    ميمون سيوری د هما په هر حال غواړم
هيڅ دمه مي په نيمګړي ديدن نه شي    ننداره د يار د مخ په کمال غواړم

زه نايب يم د مجنون په عاشقي کي
خليفه د قارون نه يم چي مال غواړم

## نصيحت اهل سلوك ته :

چي په مخکي يې رهبر مجرب نه وي    که خود رو تر کړنګ لوېږي عجب نه وي
د طالب شهسوار به ورسي منزل ته    که په لاس د نابينا يې جلب نه وي
د اسلام د امامانو په لار درومه    و مقصود ته روبېرون له مذهب نه وي

يار چي د يار شغل کا په کار يې اغيار بلوسي    څوك چي ګل چيني کا په لمن به يې خار بلوسي
قلب د مومن ګوره ملقب په عرش الله دئ    زار د آزار جويو چي د زړه په بازار بلوسي

مجازي عشق :

هغه آشنا چي له ما تللی دئ بیا را به نه شي
که درست جهان پر ننواتي کړم پخلا به نه شي
هغه توتي چي چغېده چغار اوس ولي نه کا
مرګي يې مهر پر خوله وواهه ګويا به نه شي
سپين کته باز مي په منګل ناست و ناڅاپه والوت
که درست جهان پسي پره کړمه پيدا به نه شي
په هره شپه پسي سبا قرين پيوست را درومي
په ما د هجر شپه رابره شوه سبا به نه شي
لعل و ګوهر ځما له لاسه په درياب کي توی شو
که درست سيندونه پسي وچ کړم په لاس را به نه شي
دا زه "حافظ" چي مرور له خپله ياره ګرزم
ځوك چي سبق د عاشقۍ وايي ملا به نه شي

نصحيت د عامو خلکو :

چي اجتناب د غيرو چارو نه په ژوند ونه کړې
سفر دي ګران دئ د سفر په لار به بند ونه کړې
په ځکندن کي دي توبه رب ته قبوله نه ده
چي په حيات د ناروا ته سوګند ونه کړې
حلال حلال دي له حرامو ته پرهيز کړه مدام
لکه د اوښ غوندي په دواړو زامو شخوند ونه کړې
ته به د پاك نبي ښايسته دربار له څرنګ ورشې
چي يې له دې ځای د يارۍ د دوستۍ بند ونه کړې
خدای چي قاضي شي پاك رسول به شفاعت کوي ستا
په لوی دربار کي به په دا ژبه چلند ونه کړې

راغلې ستا په سترګو د دنيا د حرص لړې
نه وينې چي درومې د عقبا په لوري شخړې
تن که دي مشغول د باري خدای په طاعت نه شي
څه شو که ژوندی يې په معنا په صورت مړ يې
عمر دي کوتا دئ اميد لا ترې کوتاه تر کړه
ولې طناب اوږد په دا لنډ ميدان کي غځړې
تش به دي روان کا که تودې لرې د زرو
کوم يو دنيادار دنيا له ځانه سره وړې
خوی د چارپايانو کړې جثه دي د سړي ده
شين بوټي چي وينې له ګړنګه پسي لغړې
پاتي له شاهانه محلونه حويلۍ شوې
پاتي له خوارانو د وښو لرګو جونګړې
مه غولېږه "حافظه" د دې دهر په يارانو
زهر به پکښې وي که شربت درکا د ګوړې

# قاسم علي اپريدی

قاسم علي په قوم اپريدی د برهان خان زوی د رستم خان لمسی او د نېکنام خان کړوسی و، چي د نېکنام خان پلار الف خان آدم خېل و، او په آخور کلي کي سنډا ته نژدې اوسېدی، الف خان وروسته دپښتنو بريالیو سره چي پر هند يې حکومت کاوه تللی او هلته يې د پښتنو مشرتوب درلود.

د قاسم علي پلار برهان خان په فرخ آباد کي اوسېدی او په (١١٩٢هـ( (١٧) د درېيمي خور وفات سو، په دغه وخت کي قاسم علي د (٩) کالو و، نو د قاسم علي د زوکړي کال له دغه حسابه (١١٨٣هـ) ګڼلای سو[١].

قاسم علي خپل سوانح پخپلو اشعارو کي په لوړ تفصيل راوړي، او پخپله وايي چي زه په هند کي زوکړی يم[٢].

مستشرق راورټي ليکي چي د قاسم علي پښتو او عربي او تورکي، پاړسو، هندي او لږ څه انګرېزي زده وه[٣]. مګر د ده له خپله يوه بيته هم دا ښکارېږي چي په هندي او عربي او پاړسو او پښتو پوهېدی.

قاسم علي په هند کي يو ښه پښتون سړی و، دی پخپلو ملي شئوناتو قايل او د پښتنو د حکومت پر زوال په هند کي افسوس کوي، لکه چي وايي :

د انګرېز تنبور ترم دلته غږېږي
نصارا شوه حاکـــــمان فرخ آباد
حکومت د پښتانه له سره لاړی
وارخـــطا کـــړ نوابان فـــرخ آباد

راورټي پخپل پښتو ګرامر کي ليکي، چي قاسم علي د انګرېزانو د هند په لومړيو فتوحاتو

---

١-د قاسم علي قلمي دېوان.

٢-زه پيدا په هندوستان پښتو مي څه زده؟

٣- د پښتو ګرامر مقدمه ٤٦ مخ.

کي ژوندی و، او په دې مناسبت یې یوه بدله ویلې ده، چي ځیني بیتونه یې دا دي[1]:

اوس په هند چي خدای پیدا کړه فرنګي — دا فرقه د نصاراو ده جنګي
نصارا په هندوستان حکومت کاندي — چرته لاړ هغه ځوانان شمشېر جنګي
بقالان وه سپاهي په هندوستان شوه — دروېزه کاندي اشراف چونګي چونګي
حیف در حیف دئ چي حرمت د اشراف نشته — په اسلام هسي راغلې ده تنګي
"احمدشاه دراني" نشته دئ یارانو — چي پر سر کاندي افسر حبشي زنګي
"شاه عالم" د قناعت په حجره کښېناست — که پیدا شي نور اولاد تېمور لنګي

له دغو بیتو څخه ښکاره ده، چي زموږ د شاعر د احمدشاهي دورې عظمت په یاد و، او د شاه عالم مغولي پر کښېنته والي یې افسوس کړی دئ.

د قاسم علي خان عمر تر (۱۲۳۱هـ) پوري یقیني دئ، وروسته نو نه ده ښکاره، چي کله او چیري وفات سوی دئ.

خو دې شاعر په ځلمیتوب کي د پښتو ادب ته ښه خدمت کړی دئ.

## د قاسم علي دېوان :

د قاسم علي یو قلمي دېوان موږ لیدلی دئ، چي دغه دېوان د ده په ژوند کي لیکل سوی او د لومړۍ خور په غره ۱۲۳۱ = ۱۸۱٦ ع تمام سوی دئ. داسي ښکاري کېږي چي دغه نسخه د شاعر په تصرف کي وه، چي د ده مهر پر باندي دئ په دې ډول (قاسم علي خان افریدی ۱۱۹۱) د قاسم علي دا دېوان تر (۵) زره بیته پوري رسېږي، غزلیات، قصاید، رباعیات، چاربیتې او مخمس اشعار لري، چي پر زاړه کاغذ په نستعلیق لیکلي سوي دي او دغه نسخه چي موږ لیدلې ده ډېره قیمتي ده او ښایي چي بله دغسي نسخه نه وي پاته.

د قاسم علي اشعار :

قاسم د پښتو شاعرانو په دوهمه ډله کي داخل او په پښتو یې ډېر اشعار پرېښي دي، چي عشقي او عرفاني او اخلاقي مضامین لري، د ده په کلام کي د تصوف رنګ هم سته او قاسم علي د فرخ آباد د غلام محمد نومي روحاني مخلص هم و، چي پخپلو اشعارو کي یې کله کله ستایي.

د قاسم علي اشعار په ځینو ځایو کي سکتې او ماتوالی لري، چي غالباً دغه دېوان د

---

۱- د مسټر راورټي د ګرامر مقدمه ٤٦ مخ د کلکتې طبع.

لومړي ليکونکي نقص دئ، او ښايي چي لومړی ليکونکی يې په پښتو نه پوهېدی، نو ځکه په ځينو اشعارو کې نقص او ماتوالی ښکارېږي.

قاسم علي د بدلو په پای کي کله خپل نوم او کله افرېدی راوړي، سره د دې چي دی له پښتونخوا څخه ليري په فرخ آباد او هند کي زوکړی او لوی سوی دئ، مګر اشعار يې ډېر کچه او بې خونده نه دي، بلکي د پښتونخوا د شعر زوړ خوند او پوخوالی لري او هغه اشعار چي ناپوه کاتب نه دي وران کړي، او پر خپل حال پاته دي، بد نه دي.

د قاسم علي له دېوانه دا هم ښکاره ده چي دې زموږ پردېس شاعر د پښتو پر ادب ښه احتواء درلوده او د پخوانو شاعرانو آثار او اشعار يې کتلي او ليدلي وه، لکه چي دی پخپله يوه بدله کي دمخني شاعران داسي يادوي :

تېر شو وخت د رحمان اوس دئ ځما[1] ... که دولت و، که خوشحال و، که ميرزا
مهرعلي، عبدالقادر که سکندر و ... که اشرف، که ارزاني، مخلص شيدا
که نواب محبت خان، که کريم خان و ... او که بل و کاظم خان معروف شيدا
الله داد او کريمداد که درويزه وو ... جان محمد او بل فاضل و په دنيا
که احمد دئ او لتاړ که مهرشاه دئ ... همګي ځما د سترګو دي ضيا
د وحدت په باغ کي واړه دي ګلونه ... زه د واړو شاعرانو خاک پا

(۱

اوس د قاسم علي له قلمي دېوانه يو څو نمونې را اخلو :

## د اشعارو نمونه :

---

۱-په دې بيتو کي چي شاعران راغلي دي، له دغو څخه د نورو بيان زموږ په دې کتاب کي راغلی دئ، د مهرعلي، مخلص، کريم، الله داد، مهرشاه د کلام نمونې موږ نه دي ليدلي، په څلورم بيت کي لتا معنی نه لري، ښايي صحيح يې نثار وي.

## بدله

دورمـي عـمـر ځـمـا هـر دم لـکـه بـاد
پــوره نــه شــو لا مــراد د زړه نــاښــاد

ننداړچي چي يې د سپين مخ نه شوم يارانو
رایـګـان مــي لاړ عـبـث عـمـر بـربـاد

مـا ګـڼـلـه بـه د دهـر څـه بـنـيـاد دئ
اوس مـعـلـومـه شـوه بې بېخـه بې بـنـيـاد

د دنـيـا پـه چـار بـه هـسـي وم غـلـطـه
د عـقـبـی نـښـان بـه هـيـڅ نـه و را يـاد

پـه مـحـنـت بـرخـه د هـيـڅـا سـوا نـه شـوه
تـش غـمـونـه پـه خـاطـر کـي شـوه را زيـاد

کـه پـوره شـوې پـه مـحـنـت پـه مـشـقـت کـي
د شـيـريـن پـه بـېـلـتـون مـړ نـه و فـرهـاد

پـه قــدرت د حــق تـعــالـی د دم وهــلــو
طــاقــت نــشــتــه د ابــدال او د اوتــاد

د سـړي تـدبـيـر کـار ګـر پـه قـدرت نـه شـي
دانـايـان بـانـدي يـقـيـن کـه اعـتـمـاد

کـه د يـار د بـانـو غـشـي پـه زړه لـك شـي
صـبـوري د هـغـو څـه وي بـې فـريـاد

"افرېديه" که په يار واحد عاشق يې !
محــبت مــه کـــړه د آل او د اولاد

ددنـيـا تـر هـوښـيـارۍ ګـڼـه جـنـون ښـه
داغ د عـشـق لـکـه لالـه بـېـرون درون ښـه

عـاشـقـان دي واړه يـو تـر بـلـه زيـاتـي
ولـي زيـب کـه پـه کـتـاب نـوم د مـجـنـون ښـه

د عـاشـق وي پـايـه لـويـه پـه رتـبـه کـي
حـقـيـقـي تـر مـجـازي ګـڼـه افـزون ښـه

بـلـبـلان بـه يـې نـاره پـه بـاغ و راغ کـا
وايــي مــه کــوئ آرام زيــر ګــردون ښــه

پـتـنـګـان پـه پـټـه خـوله بـه ځـان سـېـزيـنـه
شــمــع ورو وايــي د زړه ويــنــي رژون ښـه

ورځ پـه ورځـه شـپـه لـه شـپـې کـهـتـري کـانـدي
مـرګ بـهـتـر پـه دا دوران دئ تـر ژونـدون ښـه

"افــرېديه" دانايي تر دانور نشــته
محبت په زړه نهال کړه د بېچون ښه

ډېر مدت شو چي په غم دي مبتلا يم — هسي نه چي نن مهرو په تا شيدا يم
ځما ستا د ميني ډېر شوه مدتونه — ته لا اوس وايې و ما ته يار د چا يم
که مي پېرې که مي پلورې عذر نه کړم — دروغ نه وايم دا هسي په رشتيا يم
که مي سر او مال ځي دواړه ستا په مينه — تېر تر سر او تېر تر مال په تا فدا يم
ما قضا رضا سپارلې دي و تاته — په هر شان به کمترينه عاشق ستا يم
هسي نه يم چي په غلا به کړم خبري — تر مجنون او تر فرهاد رسوا رسوا يم
په رشتيا کوم خبري همه واړه — نه پوهېږم په کاږه صفا ګويا يم

که تنها له دنيا ورشم باك مي نشته
اې قاسم علي له ځانه هم تنها يم

که دي بيا مومم يو تار د تورو زلفو — کړم په غاړه به زنار د تورو زلفو
هنود کله پرستش د کنشت کاندي — لکه زه يم پرستار د تورو زلفو
هغه زړونه به بيا کله راجاروزي — چي شوه يو ځله حصار د تورو زلفو
د رقيب به څه قدرت وي چي جفا کا — که مي خپل شي شهريار د تورو زلفو
له زاهد له ملايانو څه غرض دئ — د خپل يار يم ګنه ګار د تورو زلفو
په عالم به بل دا هسي قيدي نه وي — لکه زه يم ګرفتار د تورو زلفو

که چغار د عندليب په شان کړم ښه کړم
"افرېدی" يم په ګلزار د تورو زلفو

## مخمس

هغه زړه چې مبتلا په کوم محبوب وي
همېشه په دا عالم کې به اسلوب وي
په تهمت په بدنامي به ډېر منسوب وي
تر ناپوه خلکو د وړاندې که معيوب وي

په معنی له خپله یار سره مرغوب وي

د دنيا چاري به واړه بېش او کم شي
و هر چا لره زوال هجر هر دم شي
کوم سړی دئ په دنيا چې به بېغم شي
لاندې باندې وار په وار واړه عالم شي

د ماښام په وخت آفتاب ګوره غروب وي

هستوګه د هيچا نشته په دنيا کې
پر باور کړه که څه عقل دئ په تا کې
دروغ مه ګڼه، رشتيا ځما وينا کې
وفا نشته ده د دهر په آشنا کې

دا خبره نوشته په هر مکتوب وي

په سبب د محبت ګوره تباه يم
بندېوان د يار په ځنو سر په آه يم
تالاښي په بحروبر خپله دلخواه يم
په طلب کې نو د "ثم وجه الله" يم

که ثوک نه کاندي طلب هغه محجوب وي

دئ عـجـب چـي يـار پـه کـوربـه وي لـه يـاره
هــغــه يـــار لـــه يـــار بـــه نـــه خـــبـــرداره
وي تـر دا سـوا بـه څـه نـور مـشـکـل کـاره
چـــي اغـــيـــار د يـــار شـــي يـــار د اغـــيـــاره

خدای مي نه کا دا کيسه چا کوت په خوب وي

مربع

دنـــيـــا پـــربـــږده پـــه دنـــيـــا کـــي | کـــه څـــه عـــقـــل دئ پـــه تـــا کـــي
"افـــربـــديـــه" حـــب د خـــدای کـــړه | دئ نـــقـــصـــان پـــه مـــاســـوا کـــي

کـه مـيـن بـه شـې پـه ښـکـلـيـو | حـال مـعـلـوم کـړه د ويـرژلـيـو
"افـــربـــديـــه" عـــشـــق بـــازئ | دي مـــشـــکـــل تـــر ډېـــر مـــشـــکـــلـــيـــو

(د قاسم علي له قلمي دېوانه)

(۹۵)

# خواجه رزق الله

خواجه رزق الله د پښتو يو نازك خيال او مبتكر شاعر دئ، چي د خواجه نورخان زوی او په قوم خواجه خېل و، دی د ننګرهار د چپرهار د رود، د قلعهٔ شيخ دئ چي په هجري (۱۱۵۹ هـ) كال هورې زوكړی، او د ځلميتوب په دوره كي لومړی هند، بيا كشمير، بيا كندهار، هرات، بخارا ته تللی دئ او د سپين ږيرتوب پر وخت بيرته خپل مسكن ته راغلی، او همدلته مړ سوی دئ.

لكه چي دی پخپله په يوه منظومه كي د سياحت ځايونه داسي ښيي :

هـنـدوسـتـان مـكـتـب ځـمـا دئ — كـشـمـيـر هـم مـطـلـب ځـمـا دئ
كـنـــدهـــار د ګـلـــو هـــار دئ — هـــرات خـوږ نـسـب ځـمـا دئ
بـخـــارا كـــي مـســـافـــر يـم — بـلـخـه سـتـا جـلـب ځـمـا دئ

په دې څو بيتو كي ده هغه تول ځايونه چي پكښې ګرزېدلی دئ، ښه ښوولي دي او له لاندي بيتو څخه ښكارېږي، چي د رزق الله دا بېلتون د مرورتوب له لامله و :

رزق الله د خــــپلي ځــــالي مرور ولاړ
ته يې مل شې هندوستان ته برابر ولاړ

## د خواجه شاعري :

خواجه د پښتو يو ښه او لومړۍ درجه نازكخيال شاعر دئ، چي يو دېوان هم لري، مګر دا قيمت دار كتاب ورك دئ، د پښتو په شعر كي خواجه ښكلي مضمون او ښايسته الفاظ دواړه سره يو ځای كړي دي، او دغه خپل شاعرانه مهارت د يوې ادبي نظريې په ډول داسي بيانوي :

په معنی كي معنی ناوې بلل كــــيږي
په ګاڼه په لـــباس ناوې ناوې كــيږي
چي نه خــوند وي نه معـــنا نه د الفاظ
د بې لاس لستونې څنګه ښكاره كيږي

خواجه له مبتذل مضمون څخه ډډه كوي، او پخپل شعر كي خورا خوږو مضامينو ته ځای وركوي، خپل ځان او خپل شعر په لاندي مضمون په ښه شان سره معرفي كوي :

پـــه چـــا نـــشـــتـــه دا يـــقـــيـــن — چـي تـور بـېـل كـانـدي لـه سـپـيـن
زه دا ځـــكـــه ګـــيـــلـــه مـــن يـــم — هـــر ســـړی وايـــي چـــي مـــن يـــم
د پـــښـــتـــو يـــو خـــوږ مـــتـــل دئ — مـــتـــل څـــه بـــاري عـــســـل دئ
دراغــــه كـــــاڼـــــي دي ډېـــــر — خـــو پـــه كـــار دي پـــكـــښـــي ســـر
نـــه شـــاعـــر يـــم نـــه اديـــب — مـــګـــر څـــه كـــړم خـــپـــل نـــصـــيـــب
چـــي اخـــتـــه شـــوم پـــه دا رنـــج — ســـيـــنـــه ډكـــه لـــكـــه ګـــنـــج
ځـــمـــا ژبـــه شـــوه دلالـــه — هـــم د دې مـــتـــاع لـــه حـــالـــه
راشـــئ واخـــلـــئ ښـــه مـــتـــاع ده — نـــه چـــي بـــې رنـــګـــه خـــامـــتـــا ده
څـــوك يـــې نـــه اخـــلـــي پـــه پـــيـــازو — هـــی تـــوبـــه شـــه لـــه بـــې نـــيـــازو

په دې ډول خواجه یو باذوقه سړی او په ادب کې د ښو نظریاتو خاوند و، او په نازکخیالي کې یې هم ساری نه درلود، له دې بیتو څخه د ده ادبي لیاقت او نازك فکر ښه ښکارېږي :

آیا پر مځکه څنګه استـــبلا کـــېږي؟

په نرمي کې د اوبو په څـــــېر شــــه نرم

که مطلب دې د دې مځکې استېلا ده

خواجه په تقوی کې هم د عشق پر لار برخي لري، او یو ګړی د اشنا سره په خلوت کې راز او نیاز ډېر غنیمت ګڼي، لکه چې وایي :

پـه تـېـر شـوي عـمـر ډېـر کـړم تـاسـف     دا تـحـریـك دئ د تـقـوی او تـصـوف

پـه خـلـوت کـې د آشـنـا سـره رضـا یـم     خـوښ یـم زه پـه اعـتـکـاف او تـوقـف

د عشق په دنیا کې خواجه ځیني واقعي کوایف لري، چې د خپل زړه او خپل حال ترجماني په ښه ډول کوي، او داسې ښکارېږي چې دی واقعي د میني په اور سوی او ځیني نازك حالات یې ښه تصویر کړي دي، مثلاً یو وخت خپل مین په خوب وینې نو وایي :

ومي لیدې ستا زلفي په خوب کې ویښ شوم نه وې ولي؟

اور مي په دېوان پوري شو، دود مي له تالاقه وخـــــوت

## وطني او حماسي اشعار :

خواجه د وطن په بېلتون کې لکه ځیني نور پردېش شاعران، خوارېه او د اوره ډك اشعار لري او د ده د وطن مینه ښه ځني ښکارېږي، مثلاً یو وخت د وطن په بېلتون کې وایي :

خـــوار غـــریـــب او بـــې نـــوا وای     خـــو وطـــنـــه ســـتـــا پـــه خـــوا وای

واتـــه غـــوارمـــه لـــه هـــنـــده     چـــې وطـــن بـــرخـــه ځـــمـــا وای

څـــو ژونـــدی یـــمـــه تـــر مـــرګـــه     هـــم هـــاغـــه آب و هـــوا وای

مـــیـــشـــتـــه خـــوښ یـم پـه وطـن کـې     نـــه چـــې هـــنـــد وارِه ځـــمـــا وای

نـه دي هـــنـــد شـــي نـه دې نـــوم شـــي     هـــمـــاغـــه بـــېـــد بـــېـــدیـــا وای

چپرهار کې کلاشـــیخ وای

"رزق الله" او مشغولا وای

د خواجه دا وطني منظومه خو يو ادبي شكهار دئ، علاوه پر دې د خپل مليت قدرمن هم دئ، او د وطن په مينه كي ډېر تاوده احساسات لري او حماسي افكار يې خورا ګړندي دي، مثلاً :

د بلا غشی مي خــــېژي له پښــــتو
زه خواجه رزق الله نه پرېږدم پښـــتو
چي خبر شوم د حملې د كم غلـــيمه
د غيرت خولې مي څاڅي له وېښتو

په دې لومړي بيت كي د اول پښتو مطلب قبرغې دي، او دوهمه پښتو يعني مليت او ملي غيرت، چي پوره تجنيس دئ او علاوه پر دې ښېګڼې دا دوه بيته د غيرت او حماسته هم ډك دي، چي د شاعر ملي حسيات اوڅاروي، حقيقت هم دا دئ، چي زموږ شاعر بشپړ پښتون و او د پښتونوالي افكار يې زښت پاخه وه. په يوه بله منظومه كي هم خواجه د پښتونوالي حماسي وياړ داسي ښكاره كوي :

| | |
|---|---|
| خــو چــي مــړ شــولــم پــه تــوره | نـــه ده مــــور رابـــانـــدي بـــوره |
| څـــمـــا شـــا د لـــيـــدو نـــه ده | مـــخـــامـــخ راځـــه تــربــوره |
| تـــه كـــافـــر او زه مـــســـلـــم يـــم | تـېـنـګ بـه نـه شـې بـې شـعـوره |
| كــه پــه بــل وطــن كــي ګــرځــم | راپـــېـــښ شـــوي لـــه ضـــروره |
| خــپـل كـمـيـس دئ بـې تـمـيـزه | پـــر مـــا زيـــات كـــړلـــه تـــنـــوره |

په دې ډول زموږ خواجه يو ملي او ښه شاعر دئ، د ده د شعر يو څو نمونې نوري هم راوړو :

**د شعر نمونې :**

## غزل

| | |
|---|---|
| ســتــا د زلــفــو پــه تــنــاو خــفــه مــرئ شــوم | سره لـمـبـه لـكـه ګـيـاه تـر ككـرئ شـوم |
| كــه مــي ډوبــه بــېــړئ وكــاږې لــه بــحــره | زه اخـتـه پـه كـشـالـو او پـه خـوارئ شـوم |
| سـر و مـال مـي پـه يـو دو لـه چـنـګـه croووت | چـي آشـنـا د سـتـا د عـشـق پـه جـوارئ شـوم |
| پــه نــصــيــب بــه لــه دې كــاره بــيــرتــه ووزم | چـي نـمـړئ پـه خـولـه د دې بـدي زمـرئ شـوم |

زه "خواجه" د عشق له اوره امان غواړم
د نصيب له لاســــه بند په بېمارئ شـــوم

صـيـاده زه دي ښـكـار كـړم د زلـفـانـو پـه كـمـنـد
نـه خـوب نـه مـي آرام شـتـه، نـه مـي نـور د صـورت خـونـد
هـم هـاغـه ارتـه فـضـا وه پـكـښـې خـوښ مـي صـورت سـاه وه
سـتـا پـه تـار د تـورو زلـفـو د هـوا مـرغـه شـو بـنـد
لـكـه مـوم هـسـي تـويـېـږم لـكـه واوره ويـلـي كـېـږم
يـا حـيـات پـر مـېـږتـون دئ يـا ځـمـا د غـريـب ژونـد
پـه زړه داغ لـكـه لالـه شـوم، پـه تـن كـوږ لـكـه هـالـه شـوم
چـې دي وګـورم صـنـمـي خـال د وريـځـو پـه پـيـونـد
"رزق الـلـه" پـنـاه ګـزيـن شـو، لـه رقـيـب شـيـطـان لـعـيـن شـو
رب دپـاره ګـزار وكـړه، پـه بـنـګـړي د خـپـل مـړونـد

ټـول ځـلـېـږي لـكـه سـتـرګـه د سـبـا — د ځـوانـۍ دور دي راغـی دلـربـا
سـتـړې مـه شـې سـتـړې مـه شـې مـرحـبـا — د بـڼـو پـه فـرش مـي كـښـېـږده قـدمـونـه
بـې شـبـهـه دي ټـول صـورت شـو كـهـربـا — بـې اخـتـيـاره چـې درځـغـلـم ودرېـږم
كـه مـي وخـوړې سـتـا شـونـډې مـربـا — تـر قـيـامـتـه بـه مـي حلق قـنـد او نـبـات وي

د "خـواجه" پروا له نره زمري نه وي
ولي عشق دي ترې نه جوړ کړ زوړ روبا

## ملي بدله

### کسر

اي ځـمـا بـده نـصـيـبـه څـه د بـدو بـرخـه سـتـا ده لا — يـو كـرت د يـار وصـال
نـه دي شـو مـنـظـر د كـسـو څـه بـلا پـه تـا ده لا — هـغـه جـنـت مـثـال

(۱)

پوري به په ستركو رانجه خاك د ستا د پاى كړمه	زيات ترېنه درمان نشته
لاس د مناجات مي جګ نيولى عرض په خداى كړمه	بې تا مي ارمان نشته
ستا خمارو ستركو لكه شل په پښو د ځان كړمه	دا رنګه چشمان نشته

كه مرمه زه به مرمه پر ما څه د ستا پروا ده لا
ستا پر ښو زه حلال

(۲)

تا په تېغ د ستركو نيم بسمل لكه آهو كړمه	وګوره جيحون د خون
نه لرم سناج د نجات ښخ ته يې لاهو كړمه	حال مي وارخطا زبون
لاس راكه د خداى دپاره روى به درته هو كړمه	ټول قرآن په قاف و نون

ومنه دا روى د قسم څه نامه بالا ده لا
نه لري مانند و سيال

(۳)

ما چي زړه بايلودى ستا پر زلفو ملامت نه يم	دا چپاو د عشق دئ
ته چي ما ته وايې واخله لاس په دې حجت نه يم	مې ګنه چي فسق دئ
حفظ د امانت كړمه، رضا په خيانت نه يم	عشق د ازل رزق دئ

ليري شه كاذبه ستا د عشق خونه تالا ده لا
سخت دئ ستا د عشق كمال

# ملي بدله
## کسر

وربل دي نیمه شپه شو له قراره
په منځ کي نرۍ کرښه د کذاب[1]
ستا مخ صبح صادق شو سبا یاره
درنګ ساعت له به راوخېژي آفتاب

(۱)

په تېغ دي د دوو سترګو نیمه خوا او پرهاري کړم     ناترسي دا پر څه؟
پخوا به زه بادار وم اوس د ستاسي نوکري کړم     ناترسي دا پر څه؟
پخوا دي وم تر څنګه اوس دي ولي مزدوري کړم     ناترسي دا پر څه
زما د وینو ډك زړګی خو تا کړ را افګاره     درپېښ به شي عذاب

(۲)

خجل د مهرویان کړ په جبین آفتاب مثاله     ذره یم یا کوکب یم
پتنګ درنه تاوېږم لکه بل چي دئ مشاله     رسا مي په مطلب یم
وعده دي د قیامت شوه هاغه کړې د یو کاله     زه تېر له دې ادب یم
چي نور به له دې روسته زه د ستا یم انتظاره     یا ژر راکړه ځواب

---

۱-له کذاب څخه مطلب صبح کاذب دئ، دلته وربل په شپه، او د وربل د منځ سپینه کرښه د صبح کاذب په رونړا سره تشبیه سوې ده، او د دلبر مخ صبح صادق بلل سوی دئ.

(۳)

ژوندی به یم تر څو چې تشکر یا به ګیلې کړم — یوه باندي مې پوه کړه
د غم پېټې دي یاره زه تر پښو نوکوخولې کړم — تباه دي ځما اوه کړه
له دې نه وروسته ولې بې عمله مسئلې کړم — تا غرقه د عشق ګروه کړه
نه سیال یم نه شرمېږم چې لا نور یم امیدواره — زه نرم ستا د باب

(٤)

"خواجه رزق الله" وایي چې یاري شي په نرمۍ — دا کار نه د چل ول دئ
په نرمه ژبه نوش کړه سره لبان د لېونۍ — که دې له دي اتکل دئ
یاري وه د فرهاد په مصلحت د شېرینۍ — د درخو د زلفو ول دئ
آدم یې لېونی کړ ځکه ګرځي ناقراره — نه خوب شته نه یې خواب

﴿۹٦﴾

# ملا فرح الدين

نسلاً عرب او د اعلیحضرت احمدشاه بابا د عصر له مشهورو اولیاوو او علماوو څخه دئ. چې وروسته یې په کندهار کې په زهد او ارشاد ډېر شهرت موندلی دئ.

ملا فرح الدين په (۱۱۵۹هـ) زېږېدلی او په (۱۲٤۱ هـ) په کندهار کي د عمر پر (۸۲) کال وفات سوی او د هرات بازار په جامع کي ښخ دئ.

ملا صاحب ډېر شاګردان او مریدان درلوده، دی پخپله د مشهور میا فقیرالله صاحب جلال آبادي مرید و، او ډېره مکاتبه او مراسله یې ورسره درلوده[1]، د ده د علم او روحانیت لوړتیا له دې څخه معلومېږي چې د کندهار یو لوی او نوموړي عالم او محقق لکه حبیب الله اخندزاده د ده مخلص او شاګرد و، د دې معروف مرشد او عالم د وفات تاریخ د ابجد په حساب دا مصراع ده :

---

۱- د میا فقیرالله مکتوبات.

"رفت قط زمین مدار زمان"

## اشعار او آثار :

ملا فرح الدين اخند د خپل عصر اديب او مولف هم و، ده په اخلاقو او تصوف کي تاليفونه کړي دي، چي يو منظوم کتاب يې "تعداد الکبائر" نوميږي او د پښتو لنډ مثنوي دئ، په دې کتاب کي ده اسلامي اخلاق او عقايد بيان کړي او کبائر يې شمېرلي دي، دا کتاب تر دوه زره بيته پوري رسيږي، د شعر په سترگه چي ورته وگورې، نو ملا صاحب د پښتو شاعرانو په دوهمه درجه کي دئ، لاندي د ده د کلام نمونه ولولئ :

| | |
|---|---|
| بـل حـلال گـڼـل دي | هـر حـرام مـنـل دي |
| شـفـقـت پـر مـسـلـمـان کـړه | لـه هـر چـا سـره احـسـان کـړه |
| پـه ښـادي د ده ښـادمـن سـه | هـم پـه غـم د ده غـمـجـن سـه |
| چـي د کـفـر مـوجـبـات دي | پـه دوه کـونـه مـهـلـکـات دي |
| لـه هـمـه وو احـتـراز کـړه | بـيـا د شـرعـي تـه اعـزاز کـړه |
| کـه افـعـال وي کـه اقـوال وي | يـا چـي نـور بـاقـي احـوال وي |
| مـحـرم چـي دا شـرعـي وي | پـر وارد دلـيـل قـطـعـي وي |
| اجـتـنـاب ورځـنـي فـرض دئ | واروه زمـا و تـا تـه عـرض دئ |
| ښـه هـغـه دئ غـوږ کـړه گـوره | چـي پـه شـرع ښـه دي وروره |
| يـاغـه عـقـل چـي سـلـيـم وي | پـر بـدوالـي يـې جـازم وي |
| دا د عـقـل حـکـم هـالـه وي | چـي بـه قـول د شـارع نـه وي |
| هـر غـه کـار چـي لايـطـاق وي | امـر کـلـه د خـلاق وي |
| هـر عـامـل چـي عـمـل دار وي | نـيـکـوکـار کـه بـدکـردار وي |
| د رب فـضـل چـي شـامـل دئ | "لايـضـيـع" عـمـل عـامـل دئ |
| د نـيـکـۍ بـه ثـواب ورکـا | د بـدۍ بـه عـذاب ورکـا |
| دا ثـواب دئ د خـدای فـضـل | او عـذاب دئ د ده عـدل |
| تـه تـهـذيـب خـپـل د اخلاق کـړه | تـخـلـق خـوی د خـلاق کـړه |
| اکـتـسـاب د حـمـيـده کـړه | اجـتـنـاب لـه ذمـيـمـه کـړه |
| مـجـالـس چـي وي د حـلـم | مـدارس چـي وي د عـلـم |
| تـه و دوی تـه حـاضـرېـږه | شـرم مـه کـړه مـه وېـرېـږه |

(له قلمي تعدادالکبائر څخه)

(۹۷)

## مسعود گل پاسنی

مسعود گل د پښتو یو رزمي شاعر دئ، داسي ښکارېږي چي دا شاعر د مقر په حدودو کي اوسېدی ځکه پاسني خو د کندهار په اصطلاح د دې خوا خلك دي، چي د غلجو پر لوړه سطحه اوسېږي.

مسعود گل د احمدشاه بابا په عصر کي زوکړی او د (۱۲۰۰هـ) په شاوخوا کي ژوندی و، نور د ده د ژوندون سوانح نه دي ښکاره خو دومره څرگندېږي چي دا شاعر د پېښور او کرم او سپین غره په لمنو کي هم گرځېدلی او د خپل وخت د مشهور روحاني میا عمر څوکني سره یې ډېر ارادت او اخلاص درلود.

میا عمر د احمدشاه بابا په جنگي سفر کي هم ژوندی او زموږ شهنشاه هم له دې روحاني عالم سره پېژندگلوي او ښه روابط درلوده. میان عمر څوکنی پخپله هم ادیب او شاعر و، ده د پښتنو د نسب شجره په پښتو منظومه کړېده[۱]. نو مسعود گل هم د دې ادیب او عالم روحاني سړي په ارادت، او اختلاط د پښتو ژبي یو نومیالی او پوخ شاعر سوی دئ.

### اشعار او افکار :

مسعود گل د پښتو په لومړۍ درجه شاعرانو کي آخر دئ، ده د خپل مرشد او رهنما په ستاینه او منقبت کي یو اوږد مثنوي په پښتو ویلی او له ځانه یې په پښتو ادب کي یو ژوندی اثر پرېښی دئ د دې مثنوي نسخې لږ دي او د لندن په موزیم کي یې هم یوه نسخه سته[۲].

بې له دې د مسعود گل کوم ادبي اثر نه دئ لیدل سوی، د مسعود گل اشعار پاخه او متین او د پښتو ژبي پر صلابت سم ښکاري، که څه هم ده خپل کتاب د خپل روحاني مرشد په ستاینه کي نظم کړی دئ، مگر هغه وخت چي د احمدشاه بابا د جگړو بیان کوي، نو داسي ښکاري چي زموږ شاعر په رزمي برخه کي هم پوخ ویونکی و.

دی په ډېر ادبي اقتدار، او سمه ژبه او خوږ بیان د احمدشاه بابا جنگي کارنامې ښیي، چي د پښتو په رزمي اشعارو کي یې نظیر او بډ لږ مومو.

---

۱- تاریخ صولت افغاني.

۲- د میر احمدشاه رضواني شکرستان افغاني ۳۸ مخ د ۱۹۰۵ ع طبع.

د مسعود ګل له منظومو څخه دا لاندې بیتونه موږ ته را رسېدلي دي، چې د ده د طبع اقتدار او رواني ښه ځني ښکارېږي:

جـان مـحـمـد درانـي دا رنـګ حـکـايـت کـا    حـکـايـت د احـمـد شـاه د ولايـت کـا
اول کـال چـه شـه داخـل پـه هـنـدوسـتـان شـو    د پـنـجـاب لـه مـلـکـه تـېـر ګـیـتـي سـتـان شـو
اراده یـــې وشـــوه بـــيـــا د کـــنـــدهـــار    او مـهـم یـې کـړ مـوقـوف د هـنـدوبـار
چـې داخـل پـه کـنـدهـار د شـه قـدم شـو    نـور هـرات تـه عـزيـمـت پـه هـغـه دم شـو
پـه قـشـون یـې ووېـشـلـي سـیـورسـات    د تـسـخـيـر عـزم یـې وکـړ د هـرات
لـه فـراه چـې پـادشـاه وکـړ عـبـور    هـراتـیـانـو ووې مـونـږه شـو مـحـصـور
کـه تـرې تـښـتـو پـه هـيـڅ لـوري نـه خـلاصـېږو    پـه کـلا کـي کـه کـښـېـنـو نـو حـصـارېږو

کـه یـې مـخـي لـه ورځـي بـې اعـتـبـار دي    مـوږ مـغـل[1] دوی دورانـي د کـنـدهـار دي
دوی څـو ورځـې وه پـراتـه پـه دا فـکـرونـه    چـې چـاپـېـر شـو تـر هـرات د شـا پـوځـونـه

(۱

د هـرات مـغـل شـو واړه کـلابـنـد    ولـي ډېـر و هـغـه کـوټ[2] مـحـکـم بـلـنـد
ترې چاپېر د پښتنو خښې مورچې شوې    د هر چا په لاس ټوپك نېزې برچې شوې
یـو پـلـو د تـوپـخـانـې و دنـدوکـار    بـل پـلـو د نـېـزه بـازو کـړکـهـار

(۲

۱ هرات په دې وخت کي د نادرشاه افشار له اولاد څخه د امير خان په لاس کي و، نو ځکه تسلم نه سو، مګر تر څو ورځو کلابندۍ وروسته د هرات خلکو د پښتونوالي په نامه احمدشاه بابا ته برج خاکستر تسليم کړ، نو ځکه احمدشاه بابا هرات فتح کړ (۱۱٦٣ هـ).
۲-(۴) قلعه.

د شاهینو[۱] شترانو څه به وایم — شیربچه[۲] او غمبارې به یې څه ستایم
د شاه پوځ به موج واهه لکه دریاب — په دریا کې دا کلا لکه حباب
ولي دا حباب گنبد وایم بې ور و — استحکام یې کله سد سکندر و

(۱(۲

د کلا په سر مغولو[۳] تلاوې کړې — ځکه خلاصي به یې شا باندي عاوې[۴] کړې
د کلا په کنگر و پاس چې تور بریښ شو — له هیبته به د لمر په ملا کې برېښ شو
د کلا پر سر آواز چې کرنا کړ — گویا صور د اسرافیل قیامت بر پا کړ
دې طرف ته توپې شینې خلاصېدلې — تر کلا چې به گولۍ ور رسېدلې
هم هورې به شوه گولۍ سره سمخه — د شاه خوا به په ویشتو شوه تخه مخه
شیربچه او شترانو څه طاقت و — خلاصول د ټوپك خود لوی حماقت و
غبارو د خلاصېدو نه و وارونه — شو تمام گولۍ دارو په خر وارونه
باري وایه چې کلا ته څه نقصان و — اخیستل د کلا کله ډېر آسان و
یوه میاشت په هرات شاه و جنگېدلی — دغه کار په ډېر مدت و زنگېدلی
د کلا دېوان له بېخه افگنده شو — د هرات والي د شاه بوزي بنده شو
دور دور د احمدشاه و غېږېدلی — په هر چا د فتح غېږ و لگېدلی

(۳(٤

---

۱- لوی توپونه.
۲- کوچني توپونه.
۳-جرگې.
٤-هیاهو.

غبږ يې لاړ شو تر مشهد تر اصفهانه پـه هـرات وشـو يـرغـل[1] لـه هـنـدوستـانـه
هـرات سـخـتـه دروازه د خـراسـانـه اوس پادشاه بـه ايـران واخـلـي پـه آسـانـه
چې شاه دا رنګه مهم دا رنګ يـرغـل کـا نـيـشـاپـور مـشـهـد بـه واړه ژر درغـل کـا
پـه ايـران تـوران کـي ګـډه غـلـبـلـه شـوه او پـه سـنـد او هـنـد کـي ګـډه زلـزلـه شـوه

(۱

﴿۹۸﴾

# عبدالعظيم رانړي زی

د ده نوم عبدالعظيم د پلار نوم يې نه معلومېږي، صرف د نيکه نوم يې په يوه ځای کي راغلی او نورخان دئ[2].

عظيم په خټه رانړي زی او د پلار نيکه وطن يې سوات دئ په دې مسرۍ کې خپل وطن او نسب يې دواړه ښوولي دي :

"زه سواتی عظيم له اصله رانړي زی يم"

عظيم په (۱۱٦۷ هـ) په سوات کي پيدا سوی او د تولد تاريخ يې له دېوانه ښکارېږي، ځکه چې د ده د دېوان په آخر کي يو مخمس دئ او نېټه يې په دې ډول سره وايي :

د تصنيف د مخـــــمس واوره ســـــامعه
سن يو زر دوه سوه درې پنځوس ووايه

او د دې مخمس د جوړولو په وخت کي عظيم صاحب د شپېږ اتيا کالو په عمر و، لکه چې د دې مخمس په يوه بيت کي يې خپل عمر په دې صورت سره ښوولی دئ:

شپږ اتيا کاله مې تېر کړه په عذاب کي
په خواري په مشقت په اضـــطراب کي

---

۱-حمله او تعرض.

۲-پاتي شوی دوهم سر نه دئ که ګورې
له سواتي نورخان نيکه نه تر ما پوري

نو د دوولس سوو درې پنځوسو څخه چې شپږ اتیا تفریق سي یوولس سوه او اووه شپېته پاته کېږي.

د شپږو اتیا کالو پوري خو د عظیم عمر یقیني دئ، ځکه چې په هغه وړاندي بیت کي یې تصریح کړېده او تر شپږ اتیا کالو زیات عمر باندي یې څه دلیل نه لرو. که څه هم عظیم د خپلو اشعارو ویلو آخري وخت (۱۲۵۳) سنه ښوولې ده، مګر دا هم کېدای سي چې یو کال نیم دي نور هم ژوندی وي او په دې کال نیم کي دې هیڅ اشعار نه وي ویلي. په هر صورت د عظیم صاحب د عمر په باره کي دا ویلای سو : چې د شپږ اتیا یا اوه اتیا کالو په منځ کي د عمر خاوند و.

د عظیم د وفات تاریخ پوره او یقیني نه معلومېږي، مګر تخمیناً ویلای سو چې په (۱۲۵۳هـ) یا یو کال نیم زیات کي وفات سوی دي، ځکه چې په دې سنه کي د ده عمر شپږ اتیا کالو ته رسېدلی و او شپږ اتیا کاله پوره عمر دئ. ډېر کم خلك دومره عمر ته رسېږي نو له دې خاطره شپږ اتیا کاله یې موږ د عمر آخري اندازه لګولای سو، او بله دا خبره هم ده چې عظیم په دې سنه کي د اشعارو ویلو څخه لاس اخیستی دئ او تر دې پس یې نور اشعار نه دي ویلي، نو له دې نه معلومېږي چې دا یې د ژوندون آخري مراحل وو، لکه چې عظیم د مخمس تر تاریخ وروسته په دې ډول فیصله کوي :

خاتمه د خپل مکتوب عبدالعظـــیمه
دا غزل که بس دئ نور اشعار مه وایه

د عظیم صاحب اصلي استوګنه په سوات کي وه، ولي چې هغه یې د پلار نیکه وطن و، مګر د ځوانئ په وخت کي بیا راغلی دئ او په "برتهکال" کي چې د پېښور په خواوشا کي یو مشهور کلی دئ استوګنه یې غوره کړېده او د ژوند ډېره برخه یې هم دلته تېره کړېده، لکه چې وایي :

پرتهکال کي مي دئ کور پکښې اوسېږم
په کـــــندي د حاجي خـــېلو کي نېك رایه

د عظیم صاحب د وطن د پرېښولو په شاوخوا کي داسي معلومېږي چې د تربورانو او دښمنانو د لاسه یې وطن پرېښودلی دئ او ددې مجبوریت د وجه څخه بیا "تهکال" ته راغلی دئ، او هلته یې استوګنه غوره کړېده.

عظیم صاحب وایي چې ځما پلار خپلو دښمنانو  مړ کی، او زه یې له وطنه راویستلم، او وروسته تر دغه چې په وطن کي مي د تربورانو د لاسه ځای نه و نو پېښور ته راغلم او په تهکال کي مي ځای ونیو :

دښـــــمنئ د دښـــمنانو ابئ خـــپلو
ربوده یې کړم له ســــواته تر دې ځایه
پلار ځما یې کړو شهید دې مفسدانو

دوی ستي شه په آتش کي سر تر پايه

عظيم صاحب که د وړوکوټوالي په دوره کي څه تحصيل کړی وي البته چي هغه به يې په خپل وطن کي کړی وي مگر پوره تحصيل يې د خپل وطن د پرېښولو وروسته د ځوانۍ په وخت کي کړی دئ، داسي معلومېږي چي عظيم صاحب مروجه کتابونه ټول لوستي دي، او د هغه وخت په اصطلاح باندي يو پوره ملا او عالم و، د طالب العلمۍ دوره يې هم په تهکال کي تيره کړېده او اکثر کتابونه يې د خپل خسر ملاسرفراز څخه لوستي دي لکه چي وايي:

ډېر کتب دي په ځـــواني کي ما ويلي

له خپل سخر څخه اکثر له خلکو غلي

عظيم صاحب که څه هم ملا دئ د دمخه خبرو څخه معلومېږي چي دی د علماوو په ډله کي حسابېږي مگر سره د دې هم دی صوفي او يو سالم سړی تېر سوی دی، عظيم يو متصوف عالم دئ، او دی خپل مرشد مهربانصاحب ډېر ستايي، چي اوس يې د کنړ د پشد او تنر په لته کي هديره ده. عظيم تر تحصيل وروسته په تهکال کي امام او مدرس و، مگر چي د عشق په خوږ خوږمن سو نو يې درس او تدريس پرېښو، او نور عمر يې د ادب او شعر په دنيا کي تېر کړی دئ.

چي مشغول په تصور د خط و خال سوم

بيا مي مخ ته د کـــــتاب نه دي کـــــــــتلي

د عظيم د شاعرۍ دوره له پاخه عمره شروع کېږي، ځکه دی وايي چي زما ځوانان زامن مړه سوه، نو مي شاعري شروع کړه :

چي مي وخوړ په زړه غشی د ځامنو

نوی کار د شــــــاعرۍ مي کړو روان

## د عظيم شاعري :

عظيم په متوسطه طبقه کي يو ښکلی شاعر دئ، ښه ښه افکار، نازک نازک خيالات، مهم مطالب يې په ډېره ساده او آسان الفاظو کي راوړي دي. عظيم د روان طبيعت خاوند دئ او ډېره بې تکلفه طبيعي قريحه لري. دی داسي شاعر نه دئ چي د شعر په جوړولو يې ځان مجبور کړی دئ، بلکي شعر يې طبيعي او د هر قسم مجبوريت څخه خالي دئ. دی د شعر له پلوه مجبور سوی دئ نو ځکه يې په کلام کي تکلف آميزي نه معلومېږي، بلکي کلام يې په يو طبيعي سوق سره روان دئ او کلام يې د سلاست او د ساده ګۍ يوه ښه نمونه ده.

د ده په کلام کي تعقيد او رکاکت په نظر نه راځي، او د داسي نامانوسو او غير مستعملو الفاظو څخه چي له بلاغت او فصاحته ليري وي خالي او فارغ دئ. عظيم په خپل کلام کي د رحمان بابا پيروي کړېده او د شعر ډول او طرز او سبک يې کټ مټ د رحمان بابا په رنګ دئ او دی پخپله هم د رحمان بابا د سبک د تعقيب اظهار په دې شان سره کوي :

د بابا عبدالرحـــــمن مهـــمند په شاني
جوړ کړو ما د غم کتاب د مرگ د لاسه

عظیم صاحب څرنگ چي د پښتو شاعرۍ په متوسطه طبقه کي راغلی دئ، دا رنگ په مسلك او مشرب کي هم په دې طبقه کي حسابېږي، نه د سلوك او تصوف په لار کي د "میرزا خان" او "دولت" هومره اوچت تللی دئ او نه یې د خوشحال غوندي د دنیا سره زیاته علاقه پیدا کړېده، بلکي عظیم د "خیر الامور اوسطها" په مرتبه کي کلك ولاړ دئ.

## اشعار او افکار :

د عظیم صاحب د دېوان مهم مطالب څلور دي : عشق، سلوك، وعظ او نصیحت، د زامنو مرگ، لکه چي وایي :

دا ویل ځـــما به وي په څـــلور قســـمه
عشق سلوك دریيم به وعظ و نصیحت وي
څلـــورم به مي لـــه درده د ځـــامـــنو
څه ویلي د خفـــگان له مصـــیبت وي

برخېره پر دې د عظیم صاحب په دېوان کي شکایتي او تنقیدي افکار هم سته او تقریظي مضامین پکښې هم پیدا کېږي.

د عظیم صاحب کلام په عشقي انداز کي پوره مزیت لري، زړه یې د عشقه ډك دئ عشقي کلام یې هم ځکه متین، ساده او خوږ دئ، او خپل عشقي جذبات او پاك احساسات یې په ډېرو جذابو او ساده الفاظو ښکاره کړي دي او په خپل دېوان کي یې سلوك او تصوف ته هم ښه برخه ورکړېده، چي موږ یې د دېوانه څخه یو څو نمونې اخلو :

## عشق

باري تا چي نن له خياله — دواړه زلفي اراسته کړي
گوره دا رامعلومېږي — چي عاشق به خوار خسته کړي

دواړه سترگي دي کړي توري — څه په چل کي راته گوري
بل نرئ نرئ خبري — لا و ما ته آهسته کړي

رعايت د رقيب مه کړه — سخت ويل ورسره وکړه
چيري نه "عبدالعظيمه" — چي بيا خوله ورته پسته کړي

په جهان چي ستا د حسن کاروان پرېووت — له هيبته پر گلونو خزان پرېووت
چي دا ستا ښکلی گلشن يې په نظر شو — عندليب له محبته حيران پرېووت
ياسيمين به پرې زرغون شي بې کلفته — په هر ځای چي ستا د حسن باران پرېووت
تور د سترگو مي په ډېره ژړا سپين شو — لړمانه و ته مي تاو د هجران پرېووت
لکه سروه يم آزاد له نوره غمه — ولي يو مي غم د ښکليو په ځان پرېووت

خدای دي مرگ کاندي مېلمه په "عظيم" باندي
چي له لاسه يې د صبر مېزان پرېوت

## وعظ

چي ياري نه کړې د خدای ميني کړې نورې — معلومېږي چي د خدای په در کي چورې
چي دنيا و مافيها واړه فاني دي — بنده ولي زړه تړې په فاني پورې
عاقبت به ترېنه پرېوزې سر د لاندي — څو تر څو به د حيات په براق سورې
نه پوهېږم چي به خلاص په کوم طرف شې — چي د خدای له حکمه تښتي په سر تورې
عاقبت خو به يو موتی شې د خاورو — دا چي ته دي سپين مهين بدن ته گورې
له شيطان سره پښتو کولای نه شې — د تربور عزيز په حق کي لکه اورې

چي عمل په خپل ويل نه کړې "عظيمه"
سزاوار د هر عتاب د هر پيغورې

## لفظي صنايع :

څرنګه چي د عظیم کلام د معنوي مزایاوو څخه ډك دئ، او فصاحت او بلاغت پکښي موجود دئ دا رنګ د لفظي مزایاوو څخه هم خالي نه دئ.

لاندي بیت کي د طباق یا د تضاد صنعت دئ :

که ژاړم په افسوس کله خندا کړم
ګاه فقیر شم ګاه نواب پدا مرض

ارسال المثل هم د معنوي صنایعو څخه یو صنعت دئ، په یوه مصرع یا یو بیت کي یو متل راوړل د "ارسال المثل" صنعت دئ لکه دا لاندي ابیات :

"د ګور شپه چیري د چا په کور کیږي
غم د چا په خوشحالي کله بدلیږي
له سختئ څخه مرګ نشته بې اجله
په خزانه د ګلستان ګلان رژیږي

بل د عظیم په کلام کي د "تجنیس مکرر" صنعت هم سته، لکه :

چي مسکن ځما د زړه شو د دلدار دار — بېلتانه رابانـدي راووړ په یو وار وار
بې صبرئ مي وشلوه همېل د پټې — اوس په غاړه مي بسته کړو د اظهار هار
په دې سر به هرګز نه وم اقرار شوی — باري څه وکړم چي نه شي په انکار کار
خپل صورت به پس له مرګه په محشر کي — کړم به یاره ستا د مخ له لاله زار زار

زه عظیم چي شوم قبول د یار په درکي
ځکه شو په رقیبانو غم دوبار بار

کم شی چي د قافیې په لحاظ سره لزوم نه لري، د هغه شي التزام، د "لزوم مالایلزم" صنعت دئ، لکه دا :

نن مي ګډه په صورت بیا زلزله ده — راپسې د مفسدانو غلغله ده
ما وې نن خو به مي پرېږدي برقرار — پرون ټوله ورځ مي کړې ولوله ده
که شېرین دئ نیشکر په نزد د خلکو — په نظر د عاشقانو تل نله ده
دا در نه دي چي په مخ ځما ځلېږي — دا ځما د سپینو اوښو سلسله ده

# فیض الله کاکړ

د ملا بابړ زوی و، چې اصلي وطن یې ږوب او کندهار ته د هوتکو په آخر کې راغلی و، ملابابړ عالم او زاهد سړی و، چې د کندهار د ښار تر جوړېدو وروسته یې زوی فیض الله اخوندزاده د سردار شاه ولي خان د احمدشاه بابا د لوی وزیر ملا او استاد و.

فیض الله علم او تقوا له پلاره په میراث وړې وه او د کندهار مشهور عالم او مؤلف مولوي حبیب الله د ده زوی و[1].

اروېدل سوي دي چې فیض الله کاکړ ډېر ښه پښتو اشعار ویل، او د اعلیحضرت احمدشاه بابا تر عصر وروسته د شاه زمان تر زمانې ژوندی او سپین ږیری عالم او شاعر و، د دې سړي نور اشعار ورک دي، فقط دغه څو بیته یې ما له زړو خلکو څخه اروېدلي، او لیکلي دي :

غزل

که د عشق له کړه خلاص سوم، زه به نذر کاندم غوړی
د عشق اور هستي ستی کړم، لکه پنډه او سپین خړی
د پت مزي سره غوړم، بیرته اوم د عشق په تاو سي
که هر څو پریړ وي غښتلی، بیرته سي هغه اومړی
ورك يم ستا په مینه ګوره لاس را اوږد کړه چې پر لار سم
ما په دواړه کونه ستا دئ په رشتیا نیولی پړی
په اوربل چې دي سور ټیك سو زما پر زړه د اور سکروټه
پر ټټر دي لونګین دئ زما د مرګ پیغام راوړی
"فیض الله" پر تا مین یم، تا ایستلی له وطن یم
په کوګل کې مې سور اور دئ، تا له مینې رابل کړی

١-د دې کتاب په دوهم ټوك کې د مولوي حبیب الله کندهاري شرحه وګورئ.

﴿۱۰۰﴾

# ميا عبدالكريم

د خپل عصر مشهور عالم او يو زبردست راهنما و، پلار يې ميا الله بخش نومېدی د ميا عبدالكريم علمي شهرت په ټوله ننګرهار او پېښور کي خپور و او د اعليحضرت احمدشاه بابا او تېمورشاه معاصر و. دی په لغمان کي اوسېدی، او يوه علمي حلقه يې درلوده، هر کله په تدريس او لارښوونه بوخت و.

ميا عبدالكريم په ۱۲۰۷هـ وفات سوی او د لغمان د علي شنګ په دره کي ښخ دئ، چي اوس هغه ځای د ميا صاحب ډېره بولي.

ميا عبدالكريم د پښتو ښه اديب او شاعر هم و، چي ډېر اشعار يې د خلکو په ياد دي، او ښايي چي دېوان يې هم درلود، مګر اوس ورك دئ موږ ته د ده دغه لاندي واعظانه اشعار لاس ته راغلي دي:

### موعظه

| | |
|---|---|
| کـه مـي د حـق مـيـنـه روزي شـي لـه دوامـه سـره | لکه الف چي وصلت بيا مومي له لامه سره |
| پـه نـالـيـدلـې لار چـي تـلـې تـوبـه دي ولـي نـه وړه | اوس د هی هی فـريـاد کـوې لـه هـره ګـامـه سـره |
| اول دي خـوب پـه نـالـيـچـو پـه پـشـمـيـنـو کـولـی | اوس دي د ګور چينجي مستي کړي له اندامه سره |
| اول دي ښې لوړي ماڼۍ بيا دي باغچې جوړي کړې | اوس دي مـرګـي خـونـه هـواره کـړه لـه بـامـه سـره |
| "عـبـدالـکـريـمـه" مـه نـازېـږه پـه نـيـمـګـړې دنـيـا | د مـسـافـرو دلـتـه څـه دي لـه دوامـه سـره |

## موعظه

څه عجب باغ و د سرو ګلو پرې خزان ولګېد
بلبلي لاړې په ژړا ګډ پرې سوران ولګېد
خليل د خدای و چې نمرود ګزار کړ سرو لمبو ته
چې خداي يې مل و هغه پوري ګلستان ولګېد
څه شوه هغه خلك چې پالکۍ يې په هوا ګرځېدې
د مرګ د لاسه يې مسکن په ګورستان ولګېد
شداد نمرود و چې دعوی يې د خدايۍ کوله
لعين مردار شو ځکه ځای يې په نيران ولګېد
"عبدالکريمه" ولي غم کړې څله مست نه ګرځې
نبي سردار د دواړو کونو پهلوان ولګېد

********

لومړی ټوك پای ته ورسېد
د محمدګل نوري په اهتمام